# پولي ته د څېرمه پرتو سیمو غږونه ۲۰۲۲

په افغانستان، کولمبیا او میانمار کې پولي ته څېرمه د جګړه ځپلو او له نشه یي توکو د اغېزمنو سیمو د ژوند کیسې







د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره

drugs & (dis)order

په دې څېړنه کې وړاندې شوې نظريات د ليکوالانو دي او د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری، دنړیوالو ننګونو د څېړنې بودجې سازمان،
برېتانيا حکومت يا هم همکارو سازمانونو نظريات نه منعکسوي.

د افغانستان د څيړنې او ارزونې اداره دغه څيړنه له انګليسی نه پښتو ژبی ته ژباړلی ده. د افغانستان د څيړنې او ارزونې اداره د نړیوالو
سازمانونو د هغه نړیوال کنرسسیوم یوه فعاله غړی ده کوم چی دغه څيړنه یی چمتو کړی.


| | |
|---|---|
| ISBN: | ۹۷۸-۹۹۳۶-۶۲۸-۹۰-۸ |
| د خپرونې کوډ | ۲۱۰۳ ب |
| ژباړه | احسان الله ځيرک |



©۱۴۰۱ د افغانستان د څيړنې او ارزونې اداره

دغه خپرونه کیدای شي یوائې د غیری سوداګریزو موخو لپاره نقل، او یا بیا ځلې چاپ شي په دی شرط چې لیکوال او منبعه یې خبره شی. که
چیری دغه خپرونه بیا چاپ، ذخیره او یا بریښنایې بڼه یې لیږدول کیږی باید یو لینک یې د AREU کورپاڼې (www.areu.org.af ) ته واستول
شي. او یا هم د بریښنالیک او یا هم ټلیفون شمیری له لیاری اړیکه ونیسئ ۰۰۹۳۲۰۲۲۱۲۴۱۴.

## د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې (AREU) په اړه

د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په کابل کې د څېړنو یو خپلواک بنسټ دی چې په ۲۰۰۲م کال په افغانستان کې د نړیوالې ټولنې له خوا جوړ شو. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری موخه د شواهدو پر بنسټ د لوړ کیفیت او په پالیسۍ پورې اړوند څېړنو برابرول او په فعاله توګه د دغو څېړنو د پایلو خپرول او همدارنګه د شواهدو پر بنسټ د څېړنو او زده کړې د کلتور خپرول دي. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره دیوی غیرانتفاعی اداری په توګه د اقتصاد په وزارت کې ثبت شوې ده. د پنسیلوانیا پوهنتون د راپور پر بنسټ، د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره په افغانستان کې د یو څېړنیز بنسټ په توګه د لوړ مقام لرونکې ده او په منځنۍ آسیا کې د څېړنیزو بنسټونو په منځ کې په دریم مقام کې ځای لري. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د خپلې موخې د لاسته راوړلو لپاره د پالیسۍ جوړونکو، مدني ټولنو، څېړونکو او زده کوونکو سره کار کوي چې دوی د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری له څېړنو او کتابتون څخه ګټه پورته او د څېړنې په برخه کې خپله وړتیا لوړه کړي او د نظریاتو د څرګندولو، د شننو، او بحثونو لپاره لاره هواره کړي. د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره د مشرانو د بورډ لخوا چې د مرستندویه ادارو، سفارتخانو، ملګرو ملتونو، ځینې نورو سازمانونو، مدني ټولنو او د خپلواکو کارپوهانو استازي پکې شامل دي، اداره کیږي.

تمویلونکی:

د دی اداری تمویلونکی د سویډن نړیواله انکشافی اداره (SIDA) او لاندی نور نړیواله بنسټونه دی:

The Foundation to Promote Open Society (FPOS), Chr. Michelsen Institute (CMI), Safe World (SW), Institute of Development Studies (IDS), Overseas Development Studies (ODI) and SOAS University.

همدا راز دا اداره د لاندی نړیوالو بنسټونو غړیتوب هم لری:

Global Challenges Research Fund (GCRF), The School of Oriental and African Studies (SOAS), Secure Livelihoods Research Consortium (SLRC), A Conflict Sensitive Unpacking of The EU Comprehensive Approach to Conflict and Crisis Mechanism (EUNPACK), ADB-Asian Think Tanks Network (ATTN), Sustainable Development Solutions Network (SDSN) and The Regional Environmental Centre for Central Asia (CAREC). For more information visit www.areu.org.af

## “پولې ته د څېرمه پرتو سیمو غږونه ۲۰۲۲” په اړه

”پولې ته د څېرمه پرتو سیمو غږونه ۲۰۲۲“ د نشه يي توکو او نظم – (بې) نظمۍ پروژې دویمه خپرونه ده. دا یوه څلور کلنه څېړنیزه پروژه ده، چې پر سوله ییز اقتصاد د نشه يي توکو اقتصاد د بدلون څرنګوالي په اړه نوي شواهد وړاندې کوي. دا خپرونه د افغانستان، کولمبیا او میانمار هېوادونو پولو ته په څېرمه او جګړه ځپلو او له نشه يي توکو اغېزمنو سیمو کې زموږ له سیمه ییز کار د راټولو شویو کیسو ټولګه ده. دا ټولګه د هغو ګڼو څېړونکو، فعالانو او پالیسیو جوړوونکو لپاره په پام کې نیول شوې، چې د نشه‌يي توکو، ودې او سولې ټینګښت اړوند موضوعاتو سره سروکار لري. په دې راپور کې راغلې کیسې پولې ته د څېرمه پرتو سیمو وګړو په ورځني ژوند کې د نشه يي توکو، تاوتریخوالي او جګړې، بېوزلۍ او ودې، ناامنۍ او انعطاف منلو په اړه ډېر ارزښتناک لیدلوري وړاندې کوي. زموږ تمه دا ده، چې دا کیسې زموږ لوستونکي دې ته وهڅوي څو په دې اړه لا ډېر په انتقادي ډول فکر وکړي، چې نشه يي توکي، وده او د سولې ټینګښت څه ډول د دوی له کار سره تړلي دي.

## تقریظ

”پولې ته د څېرمه پرتو سیمو غږونه ۲۰۲۲“ راپور د نشه‌يي توکو او نظم – (بې) نظمۍ ټیم د غړو له لوري چمتو شوی څېړنیز راپور دی، چې جونتان ګوډهینډ، فرانسیز ټامسن، پیټریک میهان، او لوئیس بال (د لندن اس.او.اې.اس (SOAS) پوهنتون) او مانډي سډن (د واوریک پوهنتون) يې مشري کوي. موږ له هغو ټولو وګړو مننه کوو، چې د نظم او بې نظمۍ پروژې له څېړونکو سره يې د سیمه ییز کار پرمهال خپلې کیسې شریکې کړې دي. دلته ”پولې ته د څېرمه پرتو سیمو غږونه ۲۰۲۲“ کې راوړل شوې نهه کیسې د ژوند تاریخ مرکو له منځپانګې چمتو شوې دي. په افغانستان کې مرکې د دوامداره ودې او څېړنې موسسې (OSDR) څېړنیز ټیم د غړو له لوري د جان کویلر په ملاتړ ترسره شوې، او کیسې بیا د افغان ژورنالېستې آغلې ثنا ساپۍ له لوري، چې اوسمهال په برېتانیا کې ژوند او کار کوي، اصلاح شوې دي. په کولمبیا کې مرکې د کولمبیا له ملي پوهنتون څخه د کامیلو اسیرو، لوئیس کاسټیلو، دیانا ماچوکا، فرانسیس ګوتریز، سبسیتان کریستانچو او هوارډ راجوس له لوري ترسره شوې دي. کامیلو، لوئیس او دیانا د میریم کاتوس په ملاتړ دا کیسې اصلاح کړې دي. د میانمار د شان ایالت کیسې د شان هیرالډ خبري اژانس له خوا د سای اونګ او سای خام پهو له لوري اصلاح شوې او د همدې څېړنیز ټیم له لوري د ترسره شویو مرکو له مخې لیکل شوې دي. د کاچین ایالت کیسې د هغو مرکو له مخې لیکل شوې، چې د کاچین څېړنیز مرکز د څېړنیز ټیم له لوري ترسره شوې او د مانډي سډن له لوري اصلاح شوې دي. جیني پیرس د راپور پر برخو ډېر ارزښتمن نظریات راسره شریک کړي دي. دا راپور د سوفي ګیلسفای له لوري ایډېټ شوی او د کاترین سیچل او کارن بروک په ملاتړ د لوسي پیرز له خوا ښه شوی دی. پښتو ژباړه يې احسان الله ځیرک کړې ده.

UK Research
and Innovation

GCRF
Global Challenges Research Fund

drugs
&
(dis)order

**نشه يي توکي او نظم – (بې) نظمي:** تر جګړې وروسته د سولې پرمهال د پایښت لرونکي اقتصاد رامنځ ته کول یوه څلور کلنه څېړنیزه پروژه ده، چې په افغانستان، کولمبیا او میانمار هېوادونو کې د نشه يي توکو له ناقانونه اقتصاد د سوله ییز اقتصاد پر لور د بدلون څرنګوالي په برخه کې اړین شواهد وړاندې کوي. دا څېړنه د نشه يي توکو، شخړې، روغتیا او جګړې په برخه کې د بې سیاله پېژندل شویو نړیوالو سازمانونو د ګډ کار پایله ده. د دې پروژې مشري د لندن (SOAS) پوهنتون سره ده او د پروژې همکاران: د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداره (AREU)، السایز(Alcis)، عیسوي مرستندویه سازمان(Christian Aid)، د کاچین لېنډ څېړنیز مرکز(KRC)، د لندن حفظ الصحې او ګرمسیري درملو ښوونځی(LSHTM)، د دوامداره ودې او څېړنو موسسه(OSDR)، د اکسفورډ پوهنتون د نړیوالو او سیمه ییزو مطالعاتو پوهنځی (OSGA)، مثبت منفي سازمان(PositiveNegative)، د شان هیرالډ خبري اژانس( Shan Herald Agency for News)، لاس اندیس او د کولمبیا ملي پوهنتونونه دي.

دا څېړنه د برېتانیا د څېړنې او نوښتونو اداري اړوند د نړیوالو ننګونو د څېړنې بودجې(GCRF) له خوا تمویل شوې ده. په دې څېړنه کې وړاندې شوي نظریات د لیکوالانو دي او د نړیوالو ننګونو د څېړنې بودجې سازمان، برېتانیا حکومت یا هم همکارو سازمانونو نظریات نه منعکسوي.

د پوښتۍ انځورونه، له چپې خوا ښۍ خوا ته: ۱. د جان ګل کیسه؛ افغانستان، انځورګري: کروتیکا سوسارلا، ۲. د ناو هکام کیسه؛ میانمار، انځورګري: سیسیلا جا سینګ، ۳. د جسیکا کیسه؛ کولمبیا، انځورګري: جوهانتان اکوستا. د لا ډېرو معلوماتو لپاره ۸۳ یمه پاڼه وګورئ.

# لیکلړ


د نشه يي توکو او نظم (بې) نظمۍ پروژې په اړه ۸

سریزه ۹

د افغانستان پولو ته له خېرمه پرتو سیمو د ژوند کیسې ۱۷

د افغانستان پولو ته له خېرمه پرتو سیمو د ژوند کیسې ۱۸

له کابله تر مسکو د هروئینو له ډک بکس سره سفر ۱۹
زموږ ژوند د پولې دواړو غاړو ته پر سوداګرۍ متکي دی ۲۷
د نشه يي توکو د قاچاق ګټې او خطرونه ۳۱

د کولمبیا پولو ته له خېرمه پرتو سیمو د ژوند کیسې ۳۶

د کافي، کوکا، بنګو او جګړې په منځ کې ژوند ۳۷
د نورو د سوکالۍ لپاره مبارزه: د ولسي مشرې په توګه ژوند ۴۲
په سوله او جګړه دواړو کې موږ تور پوستي تل بایلونکي یو ۴۹
د نشه يي توکو له کبله د متضررې کورنۍ د یوازېنۍ ډوډۍ پیدا کوونکي په توګه ژوند ۵۴

د میانمار پولو ته له خېرمه سیمو د ژوند کیسې ۵۵

دوولس کاله زندان هغه بیه وه، چې ما د نشه يي توکو د کارولو په بدل کې پرې کړه ۶۰
د ربړې دورانونه ۶۵

له حاشیو زده کړه انعکاسونه او پایلې ۷۲

پولې ته د خېرمه پرتو سیمو خلکو پر روایتونو کار کول او هغوی ته غوږ نیول ۷۳
له کیسو مطلب اخیستل؛ مروج موضوعات او لیدلوري ۷۶
د ژوند له تاریخونو یا کیسو سره تعامل ۸۱
پای لیکونه ۸۳

## د نشه يي توکو او نظم (بې) نظمۍ پروژې په اړه

نشه يي توکي او نظم (بې) نظمي يوه څلور کلنه څېړنيزه پروژه ده، چې په افغانستان، کولمبيا او ميانمار کې پولې ته د څېرمه جګړه ځپلو او له نشه يي توکو په اغېزمنو نهو سيمو کې د کار کولو په لړ کې دا پوښتنه راسپړي، چې څنګه کېدلای شي جګړه ييز اقتصاد په سوله ييز اقتصاد بدل کړو؟

## پولې ته د څېرمه پرتو سيمو ليدلوری

موږ دلته په دې پروژه کې پر ناقانونه نشه يي توکو تمرکز کوو، ځکه دا د هغو اصلي توکو له ډلې دي، چې جګړه ييز اقتصاد خړوبوي او پولې ته په څېرمه پرتو سيمو کې د نشه يي توکو څو مليتي اقتصاد عمده مرکزونه هم دي. ان تر دې، چې په ملي کچه د سولې هوکړه ليکونو تر لاسليک وروسته هم دا سيمې د تاوتريخوالي مرکزونه پاتې کېږي. له دې کبله د سولې پرمهال پر پاينبت لرونکي اقتصاد د نشه يي توکو له لارې د خړوبيدونکي اقتصاد د بدلولو په وړاندې اساسي ننګونه ګڼل کېږي.

## د شواهدو نوې ټولګې رامنځ ته کول

د دې خبرې هرکلی ورځ تربلې زياتيږي، چې د نشه يي توکو پاليسۍ بايد تر ډېره د بېوزلو خلکو په پلوۍ او د پايداره پراختيايي موخو (SDGs) سره په مطابقت کې طرحه شي. خو د شواهدو هغه ټولګه چې د دې ډول اصلاحاتو ملاتړ وکړي ډېره پاشلې، د سياستونو تر اغېز لاندې او بحث راپاروونکې ده. د نشه يي توکو او نظم (بې) نظمۍ پروژه د داسې پياوړو اطلاعاتو د وړاندې کولو په هڅه کې ده، چې د شواهدو يوې نوې ټولګې په رامنځ ته کولو کې مرسته وکړي.

## د پاليسۍ جوړولو له سياسي اقتصاد سره تعامل

موږ په دې نظر يو، چې غوره شواهد په يوازېتوب سره نه شي کولای په پاليسيو کې بدلون راوړي. له دې کبله زموږ دې څېړنې د پاليسيو برخو ته هم تر خپل چتر لاندې ځای ورکړی، څو هغه اجنډاوې، ګټې او د واک پر سر شخړې په ښه ډول وپېژندل شي، چې د نشه يي توکو، ودې او سولې ټينګښت اړوند پاليسيو پر دوران او پايلو اغېزې لري.

## يوه بين الرشتوي تګلاره

زموږ څېړنه د انسان پېژندنې، ټولنپوهنې، جغرافيې، سياسي اقتصاد، سياسي علومو، تاريخ او عامې روغتيا له ټولو زاويو دغو موضوعاتو ته کتنه کوي، څو د هغو لارو چارو يو ټوليز آنځور وړاندې کړي چې د نشه يي توکو اقتصاد ته لاره هواروي او د هغې منځپانګې په اړه هم يو ټوليز آنځور وړاندې کړي، چې د نشه يي توکو اقتصاد په کې ځای موندلای دی. موږ د دې کار لپاره د جغرافياوي معلوماتو سيستم (GIS) انځورونو، چې پولې ته په څېرمه پرتو سيمو کې د فزيکي بدلونونو نقشه په ډاګه کړي او له دې لارې خپلې سروې ګانې بشپړې کړو، اتنوګرافيکو او ژوند تاريخ مرکو په څېر له ابتکاري څېړندود ګټه پورته کړې.

## د څېړونکو نړيوالې شبکې رامنځ ته کول

د نشه يي توکو او نظم (بې) نظمۍ پروژه د افغانستان، کولمبيا، ميانمار او برېتانيا له ۱۱ همکارو ادارو جوړه شوې ډله ده، چې مشري يې د لندن (SOAS) پوهنتون پرغاړه لري. د دې پروژې يوه موخه دا وه، څو د څېړونکو او څېړنيزو ادارو يوه داسې نړيواله شبکه رامنځ ته کړي، چې د پروژې تر ختمېدو وروسته هم خپلو څېړنو ته دوام ورکړي. د دې کار پايله د ناقانونه اقتصاد، تاوتريخوالي او ودې مطالعاتو مرکز (CIVAD) رامنځ ته کېدل و. د ياد مرکز په اړه د ډېرو معلوماتو لپاره لاندې وېبپاڼه وګورئ:

/https://drugs-and-disorder.org/future-research-centre-for-the-study-of-illicit-economies-violence-and-development

# سریزه







## جګړه ییز اقتصاد څه ډول په سوله ییز اقتصاد بدلېدلای شي؟

د تېرو څلورو کلونو په ترڅ کې د نشه یي توکو او نظم- بې نظمۍ کنسرسیوم دا پوښتنه راسپړې، چې: {څه ډول کېدلای شي په هغو سیمو کې چې وسله والې شخړې تجربه کوي یا هم له وسله والو شخړو د راوتلو په حال کې دي، جګړه ییز اقتصاد په سوله ییز اقتصاد بدل شي؟

موږ د دې پوښتنې د ځوابولو لپاره د نړۍ ناقانونه نشه یي توکو د دریبو لویو تولیدوونکو هېوادونو "افغانستان، کولمبیا او میانمار" پولو ته په څېرمه جګړه ځپلو او له نشه یي توکو اغېزمنو نهو سیمو کې خپلې څېړنې کړې دي، چې دغو ټولو سیمو د تاوتریخوالي زیاتېدو ترڅنګ د سولې پړاوونه هم تجربه کړي.

### د دې خبرې هرکلي ورځ تربلې زیاتیږي، چې د نشه یي توکو پالیسۍ تر ډېره باید د بېوزلو خلکو په پلوۍ او له دوامداره پراختیایي موخو (SDGs) سره په مطابقت کې طرحه شي؛ خو د شواهدو هغه ټولګه چې د دې ډول اصلاحاتو ملاتړ وکړي ډېره پاشلې، د سیاستونو تر اغېز لاندې او بحث راپاروونکې ده.

موږ دلته پر ناقانونه نشه یي توکو تمرکز کوو، ځکه دا د هغو اصلي توکو له ډلې دي، چې جګړه ییز اقتصاد خړوبوي او پولې ته په څېرمه پرتو سیمو کې د څو ملیتي نشه یي توکو اقتصاد عمده مرکزونه هم دي. ان تر دې، چې په ملي کچه د سولې هوکړه لیکونو تر لاسلیک وروسته هم دا سیمې د تاوتریخوالي مرکزونه پاتې کېږي. له دې کبله د سولې پرمهال پر دوامداره اقتصاد د نشه یي توکو له لارې د خړوبېدونکي اقتصاد د بدلولو په وړاندې اساسي ننګونه ګڼل کېږي.

د دې خبرې هرکلي ورځ تربلې زیاتیږي، چې د نشه یي توکو پالیسۍ تر ډېره باید د بېوزلو خلکو په پلوۍ او د دوامداره پراختیایي موخو سره په مطابقت کې طرحه شي. خو د شواهدو هغه ټولګه چې د دې ډول اصلاحاتو ملاتړ وکړي ډېره پاشلې، د سیاستونو تر اغېز لاندې او بحث راپاروونکې ده. د نشه یي توکو او نظم (بې) نظمۍ پروژه د داسې پیاوړو اطلاعاتو د وړاندې کولو په هڅه کې ده، چې د شواهدو یوې نوې ټولګې په رامنځ ته کولو کې مرسته وکړي.

موږ په دې اند یو، چې غوره شواهد په یوازېتوب سره نه شي کولای په پالیسیو کې بدلون راولي. له همدې وجې مو په دې څېړنه کې د پالیسیو برخو ته هم تر خپل چتر لاندې ځای ورکړی، څو هغه اجنداوې، ګټې او د واک پر سر شخړې په ښه ډول وپېژندل شي، چې د نشه یي توکو، ودې او سولې ټینګښت اړوند پالیسیو پر دوران او پایلو اغېزې لري.

## په افغانستان، کولمبیا او میانمار کې بحث راپاروونکي بدلونونه

د دغو څلورو کلونو په موده کې د پورته دریبو هېوادونو له ډلې په هر یو کې ډېرې پېښې شوې. هغه پېښې چې راښکاره شوې دي، دا په ډاګه کوي، چې له جګړې د سولې پر لور بدلونونه یو له بل سره ډېر کم په موازي ډول حرکت کوي، او د ناقانونه نشه یي توکو اقتصاد په دغو پروسو کې ډېره پېچلې ونډه اداء کوي.

په افغانستان کې زموږ څېړنه د امریکا متحده ایالاتو حکومت او طالبانو ترمنځ د ۲۰۲۰ز کال په سپټمبر میاشت کې د دوحې تړون تر لاسلیک دوه کاله وړاندې پیل شوه. په دې تړون کې امریکا متحده ایالاتو له طالبانو د امنیتي تضمینونو اخیستلو شرط په بدل کې له افغانستان د خپلو ځواکونو له ګام په ګام وتلو سره هوکړه وکړه. دې کار یو لړ داسې پېښې رامنځ ته کړې، چې طالبان یې پیاوړي کړل او افغان حکومت یې کمزوری کړ او نهایتاً دا کیسه د ۲۰۲۱ز کال په اګست میاشت کې د پخواني رژیم نسکورېدو او د طالبانو له لورې د قدرت واکې اخېستو په بیه تمامه شوه. د ۲۰۲۱ او ۲۰۲۲ز کال د ژمي په رارسېدو سره افغانستان د مالي بندیزونو، بهرنیو مرستو له لاسه ورکولو، کوویډ – ۱۹ ناروغۍ او د دوامداره وچکالۍ د اغېزو له کبله له بشري ناورین سره مخ شو. دا چې په افغانستان کې بحران ډېر شو، نو ناقانونه اقتصاد تر بل هر وخت ډېر اهمیت وموند. د انسانانو او نشه یي توکو قاچاق او د کوکنارو تولید یوازېني اقتصادي سکتورونه وو، چې تر دې دمه هم په دې هېواد کې مخ په غوړېدا وو.[1] که څه هم ناقانونه اقتصاد په یوازېتوب نه شول کولای په افغانستان کې بشري ناورین ته د پای ټکی کېږدي، خو د زیاترو خلکو لپاره یې د ژوندانه توښه برابره کړه.

په کولمبیا کې د دوکو حکومت چې په ۲۰۱۸ز کال کې د سولې هوکړې لیک خلاف تګلارې په ترڅ کې انتخاب شو، پر هغو زیاترو ژمنو سترګې پټې کړې چې د ۲۰۱۶ز کال د سولې په هوکړه لیک کې لیکل شوې وې. د دې ژمنو له ډلې یوه اړینه یې د ناقانونه محصولاتو د بدیل یا ځای ناستي پروګرام قرباني کول و. په دې توګه د هېواد په زیاترو برخو کې تاوتریخوالی بیاخل مخ په زیاتېدو شو، چې دواړه اړخونه یعنې حکومتي ځواکونه او یو شمېر وسله والې ډلې په کې دخیلې وې. په داسې حال کې چې د کولمبیا په کلیوالي او لېرې پرتو سیمو کې جګړې مخ په زیاتېدو شوې، نو هم مهاله د هېواد په ګوټ ګوټ کې ټولنیز لاریونونه هم راپورته شول، چې زیاتره وخت له پولیسو سره په تاوتریخجنو جګړو بدلېدل. ولسي ناظمین او ټولنیز مشران د دغو بې دربغه وسله والو شخړو بیا راپورته کېدو اصلي قربانیان وو، چې د مختلفو دلایلو د هغوی له ډلې د ناقانونه محصولاتو بدیل پروګرام په برخه کې د دوی د هڅو او کار له کبله په نښه کېدل.

زموږ څېړنې په پیل کې د میانمار ډموکراټیک انتقال او سولې ټینګښت هڅو په اړه مخکښې هیله مندي له منځه تللې وه. ترڅنګ یې دا هیله مندي چې د ۲۰۲۰ز کال په نوامبر میاشت کې د انګ سان سوچي بیاځل ټاکل کېدل به بنایي د سولې پروسې لپاره بیاځل لاره هواره کړې، د ۲۰۲۱ز کال په فبروري میاشت کې له نظامي کودتا سره په اوبو لاهو شول. د یادې کودتا په پایله کې د هېواد په ګوټ ګوټ کې ویجاړوونکې او اوږدمهاله سیاسي بحران رامنځ ته او دوامداره تاوتریخوالی لا پسې زیات شو. نظامي حکومت خپلو مخالفینو او لاریون کونکو ته له تاوتریخوالي ډک ځواب ورکړ، خو هڅه یې وکړه څو د پراخ او پیاوړي مقاومت سره سره خپله ولکه پیاوړې کړي. د وسله والو شخړو زور اخېستو او کوویډ – ۱۹ ناروغۍ د اغېزو له کبله دې هېواد په ۲۰۲۱ز کال کې له ۲۰ سلنه زیات اقتصادي رکود وکړ. په دې توګه په میانمار کې د نشه یي توکو د تولید محرکات او د نشه یي توکو زیانونه له بېوزلې، جګړې، د سوکالۍ کمزورتیا او په قانوني اقتصاد کې محدود فرصتونه له ژورې رېښې سره پر خپل ځای پاتې شول.

دا مسیرونه موږ ته دا رانبایي، چې له جګړې د سولې پر لور انتقال معمولاً له بې ثباتۍ او سیالۍ سره مل وي. تېر ته په یو ځغلند نظر دا ښایي جوته شي، چې دا په جاري شخړو کې له جګړې د سولې پر لور د رېښتیني انتقال پر ځای یوازې لنډمهاله وقفې دي.

## پولې ته د څېرمه پرتو سیمو غږونه

د هغو خلکو لیدلوري، چې د افغانستان، کولمبیا او میانمار پولو ته څېرمه په هغو پرتو سیمو کې اوسېږي، چې له نشه يي توکو اغېزمنې او جګړې ځپلې زموږ د څېړنې په هسته کې ځای لري.

د نړۍ په جنوب کې د ناقانونه نشه يي توکو اقتصاد له برخه والو (تولیدوونکو، لېږدوونکو یا مصرفوونکو ) د نشه يي توکو، ودې او سولې ټینګښت اړوند د پالیسۍ په بحثونو کې په ملي او نړیواله کچه ډېره کمزوري استازولي کېږي یا په ټوله کې هېڅ استازولي ترې نه کېږي. په داسې حال کې چې دا د هغو خلکو له ډلې دي، چې له نشه يي توکو سره د مبارزې له پالیسیو تر ټولو ډېر اغېزمن دي.

هغه پالیسۍ چې د نشه يي توکو ستونزې د هوارې، له ودې د ملاتړ او سولې ټینګښت ادعاء لري؛ یوازې په هغه صورت کې په خپله ادعاء کې بریالیتوب ترلاسه کولای شي، چې پولې ته په څېرمه پرتو سیمو کې د ژوندانه تامین او قدرت جوړښتونو په بدلون کې د نشه يي توکو له ځرنګوالي او د ناقانونه نشه يي توکو په اقتصاد کې د ښکېلو اړخونو لپاره د خطرونو او فرصتونو له نابرابر وېش سره همغږې ولري.

له دې کبله، له نشه يي توکو په اغېزمنو سرحدي سیمو کې د استوګنو ولسونو او خلکو غږونو او تجربو په جدي، دوامدار او معنادار ډول غوږ نیولو او زده کړو ته اړتیا ده.

"پولې ته د څېرمه پرتو سیمو غږونه" د هغو ګڼ شمېر څېړونکو، فعالانو او پالیسۍ جوړونکو لپاره په پام کې نیول شوې، چې د نشه يي توکو، ودې او سولې ټینګښت اړوند مسایلو سره سروکار لري او کار پرې کوي، او د نشه يي توکو – نظم (بې) نظمۍ پروژې د هغو ګڼ شمېر تولیدي موادو له ډلې یوه برخه ده، چې د ناقانونه نشه يي توکو په اقتصاد کې د ښکېلو خلکو پر لیدلوریو او تجربو رڼا اچوي.

زموږ د ۲۰۲۰ز کال پولې ته د څېرمه پرتو سیمو غږونو خپرونې له هر هغه هېواد څخه چې موږ په کې کار کوو درې اړین پیغامونه له ځان سره لرل دا پیغامونه د سروې له ارقامو او د نشه يي توکو په اقتصاد کې له ښکېلو کسانو سره د نیمه جوړښتي مرکو، د ژوندانه داستان مرکو، غیررسمي خبرو اترو او په بېلا بېلو سیمو کې د میداني کار پرمهال د ګډونوالو له مشاهدو راټول شوي وو.

### زموږ تمه دا ده، چې د کیسو دا ټولګه به لوستونکي د ودې او سولې ټینګښت په پروسو کې د ناقانونه نشه يي توکو د تعامل پر ځرنګوالي انتقادي فکر او تعامل ته وهڅوي.

"پولې ته د څېرمه پرتو سیمو غږونو" د ۲۰۲۲ز کال دا ټولګه بیاځل هم پر حاشیوي غږونو تمرکز کوي، خو یوازې په دومره توپیر چې دا ځل له افغانستان، کولمبیا او میانمار څخه د ژوندانه نهو کیسو پر ژورلید راڅرخي. د ژوند دغو کیسو له ډلې هره یوه یې په یو نه یو ډول بېساري ده. خو موږ تمه لرو چې د نشه يي توکو په تولید، قاچاق یا سوداګرۍ او لګښت کې د ښکېلو خلکو ورځني ژوند دا کیسې به وکولای شي څو روښانه کړي، چې د نشه يي توکو اقتصاد او پالیسۍ څه ډول پولې ته په څېرمه پرتو سیمو کې د تاوتریخوالي او سولې، بېوزلۍ او ودې، او ناامنۍ دغه راز انعطاف منلو دورانونه تر خپل اغېزلاندې راولي.

زموږ تمه دا ده، چې د کیسو دا ټولګه به لوستونکي د ودې او سولې ټینګښت په پروسو کې د ناقانونه نشه يي توکو د تعامل پر ځرنګوالي انتقادي فکر او تعامل ته وهڅوي.



انځورګري: سبستیان

## ولې د ژوند کيسې؟

په څېړنو او پاليسيو کې د ژوند کيسو کارول ننګوونکی کار دی، خو يو شمېر داسې ښېګڼې لري، چې د نورو تګلارو له لارې يې راسپړل ستونزمن دي. يادې ښېګڼې په لاندنيو برخو کې لومړی د ژوند تاريخ څېړلو څرنګوالي تر راسپړلو وروسته په ګوته شوې دي.

د ژوند تاريخ يا ژوند کيسې د څېړنې بېلا بېل ډولونه دي. که څه هم د دې څېړندود (ميتودلوجي) لپاره کوم معياري تعريف نشته او نه هم دا په ډاګه شوې ده، چې کوم څه په ځان کې رانغاړي، خو زموږ تګلاره په پراخه کچه د واټسُن او واټسن فرانک له دې تعريف پيروي کوي، چې د ژوند تاريخ د يو شخص تېرو وختونو ته کتنه ده. هغه که ټول ژوند يا هم يوې برخې ته وي؛ په شفاهي ډول يا هم ليکلي ډول وي، خو دا چې د بل شخص له لوري غني شوي او راسپړل شوي وي.[2] د ژوند کيسې د شفاهي تاريخ يا روايتونو د څېړلو له نورو ډولونو سره د شخص پر تجربو او احساساتو د تمرکز له مخې توپير کوي.[3] د بېلګې په توګه ښايي په دې کيسو کې څېړونکی له داسې شفاهي شواهدو سره مخ شي، چې تر ډېره بريده شخصي وي، خو په نهايت کې له وړاندې پر ټاکل شويو موضوعاتو يا پېښنو تمرکز په کې کېږي.[4] د ژوند کيسې معمولاً ګڼ شمېر ستر موضوعات او پېښې راسپړي، خو د شفاهي شواهدو برعکس يوازې پر روايت کوونکي او د هغه پر ژوند تمرکز کوي.

پردې سربېره، د ژوند کيسو د څېړنو ډولونه يوه ګډه موخه لري، هغه دا چې غواړي له محرومو او له پامه غورځول شويو وګړو سره مرسته وکړي، چې د خپل ژوند کيسې تر نورو ورسوي.[5] د دې کار لپاره، د ژوند تاريخ پروژې اړوند زياتره حاکم يا هژمونيک بحثونه د ژوند کيسو څېړندود له خوا ننګول کېږي.[6]

له دې کبله، د ژوند کيسو د څېړنې تګلاره "پولې ته د پرتو سيمو غړونو" د خپرونې له موخو سره همغږي کوي: ځکه د دې پروژې يوه موخه دا ده، چې داسې فرصت رامنځ ته کړي، څو له نشه يي توکو په اغېزمنو پولې ته پرتو سيمو کې د مېشتو خلکو او ولسونو تجربو او غړونو ته غوږ ونيول شي او زده کړه ترې وشي. دا هغه غړونه او تجربې دي، چې زياتره يې نه دي اورېدل شوي او همداسې چوپ پاتې شوي.

دا کيسې د هغو خلکو د ورځني ژوند يو تصوير وړاندې کوي، چې د نشه يي توکو له اقتصاد او پولې ته څېرمه د خطرونو او فرصتونو له هغه ځانګړي چاپېريال اغېزمن دي، چې دوی په کې ژوند کوي.

د مرکو وړې وړې برخې، روايتي نژادپوهنه(اتنوګرافي) او د ميداني کار آنځور په ځانګړي ډول په بشري او عيني شننو کې مرسته کوي، خو د ژوند کيسې د دې شننو لپاره په ژوره کچه کار کوي. زموږ د ذهني مرحلې کيسې له رېښتيا سره توپير کوي. د ژوند کيسو لوستل يا ورته غوږ نيول کېدلای شي په ډېره ژوره توګه بدلون رامنځ ته کړي. په تېره بيا هڅوونکې کيسې کولای شي لوستونکی/ غوږ نيوونکی نورو سيمو او وختونو ته له ځان سره بوځي او په دې کې مرسته وکړي، چې له روايت کوونکي يا اصلي کرکټر سره اشنا شي او هغه سيمې وپېژني، چې دا خلک په کې استوګنه کوي. دا کيسې دا ځواک هم لري، چې د انساني تړاو له مخې د همدردۍ او درک بڼې په داسې ډول غني کړي، چې د تعامل نورې بڼې يې نه شي کولای.

دغه راز دا کيسې اړين تناقضات، نازک توپيرونه او ابهامات هم رابرسېره کوي. د بېلګې په توګه د يوې بلواګرې وسله والې ډلې په اړه د يو روايت کوونکي تجربه او درک ځينې وختونه ډېر سره مخلوط وي او داسې ښکاري چې په اسانۍ د (خواخوږو) يا هم (مخالفينو) په ډلو کې نه شي طبقه بندي کېدلای. همدا خبره د نشه يي توکو اقتصاد په اړه هم کولای شو. چېرته چې موږ کار کوو ښايي د خلکو پر ژوند يې مثبت، منفي يا هم په دوه ګوني ډول هم مثبت او هم منفي اغېز کړی وي.


انځورګري: سباستين ناروايز

دا کيسې د هغو خلکو د ورځني ژوند يو تصوير وړاندې کوي، چې د نشه يي توکو له اقتصاد او پولې ته څېرمه د خطرونو او فرصتونو له هغه ځانګړي چاپېريال اغېزمن دي، چې دوی په کې ژوند کوي. همدې ته ورته دا کيسې شخصي او درې ګوني ژوند ليکونه دي. دوی پولې ته په څېرمه پرتو سيمو کې د خلکو د ژوند پر تګلورې او بدلون د حاکم جوړښت او عامل ترمنځ يو پېچلی تعامل راسپړي. د ژوند کيسې موږ ته دا را په ګوته کوي، چې: "دا عادي خلک دي، چې بشري ټولنه رامنځ ته کوي او دوی د زورواکو وګړو يا هم قدرت انتزاعي جوړښتونو منفعل قربانيان نه دي."[7] دا کيسې له هغو خلکوو سره د انعطاف منلو ، انطباق او ابتکار خوا ته زموږ پاملرنه راجلبوي، چې په ننګوونکو چاپيريالونو کې ژوند کوي. دغه راز هغې ونډې ته زموږ پام رااړوي، چې د ناقانونه نشه يي توکو اقتصاد يې د دې استازيتوب په غښتلتيا او کمزورتيا کې لوبوي.

د ژوند کيسې دغه راز پر هغې ونډه رڼا اچوي چې خلک يې په خپله استوګنيزه سيمه کې د نشه يي توکو د چاپېريال په بدلون کې لوبوي او د حاشيوي ولسونو پر ژوند د حاکم سيستماتيک جبر د منفعلو قربانيانو له موضوعاتو ورهاخوا ډېر نور څه بيانوي.[8] دا کيسې موږ ته د خلکو له لوري د خپلې ټولنيزې نړۍ په بدلون کې د خپل استازيتوب له لارې د خپلو هڅو د يوې برخې په توګه له نشه يي توکو سره د دوی د تعامل پر څرنګوالي د پوهېدو او له هغو ګڼ شمېر خطرونو د ژغورنې هڅو تګلارې رانښايي، چې دوی ورسره مخ دي. خو په ورته وخت کې د ژوند کيسې دا هم په ګوته کوي، چې له نشه يي توکو سره د تعامل په ګډون د بقاء دا ستراتيژۍ او ورځني فعاليتونه څه ډول د دوی د پياوړتيا او بدلون لپاره د انګېزې رامنځ ته کولو پرځای د واک حاکم جوړښتونه او نابرابرۍ لا پياوړي کوي.[9]

> تر ټولو اړینه خبره دا، چې د ژوند کیسې له موږ سره مرسته کوي څو د هغو خلکو په اړه فکر وکړو، چې د نشه يي توکو په اقتصاد کې ونډه لري او د ژوند کیسې يې له ډېرو کړاوونو خو په ورته وخت کې له مهربانۍ او مقاومت ډکې دي.

د ژوند پر کیسو کار کول له لویو سیاستونو د کوچنیو سیاستونو، د مخکښو څېرو له تاریخ د عادي خلکو تاریخ؛ یا هم له مادي، جوړښتي او اداري قواوو د احساساتي، کلتوري او انتزاعي ډګر بېلول نه دي. بلکې هغه لارې چارې وړاندې کوي، چې د جوړښتي قواوو او ورځني ژوند ترمنځ اړیکې او د خلکو او سیمو پر بدلون د دغو اړیکو څرنګوالی راسپړي.

تر ټولو اړینه خبره دا، چې د ژوند کیسې له موږ سره مرسته کوي څو د هغو خلکو په اړه فکر وکړو، چې د نشه يي توکو په اقتصاد کې ونډه لري او د ژوند کیسې يې له ډېرو کړاوونو خو په ورته وخت کې له مهربانۍ او مقاومت ډکې دي. هغه ډول پوهه چې له دې کیسو ترلاسه کېدلای شي، پر خلکو او حساسه منځپانګه د واقعي متمرکزو نشه يي توکو پالیسیو په رامنځ ته کولو کې له موږ سره خورا حیاتي مرسته کولای شي.

بالاخره، تر دې دمه موږ د بهر لوستونکو یا غوږ نیوونکو لپاره د ژوند کیسو پر اهمیت تمرکز کړی دی. خو د څېړنې ګډونوال هم دا په کې موندلای شي، چې د دوی د خپل ژوند کیسو بیانول یوه پیاوړې او له معنا ډکه تجربه ده، چې د دوی د ژوند شاوخوا پېښو په اړه د یو نوي درک او وضاحت په رامنځ ته کولو کې مرسته کوي. د ژوند کیسو د بیان اهمیت او قدرت د ولسونو هېر شوي یا ځپل شوي تاریخ بیا راژوندي کولو کې هم کارول کېږي. د ژوند تاریخ له خلکو سره دا مرسته کوي، چې له کړاوونو ډکو تجربو ته یوه معنا وروبښي یا دا چې پر هغوی د ولکې احساس ترلاسه کړي. د شخصي روایتونو له لارې د احساس رامنځ ته کول هغه څه دي، چې له موږ سره په انسان جوړېدو کې مرسته کوي او د خلکو او جمعي هویتونو د ودې لپاره یوه ژوره اړتیا په ګوته کوي.

## د نشه يي توکو او نظم (بې) نظمۍ په پروژه کې د ژوند کیسې

د ژوند کیسې له پیله د نشه يي توکو او نظم (بې) نظمۍ پروژې د څېړندود تګلاره او د تعامل ستراتیژي وه. د تېرو څلورو کلونو په موده کې زموږ څېړونکو بې شمېره د ژوند تاریخ مرکې ترسره کړي دي او مثبت منفي سازمان له موږ سره مرسته کړې ده، څو د دې کیسو له ډلې يې ځینې د ځايي هنرمندانو او کیسه ویونکو په مرسته د مزاحیه او انیمشن له لارې واقعي ژوند ته راوړو. دغو کیسو زیاتره نورې پایلې هم بدلې کړې دي.[۱۰] پولې ته له څېرمه پرتو سیمو دا خپرونه زموږ د کار عناصر په محوري پړاو کې سره راغونډوي.

د ژوند کیسو څېړلو ته زموږ د ژمنتیا یوې برخې په توګه د څېړنې ټیم ته روزنه ورکړل شوې، څو له دوی سره مرسته وکړي چې د دې څېړندود پر ارزښت لا ډېر ښه پوه شي، پر اخلاقي موضوعاتو مو ورته رڼا اچولې، د دوی د ژوند تاریخ مرکه کولو تخنیکونه مو پیاوړي کړي او هغه لارې چارې مو ورته په ګوته کړي، چې د عامه تعامل لپاره دا مرکې پرې ولیکل شي. یاد ټیم د دې لپاره هم په ښه ډول روزل شوي، چې د ژوند کیسې په څېړنو کې له ننګونو سره په ښه ډول ځان مخ کړي، چې لاندې مو ورته اشاره کړې ده.[۱۱]

له دې پانګونې سره سره، موږ دا ادعاء نه کوو، چې موږ د ژوند تاریخ هغو پروژو په څېر ژور او پراخ جزئیات رابرسېره کړي، چې له همدې ګډونوالو[۱۲] سره کلونه کېږي په اړیکه کې دي یا هم د یوه کس ژوند لیک لپاره له ګڼ شمېر سرچینو ګټه اخیستنه کوي.[۱۳] موږ د خپلې څېړنې په بڼه ورکولو کې د کیسو بیانوونکو بېلا بېلې بڼې نه دي رامنځ ته کړې.[۱۴] زموږ زیاتره کیسې له ګڼ شمېر مرکو کښل شوې، چې معمولاً دا مرکې له دوو میاشتو نیولې تر یو کال موده کې ترسره شوې دي، که څه هم په ځینو حالاتو کې موږ یوازې پر یوه مرکه بسنه کړې ده. په دې حالاتو کې هغه خلک چې د خپلو کیسو له شریکولو سره موافق و، د څېړنې ډلې ته ورپېژندل شوي او یوه باوري اړیکه رامنځ ته شوې ده.

د ژوند کیسو نهه مرکې چې زموږ د دې راپور اساس جوړوي، زموږ د همکارو سازمانونو د څېړونکو له لوري ترسره شوې دي. په ځینو حالاتو کې څېړونکي له هماغه سیمې، قومي ډلې، جنسیت او نسل و، چې مرکه کېدونکي وو، خو دا کار زیاتره وخت داسې ډول نه و. له دې مخې، دا امکان نه لري، چې د څېړونکو د دریځ او د مرکه کېدونکو سره د دوی د اړیکو او د مرکې پر پروسه د دوی د اغېز په اړه جزئیاتو ته لاړ شو، خو اړینه دا ده چې دا په ډاګه شي، چې دغو دریځونو د مرکو پر پروسه او بالاخره هغو لارو چارو اغېز کړی دی چې په ترڅ کې يې کیسې په دې راپور کې راوړل شوې دي.

زموږ لپاره دا ډېر یو ایډیال حالت دی، چې کاش ټولو روایت کوونکو په یو نه یو ډول د کیسې چټل نویس یا مسودې پاکولو په څېر د اصلاح او سمونې په پروسه کې هم برخه اخېستې وای. خو دا کار تر ډېره بریده د امنیتي موضوعاتو، کرونا وبا، د ګډونوالو د سواد بېلا بېلو کچو او ټکنالوجۍ ته د دوی د لاسرسي دلایلو له کبله شونی نه و. په هر ډول چې وي، بیا هم ټول ګډونوال نه غواړي چې د اصلاح/سمون په پروسه کې ښکېل وي، د بېلګې په توګه د کولمبیا له هېواد له درېیو روایت کوونکو هر یو ته دا فرصت ورکړل شوی و، چې د خپلو کیسو پر مسودو خپل نظریات راسره شریک کړي، خو یوازې یو کس يې دا کار وکړ.

موږ د ژوند تاریخونو ته د یو پورټال په سترګه ګورو، معنا دا چې له موږ سره مرسته کوي څو له کیسې د باندې ځینو هغو واقعیتونو په اړه پوه شو، چې انګېرل کېږي چې د ژوند په تاریخ کې انعکاس مومي.[۱۵] د دې خپرونې لپاره د کیسو ټاکنه، چې لاندې پرې رڼا اچول شوې، همدا تګلاره منعکسوي. ځکه په ډېرې پیاوړتیا سره دا څرګندوي، چې د شخصي ژوند تاریخونه د نشه يي توکو څخه اغېزمنو سرحدي او پولې ته د پرتو سیمو له تاریخونو سره تړلي او نه جدا کېدونکي دي.

## "پولې ته د څېرمه پرتو سیمو غړونو ۲۰۲۲" لپاره د کیسو ټاکل او اصلاح

پولې ته د څېرمه پرتو سیمو غړونه نه په خپلو کې نه متجانس او نه هم همرنګه دي. پرځا يې زموږ څېړنې زیاتره د نامتجانسو غړونو یوه ناهمرنګي رابرسېره کړې ده، چې د عمر، قومیت، جنسیت او دین، دغه راز فعالیتونو (قانوني او ناقانونه توکو، د نشه يي توکو تولیدوونکو، مصرف کوونکو، قاچاق کوونکو، سرلارو او فروعو؛ بالاخره موقعیتونو (ولایتي مرکزونو، پولې ته څېرمه ولسوالیو، بېوزله داخلي سیمو، قاچاق مرکزونو) له مخې یو تر بله توپیر کوي.

طبعاً دا خبرې يو لړ پوښتنې راپورته کوي، هغه دا چې کومو غړونو ته بايد لومړيتوب ورکړل شي؟ خو اړينه خبره دا ده، چې د دغو کيسو په ټاکنه او بيا ويلو کې روښتيا موجوده وي. موږ دا نه وايو، چې کاملاً بې طرفي به مو ساتلې وي، او نه هم دا ادعاء کوو، چې د ټولو غړونو استازولي مو کړې. خو هڅه مو کړې ده، چې د بېلګې په توګه د ښځو او سړيو مساوي غړونو ته له لاسرسي په تېره بيا په افغانستان کې ډاډمن شو.

که څه هم د ژوند کيسې په خپله د قياس او تعميم لپاره نه دي، خو پر پراخو منځپانګو، مرحلو او موضوعاتو رڼا اچوي. زموږ څېړنيزې ډلې دا خبره په خپل ذهن کې ساتلې او "پولې ته د څېرمه پرتو سيمو غړونو ۲۰۲۲" لپاره يې د همدې معيار له مخې په غور سره کيسې ټاکلې دي. موږ هغه کيسې ټاکلي دي، چې زموږ د څېړنو د موندنو په ترڅ کې د سروې او سلګونو مرکو په ګډون له ګڼ شمېر تګلارو او ارقامو راښېستل شوي او بيان شوي دي.

## که څه هم د ژوند کيسې په خپله د قياس او تعميم لپاره نه دي، خو پر پراخو منځپانګو، مرحلو او موضوعاتو رڼا اچوي.

د ټاکنې په مرحله کې اخلاقي ملاحظاتو هم ونډه درلوده. د ژوند کيسو خپرول يو بېل رضايت ته اړتيا لري. دا ډېره ستونزمنه ده، چې يو شی په بې ساري ډول کاملاً مستعار شي، حتی که چېرې په دې کار کې يو څوک بريالی هم شي، ټول مرکه کېدونکي به د خپل شخصي ژوند کيسې له عام کېدو سره د راحتی احساس ونه کړي. په دې راپور کې کنډل شوي کيسې د هغو خلکو شاهدی دي چې غوښتل يې خپلې کيسې شريکې کړي او غړونه يې واورېدل شي او له دې سره يې ښکاره رضايت ښودلی، چې د ژوند کيسه يې خپاره شي. په جګړه ځپلو او له نشه يي توکو اغېزمنو سيمو کې د مرکې لپاره د رسمي او کتبي اجازې غوښتل د يو شمېر دلايلو له کبله مناسب نه دي؛ ځکه کېدلای شي دا کار ګډونوال له ګواښ سره مخ کړي، د دې ترڅنګ ټول مرکه کېدونکي يا ګډونوال لوستي نه دي، او په ځينو حالاتو کې د لاسليک غوښتل د بې باورۍ نښه هم ده او ښايي د يو چا په سترګو د ورننوتو يا هم زړه ماتېدو په سترګه ورته وکتل شي.




له دې کبله، د څېړونکو له لوري د پروژې تر تشريح کولو او د دوی يادښتونو د کارولو څرنګوالي په اړه د معلوماتو تر ورکړې وروسته دوی شفاهي رضايت په ډاګه کړی دی او دا کار د هغو سلګونو مرکو بنسټ جوړوي چې د نشه يي توکو او نظم(بې) نظمۍ ډلې څېړونکو، د دې خپرونې لپاره د ترسره شويو مرکو په ګډون ترسره کړي دي. ګډونوالو ته په دې اړه ويل شوي، چې د دوی نوم او هويت به پټ ساتل کېږي. خو بيا هم دا ډېره ستونزمنه ده، چې د ژوند کيسو خپرولو پرمهال بشپړ مستعارتوب تضمين شي، په تېره بيا که چېرې يو روايت کوونکی په ځايي کچه پېژندل شوی شخص وي، نو موږ په دې راپور کې د دا ډول خلکو د کيسو خپرولو لپاره د لا ډېرې اجازې هڅه کړې ده. يو ګډونوال خو په ښکاره دا غوښتنه وکړه، چې موږ يې په کيسه کې دلته خپل اصلي نوم وکاروو.

د ټاکلو پر پراخ معيار سربېره، په هر هېواد کې د څېړنې ډلې د خپلو کيسو د ټاکلو لپاره يو مصلحت يا عقلانيت په پام کې نيولی دی. د افغانستان ټيم خپل کار له ننګرهار او نيمروز ولايتونو څخه د کوکنارو توليدوونکو او سوداګرو د ژوند کيسو د انتخاب په شارټ لېسټ کولو سره خپل کار پيل کړی، چې د قانوني او ناقانونه سوداګرۍ ترمنځ يې د تړاو په ګډون د څېړنې اړين موضوعات په ډاګه کړي، او دغه راز ډېر هڅوونکي روايتونه هم و. له دغو شارټ لېسټ شويو کيسو دوی هغه کيسې په نښه کړې، چې دا يې په ډاګه کړې چې لوی سياسي خوځښتونه او مخالفتونه څومره د عادي خلکو پر ژوند اغېز کوي او پولې ته د څېرمه پرتو سيمو د خلکو ژوندانه په تاړمين کې څومره اهميت لري. ياد ټيم پرېکړه کړې ده، څو په تېر مزاحيه فورم کې له خپرېدو سره سره د جانګل کيسه هم په کې شامله کړي، ځکه په دې کيسه کې ډېر غني جزئيات شامل و او هلته نه دي راوړل شوي. دوی دغه راز د يوې داسې ښځې کيسه هم په کې شامله کړې ده، چې دا په ډاګه کوي، چې نشه يي توکي په افغانستان کې پولې ته د څېرمه وګړو د ژوند يوه برخه ده، حتی که چېرې دوی مستقيماً په دې سوداګرۍ کې لاس هم ونه لري.

د کولمبيا ټيم په ملي پوهنتون کې هغه کيسې په نښه کړې، چې پولې ته په څېرمه پرتو سيمو کې د نشه يي توکو، ودې او جګړې پر تاريخونو رڼا اچوي، چېرته چې دوی کار کوي (د سانتا مارتا سيرا نيوادا، توماکو او پورتو آسيس)، دغه راز پر ځينو وروستيو تحرکاتو هم رڼا اچوي. دوی دغه راز هغه کيسې هم انتخاب کړې، چې په روښانه ډول په يادو تاريخي مرحلو کې د ټوليز او انفرادي استازولۍ پر ونډه رڼا اچوي. په دې راپور کې د دربېو خپرو شويو کيسو له ډلې دوه يې د هغو ولسي مشرانو د ژوند کيسې دي، چې ياد ټيم پرې کار کوي. د کارمن او ډان تيتو کيسې په تېره بيا ځکه انتخاب شوې، چې د ډېرو زړه راښکوونکو روايت کوونکو له لوري د روايت ترڅنګ د ښځينه او افريقايي–کولمبيايي ولسي مشرانو ليدلوري هم وړاندې کوي.

د ميانمار څېړنيزې ډلې د ۲۰۱۸ او ۲۰۱۹ز کلونو په لړ کې د کاچين او شان ايالتونو په ګوټ ګوټ کې پراخ شمېر مرکې ترسره کړې. يوه اړينه موضوع چې په دې مرکو کې رابرسېره شوه، پر خلکو، کورنيو او ولسونو د نشه يي توکو د اغېزو او هغې ننګونې په اړه اندېښنه وه، چې دغو نشه يي توکو په داسې چاپېريال کې رامنځ ته کړې ده، چې هلته د نشه يي توکو توليد د زياترو بېوزلو کورنيو د ژوند توښې په چمتوکولو کې حياتي ونډه لري. ياد ټيم درې هغه کيسې انتخاب کړې، چې دلته مو راوړې دي، ځکه دا کيسې د نشه يي توکو د زيانونو خو اړخيز طبيعت راسپړي، چې د نشه يي توکو دوامداره کارولو له کبله هم رواني اغېزې او هم يې رامنځ



انځورګري: سبستیان نراویز

ته کړي مالي فشارونه په ځان کې رانغاړي، خو د دې ترڅنګ هغه ژبانونه هم په ګوته کوي، چې له نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې د توندو غبرګونونو له کبله په تېره بیا اوږدمهاله حبس او بدنامول يې رامنځ ته کړي دي. دوی دغه راز دوې داسې کیسې هم په کې انتخاب کړي، چې د ښځو له لوري روایت شوې، څو د بېلا بېلو جنسیتي لیدلورو له مخې په دې موضوعاتو کې يو لړ متفاوت نظريات وړاندې کړي.

د دې کیسو تر انتخاب وروسته د ژوند کیسو د مرکو خام مواد د خپرېدو لپاره اصلاح شوي، او په دې اصلاح کې وقايوي ګامونه هم شامل و، خو د کیسې متن د مرکه کېدونکو د غږونو، نظرياتو او جزئياتو له اصلي منځپانګې سره سم پاتې شوی.

د کولمبیا او میانمار د شان ایالت کیسې لومړی د مرکې په اصلي ژبو يعنې هسپانوي او شان کې اصلاح شوي او بیا انګلیسي ته ژباړل شوي. د افغانستان دغه راز د میانمار د کاچین ایالت کیسې بیا لومړی په انګلیسي ژبه کې اصلاح شوي، خو په پښتو، دري او جینګپاو ژبو کې له اصلي خامو موادو او له ژباړل شويو موادو دواړو د سرچینې په توګه هم ګټه اخیستل شوې.

اصلاح شوي منځپانګه ټوله له مرکو راخيستل شوې، زموږ ټيم کومې داسې پېښې يا نظريات نه دي په کې زيات کړي، چې په اصلي منځپانګه کې موجود نه و، او د امکان تر بریده په خپله د مرکه کېدونکو وګړو خپلې خبرې کارول شوي دي. په ورته مهال کې له دې کیسو د داسې منځپانګې توليدولو يو لړ ازادۍ لاسوهنې ته اړتیا لرله، څو د هر راز مخاطبينو لپاره ډېره جالبه او د لاسرسي وړ وګرځي. په دې لاسوهنو کې د مرکه کېدونکو روايت اصلاح (مثلاً د نابشپړو يا هم مبهمو نظرياتو / جزئياتو لېرې کول)، د ټوټو انتقال له يو ځای بل ځای ته څو يو ډېر فصيح او روان روايت رامنځ ته کړي، او په ځينو ځايونو کې د کلماتو بدلون شامل وو، څو جملات ډېر روښانه او د پوهېدو وړ شي.

په ځينو حالاتو کې يو لړ روايتونه په داسې بڼه رالنډ شوي دي، چې ناڅرګندې برخې او تکراري جملې ترې حذف شي، يا هم کلمات عام فهمه شوي دي. دا کار په تېره بيا د ژوند تاريخ په هغو مرکو کې ترسره شوی، چې په بېلا بېلو موسمونو کې ترسره شوي دي. زموږ د سمونونکو له ډلې بايد ځينو يې په دې اړه دا سخته پرېکړه په خپله کړې وای، چې د کيسې کومې برخې په کې شاملې او کومې ترې ليرې کړي. په داسې حال کې چې موږ د ژوند يادښت د بشپړ توليد پر ارزښت پوهېږو، چې زياتره يې په سلګونو پاڼې اوږد وي،[16] خو موږ د ژوند تاريخونو بشپړ او جزئياتو لرونکو يادښتونو او لنډو کيسو ترمنځ له متقابلې اړيکې هم خبر يو، چې دا پوتانشيل لري څو پراخ شمېر مخاطبين ځان ته راجلب کړي.

په راتلونکې برخه کې موږ تاسو د ژوند همدې کيسو لوستلو ته رابولو، چې د پورته تشريح شوي پروسې له لارې ټاکل شوي او اصلاح شوي دي. دوی دا غني فرصت رامنځ ته کوي، څو پر هغو زياترو لارو چارو پوه و، چې په لړ کې يې ناقانونه نشه يي توکي پولې ته د څېرمه جګړه ځپلو او نشه يي توکو څخه د اغېزمنو خلکو ورځنۍ ژوند تر خپل اغېز لاندې راولي.

# د افغانستان پولو ته له څېرمه پرتو سیمو
# د ژوند کیسې




پولې ته د څېرمه پرتو سیمو غږونه په کولمبیا ، افغانستان او میانمار کی له اوو سرحدی سیمو غږونه او راتلونکی احتمالات وړاندی کوی. په نړی کی دغه دری هیوادونه، په ګډه، دغیرقانونی نشه یی توکو دتولونه زیات تولیدونکی دی؛ دی هیوادونه جنګ او تاوتریخوالی لیدلی او پکی دسولی پروسه روانه ده.

# د افغانستان پولو ته له څېرمه پرتو سیمو

## د ژوند کیسې









پرقاچرو د ټرانزیټي توکو لیږد؛ دورباباولسوالي، ننګرهار. عکس د پایداره پراختیا او ښځو موسسه(OSDR)



# له کابله تر مسکو د هروئینو له ډک بکس سره سفر


## دا کیسه جان ګل[۱۷] ویلې ده او ثنا ساپی[۱۸] اصلاح کړې


**ننګرهار** د افغانستان په ختیځ کې له پاکستان سره پر ګډه پوله پروت ولایت دی. د یاد ولایت مرکز جلال اباد مهم سوداګریز، کلتوري او سیاسي مرکز ګڼل کېږي. د مرمرینو ډبرو، شوکاڼي(تالکو) او قیمتي ډبرو کانونه دغه راز د ځنګلونو ناقانونه وهل په یاد ولایت کې د زورواکو سوداګرو او سیاسي – نظامي ډلو لپاره د عوایدو مهمې سرچینې دي. د دې ترڅنګ، یاد ولایت پیاوړی کرنیز اقتصاد لري او له ۱۹۸۰یمې ز لسیزې د کوکنارو لوی تولیدوونکی ولایت ګڼل کېږي. ننګرهار ولایت د (۱۹۷۹-۱۹۸۹ز کلونو) په ترځ کې د افغان – شوروي جګړې پرمهال د کمونېستي رژیم په وړاندې د مقاومت عمده مرکز په توګه سخت زیان لیدلی. د دې ترڅنګ، په ۲۰۰۱ ز کال کې د امریکا متحده ایالاتو په مشرۍ مداخلې د دې جګړې د پای ته رسولو پرځای یوازې د هغې بڼه وربدله کړه او یاد ولایت د طالبانو نړیوالو له ملاتړ د برخمن رژیم ترمنځ د جګړې په لومړۍ کرښه بدل شو. ډیورنډ کرښه چې افغانستان له پاکستان جلا کوي له ډېرې مودې راهیسې لانجمنه ده، خو دا پوله د رسمي او نارسمي عبوري نقطو له لارې د پولې دواړو غاړو ته د پیاوړو قبیلوي شبکو پر مټ د ټرانزیټي سوداګرۍ د غوړېدا ځای هم دی. له ۲۰۰۱ز کال راوروسته د دواړو غاړو لپاره د امنیتي او مالیاتي اندېښنو له کبله د ډیورنډ پر کرښه د تګ راتګ تنظیم ته تر بل هر وخت اړتیا زیاته شوه. پاکستان د کرښې په اوږدو کې اغزن تار نصب کړ څو د پولې دواړو غاړو له ناقانونه تګ راتګ مخنیوی وکړي او نارسمي عبوري نقطې یا بندرونه یې بند کړل. دې کار د کرښې دواړو غاړو ته د پرتو سیمو د ولسونو پر ژوند د پام وړ اغېز کړی دی.

ما د **۱۹۶۳**ز کال کې د ننګرهار ولایت په اچین ولسوالۍ کې دې نړۍ ته سترګې غړولې. زما پلار دوه وادونه لرل. زه او خور مې له خپلې مور سره په کلي کې اوسېدو، خو پلار مې له خپلې دویمې مېرمنې سره په کابل کې استوګنه کوله. پلار مې د دولت کارمند و. تنخوا(معاش) یې هومره نه و، چې دوې کورنۍ پرې وپاللی شي، نو زه مجبور وم چې ښوونځي ته د تګ ترڅنګ کار هم وکړم څو مور درې کسان پرې خپل ژوند تېر کړو. د دواړو کارونو ترسره کول ډېر راته ستونزمن وو، له دې وجې په اتم ټولګي کې د زده کړو پرېښودو ته اړ شوم. که څه هم زما عمر کم و، خو ډېر ښه مې په یاد دي، چې خلکو به هر چېرته او هر وخت غوښتل په ازادانه ډول یې تګ راتګ کولای شو. معمولاً ټول خلک بېوزله وو. زیاترو کورنیو یوازې یو اتاق درلود، چې د کورنۍ له دریېو تر شپږو غړو به په کې اوسېدل او خوراک یې راشن وو. دوی په خپلو کروندو کې غنم، جوار او کوکنار کرل. زیاترو خلکو غواګانې، وزې او خرې درلودې. مور به شیدې، ماستې او پنیر له خپلو غواګانو، وزو او مېږو ترلاسه کول.

د کلي خلکو په ټولنیزو او ولسي اشرونو کې په رضاکارانه ډول برخه اخېسته. دوی به د پلونو، مسجدونو او سرکونو جوړولو دغه راز د کانالونو او ویالو د پاکولو لپاره ولسي اشرونه کول. مور د ځایي شوراګانو، ولایتي شوراګانو او ملي شورا(پارلمان) لپاره ټاکنې کولې. په خپل کلي کې مې د ټاکنیزو سیالیو راټولېدنې اوس هم په یاد دي.

کله چې زه دوولس کلن شوم، مور مې وفات شوه، نو زه او خور مې باید له خپلې انا سره اوسېدلي وای. ما به په کرونده کې کار کاوه څو د خپل ژوند اړتیاوې ترې پوره کړم. په خپلو ځمکو مې غنم او کوکنار وکرل او زه یې د دې جوګه کړم څو یوه مړۍ ډوډۍ کور ته پرې راوړم. په **۱۹۷۸**ز کال کې د ولسمشر داوودخان په وړاندې د کمونېستي کودتا راوروسته حالات مخ په بدلېدو شول. پلار مې راته د واده کولو تصمیم ونیو. په همدې کال مې واده هم وکړ. په **۱۹۷۹**ز کال کې هغه مهال چې زه **۱۲** کلن زلمی وم، شوروي اتحاد پر افغانستان یرغل وکړ.

## د شوروي پرضد د مجاهدینو مقاومت

د شوروي له ملاتړ تر برخمني کودتا وروسته ډېر ژر د مجاهدینو لومړنۍ ډلګي اچین ته راورسېدل. دوی به د شپې له خوا د خلکو د کورونو دروازې ټکولو او د پیسو غوښتنه یې کوله. دوی دا پیسي له خلکو د "زکات" په نوم راټولولې.[19] د دې ترڅنګ یې ځایي خلکو ته په حکومت کې د کار کولو په اړه هم خبرداری ورکړی و. که چېرې خلکو له دې کار سرغړونه کوله، نو د کورنۍ هر غړي پر سر یې د جریمې پرې کولو یا هم د کور په سوځولو ګواښل کېده. په کورنۍ کې د هر غړي پر سر د جریمې اندازه د ۲۵ امریکایي ډالرو معادل ۱۰۰۰ افغانۍ وه.

**د شوروي له ملاتړ تر برخمنۍ کودتا وروسته ډېر ژر د مجاهدینو لومړنۍ ډلګۍ اچین ته راورسېدل. دوی به د شپې له خوا د خلکو د کورونو دروازې ټکولو او د پیسو غوښتنه یې کوله. دوی دا پیسي له خلکو د "زکات"په نوم راټولولې. د دې ترڅنګ یې ځايي خلکو ته په حکومت کې د کار نه کولو په اړه هم خبرداری ورکړی و.**

د مجاهدینو وسله وال مقاومت ته د ستري جګړې په سترګه کتل کېدل. حکومت به په دوامداره ډول هوايي بمبارد کاوه، چې ګڼ شمېر خلکو ته یې مرګ ژوبله اړوله. سلګونه، ان زرګونه نور له خپلو کورونو بې ځایه شوي وو. کورونه او هټۍ چور شوي وو، ځمکې غصب او غلاء شوې وې او کرنه په ټپه دربدله وه. ولسونه هم په خپلو کې سره وېشل شوي وو. ځینو د حکومت پلوي کوله او ځینو بیا له مجاهدینو ملاتړ کاوه. ښوونځي په بمونو الوځول شوي وو یا هم خالي پاتې و، ځکه هېچا دا جرأت نه کاوه څو خپل ماشومان ښوونځیو ته ولېږي. سوداګري په ټپه ودربده او ژوند هم له کړکېچ سره مخ شو.

دا چې پلار مې په کابل کې کار کاوه او خلک پرې خبر وو، چې په حکومت کې دنده لري، نو مجاهدینو زه وګواښلم چې یا نوموړی دې ته وهڅوم څو دنده پرېږدي او کلي ته راشي یا هم خپل کور د اور لمبو خوراک کړم. ما پرېکړه وکړه، چې خپل کلی پرېږدم. له خپلې مېرمنې، خور او انا مې وغوښتل چې له ما سره یو ځای کابل ته لاړ شي، څو هلته د خپل پلار ترڅنګ ژوند وکړو.

موږ د شوروي ځواکونو تر یرغل وروسته کابل ته راغلو او د پلازمېنې کابل په سویل ختیځ برخه کې د قلعه زمان خان مېنې ترڅنګ مېشت شوو. مګر ماته ډېر ژر دا جوته شوه، چې هلته هم ژوند ډېر ستونزمن دی، ځکه له ۱۸ کلونو لوړ عمر لرونکي نارینه مکلف وو څو د دوو کلونو لپاره عسکري خدمت وکړي، خو ما دا نشول کولای ځکه خپل کور مې یوازې نه شو پرېښودلای.

## عسکري خدمت

زما د هر راز هلو ځلو ترڅنګ بیا هم په دې ونه توانېدم چې له عسکري خدمت اوږې خالي کړم، نو پرېکړه مې وکړه چې بېرته اچین ته راشم څو خپله پېژند پاڼه (تذکره) راواخلم او په ملي نظامي اکاډمۍ کې شامل شم. بالاخره په ۱۹۸۰ز کال کې په اکاډمۍ کې شامل شوم او د یو کال روزنې په موخه کندهار ولایت ته ولېږل شوم. د خپلې نظامي روزنې تر بشپړولو وروسته د هېواد شمالي ولایت بلخ په مرکز مزارشریف هوايي ډګر کې په دنده وګمارل شوم. د ملکي مامور په توګه زما میاشتنۍ تنخوا ۲،۰۰۰ افغانۍ (په نن وخت کې د ۷۲.۲۳ امریکایي ډالرو معادل) وه.

په دنده کې تر دوو کلونو تېرولو وروسته مې له خپلې مېرمنې وغوښتل، چې مزارشریف ته راشي، تر دې وروسته باید زه هملته مېشت شوی وای، ځکه په کافي اندازه عواید مې لرل او له کار کولو سره هم بلد شوی وم. له تنخوا ورهاخوا مې له حکومت کوپون (خوراکي توکي) لکه چای، بوره، اوړه، صابون، شامپو او غوړي په وړیا ډول ترلاسه کول چې زما اړتیاوې یې پوره کولې.

په یاده دنده تر ۱۲ کلونو پورې پاتې شوم، تردې چې په ۱۹۹۲ز کال کې کورنۍ جګړه پای ته ورسېده. د مجاهدینو د مقاومت پرمهال او بیا ورپسې د قدرت وېش پر سر د دوی نښتو له کبله نظامي تاسیسات په پراخه کچه ویجاړ شوي وو. په شمال کې چېرته چې زه مېشت وم، عبدالرشید دوستم ته ژمنو ملیشه یي ځواکونو د هوايي ډګر د چارو په سنبالولو کې لاسوهنه کوله. دوی هېڅ یو زما په څېر نظامي افسرانو ته درناوی نه کاوه.

زه په دې خوښ وم، چې دنده لرم، خو زما تنخوا ډېره کمه شوه په داسې حال کې چې کورنۍ مې ورځ تر بلې لویېدله. په دې تنخوا مې نور ګوزاره نه شوه کولای، نو د ۱۹۸۰یمې ز لسیزې په نیمايي کې مې خپله مېرمن او ماشومان د ننګرهار په اچین ولسوالۍ کې خپل کلي ته ولېږل او زه په مزار شریف کې پاتې شوم، څو خپل کار ته دوام ورکړم. زما د ګمارنې په لومړیو کلونو کې مزارشریف او شاوخوا سیمې خوندي او امن وې، خو ورو ورو ناامني خوره شوه.

۱۹۹۰ز کال د افغانستان خلکو لپاره تر ټولو ډېر بدمرغه کال و. لومړی دا چې په لویو ښارونو لکه جلال آباد کې درنې جګړې وې. دویم، مجاهدینو په کابل کې د محمد نجیب الله حکومت په وړاندې د خپلې مبارزې یوې برخې په توګه پلازمېنې کابل ته ټولې تللې لارې وتړلې. په جلال اباد ښار کې مې خپلو خپلوانو ته ورتګ ښه په یادېږي او هغه وخت ماته معلومه شوه چې خلک اړ ویستل شوي وو، څو د ګلپي پاڼې پخې کړي او ویې خوري، ځکه نور هېڅ شی نه و یا لاسرسی ورته نه کېده. ډوډۍ ډېره کمه وه. زما په اند په ولسوالیو کې وضعیت تر دې ښه وو (چې بیا وروسته د مجاهدینو تر بشپړ ولکې لاندې راغلې) ځکه خلکو لږ تر لږه کولای شول د غلې دانې ترلاسه کولو لپاره ځمکې وکري او مالداري وساتي. ان تر دې چې ځینو کلیوالو خو په ولسوالیو کې هټۍ هم پرانیستي وو.

**...خلک اړ ویستل شوي وو، څو د ګلپي پاڼې پخې کړي او ویې خوري، ځکه نور هېڅ شی نه و یا لاسرسی ورته نه کېده. ډوډۍ ډېره کمه وه.**

د پام وړ شمېر خلک د کوکنارو په کروندو او د غني خېلو، خوګیانو، چپرهار او اچین په ځایي بازارونو کې د هغوی پر پېر او پلور بوخت وو. د مجاهدینو زیاتره مشران هم د نشه یي توکو په سوداګرۍ کې ښکېل وو.

د شوروي ځواکونو تر وتلو وروسته جګړې زور واخیست او په کلیوالي او ښاري دواړو سیمو کې پرله پسې درنې بمبارۍ کېدې. په ۱۹۹۲ز کال کې د برهان الدین رباني په مشرۍ د مجاهدینو شریک حکومت تر جوړېدو وروسته امنیت یو څه ډاډمن شو، خو افغانستان په ټوله کې له قانون برخمن نظام لېرې پاتې شو.

**هرې سیمې خپل جګړه مار درلود او له مسافرو دغه راز پر لاره له تلونکو خلکو به یې د پیسو اخیستلو لپاره تم ځایونه جوړ کړي وو [...] زیاتره خلک کېدای شول [...] څو خوندي**

## پاتې شي، خو دې کار ټولنيز او ولسي پيوندونه کمزورې کړل.

د څاڅوبي عبوري نقطه، پاکستان د ترانزيټي توکو د بياواردولو لپاره، دوربابا ولسوالۍ. آنځور د دوامداره ودې او څېړنو موسسه(OSDR)

هرې سيمې خپل جګړه مار درلود او له مسافرو دغه راز پر لاره له تلونکو خلکو به يې د پيسو اخېستلو لپاره تم ځايونه جوړ کړي وو. شوکې زياتې شوې. زياتره خلک پاکستان، ايران يا د افغانستان د ننه نورو سيمو ته کډه شول، څو خوندي پاتې شي، خو دې کار ټولنيز او ولسي پيوندونه کمزوري کړل. موږ تر دې وروسته يو د بل په غم او ښادۍ کې ګډون نه شو کولای. ان تر دې، چې د کورنۍ نېږدې غړو يو بل په کلونو نه شول ليدلای.



څوبی سرحدی سیمه ، پاکستان ته د نویو ترانزیتي توکو لار، دوربابا ولسوالی آنځور OSDR

په ۱۹۹۳ ز کال کې مې په مزارشريف کې خپله دنده پرېښوده او کلي ته لاړم څو له خپلې مېرمنې او ماشومانو سره يو ځای ژوند وکړم. ما له ځان سره ۳۰۰،۰۰۰ افغانۍ (۳،۸۳۱ امريکايي ډالرو معادل) لرلې. کله چې کلي ته راورسېدم، نو له خور مې چې تازه په همدې وختونو کې کونډه شوې وه، ۵۰،۰۰۰ نورې افغانۍ (د ۲۳۹ امريکايي ډالرو معادل) پور کړې، څو په بازار کې دوکان پرې پرانېزم. زما لپاره بل لومړيتوب دا و، چې په خپل زاړه کور کې يوه جونګړه جوړه کړم، چې په ۱۹۷۹ز کال کې د مجاهدينو له لوري له کمونېستي حکومت سره زما د پلار د مرستې په بهانه سوځول شوی وو. له ځايي بازار مې لرګي وپېرل او ياده جونګړه مې پرې اباده کړه.

## مسکو ته د هروئينو د قاچاق لومړی سفر (۱۹۹۳ز کال)

دوکان زما لپاره غوره پانګونه وه، مګر په دې وخت کې مې دوې کورنۍ پاللې؛ يوه مې خپله او بله د خور کورنۍ. افغاني بانک نوټونو خپل ټول ارزښت بايللی و او موږ ټولو پاکستانۍ کلدارې کارولې. دا وخت پر ما سختې ورځې تېرېدې. زما ټولو ملګرو او خپلوانو هم هلې ځلې کولې.

په همدې کال زما ملګري، چې يو کمونېست ډګروال و او ما په مزارشريف کې ورسره ليدلي و، له ما سره په اچين کې وليدل. د نومړي د تره زوی د نشه يي توکو په سوداګرۍ کې ښکېل و. تره زوی يې د د اچين په

عبدالخيلو سيمه کې د هروئينو فابريکه لرله. نومړي هروئين مزارشريف ته قاچاق کول او هلته به يو بل قاچاقبر د ازبکستان له لارې روسيې ته لېږدول. هغه شخص چې مسکو ته يې هروئين قاچاق کول د عبدالخيلو له هر سوداګر د يو کيلوګرام پر سر ۱۷،۰۰۰ امريکايي ډالر اخېستل. زما ډګروال ملګري يو فکر درلود. ويې ويل: څنګه دې خوښه ده، که چېرې د تره زوی ( په عبدالخيلو کې د هروئينو سوداګر) ته ووايم چې په مزارشريف کې مو له قاچاقبر سره معرفي کړي، چې دوی دواړه يې په خپل لاس په ډېر ښه ډول قاچاق کولای شي؟

د عبدالخيلو سوداګر ومنله، بالاخره زه او ډګروال يې استخدام کړو. موږ هر يو ته يې ۵۰،۰۰۰ پاکستانۍ کلدارې( د ۳۰۴ امريکايي ډالرو معادل) راکړې، چې خپل کار پيل کړو، او د کار تر بشپړولو وروسته يې هر يو ته نورې اضافي ۵۰،۰۰۰ کلدارې ، چې ټوټل۱۰۰،۰۰۰ کلدارې کېدې، هم ومنلې.

ما هم ومنله، خو مېرمن مې خبره نه کړه. مېرمنې ته مې بهانه دا وکړه، چې زه مزارشريف ته ځم څو هلته د کاريګر په صفت کار وکړم. کله چې د تګ وخت راورسېد ، خدای پاماني مې وکړه او د کور مخې ته له ډګروال ملګري سره يوځای شوم. له هغه ځايه مو د مزارشريف خوا ته حرکت پيل کړ.

د عبدالخېلو سوداګر، ډګروال او زه مزارشريف ته راورسېدو او مستقيماً هغه ځای ته لاړو ، چې د عبدالخېلو سوداګر له لوري زموږ لپاره په پام کې نيول شوی و. د مزارشريف دلال همدې کور ته راغی او له موږ سره يې وليدل. نومړي د پاسپورټونو او ازبکستان ويزې د اخېستلو مسوول و. دې کار درې مياشتې وخت ونيو. پلان دا و ، چې زه او ډګروال به هروئين له ځان سره اخلو او د موټر په واسطه به د ازبکستان له لارې مسکو ته ځان رسوو او د مزارشريف کس به مسکو ته په الوتکه کې ځي بيا به هلته له موږ سره ګوري.

### موږ د حيرتانو بندر له لارې مزل پيل کړ. ډګروال له ځان سره کوچنۍ تش بکس انتقالوه او ما سره له دوه نيم کيلوګرامو هروئينو ډک بکس و.

د سفر په ورځ سهار وختي د مزارشريف معامله کوونکي ما ته په پاکستان کې په ماهرانه او مسلکي ډول جوړ شوی بکس راکړ او هروئين مې په کې ځای په ځای کړل. د دې ترڅنګ مې دوه کيلوګرامه بادام او دوه کيلوګرامه مميز واخېستل او له خپلو کاليو سره يو ځای مې په بکس کې کېښودل. بالاخره د حيرتانو بندر په لوري مو مزل پيل کړ. ډګروال له ځان سره کوچنۍ تش بکس انتقالوه او زما په لاس کې له دوه نيم کيلوګرامو هروئينو ډک بکس و.

حيرتانو بندر ته په رسېدو سره د خلکو دوه اوږده قطارونه ولاړ وو. زه په يو قطار کې ودرېدم او زما ملګری او جرمي شريک مې په بل قطار کې ورد بده. کله چې د پولې دې غاړې افغانستان خوا ته تلاشي ختمه شوه، نو اړتيا وه چې همدا مرحله مو د ازبکستان خوا ته هم تېره کړې و. دغه وخت مې دوه پوليس – يو سړی او يوه ښځه – وليدل چې هر شی سکن کوي. کله چې زما نوبت راورسېده، زړه مې پښو ته ولوېده او په درزېدو يې پيل وکړ. ښځينه افسرې زما بکس په سکنر کې کېښود او له سکنر په راوتلو سره يې پرانېست او ويې ويل، چې بادام وړې؟ ومې ويل: هو ! يو څه بادام مې له بکس روا خېستل او هغې ته مې ورکړل. افسرې مننه وکړه او په خوړلو يې پيل وکړ. ما چې څو مره په چټکۍ کولای شول هغه ځای مې پرېښود او راووتم

ډګروال هم له تلاشۍ راووت او موږ دواړو د سیګرټو څکولو لپاره په ځانګړي جوړ شوي ځای کې سره یوځای شوو. دا هغه وخت و، چې په تاشکند کې له موږ سره په اړیکه کې کسان زموږ په تمه وو. موږ څلور واړه په ټکسي کې سپاره شوو او د تاشکند په لور مو مزل پیل کړ. تاشکند ته پر لاره دوه یا درې نور تلاشي ځایونه هم وو، خو سکنر ماشینونه یې نه لرل. د لارې په منځ کې موږ بلې ټکسي ته بدل شو، چې د اورګاډي تر تم ځای یې ورسولو او هلته مو د مسکو ټیکټونه ترلاسه کړل. ځینې نور تلاشي ځایونه هم وو، مګر خوشبختانه هېڅ یو یې هم هروئین پیدا نه کړل.

په اورګاډي کې تر ۴۸ ساعتونو سفر وروسته د شپې ناوخته مسکو ته راورسېدو. دا چې موږ دواړو په افغانستان کې د شوري له ملاتړ برخمن کمونیستي رژیم سره کار کړی و، نو په روسي ژبه مو رواني خبرې کولای شوې. د پلان له مخې مو د مزارشریف دلال ته زنګ وکړ چې راشي او سره وګورو، خو پیدا مو نه کړ. بالاخره یوه پنځه ستوریز هوټل ته لاړو او د یوې کوټې لپاره مو باید شاوخوا ۱۰۰ امریکایي ډالر ورکړي وای؛ خو هو هوټل ته په ننوتو کې، یوې مېرمنې زموږ خواته رامنډه کړه او ویې ویل چې په دا پیسو په خپل کور کې ځای درکولای شم. هغې موږ تر خپل اپارتمان له ځان سره یوړو. موږ د ډوډۍ غوښتنه وکړه او هغه د باندې لاړه او یو څه یې راوړل. هغې موږ د خپل کور په یوه برخه کې سره پرېښودو.

بل سهار ما د خپل ملګري کاکا ته چې په مسکو کې اوسېده زنګ وکړ او خبر مې کړ، چې زه هم دلته یم او د لیدنې لپاره وخت لرم. نوموړی مستقیم اپارتمان ته راغی. ما ترې وغوښتل چې موږ ته د پاتې کېدو لپاره یو ځای پیدا کړي. هغه راته یو کور پیدا کړ چې یوه بوډۍ ښځه په کې اوسېده او د یوې شپې په بدل کې یې ۴۰ امریکایي ډالر راخخه واخېستل. موږ بیا خپل له دلال سره اړیکه ټینګه کړه، چې راشي او خپل بکس ورسره واخلي، خو نوموړي لیوالتیا نه لرله. څو ورځې وروسته زما ډګروال ملګري نوموړی په یوه ودانۍ کې پیدا کړ. دلال نوموړي ته په ښکاره وویل چې نشه یې توکي نشي ترې اخېستلای ځکه تراوسه یې کوم پېرودونکی نه دی پیدا کړی.

موږ په یاد کور کې ۲۰ شپې تېرې کړې. دا کافي وخت وو، نو پرېکړه مو وکړه چې دلال بیاځل پیدا کړو. بالاخره په دلال پسې مو د هغه ودانۍ په اپارتمانونو کې پلټنه شروع کړه، چې ډګروال ویل هغه یې هلته لیدلی دی. موږ هره دروازه وټکوله، خو داسې ښکارېده چې هغه کوم بل ځای پټ شوی وي. کله چې ۱۹م پوړ ته ورسېدو او د دروازې زنګ مو وواهه، یوې ځوانې نجلۍ ځواب راکړ. موږ ترې وپوښتل چې افغانان په کوم پوړ کې اوسېدل. هغې په ځواب کې وویل، چې: هغه تور رنګي خلک یادوې؟ موږ وویل: هو! هغې ۲۰م پوړ راوښود او موږ هم یو پوړ پورته لاړو او په بېړه مو د یوې دروازې زنګ وواهه. زموږ اصلي کس په خپل لاس دروازه راخلاصه کړه. موږ هم له موکې په ګټې اخېستنې په بېړه د ننه لاړ او په چټکۍ له بېرته راوتلو ترمخه مو له هروئینو ډک بکس هلته پرېښود.

زموږ له اوږو یو لوی بار کوز شو. موږ بېرته هغه کور ته راوګرځېدو چې په کرایه مو نیولی وو. کور ته له ننوتو سره په دې پوه شوو، چې د کور خاونده نشه ده او له موږ سره یې خبرې نه شوې کولای. نو غوره مو دا وګڼله چې خپل شیان راټول کړو او مستقیم د اورګاډي تم ځای ته ځانونه ورسوو، څو تاشکند ته واپس کېدونکي اورګاډي کې سپاره شو.

له مسکو تر تاشکند بیا ازبکستان، مزارشریف او بالاخره زما تر کلي پورې سفر له سردردۍ خالي وو. خو کله چې موږ راورسېدو او زما شریک د عبدالخبلو له سوداګر زموږ پیسې ترلاسه کړې، نو زما برخه یې رانه کړه. ما ترې غوښتنه وکړه، خو ده بهانې وکړې. هغه ننګرهار پرېښود څو بېرته مزارشریف ته لاړ شي او زما پیسې یې ټول کال وخوړې. زه خپلې هتې ته راوګرځېدم او کرونده مې پیل کړه.

## د طالبانو واکمني

کله چې طالبانو په ۱۹۹۲ز کال کې کابل ونیو، نو امنیت په ډراماتیک ډول ډاډمن شو. خلکو پر پاټکونو د درولو یا هم شوکې له وېرې پرته په آزادانه ډول تګ راتګ کولای شو، خو بېوزلي د یوې ستونزې په توګه همداسې پرځای پاتې شوه. د حکومت له لورې هم کومه مرسته نه کېده او غیردولتي سازمانونو یا انجیوګانو هم دا جرأت نه کاوه، چې افغانستان ته راشي، نو خلکو چې څه په وس او توان کې وو د ژوندي پاتې کېدو لپاره یې کول او یوه مړۍ ډوډۍ یې ځان ته پیداکوله. د طالبانو د رژیم پرمهال د کوکنارو کښت او د نشه یي توکو سوداګري قانوني وه.[۲۰] له همدې کبله په اچین کې د غني خېلو بازار په څېر ازادانه بازارونه موجود وو. موږ ټول په هلو ځلو کې وو، نو ځکه مو د کوکنارو پېر او پلور ته دوام ورکړ، که څه هم په کمه اندازه و. خو زه له هر هغه کار چې ښه اجوره یې لرله، ناهیلې شوی وم.

د طالبانو د رژیم پرمهال د کوکنارو کښت او د نشه یي توکو سوداګري قانوني وه[...] موږ ټول په هلو ځلو کې وو، نو ځکه مو د کوکنارو پېر او پلور ته دوام ورکړ.

## مسکو ته د هروئینو د قاچاق دویم سفر (۱۹۹۷ز کال)

مسکو ته د هروئینو د انتقال په موخه زما دویم سفر له ډګروال ملګري سره نه و، چې په عبدالخېلو کې یې د خپل تره زوی محصولات انتقالول. دا ځل مې بل چا ته کار کاوه. زما نوی مشر د لغمان ولایت او تنګۍ زلمی و. دغه زلمي یو استازی درلود چې د اچین په عبدالخېلو کې به یې تدارک کوونکي پیداکول. هغه زه مسکو ته د خپل لومړني سفر له درکه پیداکړی وم او په عبدالخېلو کې یې د خپل استازي له لارې اړیکه راسره ټینګه کړه، پوښتنه یې وکړه، چې که علاقه لرې دویم ځل هم لاړ شې. نوموړي ماته د دې سفر لپاره ۲،۰۰۰ امریکایي ډالر راکړل او ویې ویل چې یو بل کس به هم درسره ملګری شي، خو دا بل کس ما نه پېژنده.

د کار په لومړۍ ورځ د یاد کس استازی راغی څو مزارشریف ته زموږ د دواړو تر تګ د مخه ما له ځان سره واخلي. په دې وخت کې طالبانو کابل نیولی و، خو تر سالنګ ورهاخوا بیا د شمال ټلوالې واکمني وه. موږ دواړه مزارشریف ته ورسېدو او له لغماني زلمي سره مو د لیدنې لپاره انتظار وکړ. د دغه زلمي ټوله کورنۍ په پاکستان کې وه، خو خپله له اوو کلونو راهیسې په مسکو کې اوسېده او له افغانستان به یې هروئین قاچاق کول. ماته ډېر ګلالی شخص په نظر راغی.



تورخم بندر، ډاکه کلی، مومند درې ولسوالۍ. انځور: د دوامداره ودې او څېړنو مؤسسه

زما سفر په داسې مهال برابر شو، چې طالبانو د مزارشریف د نیولو لپاره د حملې چمتووالی نیوه، نو د ازبکستان په ګډون زیاترو بهرنیو کونسلګریو افغانانو ته د ویزې ورکول بند کړي و. زموږ تر لیدنې وروسته لغمانۍ زلمی مسکو ته لاړ، خو استازي یې موږ دواړو ته د ترکمنستان ویزو اخېستلو لپاره قونسلګرۍ ته غوښتنلیکونه ورسپارل. موږ په مزارشریف کې د ویزو اخېستو په تمه پاتې شوو. که څه هم ما د مثبتې پایلې تمه نه لرله، خو موږ نېکمرغه وو او ویزې مو ترلاسه کړې، خو د اعتبار موده یې یوازې ۲۰ ورځې وه.

کله چې د مزارشریف د پرېښودو وخت راغی، موږ په هغه مرسیډیس بس کې سپاره شوو، چې ګمان کېده د ترکمنستان حکومت له لوري په قرارداد نیول شوی. د لغماني دلال استازي یو بکس واخېست او دوه نیم کیلوګرامه هروئین یې په کې ځای په ځای کړل. پرېکړه مو دا وکړه، چې د آقینې بندر له لارې لاړ شو، ځکه زه پوهېدم چې یاد بندر سکنر ماشینونه نه لري. تر آقینې بندر پورې سفر او هلته بیا تلاشي هرڅه په ډېر ښه ډول تېر شول. په یاد بندر کې هېڅ سکنر نه و، نو هېچا پر کوم شي شک نه کاوه او نه یې موندلای شول.

د لغماني دلال استازي یو بکس واخېست او دوه نیم کیلوګرامه هروئین یې په کې ځای په ځای کړل. پرېکړه مو دا وکړه، چې د آقینې بندر له لارې لاړ شو، ځکه زه پوهېدم چې یاد بندر سکنر ماشینونه نه لري.

موږ بېرته په بس کې سپاره شو او موټر د ترکمنستان په خاوره کې ډېره اندازه مزل وکړ، خو د لارې په منځ کې د یوې بلې سراسري تلاشۍ لپاره ودرول شوو. دا ځل پولیسو د سیګرټو یو قوطی پیدا کړ، چې له چرسو ډک و. دا قوطی د هغه کس تر سیټ لاندې و، چې زما د سفر ملګري مخامخ ناست و. پولیسو زما د ملګري په ګډون څلور کسان د نورو پوښتنو ګروېږنو لپاره راښکته کړل. دوی بیا ځل تلاشي شول، خو څه یې ورسره پیدا نه کړل، نو پولیسو زموږ موټر د مجرمینو تر پېژندنې پورې له وړاندې تګ منع کړ. هلته تر ۲۴ ساعتونو ودرېدو. بالاخره، مسافر تسلیم شول او دوه ځوانان چې ډریور ته هم معلوم وو، ورپه ګوته کړل. کله چې پولیسو تورن کسان پیدا کړل نو موږ ته یې اجازه راکړه چې خپل سفر ته ادامه ورکړو.

په ترکمنستان کې د بسونو تم ځای ته په رسېدو د بس ډریور زموږ پاسپورټونه واخېستل او راته ویې ویل چې په هوټل کې پاتې شو، ګني پولیس به مو ودروي. موږ هم همداسې وکړل او څو ساعته هلته پاتې شوو. بله ورځ، ډریور زموږ د پاسپورټونو له راکولو انکار وکړ او موږ ته یې بېرته افغانستان ته د تللو وویل. ورپسې بیا شاوخوا غرمه مهال چې موږ پر خپلو بدیل لارو فکر کاوه، یو افغان زلمی زموږ خواته راغی او ویې ویل چې کولای شي موږ مسکو ته ورسوي. موږ د ډریور له لوري د پاسپورټونو د انکار وویل، خو ده وویل چې پاسپورټونو ته اړتیا نشته. دا زموږ لپاره یو نوی خبر و، خو موږ له دې فرصت ګټه پورته کړه. هغه له موږ هر یو څخه تر مسکو پورې د سفر لپاره ۱۰۰ امریکایي ډالر واخېستل.

ځوان موږ ته وویل، چې سبا سهار به مسکو ته حرکت پیلوو، خو موږ باید هوټل پرېږدو، څو له ډریور څخه چې زموږ پاسپورټونه ورسره وو، وتښتو. ځوان وویل، چې زه ځم څو یو بل ځای پیدا کړم هلته به شپه وکړو او خپل پنډوکي به هم کېږدو، مګر له هوټل باید په داسې طریقه وتلي وای، چې هېچا راباندې شک نه وای کړی. موږ هم ومنله او همداسې مو وکړل. خپل پنډوکي مو ځوان ته ورکړل. کله چې شپه شوه نو له هوټل په ډېرې ارامۍ راووتو. مدیر ولیدو چې موږ وځو، نو پوښتنه یې وکړه چې چېرته ځئ، موږ وویل چې نایټ کلب ته ځو. هغه هم د وتلو اجازه راکړه.

موږ نایټ کلب ته نه تلو، بلکې مستقیماً د هغه ځوان له لوري پیدا کړل شوي کور ته لاړو، چې په سبا یې موږ تر مسکو رسولو. په یاد کور کې لس نور کسان هم وو. تر دې وروسته لا ډېر ډاډه شوو، چې دا ځوان د انسانانو مسلکي قاچاقبر دی. په بل سهار، موږ ټول موټر ته پورته شوو او په باران او واوره کې مو د مسکو په لور مزل پیل کړ. کله چې د لارې نیمايي ته ورسېدو، یو سیند مخې ته راغی چېرته چې پولیسو د مسافرو د تلاشۍ لپاره یوه کوچنۍ غرفه لرله. نور خلک تر ما وړاندې تلاشي شول، او ما ته د قاچاقبر له لوري د دې تلاشۍ په اړه ویل شوي هم و، خو د خدای شکر چې هلته سکنر نه وو.

په بل سهار، موږ ټول موټر ته پورته شوو او په باران او واوره کې مو د مسکو په لور مزل پیل کړ. کله چې د لارې نیمایي ته ورسېدو، یو سیند مخې ته راغی چېرته چې پولیسو د مسافرو د تلاشۍ لپاره یوه کوچنۍ غرفه لرله.

له هغه ځایه د اورګاډي تم ځای په لور وخوځېدو او په شپه مو مسکو ته په اورګاډي کې حرکت پیل کړ. د لارې په اوږدو کې نورې ډېرې تلاشۍ وې، خو پولیسو به چې هر وخت درولو نو قاچاقبرو به بډې ورکولې. تر یوه اوږده سفر وروسته، مسکو ته ورسېدو، خو د اورګاډي له تم ځای د وتلو لپاره اړتیا وه چې د پولیسو هغه افسر ته پاسپورټونه ورښکاره کړو، چې په خروجي لاره کې ولاړ و.

موږ پر یو پلان کار کاوه، چې د افغانستان له بدخشان ولایت څخه له راغلې یوې کورنۍ سره مخ شوو. ناڅاپي د کورنۍ مشر ورک شو او خپله مېرمن او پنځه ماشومان یې له موږ سره پرېښودل. د ګڼې ګوڼې په منځ کې خلک متوجې شول او سترګې یې په دې افغان مېرمنې ولګېدې چې ډېر ماشومان یې لرل. خلک حیران پاتې و، ځکه په روسیه کې مېرمنو له یو یا دوو زیات ماشومان نه لرل. له دې فرصت په ګټې اخیستنې موږ له لغماني سوداګر سره اړیکه ټینګه کړه او د رارسېدو مو ورته وویل، خو موږ خپل پاسپورټونه نه لرل او له تم ځای نه شو وتلای. هغه راته وویل، چې اندېښنه مه کوئ، زه ژر هلته دررسېږم. ډېر وخت نه و تېر شوی، چې یو چا زما په اوږه لاس کېښود، هو همدا لغماني یادوم. هغه سترګه راته ووهله او د تلو اشاره یې وکړه. لغماني پولیسو ته بډې ورکړې وې او موږ له تم ځای رابهر شوو.

لغماني لومړی موږ خپل کور ته بوتلو او هلته یې چای او ډوډۍ راکړل، خو موږ ته یې وویل چې تر څارنې لاندې دی نو هلته تر ډېره پاتې نه شوو. په بله ورځ یې موږ یو خوندي ځای ته بوتلو. هلته یې زموږ لپاره ماښامانۍ چمتو کړه. له هغې وروسته مو ښه پالنه کېده. ماته یې له مخکې ۵۰،۰۰۰ پاکستانۍ کلدارې (د ۳۰۵ امریکایي ډالرو معادل) راکړې وې او د حوالې نمبر یې هم راکړ، چې پېښور ته مې صراف ته ۲،۰۰۰ امریکایي ډالر لېږلي دي. د دې ترڅنګ یې ۳۰۰ امریکایي ډالر نور هم راکړل، چې په پېښور کې د صراف له لوري د خپلو پیسو اخېستلو لپاره لګېدل او ۱۰۰ ډالره بخشش یې هم راکړه. پردې ټولو سربېره، یې موږ په مسکو کې د افغانستان سفارت ته هم بوتلو څو زموږ لپاره یو لیک واخلي، چې بېرته افغانستان ته پرې لاړ شو. له مسکو د راتګ پرمهال لغماني سوداګر راته وویل چې بکس له ځان سره بېرته راوړو او په مزارشریف کې یې د هغه استازي ته وسپارو.

په دې وخت کې ترکمنستان ته له موږ څخه اورګاډۍ بېرته تللی و، نو لغماني سوداګر ما او زما د قاچاق ملګري ته د قزاقستان د اورګاډي ټیکټونه وپېرل. قزاقستان ته پر لاره په اورګاډي کې پولیسو له موږ د پاسپورټونو غوښتنه وکړه او موږ هغه لیک ورښکاره کړ، خو هغه یې ونه مانه او موږ دواړه یې ۱۰ امریکایي ډالر جریمه کړو. تر قزاقستان پورې سفر ښه وو، خو دویم ځل بیا پولیسو ودرولو او باید بیا مو ۱۰ امریکایي ډالر په بډو کې ورکړې وای. وروسته مو د نیمې لارې په اوږدو کې پریکړه بدله شوه، نو د ترکمنستان له لارې افغانستان د راتګ پرځای مو د ازبکستان له لارې راتلل غوره وګڼل. په ازبکستان کې موږ هر یو بیا باید د پاسپورټونو نه لرلو له کبله ۱۰ امریکایي ډالر ورکړي وای، خو دا هم د دې کیسې پای نه و.

د افغانستان پولې ته نېږدې څینو ازبیک پولیسو ودرولو او موږ یې د هروئینو په قاچاق تورن کړو. دوی د پاسپورټ نه لرل د دلیل په توګه یادول. دوی ډېر بې ادبه وو او په نه دلیل یې خلک ویشتل. له ډېر جر او بحث وروسته موږ دې ته راضي کړل، چې د ۲۰ امریکایي ډالرو په بدل کې موږ ته د تلو اجازه راکړي. خو هلته موږ ته معلومه شوه، چې موږ له پولې تر هغه مهاله نه شو راتېرېدلی، څو چې په ازبیکستان کې له افغان سفارت هغه ډول لیک ترلاسه نه کړو، لکه په مسکو کې مو چې له افغان سفارت ترلاسه کړی و. کله مو چې هغه لیک ترلاسه کړ، بیا وتوانېدو چې له پولې راتېر شو.

په مزارشریف کې مې دوه کارونه وکړل: لومړی مې هغه بکس د لغماني استازي ته ورکړ او دویم، په دې پسې ګرځېدم چې ډګروال پیدا کړم څو د خپل لومړني سفر پیسې ترې واخلم. زه خبر شوم، چې تر لومړي سفر وروسته یې ځکه ماته پیسې رانکړې، چې نشه یې توکي یې پرې اخېستي وو او له نورو خلکو سره یې سوداګري پیل کړې وه. دا هم راته وویل شول، چې د ده درې شریکان په دې وروستیو کې د تاجیکستان پر پوله نیول شوي دي. د دوی ټول توکي د پولیسو له خوا نیول شوي وو، خو ډګروال په خپله په تېښته بریالی شوی و.

**مسکو ته تر دویم سفر وروسته ماته ډېر استازي راغلل او د ډېرو پیسو وړاندیزونه یې وکړل، خو ما ونه منل، ځکه ما له ځان سره ژمنه کړې وه، چې نور به هېڅکله روسیې ته هروئین قاچاق نه کړم.**


غني خیل بازار ننګرهار ولایت آنځورOSDR

ما د ډګروال د اوسېدو ځای پیدا کړ او سهار وختي یې کور ته ورغلم، دروازه مې ورټکوله. دی په خپله دروازې ته راووت. موږ په خپلو کې سره لاس او ګریوان شوو او دې ته مې اړ کړ، چې زما د قرض پیسې راکړي. له هغې وروسته زه بېرته ننګرهار ته راستون شوم، او له ننګرهار بیا پېښور ته لاړم څو خپل ۲،۰۰۰ امریکایي ډالر راواخلم. دا ۲،۰۰۰ امریکایي ډالر مې په پاکستانۍ کلدارو بدل کړل، او شاوخوا ۸۰،۰۰۰ کلدارې ترې جوړې شوې. له ډکو جیبونو سره په کلي کې خپل کور ته راستون شوم. له ګټلې پیسو مې په هټۍ کې پانګونه وکړه. هغه هټۍ مې د کوکنارو د کوچنۍ اندازې پېر او پلور لپاره کاروه. مسکو ته تر دویم سفر وروسته ماته ډېر استازي راغلل او د ډېرو پیسو وړاندیزونه یې وکړل، خو ما ونه منل، ځکه ما له ځان سره ژمنه کړې وه، چې نور به هېڅکله روسیې ته هروئین قاچاق نه کړم، ولو که هرڅومره ډېره ګټه هم راته وکړي. په دې وخت کې مې په کافي اندازه پیسې لرلې. ۱۲ بسوې(۱۲۰۰ متره مربع) ځمکه مې واخېسته او له خپلې کونډې خور سره مې یو ځای پرې نوی کور اباد کړ.

د خپلې خور کورنۍ په ګډون موږ ټول دې نوي کور ته کډه شوو. نوی کور ډېر ښایسته و او د غني خېلو بازار ته هم نېږدې وو، چېرته چې زه په هټۍ کې په کار روزګار بوخت وم.

## له۲۰۰۱ز کال راوروسته

د سپټمبر ۱۱ بریدونو او پر افغانستان د امریکا تر یرغل وروسته ډېر ژر ځايي جګړه مارانو د غني خېلو د کوکنارو بازار چور کړ. د ټولو خلکو د کوکنارو محصولات چې ارزښت یې سلګونو حتی زرګونو پاکستانۍ کلدارو ته رسېده، له هټیو او زېرمو غلا شول. ځايي کوچني سوداګر له دې پېښې سخت زیانمن شول. د چور په وخت له ما سره څلور سیره (۳.۷ کیلوګرامه) کوکنار و، خو له نېکه مرغه یوه ورځ وړاندې مې کور ته وړي وو. د شوکې او ورپسې د کوکنارو د کمښت له وجې قیمتونه په ډراماټیک ډول لوړ شول، نو ما خپل کوکنار په ۱۲۰،۰۰۰ پاکستانۍ کلدارو (د ۷۳۱ امریکایي ډالرو معادل) وپلورل.

ورپسې د افغانستان لنډمهاله ادارې د چارو واګې واخېستې. حامد کرزی د لنډمهاله ادارې د مشر په توګه ګمارل شوی و. امنیت هم د ډاډمن کېدو په خوا روان و. خلکو له نوي واقعیت سره غاړه غړۍ کېدو ته مخه کړه. زیاتره ځوانان د ملي اردو په لیکو کې شامل شول او ځینو نورو بیا په دولتي او غیردولتي ادارو کې دندې ترلاسه کړې.

زه په غني خېلو کې په خپل کور کې پاتې شوم او د کوکنارو د پېر او پلور کوچنۍ سوداګرۍ ته مې ادامه ورکړه. ما په کندهار کې له یو چا سره پېژندل، چې زما محصولاتو ته یې هر وخت اړتیا وه، نو له ډریورانو سره مې جوړجاړی وکړ چې تر یاد کس زما مالونه ورورسوي. دې راکړې ورکړې ۱۸ میاشتې دوام وکړ. بالاخره ماته دا جوته شوه، چې تقاضا لوړه ده، نو له خپلو څلورو ملګرو سره یو ځای مې یو هایس سوپرکاسټم موټر واخېست څو په خپله کندهار ته دا مالونه انتقال کړو. هر وار به موږ له ځان سره ۳۰ سیره (۲۸ کیلوګرامه) کوکنار وړل. په ډېرو کمو حالاتو کې به پولیسو درولو، خو هغوی ته به مو هم بډې ورکولې او د وړاندې تګ اجازه به یې راکوله. موږ دا ملګرتیا ۱۲ میاشتې وساتله، له هغې وروسته ملګرو موټر پرما خرڅ کړ او ما هم په یوازې ځان دې کار ته ادامه ورکړه.

ما به په هرو پنځلسو ورځو کې کندهار ته یو سفر کاوه، او له ۳۰،۰۰۰ تر ۴۰،۰۰۰ پاکستانیو کلدارو (۱۸۲ – ۲۴۵ امریکایي ډالرو معادل) ګټه به مې کوله. له یو لنډ څنډ وروسته مې احساس کړه، چې بل شریک ته هم اړتیا لرم، نو په غني خېلو کې د سیاه چوب کلي ته لاړم او هلته مې یو کس پیدا کړ. موږ په دې سره سلا شوو، چې خپل موټر تبدیل کړو، ځکه زه په دې شکمن شوم چې ښايي پولیسو زموږ په اړه معلومات راټول کړي وي، نو دا ډېره مهمه وه چې له احتیاط کار واخلو.

زه په غني خېلو کې په خپل کور کې پاتې شوم او د کوکنارو د پېر او پلور کوچنۍ سوداګرۍ ته مې ادامه ورکړه. ما په کندهار کې له یو چا سره پېژندل، چې زما محصولاتو ته یې هر وخت اړتیا وه، نو له ډریورانو سره مې جوړجاړی وکړ چې تر یاد کس زما مالونه ورورسويپه ډېرو کمو حالاتو کې به پولیسو درولو، هغوی ته به مو هم بډې ورکولې او د وړاندې تګ اجازه به یې راکوله.

وروسته بیا یو بل کس هم راسره شریک شو، نو موږ درې کسان شوو. هغه ویل، چې د طالبانو د تحریک موسس ملا عمر د مېرمنې اوښې دی. یاد کس د کندهار و. هغه راته وویل، چې: "ماته مال راوړه او د لېږد او نورو لګښتونو په اړه فکر مه کوه. "نوموړي یو نوی پېرودونکی پیدا کړی و، چې د غوره هروئینو [یا په افغانستان کې د هروئینو یو ځانګړې ډول] په لټه کې و. دې کس له موږ وغوښتل چې یاد ډول هروئین ورته پیدا کړو. دا یادونه یې هم راته وکړه، چې ښايي د هېواد په شمالي ولایت بدخشان کې یې پیدا کړای شو. نو موږ یې د بدخشان دراییم ولسوالۍ ته ولېږلو. نوموړی له وړاندې هلته له یو شمېر تدارک کوونکو سره په اړیکه کې و او دا یې راته وویل، چې په تضمین سره همدا غوره هروئین ترې ترلاسه کولای شئ. د دې لپاره چې تر ټولو غوره مال پیدا کړو، د کندهار پېرودونکي سوداګر (د ملا عمر د مېرمنې اوښي) ته یې مخکې له مخکې ۱۰۰،۰۰۰ امریکایي ډالر اداینه کړې وه.

کله چې موږ بدخشان ته ورسېدو، نو په خپلو سترګو مو د محصولاتو پروسس ولید، رښتیا هم لوړ کیفیت لرونکی محصول و، ځکه اووه کیلوګرامه هروئین به پروسس کېدل څو یو کیلوګرام خالص هروئین ترې لاس ته راشي. دې کار ډېر وخت نیوه، خو ارزېدل. زه او شریک مې د دغو هروئینو د ترلاسه کولو لپاره په بدخشان کې درې میاشتې پاتې شوو. په دې موده کې مو د غوره ډول هروئینو ۱۲۰ کیوګرامه راټول کړل. کندهار ته د دې مقدار د لېږد لپاره دوه ځله تګ راتګ ته اړتیا وه. موږ هر یوه یې د لېږد په بدل کې له ټولو لګښتونو پرته ۴۰،۰۰۰ کلدارې (د ۲۴۵ امریکایي ډالرو) معادل ترلاسه کړې.

په کندهار کې زموږ شریک ډېر ښه سړی و. زه ډېر پرې ګران وم. په خواشینۍ سره، چې نوموړی کندز ته پر لاره په یوه ځانمرګي برید کې ووژل شو. کله مې چې د ده د مرګ خبر واربېده، نو سخت خواشینی شوم. د فاتحې لپاره یې کورنۍ ته ورغلم. هلته مې له ځان سره پرېکړه وکړه، چې نور په کندهار کې خپلې سوداګرۍ ته ادامه نه شم ورکولای.

په کندهار کې زموږ شریک ډېر ښه سړی و. زه ډېر پرې ګران وم. په خواشینۍ سره، چې نوموړی کندز ته پر لاره په یوه ځانمرګي برید کې ووژل شو. کله مې چې د ده د مرګ خبر واربېده، نو سخت خواشینی شوم.

د خپل کندهاري شریک تر مرګ وروسته مې څو میاشتې په غني خېلو کې تېرې کړې، بیا مې د ۱۵،۰۰۰ امریکایي ډالرو په ارزښت هروئین وپېرل او هرات ولایت ته مې یوړل. هلته چې لاړم یو ځای مې په کرایه کړ، نو له همدې ځایه مې کولای شول چې خپل مال وپلورم. کله مې چې نشه یې توکي وپېرل، قیمتونه ډېر لوړ وو، خو هرات ته په رسېدو قیمتونه راکښته شول او هلته زما د پاتې کېدو لامل شو. په هرات کې مې ۹ میاشتې تېرې کړې. کله چې کور ته راستون شوم، نو دا راته معلومه شوه چې ما تاوان کړی. دا نو هغه وخت و، چې ما پرېکړه وکړه چې نور د دې سوداګرۍ دوام ګټور نه دی، بالاخره له دې سوداګرۍ لاس په سر شوم.

له ۲۰۰۱ ز کال راپه دېخوا زما په څېر خلکو ته چې د نشه یي توکو په سوداګرۍ بوخت و، ژوند ډېر ستونزمن و. خو په ټوله کې د امریکا متحده ایالاتو تر یرغل وروسته ژوند یو څه ښه شو. امنیت لږ تر لږه تر ۲۰۱۳ز کال پورې ډاډمن و. عادي خلکو بېرته ژوند او زده کړو ته مخه کړه، نوي کاري فرصتونه یې پیدا کړل او افغانستان ته شتمني او ټکنالوجي راغلل.

ټاکنې ترسره شوې او په لوړ شمېر ښځو او سړیو په کې ګډون وکړ.

پراختیایي پروژې پیل شوې ښوونځي، کلنیکونه او سرکونه جوړ شول. کلي، ولسوالۍ او ولایتونه د سرکونو، رسنیو او انټرنېټ پر مټ سره ونښلېدل. د خلکو ټولنیز او ولسي تعاملات په تېره بیا د ټولنیزو رسینو له برکته وغوړېدل، دا ځکه چې خلکو ته یو له بل سره د تګ راتګ او لیدو اهمیت په ډاګه شو.

د ۱۹۹۰یمې لسیزې برعکس، چې موږ به ډېر کم د دې جوګه کېدو څو د ولسوالیو مرکزونو ته سفر وکړو؛ په تېرو شلو کلونو کې د خلکو شتمني ترې دې اندازې زیاته شوه، چې کابل ته تګ راتګ یوه ورځنۍ یا اونیزه چاره وګرځېده. دا له دې وجې چې ځینو خلکو چې په کابل کې دندې لرلې د خپلې کورنۍ یوه برخه یې پلازمېنې کابل ته له ځان سره بوتلل او خپلو ولایتونو ته یې د کورنۍ پاتې غړو د لیدو په موخه په دوامداره ډول سفرونه کول.

> ... دا چې د افغانستان او پاکستان ترمنځ پر ګډه پوله کړکېچونو پراخ او محدودیتونه زیات شول، نو د ډیورنډ

## هغې غاړې ته مو له خپلو خلکو سره پخوانۍ اړیکې پرې شوې.

مګر له هغې راوروسته اقتصادي او امنیتي وضعیت بیا بې خونده شوی دی. دا چې د وخت په تېرېدو د افغانستان او پاکستان ترمنځ پر ګډه پوله کړکېچونه پراخ او محدودیتونه زیات شول، نو د ډیورنډ هغې غاړې ته مو له خپلو خلکو سره پخوانۍ اړیکې پرې شوې. اوسمهال هرڅه رسمي شوي دي، له خلکو د پاسپورټونو، ویزو او نورو اسنادو غوښتنه کېږي، چې موږ ته د زغملو نه دي. اوسمهال زه د ۲۸ کسیزې کورنۍ مشري په غاړه لرم، چې له دې ډلې یوازې څلور کسان په کار بوخت دي. پاتې نور یې یا مېرمنې دي یا هم تنکي ماشومان دي، چې ښوونځیو ته ځي. هغه ټول څه چې زما په وس پوره دي، دا دي چې خپله ځمکه وکرم او د خپلې کورنۍ پاملرنه وکړم.



ټرانزیټي مالونه د ننګرهار ولایت، دورباباولسوالۍ د څاڅوبي له لارې بېرته پاکستان ته قاچاق کېږي. آنځور د دوامداره ودې او څېړنو مؤسسه(OSDR)



زرنج ښار، زرنج ولسوالۍ، نیمروز ولایت. انځور: د دوامداره ودې او څېړنو موسسه (OSDR)



# زموږ ژوند د پولې دواړو غاړو ته پر سوداګرۍ متکي دی

دا کیسه بیګم جان[۳۱] ویلې او ثنا ساپۍ[۳۲] اصلاح کړې

نیمروز د افغانستان په سویل لوېدیځ کې له ایران او پاکستان سره پر ګډه پوله پروت ولایت دی. یاد ولایت پراخې هوارې دښتې او د نفوسو تر ټولو کمه اندازه لري دغه راز په افغانستان کې تر ټولو بېوزله ولایت هم ګڼل کېږي. نفوس یې بېلا بېلې قومي ډلې تشکیلوي. په نیمروز کې زیاتره مېشتو خلکو یو ځل بل چېرته ژوند کړی، ګڼ شمېر یې له ایران څخه بېرته راستنېدونکي دي او پاتې نور یې بیا هغه کډوال دي، چې په پاکستان کې د سیاسي فعالیت له کبله خپل هېواد پرېښودو ته اړ ایستل شوي دي، او د نیمروز مرکز زرنج ښار ته له نورو ولایتونو راکډه شوي افغانان بیا د نسبي ډاډمن امنیت او ورځ تر بلې زیاتېدونکو اقتصادي فرصتونو د لټون په نیت راغلي دي. له ایران او پاکستان سره پر ګډه پوله سوداګري د بلوچي شبکو له لوري سنبالیږي، چې د دریبو واړو هېوادونو پولې ته څېرمه مېشت دي. نیمروز په خپله د کوکنارو لوی تولیدوونکی نه دی، خو دا چې په فراه او هلمند ولایتونو کې د کوکنارو کښت سیمو ته څېرمه پروت دی، نو د کوکنارو د سوداګرۍ په مهم مرکز بدل شوی. په دې وروستیو کلونو کې د هغو افغانانو لپاره د انساني قاچاق په اړین مرکز هم بدل شوی، چې ایران، ترکیې او بیا اروپا ته کډه کېږي.

## ماشومتوب او واده

زه ۱۳ کلنه وم، چې پلار مې د عمه له زوی سره کوژدن کړم. په ۴۰ کلنۍ کې اوسمهال زه د شپږو اولادونو مور یم. زما له کوژدې یو کال د مخه زما مور او پلار په چخانسور ولسوالۍ کې خپل ټاټوبۍ پرېښود او د نیمروز ولایت په کانګ ولسوالۍ کې مېشت شول. ګاونډ ته تر کډه کېدو وروسته زما مور او پلار له ایران سره پر پوله پروت یو کلي کې شپږ جرېبه (درې هکتاره) ځمکه واخېسته. پر یوه برخه موږ کور اباد کړ او له پاتې برخې مو د کروندې لپاره ګټه اخېستل پیل کړل.

مرحوم خاوند مې هم له ایران سره پر پوله کوچنۍ سوداګري لرله. له ایران به یې تېل واردول او د کانګ په بازار کې به یې پلورل. ایران ته د بېرته تګ پرمهال به یې له ځان سره د ګنډلو ماشینونه، اوسپنه او نور وسایل وړل. د دې کار ترڅنګ یې کرونده هم پیل کړه. موږ له خپل ژوند راضي وو.

## د طالبانو تر واکمنۍ لاندې ژوند

د کمونېستي رژیم او په افغانستان کې د کورنۍ جګړې پرمهال زه ډېره ماشومه وم او ډېر څه مې یاد ته نه راځي، خو کله چې طالبانو د چارو واګې په لاس کې واخېستې، زه د پېغلتوب دورې ته رسېدلې وم. د طالبانو تر واکمنۍ لاندې ژوند ډېر له کړاوونو ډک و. خلکو دندې نه لرلې، ښځو هېڅ ازادي نه لرله او هره خوا بېوزلي خوره وه. پردې سربېره، موږ له سختې وچکالۍ سره مخ شوو، چې زموږ په څېر د کروندګرو کورنیو لپاره له ناورین ډکه وه. زه د طالبانو له واکمنۍ تر ټولو بدې خاطرې لرم. هر وخت چې زما له خاوند، زما له خوابنې او د خپلوانو له نورو ښځو سره د دوی چلن یاد ته راځي، نو لړزه راباندې راځي.

د طالبانو تر واکمنۍ لاندې ژوند ډېر له کړاوونو ډک و. خلکو دندې نه لرلې، ښځو هېڅ ازادي نه لرله او هره خوا بېوزلي خوره وه. پردې سربېره، موږ له سختې وچکالۍ سره مخ شوو، چې زموږ په څېر د کروندګرو کورنیو لپاره له ناورین ډکه وه.

اوس مې هم د خپل کلي يوه ښځه په ياد ده، چې ناروغه وه او بايد د درملنې لپاره زرنج ښار ته ورل شوې وای، خو زرنج ښار ته سمه لاره نه وه او موجوده لاره هم خامه وه. کله به دې چې سفر کاوه، سرکونه له دوړو ډک و او ترشا به يې شګې ګردونه بادول. خلکو به په لويو او باربرې لاريو ته ورته موټرو کې سفر کاوه، چې معمولاً په همدې موټرو کې د سفر له وجې به هم ناروغان کېدل.

وايي، چې ښار ته له رسېدو سره سم ښځې ته ويل شوي وو چې د ډاکټر کتنځای د باندې د نوبت تر رارسېدو انتظار وکړي. له کېناستو سره يې د تازه هوا تنفس کولو تکل کړی و، دا چې له سفر ډېره ستړې شوې وه نو خپله برقع يې په عام محضر کې له مخ لېرې کړې وه. په دې وخت کې د طالبانو د امربالمعروف او نهي عنی المنکر يو غړي هغه لېدلې وه. ښځې ته يې راغلی و او له وېښتانو يې کش کړې وه، وهلې ټکولې يې وه او پر ځمکه يې راغورځولې وه، چې بالاخره همداسې د مرګ تر کومې ټېل وهل شوې وه.

يو بل مهال بيا زما يو خپلوان د طالبانو له لوري په بې ګناهۍ کې بندي شو. خاوند مې هڅه وکړه چې په دې قضيه کې مداخله وکړي، له طالب چارواکو يې د ازادولو غوښتنه وکړه، خو هغوی رد کړه. خاوند مې يوه ورځ يو څه خوراکي توکي او کالي له ځان سره دغه کس ته زندان ته وروړل، ناخبره له دې چې په همدې شپه هغه له زندان تښتي او له پولې هاخوا ايران ته اوړي. د اوړي په ګرمه شپه کې د سهار په دوو بجو داسې مهال چې د ماشومانو په ګډون موږ ټول په انګړ کې ويده وو، دوه وسله وال زموږ کور ته راننوتل او زما د خاوند په وهلو ډبولو يې پيل وکړ. زه ډېره ووېرېدم. ماشومان مې هم وارخطا او وېرېدلي وو. وسله وال کس زما له خاوند پرله پسې همدا پوښتنه کوله چې بندي دې چېرته پټ کړی دی، خو خاوند مې د هغه د تېښتې يا اوسني ځای په اړه په هېڅ هم خبر نه و. طالبانو زما د خاوند وهل ډبول بس نه کړل، نو ما خپلې بوډۍ خواښې ته غږ کړ څو راشي او له طالبانو وغواړي چې زما د خاوند له وهلو ډبولو لاس واخلي. هغه راغله او وسله وال کس ته يې سوال او زارۍ شروع کړې، چې وهل ډبول بس کړي. ژمنه يې ورسره وکړه، چې سهار وختي به زما خاوند په خپله حوزې ته ورحاضروي، خو طالبانو زما پر خواښې هم دربغ ونه کړ او قمچينه يې پرې راتاو کړه، څو ځلې يې هغه هم ووهله.

يو وخت داسې هم و، چې زما د ګنې کورنۍ نجونې او ښځې، چې د ايران د سيستان او بلوچستان ولايت د هيرمند سيمې په دوست محمد کلي کې د کډوالو په توګه مېشت وو، زموږ په کلي کې د واده په مراسمو کې د ګډون په پار افغانستان ته راغلل. په يادو وختونو کې پر پوله تګ راتګ اسان و، ځکه کوم محدوديت نه و. ګمرک ته څېرمه نجونو زموږ د ځايي موسيقۍ وسيله چې دريا نومېږي غږوله. دوی خنداوې او سندرې کولې. يو په عمر پوخ طالب چې زېړه ګيره يې لرله دا ځوانې پېغلې وليدې چې ساعتيري کوي. نو دی پسې راغی، دريا يې له نجونو واخېسته او ماته يې کړه. پردې سربېره يې نجونې په لښته هم ووهلې. ما له دې عمرخوړلي طالب پوښتنه وکړه چې دريا دې ولې ماته کړه او نجونې ولې وهې؟ ځواب يې دا و، چې زه د امر بالمعروف او نهي عنی المنکر کس يم.

> د طالبانو همدې ظلم او ستم له کبله زموږ کورنۍ پرېکړه وکړه، چې افغانستان پرېږدو. موږ د پولې په هغه غاړه پروت د ايران، نيمروز ولايت ته واوښتو او هلته مو دوه کلونه تېر کړل، خو د افغان کډوالو لپاره ژوند هلته ډېر سخت و.

د طالبانو همدې ظلم او ستم له کبله زموږ کورنۍ پرېکړه وکړه، چې افغانستان پرېږدو. موږ د پولې په هغه غاړه پروت د ايران، نيمروز ولايت ته واوښتو او هلته مو دوه کلونه تېر کړل، خو د افغان کډوالو لپاره ژوند هلته ډېر سخت و. هر وخت به چې د باندې تللو ايراني چارواکو به له موږ د هويت کارتونو او حکومت له لوري د راکړل شويو نورو اسنادو پوښتنه کوله، خو له بده مرغه موږ نه درلودل. خلک به تل خورول کېدل.

## له ۲۰۰۱ ز کال راوروسته

په ۲۰۰۲ ز کال کې چې په افغانستان کې نوی حکومت رامنځ ته شوی و او ولسمشر کرزي د لنډمهاله اداري د مشر په توګه د چارو واګې اخېستې وې، موږ پرېکړه وکړه چې په افغانستان کې خپل ټاټوبي ته راستانه شو. لومړی د يادونې وړ بدلون چې موږ وليد هغه په کانګ ولسوالۍ کې له بازاره زموږ تر کلي د سړک جوړېدل و. دې کار ښار ته د خلکو په ورځني تګ راتګ اسانتيا رامنځ ته کړې وه.

زموږ د کلي اړمنو خلکو د خوراکي توکو مرستې ترلاسه کړې. په کلي کې مو د ځنباک پاکو اوبو لپاره څاګانې کېندل شوې وې. ډېر ژر وروسته ترې د خلکو کورونو ته د اوبو لېږدولو په موخه نل ليکې او پايپونه تېر شول. بيا ورپسې کلنيک جوړ شو. دا زموږ په ولسوالۍ کې لومړنی کلنيک و. د زرنج په لوی ښار کې د روغتونونو، کلنيکونو، درملتونونو او نورو اسانتياوو شمېر زيات شو. د پخوا په پرتلې نرسان، ډاکټران او قابلې هم زياتې شوې.

> ښځو کار ته تګ پيل کړ. خپل کوچني کاروبارونه يې پيل کړل. خلک ازاد وو. دا لومړی ځل و، چې ښځو له کومې وېرې پرته رايې وکارولې. په دې منځ کې داسې ښځې هم وې، چې ځانونه يې په ټاکنو کې نوماند کړي وو.

د نجونو او هلکانو لپاره نوي ښوونځي اباد شول. په لسګونه ښځينه ښوونکې استخدام شوې. د هېواد ګوټ ګوټ په لويو ښارونو کې پوهنتونونه پرانېستل شول او ښځو دا فرصت پيداکړ چې خپلې لوړې زده کړې وکړي. ښځو کار ته تګ پيل کړ. خپل کوچني کاروبارونه يې پيل کړل. خلک ازاد وو. دا لومړی ځل و، چې ښځو له کومې وېرې پرته رايې وکارولې.

زموږ په منځ کې داسې ښځې هم وې، چې په ټاکنو کې نوماندې شوې. هغو ډلو چې د ښځو او ماشومانو پر مسايلو يې کار کاوه، د ښځو حقونو، شخصي ازاديو او (زياترو نورو مسايلو په تړاو، چې د ځايي خلکو لپاره اړين وو) لېرې پرتو سيمو ته د عامه پوهاوي کمپاينونه وغځول.

> د ده مړينې ماته د کور مشرې راترغاړې کړه او بايد خپلو څلورو لورګانو او درېيو زامنو ته مې د ژوند توښه چمتو کړې وای. زموږ د کلي له يو شمېر ښځو خبره شوم چې له ايران څخه افغانستان ته د توکو او مالونو په سوداګرۍ بوختې دي، نو له دوی مې زده کړل او ما هم همدې کاروبار ته مخه کړه.[۲۳]

د ۲۰۰۵ ز کال پرمهال مې خاوند په داسې حال کې چې زموږ په ځمکه کې په کرونده بوخت و، له يوې ږېښې سره مخ شو. وروسته يې د ټپونو له امله ساه ورکړه. د ده مړينې ماته د کور مشرې راترغاړې کړه او بايد خپلو



د کوکنارو کرونده، اشکین کلی، چهاربُرجک ولسوالۍ. انځور: د دوامداره ودې او څېړنو مؤسسه(OSDR)

څلورو لورګانو او درېیو زامنو ته مې د ژوند توښه چمتو کړې وای. زموږ د کلي له یو شمېر ښځو خبره شوم چې له ایران څخه افغانستان ته د توکو او مالونو په سوداګرۍ بوختې دي، له دوی مې زده کړل او ما هم همدې کاروبار ته مخه کړه.

په ۲۰۰۶ز کال کې مې تر لسو زرو افغانیو ( د ۱۲۵ امریکایي ډالرو معادل ) سپما کړې او ۱۰،۰۰۰ نورې افغانۍ مې په پور واخېستې څو په لاس د اوبدل شویو توکو کوچنۍ کاروبار پرې پیل کړم. لاړم د افغانستان پولې دې غاړې ته مې د بلوڅ مېرمنو له لوري په لاس جوړ شوي ګلدوزي کالي وپېرل. بیا مې د ایران خوا ته صادر کړل او هلته مې وپلورل.

د خپل کاروبار د پیل په څو میاشتو کې مې په لوی شمېر ژمن پېرودونکي پیدا کړل، چې د ایران په زابل کې یې کار کاوه. د ایران تر زابل پورې د موټر یو نیم ساعت لاره وه، څو خپل ځایي کالي هلته یوسم. په بېرته راتګ کې به مې هګۍ، لوبیا، چرګې او نور خوراکي توکي راوړل، بیا به مې په کلي کې پلورل. د افغانستان پوله ساتي ځواکونه په دې پوهېدل چې زه او زما نورې ښځینه همکارې بېوزله مېرمنې یو او د ژوند یوه اندازه توښې برابرولې په لټه کې یو، نو دوی به د بډې غوښتنه راڅخه نه کوله، خو د ایران پوله ساتو ځواکونو به بیا ۱،۰۰۰ ایراني تومان/ایراني ریال (له ۵۰ امریکایي سنتو ) کم راڅخه اخېستل.

د ایران زابل ولایت ته په میاشت کې په شپږ ځله تګ او بېرته راتګ سره به مې له ۱۰۰،۰۰۰ تر ۱۵۰،۰۰۰ زره ایراني تومان (له ۱۰ تر ۱۵ امریکایي ډالرو معادل) ترلاسه کول. دې پیسو زما د کورنۍ اړتیاوې پوره کولې. ټول ماشومان مې په ښوونځي کې شامل وو او په زده کړو کې یې ډېر زحمتونه ګالل.

خو له دې سره، هرڅه ګل او ګلزار نه وو، ځکه هغه ورځ به مې هېڅ له یاده ونه وځي، چې زه له خپلو اوو ملګرو بلوڅي مېرمنو سره له زابل څخه په بېرته راستنېدو کې د افغان پوله ساتو ځواکونو له لوري ودرول شوم. موږ هرې یوې سره خوراکي او نور اړین توکي لکه هګۍ، پخه شوې لوبیا، ډوډۍ او د ګاز سلنډرونه وو. کله چې عسکرو موږ ولیدو، هوایي ډزې یې وکړې. موږ یوه شېبه تم شوو او هرڅه مو وغورځول. بیا مو د خپلو کورونو په لور تېښتې کړې. دوی زموږ ټول توکي له ځان سره واخېستل. ما تر کلي پورې پر ټوله لار وژړل. کله چې کور ته راورسېدم ماشومانو مې هم ژړل.

د ایران زابل ولایت ته په میاشت کې په شپږ ځله تګ او بېرته راتګ سره به مې له ۱۰۰،۰۰۰ تر ۱۵۰،۰۰۰ زره ایراني تومان (له ۱۰ تر ۱۵ امریکایي ډالرو معادل ) ترلاسه کول. دې پیسو زما د کورنۍ اړتیاوې پوره کولې.

په ۲۰۱۱ز کال کې د ایران حکومت له افغانستان سره پر ګډه پوله دیوال تاو کړ. په دې دیوال کې د تګ راتګ لپاره ګڼ شمېر دروازې پرېښودل شوې. دا دیوال زموږ کلي ته ډېر نېږدې دی، نو ایراني پوله ساتو ځواکونو ته په کمه اندازه بډو ورکولو سره موږ خپلې سوداګرۍ ته ادامه ورکولای شوه او له کومې ستونزې پرته له پولې اوښتلی شوو. یوازې زما په څېر مېرمنو د ژوندانه توښې برابرولو تکیه د پولې دواړو غاړو ته پر سوداګرۍ نه وه، بلکې د سړیو تکیه هم پر همدې سوداګرۍ وه. د یوې بلوڅ مېرمنې په توګه چې د پولې دواړو غاړو ته ژوند کوي، زما لپاره دا یوازې سوداګري نه، بلکې یو ولسي پیوند هم و، چې د یو بل په غم او ښادۍ کې به مو ګډون کاوه.

ژوند ښه وو او زما قدر هم کېده. ان تر دې، چې په دې هم بریالۍ شوم څو د خپلې لس کلنې لور لپاره یو ښه ځای کوژدن پیدا کړم. دا هم زما د کاروبار له برکته وو، چې زه یې د دې جوګه کړم څو خپله مشره لور په ډېره عزت او درناوي واده کړم.

په ۲۰۱۲ز کال کې ایراني چارواکو پر پوله محدودیتونه نور هم سخت کړل او ټولې دروازې یې وتړلې. څوک به چې ایران ته تلل نو د ویزې، پاسپورټ او نورو رسمي اسنادو غوښتنه به ترې کېدله. موږ د هېڅ یو لګښت ته ملا نه شوه تړلی، نو هېڅ راز سند ته مو غوښتنلیک ورنکړ، همدا وو چې موږ نور ونه شول کولای څو خپله کوچنۍ سوداګري او کاروبار پرمخ یوسو.

زما په څېر زما په کلي کې نور خلک د پولې هغې غاړې ته په ایران کې د کورنۍ غړي او خپلوان لري، خو د دغو سختو محدودیتونو له کبله نور موږ هغوی هم نه شو لیدلای او د یو بل په غم او ښادۍ کې ګډون هم نه شو کولای. زموږ د اړیکې ټینګښت یوازېنۍ وسیله ګرځنده ټیلیفون دی.

> پر پوله دغو سختو محدودیتونو خلک بې روزګاره کړل، له همدې کبله زمونږ په کلي کې ځینو سړیو د نشه یي توکو قاچاق ته مخه کړه.

پر پوله دغو سختو محدودیتونو خلک بې روزګاره کړل، له همدې کبله زمونږ په کلي کې ځینو سړیو د نشه یي توکو قاچاق ته مخه کړه. زمونږ ځینې نارینه کلیوال نشه یي توکي پېري او ایران ته یې قاچاق کوي. زه په خپله دا کار نه کوم. ځکه له هغه وخت راهیسې، چې دروازې بندې شوي، ښځینه نه شوي کولای نشه یي توکي انتقال کړي او زوی مې هم نه دی لوی، چې دا کار راته وکړي. په کور کې د نشه یي توکو ساتل او د پولې هغې غاړې ته قاچاق کول یې ډېر له خطر ډک کاروبار دی. هر وخت د ویشتل کېدو او بندي کېدو خطر په کې شته، نو زه شخصاً له دې کار ډډه کوم، په تېره بیا په دې اوسنیو شرایطو کې چې ډېر تنکي ماشومان لرم.

پردې سربېره، تر څلورو یا پنځو کلونو پخوا پورې ما هغو ګڼ شمېر ځوانانو او پېغلو ته په خپل کور کې ځای ورکاوه چې د افغانستان د پرېښودو په لټه کې وو. دغو خلکو به انساني قاچاقبرانو ته ته پیسې ورکولې، څو تر ایران، ترکیې او نورو هېوادونو یې ورسوي. قاچاقبرانو به د افغانستان له ګوټ ګوټ خلک زمونږ کلي ته راوړل او دلته به یې بیا په ورو ډلو وېشل. د قاچاقبرانو استازو له مونږ غوښتل چې دوی له ځان سره وساتو او دلته یې مېشت کړو. ما به دوی ته ډوډۍ تیاروله او په بدل کې به یې پیسې راکولې. دې کار دلته د زیاترو کورنیو لپاره د ژوند توښه چمتو کړې وه. هره ورځ به یوازې زمونږ له کلي ۳۰۰ تر ۴۰۰ کسان له پولې هاخوا ایران ته اوښتل. اوس مهال زمونږ په کلي کې هېڅ ساکښ له پولې هاخوا نه شي تللی، ځکه کلي ته نېږدې د ایران او افغانستان پر پوله اغزن تار راتاو شوی، چې زمونږ کلی او افغانستان له ایران بېلوي او هرځای امنیتي کمرې هم لګول شوي دي.

> قاچاقبرانو به د افغانستان له ګوټ ګوټ خلک زمونږ کلي ته راوړل [...] د قاچاقبرانو استازو له مونږ غوښتل چې دوی له ځان سره وساتو او دلته یې مېشت کړو. ما به دوی ته ډوډۍ تیاروله او په بدل کې به یې پیسې راکولې. دې کار دلته د زیاترو کورنیو لپاره د ژوند توښه برابره کړې وه.

اوسمهال زه د ښځو لپاره دودیز بلوچي کالي ګنډم او د سینګار توکي جوړوم. په زرنج ښار کې یو شمېر کسان ما ته له نمونو سره د کالیو ګنډلو فرمایشونه راکوي او زه یې ورته ګنډم. زه د دوه او درې میلیونه ایراني تومان (۵۰ تر ۷۰ امریکایي ډالرو معادل) په میاشت کې ګټم. په همدې خپل ژوند تېروم.



نوزایي کلی، د میلاک رسمي پولې سیمه، د نیمروز او ایران پوله آنخور د دوامداره ودې او څېړنو موسسه(OSDR)



د نیمروز ولایت په زرنج ولسوالۍ کې د ډیزلو او ټرانزیټي توکو باروړونکي موټر. انځور: د دوامداره ودې او څېړنو مو ٔسسه(OSDR)



# د نشه یي توکو د قاچاق ګټې او خطرونه


## دا کیسه عزیزخان[34] ویلي او ثنا ساپۍ[35] اصلاح کړې


نیمروز د افغانستان په سویل لویدیځ کې له ایران او پاکستان سره پر ګډه پوله پروت ولایت دی. یاد ولایت پراخې هوارې دښتې او د نفوسو تر ټولو کمه اندازه لري دغه راز په افغانستان کې تر ټولو بېوزله ولایت هم ګڼل کېږي. نفوس یې بېلا بېلې قومي ډلې جوړوي. په نیمروز کې زیاتره مېشتو خلکو یو ځل بل چېرته ژوند کړی، ګڼ شمېر یې له ایران څخه بېرته راستنېدونکي دي او پاتې نور یې بیا هغه کډوال دي، چې په پاکستان کې د سیاسي فعالیت له کبله خپل هېواد پرېښودو ته اړ ایستل شوي دي، او د نیمروز مرکز زرنج ښار ته له نورو ولایتونو راکډه شوي افغانان بیا د نسبي ډاډمن امنیت او ورځ تر بلې زیاتېدونکو اقتصادي فرصتونو د لټون په نیت راغلي دي. له ایران او پاکستان سره پر ګډه پوله سوداګرۍ د بلوچي شبکو له لوري سنبالیږي، چې د درېیو واړو هېوادونو پولې ته څېرمه مېشت دي. نیمروز په خپله د کوکنارو لوی تولیدوونکی نه دی، خو دا چې په فراه او هلمند ولایتونو کې د کوکنارو کښت سیمو ته څېرمه پروت دی، نو د کوکنارو د سوداګرۍ په اړین مرکز بدل شوی. په دې وروستیو کلونو کې د هغو افغانانو لپاره د انساني قاچاق په اړین مرکز هم بدل شوی، چې ایران، ترکیې او بیا اروپا ته کډه کېږي.

زه د بادغیس ولایت په ختیځ کې پراتې ابکمري ولسوالۍ کې زیږېدلی یم. کله چې لس کلن وم، په هېواد کې کودتا وشوه، چې د ثور انقلاب په نوم یې شهرت وموند، او زما کورنۍ د افغانستان پرېښودو ته اړ شوه. موږ د پولې هغې غاړې ایران ته واوښتو او په زاهدان ولایت کې مېشت شو. هلته مو څلور کلونه تېر کړل.

د ۱۹۸۰یمې ز لسیزې په منځنیو کې هغه مهال چې زه ۱۴ کلن زلمی وم، کورنۍ مې افغانستان ته راستانه شوه. په بادغیس ولایت کې خپل پلرني ټاټوبي ته د تلو په ځای د فراه ولایت په لاش و جوین ولسوالۍ کې مېشت شوو، ځکه دا ځای پولې ته څېرمه ښارګوټی دی او زموږ اصلي استوګنځي ته هم نږدې و. کله چې موږ راورسېدو نو مور او پلار مې مالداري واخېسته او د نورو خلکو د کروندو په کرنه یې پیل وکړ.

د دې ولسوالۍ زیاتره مېشت وګړي په خته تاجیک و او زموږ په څېر یوازې ۱۵ تر ۲۰ پښتنو کورنیو په کې ژوند کاوه. له موږ سره ډېر تعصب کېده او تاجیکانو ښه چلند نه کاوو. له دې ټولو سره بیا هم موږ هلته ۱۲ کاله ژوند وکړ.

یوه ورځ زموږ د سترې کورنۍ یو غړي زه وروبللم چې ورسره وګورم. هغه په همدې وروستیو کې د نیمروز ولایت په کانګ ولسوالۍ کې یو څه اندازه ځمکه اخېستې وه او کور یې پرې اباد کړی و. د ده نوی کور د ایران پولې ته څېرمه په یو کلي کې و. زه یوه شپه ورسره پاتې شوم، او دا راته جوته شوه چې خلک د ایران او افغانستان ترمنځ پر پوله ازاد تګ راتګ کولای شي. دوی به له ایران تېل راوړل او په افغانستان کې به یې پلورل.

زه بېرته لاش و جوین ولسوالۍ ته راوګرځېدم، خپل وروڼه او نور خپلوان مې وهڅول چې موږ هم باید کانګ ولسوالۍ ته کډه شو. ۱۵ کورنیو راسره ومنله او موږ ټول یو ځای کډه شوو. په لومړیو څو کلونو کې ما یو کور په ۲،۰۰۰ تومان (د ۵۰ امریکایي ډالرو ) معادل په میاشتنۍ کرایه نیولی و. دې ځای ته له رارسېدو سره سم مې ۱۰۰ مېږې واخېستې، چې وروسته مې په ګټه وپلورلې. په دې پیسو چې شاوخوا ۱۰ میلیونه تومان او په یاد وخت کې د(۲،۳۸۰ امریکایي ډالرو معادل ) کېدې ما د تېلو واردات پیل کړل. په بدل کې به مې بیا ایران ته وریژې، ګیلاسونه، د ګنډلو ماشینونه او اوسپنه وړله.

ژوند مې ډېر ښه روان و. د تېلو له کاروبار مې ډېرې پیسې ترلاسه کړې. ما په خپله دوه جریبه (یو هکتار ) ځمکه واخېسته. د یو جریب ځمکې قیمت پنځه میلیون تومان (۱۱۹۰ امریکایي ډالر ) و. په دې ځمکه مې کور اباد کړ، چې ماته په ۱۰۰،۰۰۰ تومان(۲۴ ډالرو معادل ) تمام شو.

## د مجاهدینو تر واکمنۍ لاندې ژوند

په ۱۹۸۰ مه زلسیزه کې د کمونیستي رژیم او مجاهدینو تر واکمنۍ لاندې ژوند اسان نه و. مجاهدین، چې د اووه ګونو اسلامي ګوندونو اتحاد و، د کابل مرکزي حکومت په ضد یې جګړه کوله. موږ د حکومت تر ولکې لاندې سیمو ته نشو تللای ځکه ځوانان به یې په جبري ډول عسکري خدمت ته نیول. د مجاهدینو له لوري هم پر تګ راتګ محدودیتونه وو. پر لویو لارو د سوداګریزو توکو لېږدول ډېر ستونزمن وو، ځکه د لارو پر سر ګڼ شمېر پاټکونه وو او تږلو به د پیسو غوښتنه کوله. دوی به دا پیسې د مالیاتو په نوم اخیستې. د مقاومت پروخت هېڅوا زموږ له سیمې سره مرسته ونه کړه. خلک د خدای اسرې ته پرېښودل شوي وو. له دې کبله زه اړ شوم چې د مجاهدینو له یوې ډلې سره یو ځای شم. زه اته کاله د حزب اسلامي له ګوند سره مجاهد وم.

> خلک د خدای اسرې ته پرېښودل شوي وو. له دې کبله زه اړ شوم چې د مجاهدینو له یوې ډلې سره یو ځای شم. زه اته کاله د حزب اسلامي له ګوند سره مجاهد وم.

## د طالبانو واکمني

کله چې طالبانو په ۱۹۹۲ز کال کې د چارو واکې واخیستې، زه په کانګ ولسوالۍ کې په خپل کلي کې وم. د مجاهدینو ټول قوماندانان او ټېټ پوړي غړي ایران ته وتښتېدل یا یې ملکي ژوند غوره کړ، ځکه طالبانو ټول سیاسي ګوندونه غیرقانوني او منحل اعلان کړل.

طالبانو له عامو خلکو سره د مرستې په برخه کې ډېر کم څه وکړل پرځای یې دوی له ځایي خلکو د عشر په نوم (په کرل شوي او له باران په خړوبه شوي ځمکه ۱۰ سلنه او د څاګانو له اوبو پر خړوبېدونکې کرنیزه ځمکه له راټول شوي محصول ۵ سلنه مالیه) راټوله. غیردولتي اداري یا انجیوګانې هم نه وې چې خلکو ته د مرستې لاس وروغځوي، نو زموږ د سترې کورنۍ غړو یو پر بل د مرستې او ملاتړ لپاره تکیه لرله، خو یو کار چې طالبانو زموږ لپاره وکړ د امنیت ډاډمن کول و.

> ... د ایران او افغانستان ترمنځ پوله د هرچا پر مخ پرانیستې وه او د نشه یي توکو سوداګرۍ د افغانستان په بازارونو کې په ازادانه ډول کېدله

بل د پام وړ تغییر چې موږ ولید هغه دا و چې د ایران او افغانستان ترمنځ پوله د هرچا پر مخ پرانیستې وه او د نشه یي توکو سوداګرۍ د افغانستان په بازارونو کې په ازادانه ډول کېدله. ایران ته یې ورل هم اسان و، ځکه پر پوله کوم محدودیتونه نه و. په کانګ ولسوالۍ کې چې ما کوم عادي خلک پېژندل د ښځو په ګډون ټولو ژوند ښه و، ځکه ټول په یو نه یو ډول د ماشینونو، منسوجاتو، خوراکي توکو، تېلو او نورو توکو د وړلو او راوړلو په خبر په یو کاروبار بوخت و.

زموږ په مخ کې ډېر انتخابونه وو. ځینو خلکو د پولې دواړو غاړو ته سوداګریز توکي وړل راوړل، ځیني په خپلو ځمکو کې په کروندو او د مالدارۍ په ساتنه بوخت و، خو ځینو نورو بیا په افغانستان کې د نشه یي توکو پېرل او د پولې هغې غاړه ته په ایران کې د هغوی خرڅول پیل کړل. ایران ته د نشه یي توکو قاچاق د ډېر کم شمېر خلکو بوختیا او کار و.

زه شخصاً خپله په کرونده کې هوسا نه وم، ځکه ډېره ګټه یې نه کوله او نه مې هم د نشه یي توکو کاروبار ته مخه کړه، ځکه ما د تېلو له وارداتو او خرڅلاو ډېرې پیسې ګټلې.

د طالبانو رژیم په وروستیو (۱۹۹۵-۲۰۰۱ز) کلونو کې یوازېنې خلک چې په کانګ کې د نشه یي توکو په کاروبار بوخت و هلمندیان وو. دغو خلکو ځینې کورونه چې لوی دالانونه یې لرل په کرایه ونیول څو خپل نشه یي توکي هلته زېرمه کړي او بیا به دې ته منتظر وو چې له پولې هغې غاړې ته یې ولېږدوي. دوی به دا نشه یي توکي په شپه کې پر قاچرو او خرو بارول او د پولې هغې غاړې ته به یې اړول په هغو ورځو کې د ایران پوله ساتي ځواکونه هم ډېر جدي نه و. دا چا کولای شول چې هره شپه زرګونه خره تلاشي کړي؟

## له ۲۰۰۱ز کال را وروسته

په ۲۰۰۱ز کال کې په افغانستان کې د نړیوالو تر مداخلې وروسته، زموږ ژوند په کلي ډول بدلون وموند. موږ د امنیت ډاډمنتیا حس کړه. د روغتیا، زده کړو، بیارغوني، ازادیو، ښځو ژوند او خلکو شخصي شتمنیو په برخه کې مو مهم پرمختګونه ولیدل.

> په ۲۰۰۱ز کال کې په افغانستان کې د نړیوالو تر مداخلې وروسته، زموږ ژوند په کلي ډول بدلون وموند.

کلنیکونه جوړ شول ډېر شمېر ښځینه او نارینه دواړه ډاکټران او نرسان وګمارل شول خلکو په لېرې پرتو او کلیوالي سیمو کې روغتیایي اسانتیاوو ته لاسرسی پیدا کړ.

په همدې ډول د نجونو او هلکانو لپاره ښوونځي بیا پرانیستل شول نوي ښوونځي جوړ شول ښځینه ښوونکي وګمارل شوې نجونې په ښوونځیو کې شاملې شوې او د سواد کچه لوړه شوه.

د دې ترڅنګ ګڼ شمېر پراختیایي پروژې پیل شوې. د لومړي ځل د برېښنا د تولید لپاره لمریزې تختې نصب شوې. موږ د سیندونو، ویالو، څاګانو، لښتیو او دودیزو ډنډونو پرځای چې پخوا به مو کارول، د پایپ سیستم له لارې د ښښلو پاکو اوبو ته لاسرسی پیدا کړ. د کانالونو د پاکولو لپاره هم خلک په لوی خوځښت راوستل شول. د کلیو کوڅې او سړکونه په جغل ویوښل شول. د مالدارۍ د واکسین کولو کمپاینونه تر لېرې پرتو سیمو راورسېدل. کروندګرو ته اصلاح شوي تخمونه او کیمیاوي سرې ورکړل شوې، چې د افغانستان له شرایطو سره یې سر سمون درلود. د کلي خلکو د راټولېدنې ځایونه جوړ شول او ولسونه به د جرګو او مرکو لپاره په کې راټولېدل.

## له ایران سره پر پوله دیوال

زموږ ښې ورځې ډېرې لنډې وې. په ۲۰۰۹ز کال کې ایران پرېکړه وکړه، چې له افغانستان سره پر پوله دیوال جوړ کړي. بناً، د کرزي د واکمنۍ په وروستیو کلونو کې زموږ ژوند د خرابېدو خوا ته روان شو.

> زموږ ښې ورځې ډېرې لنډې وې. په ۲۰۰۹ز کال کې ایران پرېکړه وکړه، چې له افغانستان سره پر پوله دیوال جوړ کړي [..] هغه خلک چې یو وخت د پولې دواړو غاړو ته په

## کاروبار بوخت وو، له دې وروسته بې روزګاره شول

هغه خلک چې یو وخت د پولې دواړو غاړو ته په کاروبار بوخت وو، له دې وروسته بې روزګاره شول. په کانګ کې زموږ د ولسوالۍ له نیمايي زيات خلک ايران يا هم زرنج ښار ته تګ کېدو اوالی ته اړ شول. زما د اټکل له مخې هغه خلک چې په ولسوالۍ او کلیو کې پاتې شول ۹۰ سلنه يې د نشه يي توکو سوداګرۍ ته مخه کړه، ځکه نور ټول کارونه په ټپه ودرېدل او دا يوازينی کار و، چې خلکو تر دې وروسته هم کولای شو.

د نورو خلکو په څېر زه هم بې روزګاره شوم. دا ډېره راته سخته وه، ځکه زه د ۱۳ کسيزې کورنۍ مشر يم. نو ما هم د کوکنارو قاچاق ته مخه کړه. ما له ځان سره ۵۰۰،۰۰۰ پاکستانۍ کلداري (۳،۰۰۰ امريکايي ډالر) سپما کړي وو. دا پيسې مې له ځان سره واخيستې او د فراه ولايت بکوا ولسوالۍ ته لاړم، چېرته چې د پنجشنبې، جمعې او شنبې په ورځو د کوکنارو ازاد بازارونه وو. هلته مې په لومړني سفر کې ۱۰ کيلوګرامه کوکنار واخيستل او يو ګاونډي ته مې وويل چې زما کور ته يې ورسوي.

د نورو خلکو په څېر زه هم بې روزګاره شوم. دا ډېره راته سخته وه، ځکه زه د ۱۳ کسيزې کورنۍ مشر يم. نو ما هم د کوکنارو قاچاق ته مخه کړه.

موږ په ځايي او ملي پاليسيو کې د مثبتو بدلونونو شاهدان و. په ځايي او ملي کچه ټاکنې ترسره شوې. ښځو او سړيو دواړو د ولايتي شوراګانو او پارلمان لپاره ځانونه نوماند کړل. د ښځو په ګډون هر يو په ولسمشريزو ټاکنو کې رايې وکارولې.

د ښځو ژوند بدلون وکړ. ډوی ډېرې ته ښوونځيو ته ستانې شوې څو خپلې زده کړې بشپړې کړي. د ښوونکو، ډاکټرانو، قابلو او داسې نورو په حيث يې د دندو حق ترلاسه کړ. د خلکو عوايد زيات شول او له کليو او ولسواليو د ولايتونو مرکزونو ته وکوچېدل. هلته يې غوره کاري فرصتونو پيدا کړل. ځينو دوکانداري کوله، ځينو نورو سوداګرۍ ته مخه کړه او يو شمېر نورو بيا په حکومت کې دندې ترلاسه کړې.

کله چې ايران پر ګډه پوله ديوال جوړ کړ، نو يوازې افغانان نه و چې د عوايدو او ژوند توښې له لاسه ورکولو له کبله وکړېدل بلکې هغه خلک چې ما د پولې هغې غاړې ته په ايران کې ورسره د تېلو کاروبار درلود، هم بې روزګاره شول. نو زه په خپل پخواني کاروبار کې له يو بلوچ ملګري سره په اړيکه کې شوم او د نشه يي توکو په کاروبار کې مې د يوځای کېدو خبره ورته وکړه. هغه هم ومنله. ما به په مياشت کې ځلور ځلې نشه يي توکي ورلېږل او هغه به هلته پلورل.

ما به د مياشتې له ۳۰ تر ۴۰ زره ايراني تومان (له ۷ تر ۱۰) امريکايي ډالر ګټه کوله. د وخت په تېرېدو مې د کوکنارو د پېرلو مقدار له ۱۰ کيلوګرامو ۲۰ کيلوګرامو ته زيات شو. د تومانو ارزښت هم لوړ و، نو ما به ښه ګټه کوله. بالاخره پانګه مې ۴۰ لکه پاکستانۍ کلدارو (۲۵،۰۰۰ امريکايي ډالرو) ته ورسېده. دا وخت مې ډېر خوشاله ژوند درلود.

دا چې د ديوال جوړولو چارې لا هم جاري وې او پر پوله سخت کنټرول و، نو ما به د خپل کار لپاره خلک نه ګمارل څو په ايران کې زما شريک ته مال ورسوي. پرځای مې له هغو سړيو ګټه اخيسته چې د ديوال په ډېرو برخو کې موجود و. ما به د شپې مهال په دې سړيو کې نشه يي توکي ځای پرځای کړل او د پولې هغې غاړې ته به زما شريک اخيستل. په بل مانبام به ده ماته په همدې سړيو کې زما د ګټې ونډه کېښوده. يوازې هغه وخت



زرنج ښار، زرنج ولسوالي، نيمروز ولايت آنځور: د دوامداره ودې او څېړنو موسسه(OSDR)

چې د ديوال چارې بشپړې شوې، نو ما له خپل کلي باوري کسان وګمارل څو په ايران کې زما تر شريک پورې مالونه ورورسوي.

ايران ته د نشه يي توکو د قاچاق درې لارې دي. لومړی، د ايران پوله ساتو ځواکونو له ډلې له يو سره جوړجاړی کوې، دوی ته پيسې ورکوې او په بدل کې دوی ستا پر کړنو سترګې پټوي. دويم، ته او شريکوال دې په دې هوکړه کوئ، چې له ديوال ګټه واخلئ، نو تاسو ديوال ته يوه زينه دروئ، د اغزن تار پر سر نشه يي توکي ږدئ او د ديوال بلې غاړې ته يې ستاسو شريک اخلي. دريېم، تاسو له غولکې يا منجنيق کار اخلئ.

ايران ته د نشه يي توکو د قاچاق درې لارې دي. لومړی، د ايران پوله ساتو ځواکونو له ډلې له يو سره جوړجاړی کوې، دوی ته پيسې ورکوې او په بدل کې دوی ستا پر کړنو سترګې پټوي. دويم، ته او شريکوال دې په دې هوکړه کوئ، چې له ديوال ګټه واخلئ، نو تاسو ديوال ته يوه زينه دروئ، د اغزن تار پر سر نشه يي توکي ږدئ او د ديوال بلې غاړې ته يې ستاسو شريک اخلي. دريېم، تاسو له غولکې يا منجنيق کار اخلئ.

دا کاروبار دومره اسان هم نه دی، لکه څه ډول چې معلومېږي. په ۲۰۱۵ز کال کې زما يو لېږدوونکی د ايران پوله ساتو ځواکونو له لوري ونيول شو. هغه وخت د يو کيلوګرام اپيمو بيه ۲۰،۰۰۰ پاکستانۍ کلداري(۱۲۲

امریکایي ډالر) وه، نو کله چې له ټول مال سره ونیول شو، ما ډېر سخت زیان وګاله.

د قاچاق کوونکو یوه ډله چې له دوو تر پنځو کسانو وي، باید په ملي امنیت ریاست او له نشه یي توکو سره د مبارزې په وزارت کې چارواکو دغه راز ولسوال او قوماندان هر یو ته د میاشتې ۸۰،۰۰۰ تومان (۲۰ امریکایي ډالر) ورکړي(ځکه د ځایي چارواکو له همکارۍ پرته له پولې د نشه يي توکو تېرول او قاچاق امکان نه لري). که چېرې له منجنیق هم که ګټه اخلې، نو باید هغه چاته پیسې ورکړې چې له ځمکې یې په منجنیق کې نشه يي توکي غورځوې، هغه کس چې دا توکي ترلاسه کوي او بیا هغه کس چې درته زېرمه کوي یې څو وروستي مقصد ته ورسیږي، دغو ټولو ته باید پیسې ورکړې. د ځمکې خاوند نرخ د یو کیلوګرام پر سر د ۲ او ۳ زرو تومانو (**۰.۵** تر ۰.۷ امریکایي ډالرو) ترمنځ دی او هغه کس چې بیا یې درته زېرمه کوي د یو کیلوګرام پر سر ۵،۰۰۰ تومان (**۱.۲۵** امریکایي ډالر) اخلي.

د قاچاق کوونکو لګښت هم پرې راځي. د فراه له بکوا بیا د نیمروز تر کانګ ولسوالۍ پورې د یو کیلوګرام د قاچاق لګښت ۲۰۰ پاکستانۍ کلدارې (۱.۲۰ امریکایي ډالر) دی. له کانګ څخه بیا د ایران تر زاهدان پورې قاچاقبر له ۳۵۰،۰۰۰ زور نیولي تر ۴۵۰،۰۰۰ تومانو (۸۳ تر ۱۰۷ امریکایي ډالرو) د قاچاق له درکه اخلي. د یو کیلوګرام هروئینو یا کرسټالو د قاچاق لګښت ۱.۵ میلیون تومان (۳۵۷ امریکایي ډالر) دی.

درې کاله د مخه یو ایراني سوداګر له مورږ د مال غوښتنه وکړه. مورږ ته یې وویل چې په ایران کې ۲،۰۰۰ کیلوګرامو اپیمو ته اړتیا لري. دا مقدار د دروازو له لارې چې په برجکونو مشهور دي لېږدول. دا دروازې په هر یو کیلومتر کې په دیوال کې جوړې شوي. هلته د ننه یې په برجکونو کې کسان لرل. ما ۳۰ کیلوګرام مال ورکړ، خو قاچاق کوونکی په دروازه کې د ایران پوله ساتو ځواکونو له لورې ودرول شو او ټول مال یې ترې ظبط کړ. له نېکه مرغه چې ټول کسان ترې په تېښته بریالي شول. زما په باور چې هغه په دروازه کې د ننه کس له مورږ سره لوبه وکړه. ما دلته سخت تاوان وکړ.

له دې پېښې وروسته له ما سره هېڅ پانګه پاتې نه شوه. د فراه په بکوا (د اپیمو بازار سیمه) کې مې له خپلو تدارک کوونکو وغوښتل چې له ما سره په قسطونو معامله وکړي، څو زه خپل کاروبار ته دوام ورکړای شم. دوی هم راسره ومنله، نو زه په دې وتوانېدم چې نه یوازې خپل ځان له ګړنګ وژغورم بلکې ګټه مې هم وکړه. کارونه ډېر ښه روان وو، تر دې چې په خپله ځمکه مې څلور کوټې جوړې کړې او شپږ موټر مې هم واخېستل. درې موټر یې د مسافرینو د لېږد رالېږد لپاره وو، یو یې معمولاً زما د کلي او ولسونو لپاره و. زه د ګزمې او څارنې لپاره مسوول وم، خو کلیوالو او ولسونو به هم د اړتیا پرمهال له دې موټر ګټه پورته کوله.

## دوکه کېدل

ډېر ښه ژوند مې درلود. یوه ورځ د تېلو سوداګرۍ پرمهال د یو اشنا کس له لورې، چې په ایران کې و، زنګ راغی. ما ته یې وویل چې زه باید د ده زوی ته نشه یي توکي ورولېږم او هغه یې په ایران کې خرڅولای شي، ځکه دې اشنا مې د ژوند توښې چمتو کولو ته اړتیا لرله. ما یې غوښتنه ومنله. مورږ په دې هوکړه وکړه چې زه به یې زوی ته په میاشت کې شپږ یا اووه ځله اپیم ورلېږم. مورږ دا شراکت پیل کړ. ما اپیم ورولېږل، زوی یې وپلورل او زما برخه پیسې یې راولېږلې.

له دې معاملې د څو میاشتې په تېرېدو سره ما د ۹۰ میلیونه تومانو (۱۸،۰۰۰ امریکایي ډالرو) په ارزښت نشه يي توکي ورولېږل. ده هم دا مال خرڅ کړ، خو ما ته یې زما خپله برخه پیسې رانکړې. زه مې ملګري ته ورغلم چې د زوی او خپلې برخې ګټې پوښتنه ترې وکړم، یوازې دومره به درته ووایم چې کور یې پرېښودی و او هېڅ ځای نه موندل کېده.

ما جرګه راوغوښته چې پلار یې په دې قانع کړي څو ما ته خپلې پیسې راکړي، خو زوی یې همکاري نه کوله او نه هم جرګې ته حاضرېده او پلار یې راته وویل چې هېڅ شی هم نه لرم. زما ستونزه دا و، چې ما له ده سره په بهرني هېواد کې معامله کوله. ما کوم رسمي شکایت پرې نه شو کولای، ځکه زه هم نیول کېدم. دا قضیه تراوسه هم نه ده هواره شوې او زه تر دې دمه هم د پیسو په جبران بوخت یم.

اوسمهال زه ۵ لکه کلدارې (۳،۰۰۰ امریکایي ډالر) په بکوا کې د خپل تدارک کوونکي پوروړی یم. کله چې ما پر خپل وخت دوی ته پیسې ونه رسولې، دوی طالبانو ته شکایت وکړ او طالبانو زه په بکوا ولسوالۍ کې محکمې ته وروغوښتم. دوی راته وویل چې ولې پیسې نه ورکوم، خو کله چې ما خپل دلایل وویل دوی زه پنځه ورځې بندي کړم.

دوه کاله د مخه ما د اپیمو کاروبار بند کړ، ځکه اوس پانګه هم نه لرم او له ایران سره پر پوله محدودیتونه هم زیات شوي، نو لېږدول یې ډېر ستونزمن دي. افغان چارواکو هم له نشه یي توکو سره مبارزه ګړندۍ کړې ده. پردې سربېره، د بکوا سوداګر هم په پور ورکولو کې سخت شوي دي، ځکه پر خلکو نور باور نه کوي. بله خبره دا ده، چې زه وېرېږم چې نور پوروړی نه شم او له ډېر تاوان ونه کړېږم. د کرنسۍ بې ثباتي زمورږ زیاترو لپاره یوه بله ستونزه وه، چې د سوداګرۍ له دوام یې راګرځولو. مورږ به اپیم په پاکستانۍ کلدارو اخېستل، خو په ایراني تومانو به مو خرڅول چې ورځ تر بلې یې ارزښت ټیټېږي.

## زما کورنۍ خبره وه

که څه هم ما خپلو لورګانو او زامنو ته د دې کاروبار نه دي ویلي، خو زما مېرمن، ورونه، پلار او نور ټول په دې خبر وو، چې زه د نشه يي توکو کاروبار کوم.

که څه هم ما خپلو لورګانو او زامنو ته نه دي ویلي، خو زما مېرمن، ورونه، پلار او نور ټول په دې خبر وو، چې زه د نشه يي توکو کاروبار کوم.

ما د اپیمو کاروبار له دې وجې پیل کړ، چې نور کار نه و. دا کاروبار زمورږ په ولسوالۍ کې د خلکو لپاره په یوه معمول چاره بدل شو. کله چې له ایران سره پوله پرانېستې وه، خلکو ډېره کمه د نشه يي توکو د قاچاق اړتیا محسوسوله. یوازې هغه وخت دا اړتیا ډېره شوه، چې د خپل ژوندانه د توښې برابرولو لپاره یې نور روزګار له لاسه ووت او بېوزلۍ ته یې ټېل وهل، له همدې وجې زیاتو خلکو دا کاروبار پیل کړ.

د دیوال له جوړېدو سره حتی د انساني قاچاق کاروبار هم په ټپه ورد بده. هره میاشت به زمورږ د ولسوالۍ له لارې له ۳۰۰ تر ۴۰۰ ځوانان تلل. بالاخره د انسانانو قاچاق درېدو هم پر نورو کاروبارونو اغېز وکړ.

د خلکو ژوند او د ژوند توښه د بډو، پر پوله د ایران پوله ساتو ځواکونو سخت څار دغه راز د شخصي خوندیتوب او امنیت له وجې سخت اغېزمن شوي دي. زیاترو ځایي خلکو د دې ستونزو د هوارې لپاره طالبانو ته مخه کړه.



په کانګ ولسوالۍ کې پر پوله تاو شوی دیوال او د ایراني پولیسو پوسته. انځور: د دوامداره ودې او څېړنو موسسه (OSDR)

**زما او زما د زیاترو کلیوالو ژوند د پولې دواړو غاړو ته پر سوداګرۍ او کاروبار ډاډمن دی، خو کله چې دیوال جوړ شو هرڅه ختم شول.**

زما او زما د زیاترو کلیوالو ژوند د پولې دواړو غاړو ته پر سوداګرۍ او کاروبار متکي دی، خو کله چې دیوال جوړ شو هرڅه ختم شول. په **۵۲** کلنۍ کې زه د ۱۱ اولادونو پلار یم. زه باید د دوی لاسنیوی وکړم. د نشه یي توکو قاچاق ډېر ګوابنونه لکه مرګ او بندي کېدل لري، خو ګټې یې هم زیاتې دي.

# د کولمبیا پولو ته له څېرمه
# پرتو سیمو

## د ژوند کیسې









په سیرا نیوادا مارتا کی د غیرقانونی کروندو د لمنځه وړلو نه وروسته دنباتاتو بیا روغونه. انځور - لیلو ۲۱۱ ، CC BY-SA ۴٫۰, via Wikedia Commons.



# د کافي، کوکا، بنګو او جګړې په منځ کې ژوند

## دا کیسه سزار مارینو[۳۶] ویلي او لوئیس کاستیلو[۳۷] اصلاح کړې

د سیرا نیوادا سانا مارتا د کولمبیا کارائیب ساحل ته څېرمه د نړۍ تر ټولو لوړه غرنۍ ساحلي لړۍ ده. دا لړۍ د ماګدالینا ، سیزار او ګواجیرا برخې (کلي له ولایتونو ) سره نښلوي او بېلا بېل بومي او کروندګر خلک په کې مېشت دي. د غیربومي خلکو له لوري د سیرا نیوادا ښکېلاک د ۱۹مې ز پېړۍ په وروستیو کې هغه مهال پیل شو ، چې د کولمبیا له نورو برخو راغلو کډوالو په دې سیمه کې د کافي کرنه پیل کړه. د غیربومي خلکو د مېشت کېدو دې پروسې د ۲۰مې ز پېړۍ په منځنیو کې هغه مهال زور واخېست، چې د دې هېواد له اندین سیمې د دوه ګوندي جګړې له کبله په زرګونه کروندګرې کورنۍ کوچ کولو ته اړ شوې او دلته راغلې. دغو کورنیو د سیرا په اوږدو کې د کافي کمربند وغځوو. وروسته د ځمکو غصبولو ځپې د ناقانونه محصولاتو: لومړۍ بنګو او بیا وروسته د کوکا په مرسته په تحرک راغلې. دا سیمه د ډېرو کلونو لپاره د ملېشو او شبه نظامي ډلو ترمنځ د تقابل ډګر و.

ما ټول ژوند په سیرا نیوادا کې تېر کړی. مور او پلار مې، چې د شلمې پېړۍ په ۵۰ مه ز لسیزه کې د دوه ګوندي جګړې پرمهال دلته راغلي و ، همدلته مېشت شوي و.[۲۸] زما پلار په ۱۳ یا ۱۴ کلنۍ کې له سانتاندر څخه ویستا نیو ته(د کافي یو لوی بڼ(haciendas) چې په یاد وخت کې یې د سیرا نیوادا اقتصاد غوړولی و، ) راغلی و ، ځکه دلته یې دنده موندلې وه. هغه په دې کار کې ډېر کلونه کار وکړ، تر دې چې کوم چا ورته ویلي و ، چې په سیاناګا کې ځمکه درکوم. دا ځای ډېر لېرې و. شاوخوا ۱۱ ساعته پلی مزل به دې کاوه، ځو هلته ورسېږې. پلار مې هلته لاړ او ځایي خلکو ورته ویلي وو ، چې: څومره دې چې د سترګو نظر رسیږي، همدومره ځمکه ستا ده. د غرونو پر څوکو تر قدم وهلو وروسته مې پلار هغه ځمکه په نښه کړې وه، چې ده غوښتله. دا ځمکه شاوخوا ۱۵۰ هکتاره کېدله. دا ځمکه د ده وه، ځکه کومه ځمکه به چې تا انتخابوله نو خلکو یې هرکلی کاوه.

د سیرا نیوادا په دې خوا کې هېڅ شی نه و. ټول شاړ غرونه وو. د دې لپاره چې پلار مې دا ځمکه پاکه او خپل فارم پرې جوړ کړي، نو په ویستا نیوا سیمه کې یې ډېر وخت کار وکړ. له هغه ځایه یې د کیلو بېلا بېل ښاخونه او د کافي تخمونه راوړل، څو دلته یې وکري. که څه هم بنوالو ده ته د کافي تخم نه ورکاوه، خو ځمکه حاصلخیزه وه او د کافي دانې پر ځمکه راغورځېدې، نو تر محصولاتو لاندې د تخمونو ښه بسترو. زما پلار ماته ویلې، چې زه او ملګري مې هاسیندا ته په شپه کې لاړو او د کافي تخمونه مو راټول کړل، بیا مو دلته په خپلو کروندو کې وکرل. دوی دا تخمونه تر کوره پر اوږو راوړي و ، ځکه چې د تللو لار خو پرېږده حتی اثر یې هم معلوم نه شي.

په همدې وختونو کې مې پلار زما له مور سره لیدلي و ، چې هغه هم د یو کډوال لور وه. له یوې مودې وروسته، دوی دا پرېکړه کړې وه، چې همدلته پاتې شي څو د کروندې جوړولو چارې بشپړې کړي. لومړی دوی په لوړه څوک یو کور جوړ کړی و ، خو هلته هوا ډېره طوفاني وه او کور ړنګ شو ، نو بیا یې پرېکړه کړې وه چې د کروندې په کښتنۍ برخه کې کور جوړ کړي. زما نهه وروڼه او خویندې او زه همدلته زېږدلي یو. بالاخره نورو کورنیو هم دلته په راتګ پیل وکړ. هره ورځ به دې سیمې ته ډېر نور نوي ګاونډیان راتلل. دوی پرېکړه وکړه، چې د دې سیمې نوم کانتا رانا کېږدي، ځکه ډېرې څونګښې دلته وې، ټوله شپه به یې په چغارو تېره کړه او مور یې خوب ته نه پرېښودو.

> ما د خپل ژوند لومړی کلونه د کافي تر ښاخونو لاندې تېر کړل. له همدې وجې زه کله کله وایم چې د زانګو په ځای په کافي کې رالوی شوی یم.

ما د خپل ژوند لومړی کلونه د کافي تر ښاخونو لاندې تېر کړل. له همدې وجې زه کله کله وایم چې د زانګو په ځای په کافي کې رالوی شوی یم. ښه مې په یادیږي، چې د سیرا په عربیکا کې یوازې د کافي یو ډول و ، چې دنګې دنګې ونې او لوی لوی ښاخونه به یې کول. دغو ونو ډېر کلونه دوام

کاوه، خو تولید یې د پام وړ نه و. په دې منځ کې ډېر بنه کلونه هم تېر شول او بد وختونه هم راغلل، زیاتره خلک زړه نازړه وو، چې د کافي کرونديز ته دوام ورکړي، که بس يې کړي. زما پلار هېڅکله هم د کافي کرونديز کار پرېنښود: پلار مې کال په کال کافي کرله، خو نورو بیا د کافي له محصولاتو مخ واړوه او د بنګو کرلو ته يې مخه کړه.

د ۷۰یمې ز لسیزې په لومړیو کې به چې کوم چا د بنګو بوټي پرې کړل، نیول کېده او بیا به پولیسو ته سپارل کېده. خو څو کلونه وروسته چې کله زه له موضوع خبرې، موږ ټولو د بنګو کاروبار پیل کړی و. دلته تر ټولو ډېره تولیدي سیمه لاريزروا وه. هر چېرې به دې چې کتل نو په بنګو به دې سترګې لګېدې. دا سیمه د نفوسو د تراکم له مخې ګڼ مېشتې نه وه، خو هلته تلل اسان نه وو. زموږ له کرونديز تر هغه ځایه پنځه ساعته پلی تګ و. حتی قاچر هم په دې لارو نه شول تللای. نو خلکو باید تبرونه، چاقوګان، خوراکي توکي او هر څه نور په خپلو اوږو وړي وای. يوازې څو کورنۍ هلته اوسېدې، چې کافي يې کرله دا چې ځمکه د دوی وه، نو هغو خلکو ته يې په اجاره ورکول شروع کړل چې سیراټو ته د بنګو کرلو لپاره راغلي وو. دوی به دغو خلکو ته ویل، چې: موږ تاسو ته ځمکه په اجاره درکوو او تاسو د هر هکټار پر سر موږ ته څلور سوه پونډه بنګې راکوئ.

د ۷۰یمې ز لسیزې په لومړیو کې به چې کوم چا د بنګو بوټي پرې کړل، نیول کېده او بیا به پولیسو ته سپارل کېده؛ خو څو کلونه وروسته چې کله زه له موضوع خبرېدم، موږ ټولو د بنګو کاروبار پیل کړی و.



د کافي ونډې. آنځور: کاترین سیچل

زما څلورو ورونو د بنګو بوټي لرل. دوی ټولو په ګډه اووه هکټاره ځمکه کرله. په دې سیمه کې د بنګو زیاتره بوټي د دوی د بوټو په څېر واړه وو، خو زما ورونه بیا د هغو کډوالو برعکس يو څه خپلواک وو چې دلته راغلي وو او هېڅ شی يې نه لرل. هغوی باید د ځان لپاره يو تمویلوونکی پیدا کړی وای، ځکه څو میاشتې د محصولاتو ساتنې ډېر لګښت درلود، زما ورونه له وړاندې له دې سیمې سره بلد وو او ټول وسایل او قاچر

يې لرل. په ډېر لنډ وخت کې دوی هر هغه څه لرل، چې څو هکټاره ځمکې پاکولو او د محصولاتو کرلو لپاره ته ورته اړتیا وه. دا چې دوی ډېر وو، نو اړتیا نه وه چې بل څوک له ځان سره په کار وګماري.

دوی ټولو په ګډه د يوې اندازې ځمکې پاکول پیل کړل. خلکو باید دا کار په تبرونو کړی وای، ځکه په سیمه کې ځنځيري اره نه وې. په یاد وخت کې هوا معتدله وه، د اوس په څېر نه وه، ځکه تاسو پوهېږئ چې دلته په اپرېل کې باران اوري. نو زما ورونو ځمکه وسوځوله او د اپرېل په لومړیو کې يې کرل پیل کړل دا چې ځمکه ډېره حاصلخیزه وه، نو د محصولاتو ساتنه هم اسانه وه. کمیاوي سرې یا بل څه ته يې اړتیا نه لرله، یوازې وخت په وخت باید پاکه شوې وای. دوی به هلته د ۱۰ یا ۱۵ ورځو لپاره تلل او تر هغې وروسته به بېرته له کرونديز راستنېدل. له څو میاشتو وروسته محصول رېبلو ته چمتو وو. دوی ټول بناخونه ورېبل څو دانې ترې راټولې کړي بیا يې هر څه په ځنګل کې يوې ویالې ته نېږدې زېرمه کړل، چې چا نه شول لیدلای. دوی ټولې بنګې له لرګي په يو جوړ شوي ګدام کې، چې خپله يې جوړ کړی وو، زېرمه کړې.

زما ورونو به د قیمتونو لوړېدو ته په تمه وو، چې کله به مناسب نرخ په لاس ورغی، نو خالص مال به يې له هغه پټ ګودام د مافیا د راغونډولو تر مرکزونو ولېږدوه. دا وخت به ما له دوی سره مرسته کوله. هغه وخت زه اووه یا اته کلن ماشوم و، او ما به د دوی قاچرې څرولې. دوی ما ته پیسې راکولې چې پر قاچرو يې پام وساتم. دې ورته مې ډېر نور کارونه هم ورسره کول.

کروندګرو به د راغونډولو مرکزونو ته تلل، هلته به يې خپلې بنګې تللې او په بدل کې به يې پیسې ترلاسه کولې. مافیاوو به له وړونکې نیولې بیا تر کارګر او اشپز پورې ټولو ته لاس په لاس پیسې ورکولې. بیا به د بنګو غوټې چې کروندګرو راوړې وې، په پوښل شوو کڅوړو کې ځای پرځای کېدې او له هایدرولیک فشار په ګټې اخیستنې به په غلیظو بنډلونو بدلېدې.

## هغه وخت د پیسو جریان ازاد و. بنګو له کافي ډېره ګټه کوله.

مافیاوو به د راټولولو په مرکزونو کې خالص محصول تر يوې مودې ساته، څو د انتقال لپاره يې مناسب وخت راورسیږي. دا چې موږ قاچر درلودل، نو هلته به تللو او د کار په تمه به وو. ځینې وختونه به موږ د دوی مالونه تر سرک رسول څو هلته په موټرو کې بار شي. ځینې وختونه به مو بیا مستقیماً د ساحل تر غاړې یا هم هوايي ډګر پورې وړل زموږ مزل به درې تر څلورو ورځو وخت نیو. مزل به مو ډېر له کړاوونو ډک وو، ځکه سیمه ټوله وچه ده او هره ګړی به مې تنده احساسوله. کله به چې اخیستونکی راورسېد نو هر يو ته به يې د قاچرو شمېر مطابق پیسې ورکولې: څومره قاچر دې دي؟ دا دي واخله پیسې دې. هغه وخت د پیسو جریان ازاد وو. بنګو له کافي ډېره ګټه کوله، او چا به چې نغدې پیسې نه لرلې نو هرچا به يې مالي ملاتړ کاوه، څو بنګې وکري. زما ځینې ملګري چې دې سیمې ته د کافي بسته بندۍ لپاره راغلي وو، د بنګو محصولات يې ځای پرځای کړه او تر ۱۰ میلیونه پیزو (کولمبیايي روپیو) يې وګټلې، چې په یاد وخت کې ډېرې پیسې وې، خو دوی دا ټولې پیسې ولګولې. ډېری کروندګر په دې بلد نه وو، چې ډېرې پیسې مدیریت کړي، دا چې هرڅوک په دې باور و چې دا باد راوړي شتمنې به هېڅ وخت ختم نه شي، نو دوی به ټولې پیسې لګولې. یوازې يو کم شمېر خلکو دا فکر درلود،

چې په خپلو کروندو کې پانګونه وکړي، کور پرې واخلي یا هم د کافي کروندې د پروسس ځایونه پرې جوړ کړي. په دې منځ کې شتمنې کورنۍ چې دې کاروبار ته یې مخه کړه، له وړاندې پوهېدې چې دا پیسې څنګه مدیریت کړي. دوی په ځمکو، مالدارۍ او هوارو ځمکو کې د کیلو په ونو کې پانګونه وکړه. دې باد راوړي شتمنۍ ډېر دوام ونه کړ. زما ورونو یوازې دوه فصله وربېل. د ۸۰ مې ز لسیزې په لومړیو وختونو کې هرڅه سرچپه شول. داسې کلونه هم راغلل چې هېچا بنګې نه اخیستې. زیاترو خلکو خپل فصلونه په امتیاز وپلورل او هرڅه یې له لاسه ورکړل، ځکه اخېستونکو هېڅکله پیسې ورنه کړې. بیا ورپسې حکومت پرېکړه وکړه، چې پر محصولاتو سپرې وشیندي. د دې ترڅنګ، هرڅه له ډېرو ناخوالو سره مخ شول. دا بل دلیل و، چې ځینو خلکو د بنګو له کرلو لاس واخېست. غلا خو ډېره عامه وه، نو مافیا د وسله والو کسانو کوچنۍ ډلې رامنځ ته کړې، دوی ته به یې د مغارو او لېږد رالېږد لارو د ساتو په بدل کې پیسې ورکولې؛ خو ډېرې دا ډول ډلې په خپلو منځو کې د جګړو له کبله له منځه لاړې او هر څوک د خپل فصل، پیسو او حتی قاچرو پر سر وژل کېده. چارچاپېره تاوتریخوالی حاکم و. هر شخص وسله وال شوی و. که چېرې دې غوښتې چې د بنګو کاروبار وکړې، نو ټوپک لرل لازمي و. ډېرو کمو خلکو خپل د کافي محصولات پرې کړل او بنګې یې وکرلې، خو موږ باید خپله کرونده بیا اباده کړې وای، ځکه د باد راوړو پیسو پرمهال شاړه شوې وه. تر دې وروسته شرایط لا نور هم سخت و. د محصولاتو او سپرې له کبله د چاپېریال خرابوالی هم د پام وړ و. د دې ترڅنګ په سیمه کې خپلسرې وسله والې ډلې هم راپیدا شوې.

## د دې باد راوړو پیسو کاروبار ختم شو او موږ هم بېرته باید کافي ته مخه کړې وای.

لومړی ځل چې ما چریکیان ولیدل، زه هغه وخت اته کلن وم. دوه وسله وال ځوانان او یوه پېغله راغلل چې زما له پلار سره خبرې وکړي. زما پلار زه کور ته ولېږلم، ځکه په هغو وختونو کې ماشومانو اجازه نه لرله، چې له لویانو سره خبرې وکړي. ځایي خلکو ډېره ژر راشه درشه ورسره پیل کړه او د وخت په تېرېدو نور دا خلک څلور یا لس بلواګر نه و، بلکې یو سلامت پوځ و. په تدریج سره په خپله شاوخوا کې د دوی له لیدلو سره عادت شوو. زما په عمر زیاتره خلک له دې کیسې سره مخ شوي. دوی زه خپل ځان ته وروبللم او د یو ځای کېدو یې راته وویل، خو د خدای شکر چې دا لېونتوب مې هېڅکله هم ونه کړ. زما په چم ګاونډ کې زیاتره خلک او حتی زما ملګري له بلواګرو سره یوځای شول، خو ډېر ژر ووژل شول.

کله چې ملېشې راغلې، لومړی کار چې دوی وکړ دا و چې په سیمه کې یې د بنګو راټولولو ځایونه له منځه یوړل او د بنګو پر محصولاتو یې بندیز ولګاوه. زما ښه په یاد یږي، چې په یوه ورځ دوی دوه زېرمې یوه په نېوا ګرانادا او بله په پاراندا سیکا کې له منځه یوړې دا چې زیاترو کروندګرو وسلې درلودې، دوی له خلکو ټوپک وپېرل په دې توګه دوی باور ترلاسه کړ، ځکه په سیمه کې امنیت ډاډمن شو. دغو ملېشو په هېواد کې د ټولنیز تغییر په اړه هم خبرې کولې، نو موږ یې وهڅولو چې په خپلو کلیو کې د ولسي اقداماتو کمېټې رامنځ ته کړو، څو په ډله ییز ډول چارې تنظیم کړو. په پایله کې په دې سیمه کې سړکونه جوړ شول او نورو برخو پرمختګ وکړ. زما په یاد یږي، چې ولسي مشران هڅول کېدل او ښاري شوراګانو ته به تلل څو پروژې وغواړي دا وختونه هومره خطرناک نه و، لکه څه ډول چې په ۹۰ مه زلسیزه کې و.

## ملېشو خپل قواعد وضع کړل: د شپې پرمهال څوک چېرې نه شول تللای؛ سړکونه باید پاک ساتل شوي وای، باید په هغو ناستو کې دې ګډون کړې وای چې دوی به رابللې.

ملېشو خپل قواعد وضع کړل: د شپې پرمهال څوک چېرې نه شول تللای؛ سړکونه باید پاک ساتل شوي وای، باید په هغو ناستو کې دې ګډون کړې وای چې دوی به رابللې. موږ باید د دوی اوامر منلي وای، خو بیا مو هم خپل کار ته ادامه ورکولای شوه، او حکومتي چارواکو هم له دې سیمې لیدنه کولای شوه. د بېلګې په توګه د کافي کروندګرو کمېټه د دې جوګه شوه، چې سیمې ته راشي او د خپلو ولسونو لاسنیوی وکړي. دې کار تر هغې دوام وکړ، چې دوی هغه کس ووژه چې د کافي له کروندګرو سره به یې تخنیکي مرسته کوله. تر هغې وروسته نور دوی دلته راتلل بند کړل.

د وخت په تېرېدو د ملېشو چارواکي پیاوړي شول. موږ باید هغه څه کړي وای، چې دوی پرې امر کاوه. دوی ورځ تر بلې پیاوړي کېدل، ان تر دې چې یو وخت دوی د ټولې سیمې سالاران او مالکان شول. په لومړنیو وختونو کې به چې ملېشې چا لیدلې نو وېره یې ترې نه کېده، دوی به د خلکو کورونو ته تلل او دا یو معمول کار و. که چېرې دې کوم څه ورکول نو اخېستل یې. که چېرې دې کوم څه ورکول هم نه، ستونزه نه وه.

وروسته دوی له هغه چا سره ضد ته مخه کړه، چې له خپلو کروندو یې زیاتې پیسې ګټلې. دا کروندګر به یې اړ کول چې یا دوی ته هم یو څه ورکړي یا خپل کار پرېږدي. ورپسې دوی په اصطلاح د شیریني غوښتل پیل کړل، کله به چې شیریني پر کوم چا چپه شوه، نو باید نغدې پیسې، مالداري یا یې هم کوم بل څه ورکړي وای. د کمزورو فصلونو ټیټو قیمتونو ترڅنګ د کافي کروندګرو باید هغه لږ پیسې هم ملېشو ته ورکړې وای، چې ګټلې یې. وروسته نورې ملېشې راغلې او هرې ډلې خپل قواعد لرل که چېرې مو یوې ډلې ته پیسې ورکړې وای، بلې ته یې ورکول حتمي و.

په نورو سیمو کې ځینې ترکیبي ډلې پیاوړې او په شبه نظامي ډلو بدلې شوې. د بېلا بېلو ډلو ترمنځ د سیمې وېش ژوند واقعاً ډېر بې خونده کړی و. کورنۍ اړیکې او ملګرتیاوې له منځه لاړې. د سیرا بېلا بېلو سیمو د خلکو ترمنځ کینه زیاته شوه. د دې ځای خلک به هلته شبه نظامي ډلې وې او د هغه ځای خلک به بیا ملېشې وې. مخکې به په نورو ښارګوټو کې خپلو خپلوانو ته ورتللای شوو، خو کله چې دا جګړې پیل شوې، دوی خلک دلته او هلته له تلو راتلو منع کړل. کله چې موږ په ښار کې کاروبار پیل کړ، نو موږ به په پټه تلو راتلو چې څوک مو ونه ویني.

کله چې زموږ په سیمه کې شبه نظامي ډلې راپیدا شوې، هرڅه پیکه شول. دا وخت زموږ د بدبختیو ورځې پیل شوې. یوه ورځ دوی زما کروندې ته راغلل او یوه شپه یې تېره کړه. دوی له موږ هرڅه غلا کړل. دوی موږ ته نه د خوړلو او نه یې د پخلي لپاره څه راپرېښودل، ان تر دې چې زموږ کاشوغې یې هم پټې کړې وې. دوی وویل، چې په یوه میاشت کې د ننه بېرته راګرځو، نو موږ هم د دوی په تمه و، چې راغلل. لومړی یو یې یوه ورځ د سهار له خوا راورسېد، موږ یې په خپل کور کې قلف کړو. غرمه مهال یې څلور تر پنځه سوو پورې کسان راورسېدل. موږ شاوخوا یوه اونۍ یرغمل شوي وو او هغه څه مو خوړل شول، چې دوی راکړل.

## کله چې زموږ په سیمه کې شبه نظامي ډلې راپیدا شوې، هرڅه پیکه شول. دا وخت زموږ د بدبختیو ورځې پیل شوې.

شبه نظامي ډلې او ملېشې په خپلو منځو کې سره ونښتې. موږ به هره ورځ د ټوپکو ډزونه اورېدل. بیا ورپسې پوځ راورسېده او موږ د شبه

نظامي ډلو، ملېشو او پوځ په منځ کې را ايسار شوو. موږ ډېر په وېره کې وو، ځکه هېڅوک نه پوهېدل چې خپله، کوم نېږدې خپلوان يې او يا هم د ګاونډي د مرګ وار به کله رارسيږي.

ما ډېر ځله د دې سيمې د پرېښودو په اړه فکر وکړ. په ۲۰۰۲ز کال کې ما داسې وانګېرله چې نور دا نشم زغملی، خو دوی به اجازه رانکړي. که چېرې زه د غرونو لمنو ته کښته کېدلای، نو خپله مېرمن او ماشومان مې بايد هلته پرېښودي وای. د دوی اصول همدا وو، چې يوازې د کورنۍ يو غړي کولای شول له غرنۍ برخې راکښته شي. شاوخوا يو کال موږ کار ونه شو کړای او هېچاته اجازه نه وه، چې دلته راشي. د کافي محصولات هم نېږدې په ضايع کېدو وو او يو څه مالداري مې چې لرله يا يې وخوړه يا يې راڅخه واخېستله.

بالاخره، شبه نظامي ډلو د سيمې ولکه په لاس کې واخېست او ملېشې يې له دې ځايه پسې واخېستې. په يوه شپه کې زموږ سيمه له يوې ملېشه يي په يوه شبه نظامي سيمه بدله شوه. شبه نظامي ډلو خپل اصول او قواعد وضع کړل، او بايد هرچا ترې پيروي کړې وای. د ملېشو په څېر دوی هم له موږ پيسې اخېستې، ان له ملېشو هم بدترې وې، ځکه د هکتار پر سر يې پيسې راڅخه اخېستې. د دې ترڅنګ، دا چې دوی د کوکا له توليدي سيمو راغلي و، نو هماغه اصول يې دلته هم پلې کول.

د بنګو باد راوړو پيسو له وخت را په دېخوا خلکو نور د نشه يي توکو له کاروبار لاس اخېستی و. يو ځل يوې ډلې هڅه وکړه، چې د غرونو په لوړو څوکو کې کوکنار وکري، خو يوازې په يو کال کې څلور کسان ووژل شول او ملېشو پرې بنديز ولګوه. لکه څه ډول يې چې په بنګو لګولی و، خو وروسته بيا شبه نظامي ډلو سيمه په خپل واک کې واخېسته، دوی به خلکو ته ورتلل او ويل به يې، چې ګورئ ښه ځمکه لرئ نو کوکا پرې وکرئ، موږ به مو مالي ملاتړ وکړو. دا دي دا دوه يا درې ميليونه واخلئ او کرنه پيل کړئ. د اقتصادي ستونزې له وجې د دوی تر قوماندې لاندې موږ زياتو خلکو د کوکا کرنه پيل کړه.

تخمونه لومړی شبه نظامي ډلو راوړل. خو دا چې دوی د محصول چټکه وده غوښته نو وروسته يې بيا ښاخونه راوړل. دا چې کوکا ډېر مقاومت لري او په غرونو کې هم رالوييږي، نو موږ يو لږ اندازه نيالګي د غرونو تر څوکو په اوږو يوړل، چې درې حتی تر څلورو ورځو پلی مزل مو وکړ. دا نيالګي مو په سيوري کې کېښول نو ډېره چټکه وده يې وکړه. کله چې پاڼې رېبلو ته چمتو شوې، نو شبه نظامي ډلو ماهر کسان راولېږل، ځکه دلته هېڅوک نه پوهېدل چې څه ډول يې نېش کړي.[۲۹] دوی د ماشينونو په څېر چټک و او همداسې په چټکۍ يې پاڼې هم راټولولې. د کوکا شيرې جوړولو لپاره به موږ د کوکا پاڼې له کمياوي موادو سره، چې وروسته راورسېدل، ګډولې او دا پروسه د پاڼو پخولو په نوم يادېدله. شبه نظامي ډلو يو کمياپوه راولېږه او موږ ته يې دا راوښودل، چې څه ډول هغه مواد وکاروو.

## د کوکا کرونده تازه پيل شوې وه، چې شبه نظامي ډلې له لمنځه ليري شوې.

شبه نظامي ډلو په لاتوګا سيمه کې د راغونډولو مرکزونه جوړ کړل. له هغه ځايه به دوی په دې سيمه کې د کوکا ټوله توليد شوې شيره ټولوله او د ډوډۍ، وسايلو او کمياوي موادو په ګډون به موږ او توليدوونکو ته ټول شيان دوی راوړل. دا يوازېنی ځای و، چې موږ د خرڅلاو اجازه په کې لرله. قاعده دا وه، چې موږ يوازې په دوی خپل مال پلورلی شو؛ نو موږ به د کوکا شيره هلته وړله او په بدل کې به يې اخېستونکي پيسې راکولې او که ډوډۍ، کمياوي مواد يا نور څه به مو ترې غوښتل، په هغه کې به يې هم تخفيف راکاوه.


د سيرا نيوادا له غرونو د کيلو زون کښتنۍ لمنې. انځور: لوئيس کاستيلو / د کولمبيا ملي پوهنتون

کلمبیا د کوکا تجربه نه لرله، نو ځان سره مې پرېکړه وکړه چې پر یو هکتار ځمکه کوکا او پر یو بل هکتار کافي وکرم. دا فکر مې وکړ، چې که چېرې کوکا نتیجه ورنکړه نو کافي خو به ولرم. همداسې وشول، ځکه د کوکا غوټیو ډېر کم شاوخوا دوه کاله عمر درلود. ما یوازې دوه فصله ترې راټول کړل. د کوکا کرنه پیل شوې وه، چې شبه نظامي ډلې منحل شوې. دا چې هېڅ غیر قانوني وسله واله ډله دلته نه وه پاتې، نو حکومتي ځواکونه راغلل او ویې ویل چې څوک د کوکا محصولات لري، باید ژر تر ژره یې له منځه یوسي. دا چې زیاتره محصولات تر دې ګړۍ لا هم کوچني وو، نو موږ هم دې کیسې ته د پای ټکی کېښود.

له هغه راوروسته په دې سیمه کې خلک د ځانګړې او طبعي کافي په لټه او لېوالتیا کې وو. دا فکر د جګړې په منځ کې زموږ سر ته راغی، خو اووه کاله همداسې فکر پاتې شو او عملي اقدام مو ونه کړ. موږ د پلان عملي کولو لپاره د یو بل لاسنیوي ته اړ وو، څو د کافي کروندګرو ټولنه جوړه کړو. خو همدا چې پروژه مو پیل کوله، شبه نظامي ډلو د ټولنې مشر وواژه، نو موږ ټول ووېرېدو. کله چې شبه نظامي ډلې منحل شوې، موږ بیا ځل دې کار ته مخه کړه. په هغه وخت کې موږ یوازې یوه کوچنۍ شبکه لرله، خو نن ورځ له ۱۲ زیاتې ټولنې موجودې دي.

لا تراوسه ډېر څه پاتې دي، چې په دې سیمه کې باید وشي. د شبه نظامي ډلو تر لمنځه تللو وروسته أمنیت ډاډمن شوی، خو په پرمختیایي برخه کې موږ ۱۵ کاله ځنډ تجربه کړی.

لا تراوسه ډېر څه پاتې دي، چې په دې سیمه کې باید وشي. د شبه نظامي ډلو تر لمنځه تلو وروسته امنیت ډاډمن شوی، خو په پرمختیایي برخه کې موږ ۱۵ کاله ځنډ تجربه کړی. دې ټولنو د کافي له کروندګرو سره مرسته کړې، څو د خپل ژوند کیفیت لوړ کړي، ځکه له کافي څخه اضافي ترلاسه کېدونکي پیسې پر کروندو، کورونو جوړولو او ټولنیزو پروګرامونو لګول کېږي، خو دا د دې سیمې د اړتیاوو پوره کولو لپاره بسنه نه کوي. زموږ سرکونه باید لا پخوا پاخه شوي وای، خو تر دې دمه هم خام دي او له وجې یې موږ د ربېلو پرمهال ډېر ضایعات ورکوو. موږ د حکومتي چارواکو ډېر لاسنیوي ته اړتیا لرو. مخکې به ښاروالان او والیان دې سیمې ته نه راتلل، ځکه مخکې ملېشې او بیا ورپسې شبه نظامي ډلې موجودې وې. اوس هېڅ ډله هم نشته، خو دوی نه راځي. کافي دلته ښه ظرفیت لري، خو جګړې موږ ټکني کړو. زیاتره خلک چې مړه نه شول، دا سیمه یې پرېښوده. د موږ په څېر چې څوک پاتې شول تر دې شېبې هم مبارزه او هڅې کوو.



د پوټو مایو سیند کې لنګر. آنځور د فرانسس تامین



# د نورو د سوکالۍ لپاره مبارزه: د ولسي مشرې په توګه ژوند


## دا کیسه کارمن[30] ویلي او کامیر اسیرو[31] اصلاح کړې


د **پوټمایو** برخه په سویل ختیځه کولمبیا کې له ایکوادور سره پولې ته څېرمه پرته برخه ده، چې د اندین ایکو سیستم له لوړو برخو سرچینه اخلي او دا لړۍ په کښتنۍ برخه کې په امازون ځنګلونو پای ته رسیږي. دا سیمه، چې د اوږد مهال لپاره د بېلا بېلو بومي خلکو د استوګنې ځای و، په ۲۰مه زېږدي کې تر سخت ښکېلاک لاندې هغه وخت راغله چې خلک د هېواد له نورو برخو دلته د اقتصادي فرصتونو په تېره بیا له ۱۹۲۰مې زېږدي لسیزې راوروسته د نفتو صنعت او له ۱۹۸۰مې زېږدي لسیزې راوروسته د کوکا د کښت په لټون راغلل. په وروستي لسیزو کې دا سیمه د تاوتریخوالي او جګړو شاهده وه، چې د نشه یي توکو سازمانونو، ملېشه یي ډلو، شبه نظامي ډلو او کولمبیا پوځ له لوري رامنځ ته شوې. په اوس وخت کې پوټمایو د کولمبیا د خلکو انقلابي ملېشې له ډلې سره د سولې تړون د تطبیق لپاره د لومړیتوب سیمه ده، خو د جګړې له کبله رامنځ ته شوې ګډوډۍ لا تراوسه هم له منځه نه دي تللي.

زه د تولیما په رایو بلانکو کې زېږېدلې یم. په ۱۹۸۲ز کال کې له خپلې کورنۍ سره د نورو خلکو په څېر د فرصتونو په لټون پوټمایو ته راغلم. زه د ماشومتوب پرمهال د مور پر پلونو تلم او شاوخوا ډېره ګرځېدلې یم. لومړی مور والي دیل کاوکا ته چېرته مې چې انا اوسېده راغلو. نو موږ په کاتولیک انتیکوا کې اوسېده او د لېبرال ګوند غړې وه. هلته په والي دیل کاوکا کې څو لسیزې د مخه د خپلې انا له ماشومانو سره اوسېدو.

د دوی کورنۍ جوار او لوبیا کرل، په شاوخوا ځنګلونو کې به یې ښکار کاوه او چرګې یې ساتلې. د دې ترڅنګ یې د سون لرګیو لپاره ونې پرې کولې او بیا به یې په قاچرو تر سیویله یا توله بازار پورې وړل او هلته به یې پلورل. زما پر انا ټوله کورنۍ راټوله وه. د ټاکنو پرمهال به یې مور د لاس پیجاروس له وسله والې ډلې د خپلو زامنو (زما د کاکاګانو) د پټولو کیسې، بار بار کولې؛ ځکه یادې ډلې له محافظه کار ګوند سره اتحاد کړی و او د لېبرال ګوند پلویان یې وژل. دا چې زما مور او ورونه د باندې تلل څو په نبږدې کروندو کې د ژوند توښه برابره کړي، زما انا به زما خور او ماته دا راښودل چې څه ډول لیک لوست وکړو او د سبزیجاتو باغونو ساتنه، د چرګانو پالنه او انګړ جارو کول یې هم رازده کړل.

**په ۱۹۸۲ز کال کې له خپلې کورنۍ سره یو ځای د نورو خلکو په څېر د فرصتونو په لټون پوټمایو ته راغلم.**

تر څلو کلونو وروسته زما مور واده وکړ او موږ د والي دیل کاوکا یو بل کلي ته چې پارادرا نومېده، راغلو څو هغه کرونده وکرو چې زما د ناسکه پلار د کورنۍ وه. هغه کلونه ډېر له کړاوونو ډک وو. زما د ناسکه پلار له لوري زما له مور، خویندو او له ما سره ډېر ناوړه چلن کېده. زما ناسکه پلار او کورنۍ یې شوونیستان وو. د دوی په اند ښځې او نجونې یوازې پخلي او ماشومانو ته پیدا شوې. دوی به مور ته ډېر بد رد ویل، پر مور به یې چیغې وهلې او زما مور به یې هر وخت په ژړوله. دوی به مور ډېری وخت وږې نهار ساتلو. له مور سره یې دا ډول چلن یوازې له دې کبله کاوه، چې نجونې وو. ما دا خپله وجیبه ګڼله چې د مور دفاع وکړم او زما د ناسکه پلار د تاوتریخوالي په وړاندې بغاوت وکړم. دې کار زه دې ته اړ ویستلم چې په ځوانۍ کې خپل کور پرېږدم او له خپلو خویندو جلا شم. زما تر ټګ وروسته ډېر ژر زما یوې خور زما په تلو پسې ځان وژنه وکړه.

ما په نبږدې ګاونډ کې په پالمیرا ښار کې له خپلې عمه سره ژوند پیل کړ. د ورځې له خوا به مې ماشومان پالل او د شپې مهال به مې په ابتدایه ښوونځي کې زده کړې کولې. که څه هم دا کار ډېر سخت و، خو د ځان لپاره مې یو ښه ژوند برابر کړ. تر ټولو مهمه دا چې پر خپل ځان مې باور لا پسې پیاوړی شو او دې پایلې ته ورسېدم، چې زما ناسکه پلار په غلطه و او هر هغه کار چې وغواړم کولای یې شم. دا موده، چې زه په کې رالویه شوم زما په ژوند کې تر ټولو حیاتي دوره وه. دې دورې زما پیاوړی او باغي شخصیت د هغو په مخ کې راڅرګند کړ، چې له نورو سره یې ناوړه چلن کاوه.

ما خپلې لومړنۍ زده کړې په ۱۵ کلنۍ کې بشپړې کړې او تکل مې کړی و، چې ثانوي زده کړې هم وکړم، خو ما خپل لومړی ملګری پیدا کړ او زه ترې امیدواره شوم. دې وضعیت له روحي لحاظه پرما زیات ناوړه اغېز ونه کړ، له بشپړ مسوولیت سره مې مور کېدل ومنل. زما د لور زېږېدل زما د خور له ځان وژنې سره هم مهاله وو. د مور کېدو احساس او ترخنګ یې د خپلې خور یوازې پرېښودلو او د هغې له لاسه ورکولو خجالتې ټول سره یو ځای شول او زه یې دې ته اړ کړم، چې بېرته خپل ناسکه پلار ته ورشم او له خپلې مور او پېغلو خورګانو سره ژوند وکړم. دې کار زما له مور سره یو څه مرسته وکړه، څو هغه درد یې یو څه تسکین شي، چې زما د خور تر بایللو وروسته ورسېدلی و. ما له خپل ناسکه پلار سره په درناوي چلن کاوه، خو له دغو ټولو پېښو وروسته موږ هېڅکله ملګري نه شوو. هغه په دې پوهېده، چې ما هېڅکله نه شي ولکه کولای.

همدا چې زه د خپلې مور خوا ته ورغلم، د ام-۱۹ ملېشو او حکومتي ځواکونو ترمنځ جګړې پیل شوې. موږ د جګړې په منځ کې راایسار وو. دوې ورځې هېڅ ځای نه شو تللای. دا زما په ژوند کې لومړی ځل و، چې په کولمبیا کې مې د دولت او ځینو انقلابي یا ناقانونه ډلو ترمنځ وسله واله جګړه په خپلو سترګو ولیده. له بده مرغه دا وروستی ځل نه و. کله چې دا نښته پای ته ورسېده، موږ اړ شوو خو کلي ته لاړ شو او هلته څو میاشتې پاتې شو. که څه هم ما هلته په یو رستورانت کې دنده پیدا کړه، خو زما د ناسکه پلار او زما د مور لپاره دا وختونه ډېر سخت وو، نو موږ په پوتمایو کې له یو خپلوان سره په اړیکه کې شوو، هغه راته وویل چې هلته وضعیت ښه دی. دا یې راته وویل چې هلته کاري فرصتونه شته او د اوسېدو لپاره هم ښه ځای دی. لومړی زما پلار پوتمایو ته لاړ، څو ډاډمن شي، چې هلته وضعیت ښه دی. دوې اونۍ وروسته بېرته راستون شو، بیا ورپسې زما مور، زما خویندو، زما لور او ما د والي ډیل کاوکا له فلوریډا څخه د پوتمایو تر اوریتو پورې یو بس موټر په کرایه کړ. موږ د پوپیان د کالي له لارې سفر پیل کړ او بیا د مرګونې ټرامپولین مشهور سرک له لارې تر موکوا پورې لاړو. دې سفر له ۳۰ ساعتونو زیات وخت ونیو.

**موږ د جګړې په منځ کې راایسار وو. دوې ورځې هېڅ ځای نه شو تللای.**

تر پوتمایو پورې د زړه راښکونکو سیمو له لارې سفر ډېر په زړه پورې وو. له نېکه مرغه زموږ فزیکي ستړیا ډېره ژر دې زړه راښکونکي چاپېریال له منځه وړله. که څه هم موږ له رارسېدو سره سم هېڅ شی نه درلود او تش لاس وو، زیاترو خلکو راسره مرسته وکړه: دوی توشکې او کمپلې راکړې چې خوب پرې وکړو او ښاروالۍ یوه ټوټه ځمکه راکړه، څو خپل کور پرې اباد کړو. دا زموږ د کورنۍ لومړی کور و. زما له پوتمایو سره مینه پیدا شوه! په دې سیمه کې کډوال او د دې سیمې بومي خلک مېشت وو او نویو کډوالو ته به یې د مرستې لاس ورغځوه. د دې خلکو له لوري د هرچا هرکلی کېده. هرڅوک مرستې ته چمتو وو. دې تود هرکلي پر ما تل پاتې اغېز پرېښود.

**هغه وخت ډېره پرېماني وه! زموږ کورنۍ له اقتصادي اړخه ښه پرمخ روانه وه. ناسکه پلار مې د کوکا په کرونده کې کار کوه، مور مې زما خویندې په ښوونځي کې شاملې کړې او زما د لور پالنه یې کوله او ما به په ښارګوټي کې د لاټرۍ ټیکټونه پلورل**

اوریتو د نفتو او کوکا اقتصاد له کبله مخ په غوړېدا و. انجیرانو او ماهرو کارګرانو په ټوله کې د نفتو په صنعت کې کار کاوه. دوی ټولو په هغه ښارګوټي کې ژوند کاوه، چې د نفتو شرکت د کارکوونکو لپاره جوړ شوی و. د دوی کورونه په ډېر ښه ډول او ښه معمارۍ او ټولو اړینو وسایلو لرلو سره جوړ شوي وو. کروندګرو یې په کوکا خپل ژوند تېروه. زموږ په څېر پاتې نورو خلکو بیا له سوداګرۍ خپل ژوند چلوه. د نفتو کمپنۍ د ښارګوټي تر شا ځمکه د ښاروالۍ وه او زموږ په څېر د بې ځایه شویو کورنیو لپاره ځانګړې شوې وه. هلته موږ خپل کور له لرګیو او نورو هغو وسایلو جوړ کړ، چې خلکو راکړي وو. په دې ښارګوټي کې یوازې یو لوی سرک، د ښارګوټي تالار، د مارکېټ ځلورلارې، یوه کلیسه او هغه کورونه وو، چې موږ ټولو په چټکۍ جوړول.

هغه وخت ډېره پرېماني وه! زموږ کورنۍ له اقتصادي اړخه ښه پرمخ روانه وه. ناسکه پلار مې د کوکا په کرونده کې کار کوه، مور مې زما خویندې په ښوونځي کې شاملې کړې او زما د لور پالنه یې کوله او ما به په ښارګوټي کې د لاټرۍ ټیکټونه پلورل ورو ورو موږ هرڅه وپېرل، نوي کور ته وکوچېدو او خپل نوی ژوند مو پیل کړ.

ما خپل لومړی کال په کار کولو، کور جوړولو او له نوي ژوند سره په ځان عیارولو تېر کړ، خو ډېر وخت تېر نه شو، چې زه د سیاسي فعالیت حشرې وچیچلم. په والي ډیل کاوکا کې زه د سیاست په اړه په هېڅ شي نه پوهېدم، ځکه ما خپل ټول وخت د خپلو شخصي ستونزو په هوارولو تېر کړ. یوازې هغه وخت په سیاست پوه شوم، چې پوتمایو ته راغلم. دلته مې له لیبرال ګوند سره اړیکه پیدا کړه او د خپلو خپلوانو منندوی یم، چې پرما یې د اوږدمهال لپاره د لیبرالي په توګه باور وکړ او ما له دوی سره خپل کار پیل کړ. له همدې برکته ما د اوریتو په لاټرۍ خونه کې دنده ترلاسه کړه. وروسته مې د خپل چم ګاونډ د ولسي اقداماتو کمېټه رامنځ ته کړه. زه ډېره ځوانه وم او عمر مې یوازې ۲۱ کاله و، هېڅ سمه نه پېژندم، خو ګاونډیانو ما ته رایه راکړه او زه یې د کمېټې د منشي په توګه وټاکلم. په هغه وخت کې یوازې یو څو ښځو په دې کمېټه کې برخه لرله. زیاتره غړي یې سړي و. په همدې ډول زما سیاسي ژوند پیل شو.

د ولسي اقداماتو کمېټې ټول ګاونډیان سره راټول کړل څو د سړکونو د پخولو، یو کانال د جوړولو او نورو عامه خدمتونو ته د لاسرسي غوښتنه وکړي. د کمېټې د منشي په توګه زما لومړنۍ مسوولیت په حکومتي پروګرامونو کې د برخې اخیستنې او پرمختللو کورونو د جوړولو لپاره د کورنیو سرشمېرنه وه.

زما په یاد دي، چې کور په کور به ګرځېدم او له خپلو ګاونډیانو سره به مې خبرې کولې. په همدې ډول زه خلکو وپېژندم. زما لیکل ډېر ښه نه و او ډېرې املایي تېروتنې مې لرلې. له نېکه مرغه، دا ډېره جدي ستونزه نه وه، ځکه زما هېڅ وخت په یوازېتوب کار نه خوښېده او تل به مې له تجربه لرونکو خلکو مرسته غوښتله. په دې حالت کې ما د ولسي مشرانو په ګډون یو ډېر پیاوړی ټیم رامنځ ته کړ، چې ما ته به یې مشورې راکولې. دوی ما ته دا رازده کړل، چې څنګه د لیکلو له ماشین(typewriter) ګټه پورته کړم او متون ولیکم ان تر دې چې خپلې املایي تېروتنې مې پرې اصلاح کولې. د تخنیکي مهارتونو او له حکومتي ادارو سره د تعامل څرنګوالي رازده کولو ترڅنګ خو ان یو کس زما سیاسي لارښود شو.

**وروسته په پوتمایو کې زه په دې پوه شوم، چې بېوزلي د سیاستونو او اقتصاد زېږنده ده.**

څرنګه چې مخکې مې هم وویل، کله چې زه په والي دیل کاوکا کې اوسېدم، زه په سیاست هېڅ نه پوهېدم. د بېلګې په توګه په هغو رستورانټونو کې چې ما کار کاوه، بې کوره خلک به راتلل او وخت پر وخت به یې د ډوډۍ غوښتنه کوله. ځینو خلکو به مرسته ورسره کوله خو ځینو نورو به بیا نه کوله. زه په دې نه پوهېدم، چې خلک ولې په داسې ناوړه وضعیت کې ژوند تېروي. وروسته په پوتمایو کې زه په دې پوه شوم، چې بېوزلي د سیاستونو او اقتصاد زېږنده ده. زه دا پوهه د خپل لومړني لارښود، چې د کمونېستي ګوند غړی و او له ما کلونه وړاندې دې سیمې ته راغلی و او بالاخره په ۲۰۰۴ز کال کې د شبه نظامي ډلو له لوري ووژل شو، مديون ګڼم. زه پر سیاست او مسایلو د پوهېدو لپاره د نوموړي منندوی یم. زما په یادېږي، چې هغه ماته کتابونه راکړل او د هېواد سیاسي تاریخ، په نړۍ کې د ایډیولوژیو او دودیزو ډلو او چپ اړخو ترمنځ د توپیرونو په اړه یې ماته رازده کړل. هر هغه څه چې نوموړي ماته رازده کول ډېر خوند به یې راکاوه، همدا وجه وه چې ښوونځي ته بېرته ستانېدل مې احساس کړل او د شپې له خوا مې د ښوونځي لوستل پیل کړل.

وروسته مې لیبرال ګوند پرېښود، ځکه کار، زده کړو او د کورنۍ پالنې ته مې وخت نه درلود. خو تر ډېره بریده زما استعفاء زما د شعور پرېکړه وه. له خپلو ملګرو او کمونېستي مشرانو سره بحثونو زه د دې جوګه کړم، چې د دودیزو ګوندونو نیمګړتیاوې راوسپړم. د لیبرال ګوند د غړي په توګه ما د خلکو حقونو لپاره مبارزه کوله، خو ګوند یوازې له هغو خلکو سره مرسته کوله، چې د دوی غړیتوب یې درلود. هغه خلک چې د دوی غړي نه وو، ان هېڅ پاملرنه هم نه ورته کېدله. کله چې زه په دې واقعیت پوه شوم چې دودیز ګوندونه د خلکو ترمنځ واټن رامنځ ته کوي، نو لیبرال ګوند مې پرېښود او په کمونېستي ګوند کې مې کار پیل کړ.

ډېر وختونه و تېر شوي، چې د ځایي ولسي اقداماتو د کمېټې له منشیتوب د اوریتو د کمېټو ټولنې منشیتوب ارتقاء وکړه. کله چې زه دوی وټاکلم، زه په مشرتابه پلاوي کې یوازینۍ ښځه وم. زه ځکه یوازینۍ ښځه وم، چې په کلي کې د نورو ښځو برعکس ما لیکل او لوستل کولای شول. لیکل او لوستل د دې مقام لپاره لازمي شرط وو. د منشي مقام ډېر محوري رول لري، ځکه د مکاتباتو، دوسیو او عامه اړیکو د ساتنې مسوولیت پر غاړه لري. دا مقام یو وزارت ته ورته دی. زما ورتیاوې له دې نوي مقام سره ډېرې برابرې وې، ځکه زه لا له وړاندې ډېره منظمه وم او په دې ډول مقام کې اړتیا ده چې ژر زده کړه وکړې او انسان د زده کړې تږی وي.

زه تر ۱۹۹۶ز کال پورې د دې ټولنې منشي وم. په هغو کلونو کې ما خپل وخت د ولسي مشرې او ټولنې د تنظیموونکې، د لاټرۍ ټیکټ پلورنکې په توګه د دندې او کورنۍ ترمنځ تقسیم کړ. ما د رخصتیو، مېلو یا دې ته ورته کارونو لپاره هېڅ وخت نه درلود. له دې وروسته ما د ژوند یو ملګری درلود، چې له نېکه مرغه سنتي فکر یې نه درلود، چې ښځه یې باید ټول وخت په کور پاتې شي. هغه تل زما لاسنیوی کړی. نوموړی د راډیو کوربه و، او زه د ده ټولنیز احساس او له اړمنو خلکو سره د مرستې حس له کبله پرې مئینه شوم. موږ درې ماشومان لرل او په ښارګوټي کې مو کور اباد کړ. دا هغه وخت و، چې د هېواد په سویل کې د کوکا مشهوره کرونده پیل شوه. که څه هم هغه وخت په دې نه پوهېدم، چې دا کرونده به زما ژوند بدل کړي.

په غبرګون کې یې کروندګر راټول شول او له حکومت یې د سپرې شیندلو د بندېدو او د ناقانونه محصولاتو لپاره د ټولنیزې پانګونې په ګډون د بدیل غوښتنه وکړه.

په ۹۰مه ز لسیزه کې حکومت د سویلي کولمبیا په پوتمایو او نورو برخو کې د کوکا پر محصولاتو سپرې شیندل پیل کړل. په غبرګون کې یې کروندګر راټول شول او له حکومت یې د سپرې شیندلو د بندېدو او د ناقانونه محصولاتو لپاره د ټولنیزې پانګونې په ګډون د بدیل غوښتنه وکړه. دا لاریونونه لومړی په ۱۹۹۲ز کال کې پیل شول، خو په ورپسې کلونو کې د کوکا کروندګرو انسجام لا پسې پیاوړی شو. د ولسي اقداماتو کمېټې اصلي اتلان و، چې دا مظاهرې یې راپورته او منسجمې کړې.

لویې لاریونونه هغه وخت پیل شوې، چې زما دریېمه لور په نس وه. ما داسې مسوولیتونه نه اخیستل، چې زما روغتیا ته ګواښمن و، پرځای مې د هغو خلکو ملاتړ ته ځان وقف کړ، چې په لاریونونو کې یې برخه اخیسته. کروندګر له خپلو سرپناوو او کلیو نېږدې ښارګوټو ته راووتل. په پارکونو او کوڅو کې یې خېمې ودرولې، څو د اعتراض په ډول د خلکو تګ راتګ بند کړي. د ولسي اقداماتو کمېټې او د کروندګرو سازمانونو له مخکې دا پرېکړه کړې وه، چې باید پر سیاسي، لوجستیکي، روغتیایي او امنیتي مسایلو کار وکړي، ځکه دا اړین وه، نو د هرې برخې لپاره یې بېل بېل کمیسیونونه رامنځ ته کړل. د سیاسي کمیسیون دنده له حکومت سره مذاکرات وو. روغتیایي کمیسیون د هر کس د روغتیایي وضعیت خوندیتوب او له روغتونونو سره د ناروغانو د درملنې لپاره د خبرو کولو مسوولیت درلود. د خوندیتوب کمیسیون د سرکونو بندولو دنده لرله او همداسې هر کمیسیون ته خپله اړوند دنده سپارل شوې وه. ماته په ښارګوټي کې د لوجستیکي کمیسیون اړوند یوې ډلې مشري راترغاړې وه. موږ موظف وو، څو دوکانونو، مارکېټونو او نېږدې چم ګاونډ ته لاړ شو او له هغه ځایه په خېمو کې پاتې کېدونکو کسانو ته ډوډۍ او نور د اړتیا وړ توکي راټول کړو. موږ دا ټول کارونه د هغو ملګرو په ملتیا وکړل چې د لېږد رالېږد په کاروبار بوخت وو. تر هغه وخت پورې ماته د راټولېدنو اهمیت نه څرګندېده. یوازې په همدې وخت کې مې احساس کړه، چې زه یو څه کوم.

کله چې حکومت وویل چې د دغو راټولېدنو او لاریونونو ترشا د ملېشو لاس دی، نو زړه او وجدان مې ډېر ودرد ېدل. دا یوه له ننګونې ډکه پروسه وه، چې زیاتې هلې ځلې مو په کې وکړې او مشروع هم وه.


د پوتمایو پر سیند سفر. انځور: فرانسیس تامسن



په پوټومایو کې د دوبي کور آنخورد فرانسیس تومسن / SOAS او ملي پوهنتون لخوا

کله چې حکومت وویل چې د دغو راټولېدنو او لاریونونو ترشا د ملېشو لاس دی، نو زړه او وجدان مې ډېر ودردېدل. دا یوه له تنګوښې ډکه پروسه وه، چې زیاتې هلې ځلې مو په کې وکړې او مشروع هم وه. بنایي ځینې اعتراض کوونکي د خلکو انقلابي اردو غړي هم وو. دا په پوټمایو کې کومه نوې خبره نه وه، ځکه کلونه کېدل چې دلته ملېشې وې او د خلکو انقلابي اردو سازمان یو نظامي او سیاسي سازمان و، خو دا خبره چې د دغو انسجامونو ترشا د ملېشو لاس و، ډېره شرمناکه وه. کروندګر ټول پر خپلو هلو ځلو پوهېدل، دوی د کوم چا له لوري نه لمسول کېدل، او تر ټولو ناوړه یې دا چې دا بدنامول له وژنو سره هم مل شوه.

یوه میاشت تېره شوه، خو معترضین له حکومت سره کومې هوکړې ته ونه رسېدل. بالاخره یوه شپه شاوخوا نهه نیمې بجې موږ د چاودنو غږونه واورېدل. معمولاً په دغه ډول اعتراضیه راټولېدنو کې د شپې له خوا کلتوري مېلې جوړېدې. خلکو موسیقي غږوله، ټوکې یې کولې او یو له بل سره به په خبرو بوخت وو. یاده شپه هغه مهال چې خلک له خپلو خېمو د راوتلو په حال کې وو، ځینو ځوانانو دې ګنې ګونې ته چاودېدونکي توکي وراچولي وو! درې کسان ووژل شول او له ۸۰ زیات نور ټپیان شول. همدا پېښې د پوتمایو په نورو ښارګوټو کې هم وشوې. تر دې وروسته موږ دې پایلې ته ورسېدو، چې دا د حکومتي ځواکونو له لوري تنظیم شوی برید و. خو وېره خوره کړې او لاریونونه پای ته ورسوي. لا تراوسه هم څرګنده نه ده، چې څه پېښ شول او موږ تر دې شېبې د دې پېښې په اړه په ډېر څه نه پوهېږو. په هر صورت، په ورپسې کلونو کې د کوکا کروندګرو او د دوی د مشرانو په وړاندې تاوتریخوالي لا زور واخیست.

له حکومت سره د ټولنیزې پانګونې، خدماتو او زېربناوو ته د لاسرسي او د کوکا اقتصادي بدیلونو کاري پلان پر سر تر هوکړې وروسته کروندګر خپلو کورونو ته ستانه شول. په دغو مذاکراتو کې عمدتاً د ولسي اقداماتو کمېټو برخه لرله. زیاترو ولسي مشرانو ته دا څرګنده شوه، چې موږ په سیمه بیزه کچه د کروندګرو سازمانونو ته هم اړتیا لرو، څو د پوټمایو خلکو غږ تر حکومت ورسوي. همدې اړتیا ته په پام له موږ سره د کروندګرو ټولنې رامنځ ته کولو فکر پیدا شو. د کمېټو په ټولنه کې زما تجربې او د دوسیو، مکاتباتو او دې ته ورته نورو شیانو په منظمولو کې زموږ د کلیوالي ملګرو تجربې نه لرلو ته په پام زه د پوتمایو کروندګرو ټولنې د منشي په توګه وټاکل شوم. دا له ځایي ولسي او ټولنیزو سازمانونو د کروندګرو تر لوی سازمان پورې زما د ارتقاء ګام و.

دا مهال د جدي ټولنیز فعالیت وخت و. له یوې خوا مو له حکومت سره مذاکرات پرمخ وړل او بله خوا مو ناحیه په ناحیه د ټولنې جوړولو لپاره کار کاوه. زما لپاره دا ډېره غنې تجربه وه، ځکه د هېواد له بېلا بېلو برخو د کروندګرو له مشرانو سره مې په کې وپېژندل موږ ته دا جوته شوه، چې هغه ستونزې چې موږ په پوټمایو کې ورسره مخ و، د هېواد په نورو برخو کې له شته ستونزو سره ورته وې. له دې کبله، له یو لوی حرکت سره یو ځای کېدل او د کروندګرو ټولنیزو او سیاسي حقونو لپاره مبارزې کولو موږ ته یو حس راکاوه. د ۱۹۹۷ ز کال په اپرېل میاشت کې موږ په اوریتو کې یوه ځایي څانګه جوړه کړه، او په پاتې ښارګوټو کې مو هم همدا کار کاوه، چې بالاخره په پوتمایو کې شبه نظامي ډلې سر راپورته کړ.

**د شبه نظامي ډلو جګړه بیزو عملیاتو یوازې یوه موخه لرله، هغه دا چې د کروندګرو سازمان باید پرمختګ ته پرېښنبودل شي. په دې ټاکل شوي ښکار کې لومړي کسان چې باید په نښه شوي وای، د کوکا اعتراضي راټولېدنې مشران وو.**

د شبه نظامي ډلو جګړه بیزو عملیاتو یوازې یوه موخه لرله، هغه دا چې د کروندګرو سازمان باید پرمختګ ته پرېښنبودل شي. په دې ټاکل شوي ښکار کې لومړي کسان چې باید په نښه شوي وای، د کوکا اعتراضي راټولېدنې مشران وو. لومړی یې د سان مایګول په ګاونډ ښارګوټي کې یو مشر ووژه. ورپسې یې په پورټو کایسېدو کې پر یو مشر برید وکړ، چې له نېکه مرغه هغه له دې برید روغ ووت. ځینې همکاران مو بوګوټا ته لاړل څو شکایت وکړي، خو زما په ګډون نور همکاران مو بیا پاتې شوو، څو په هغه ناسته کې ګډون وکړو، چې د کورنیو چارو له وزیر سره تنظیم شوې وه او غوښتل مو له وزیر سره له بشري حقونو د سرغړونو په تړاو خبرې په کې وکړو. د دې ناستې پرمهال موږ غرمنۍ خوړلو ته راغلو، خو کله چې بېرته راوګرځېدو پر چوکیو مو اخطاریې وموندې. دا ډېره وېروونکې شېبه وه. وروسته یې د پوریتو اسیس ښاروال چې د کروندګرو په ملاتړ ټاکل شوی وو، وواژه او بیا یې د اوریتو له یو مشر ژبه پرې کړه.

هغه خلک چې کډه یې نه وه کړې، باید د شرایطو مجبوریت ته په کتو یې خپل ټول سیاسي فعالیتونه په ټپه درولي وای. یو شمېر نور بیا د خپل ژوند د خوندیتوب لپاره له ملېشو سره یو ځای شول. ما ډېر کلونه مقاومت وکړ، خو په ۲۰۰۰ ز کال کې موږ هم کډه کېدو ته اړ شوو. موږ باید یو بل چېرته د اوسېدو لپاره ځای پیدا کړی وای، ځکه نور مې د شبه نظامي ډلو پرله پسې ګارنه نه شوه زغملای. دا وخت ما له مخکې د خپل ژوند له ملګري لاس اخېستی و، نو اړینو توکو او وسایلو ته د مجبوریت له کبله مې په ښارګوټي کې خپل کور په ټیټ قیمت خرڅ کړ او له خپلو څلورو ماشومانو سره د ایکوادور سره پر پوله پروت پوریټو اسیس کې یوې لېرې سیمې ته کډه شوم. دلته زما د ژوند بل پړاو پیل شو.

د خپل ژوند د ژغورنې لپاره مې له ټولنیزو کارونو سره مخه ښه وکړه. زه داسې ځای ته لاړم، چېرته چې خوندي پاتې کېدای شوم او ماشومانو مې هم زده کړې کولای شوې. دا د دوی لپاره ډېره دردناکه شېبه وه، ځکه په اوریتو کې یې ملګري لرل او مشرې لور مې یو ملګری هلک درلود. بیا هم، له نېکه مرغه موږ د دې جوګه شوو، چې په داسې ځای کې استوګنه غوره کړو، چېرته چې ملېشې ځواکمنې وې او زه له هغو شبه نظامي ډلو خوندي شوم، چې په لټه کې مې وو. په دې نوي ځای کې یو ښه ښوونځی و او د سوداګرۍ لپاره هم شرایط مناسب وو. د کور له خرڅلاو او له کار په سپمول شویو پیسو مې نوی کور واخېست او یو رسټورانټ مې جوړ کړ.

زموږ نوی کور د سیند تر غاړې په یو داسې کلي کې و، چې ډېرې زړه راښکونکې منظرې یې لرلې. زموږ شاوخوا د کوکا محصولات وو، خو ترڅنګ یې د چونتادورو اناناس، د بورې ګنې او نور خوراکي محصولات هم وو. زما د اټکل له مخې ۴۰ سلنه کروندې د کوکا وې او پاتې کروندې یې نور محصولات وو. زموږ په کلي کې زیات شمېر بومي خلک هم اوسېدل، چې خپل سازمانونه یې لرل. په دې سیمه کې ټول خلک د ولسي اقداماتو په کمېټې یا د تولیدوونکو په ټولنو کې رایوځای شوي وو. بومي خلکو بیا ځان ته ځایي شوراګانې (کابلیدوس cablidos ) لرلې.[۳۲] د دوی د ډله ییزو هڅو او په ۹۰مه ز لسیزه کې د کوکا کروندګرو له لوري تر نښتو وروسته د هوکړو په ترڅ کې دوی حکومت دې ته اړ کړی و، چې د دې کلي ښوونځی جوړ کړي. دا زموږ په شاوخوا سیمه کې یوازینی ښوونځی و. زما ماشومان دلته په لومړنیو او ثانوي ټولګیو کې شامل شول. که څه هم یادې سیمې ته زما تګ د مجبوریت له کبله و، خو په دې باور وم چې دا مې په ژوند کې تر ټولو غوره پرېکړه وه. دې سیمې په سختو شرایطو کې له ما هرکلی وکړ، هلته مې ماشومان وروزل او له نېکه مرغه رالوی شول.

> په یاد وخت کې موږ په دې فکر و، چې موږ له جګړو سره سره نور مقاومت نه شو کولای، ځکه که چېرې مو مقاومت کړی وای، نو زموږ د ټولو ملګرو او همکارانو ژوند د املوکو په تول کې تللو.

که څه هم په دې ځای کې هرڅه ګل او ګلزار نه و، ځکه زه ښار ته نه شوم تللای. باید په کلي کې پاتې شوي وای، ځکه ښاري سیمه د شبه نظامي ډلو په واک کې وه. ښار د تګ لپاره باید له سیند اوښتې وای، او شبه نظامي ډلې لېستونه په لاس په هغو ځایونو کې ولاړ وو، چې کروندګر به له کښتیو کښته کېدل. هغه خلک چې نومونه یې په لېست کې وو، سم لاسي وژل کېدل او سیند ته ورغورځول کېدل. له دې کبله ما باید خپل د اړتیا وړ توکي له ایکوادور راوړي وای یا مې خپله مشره لور ښارګوټي ته لېږلې وای، چې زما د رسټورانټ د اړتیا وړ توکي راوړي.

په ۲۰۰۲ز کال کې هغه مهال چې ما په خپل رسټورانټ کې کارکاوه او خپل ټول پام مې د ماشومانو خوا ته وو، شبه نظامي ډلو د حکومتي ځواکونو په مرسته د پوتمایو ټولنې مشر ترور کړ. دا چې د سازمان ارشیف له ما سره و، د هغه خپلوانو او د سره صلیب نړیوالې کمېټې له ما سره اړیکه ټینګه کړه څو له دوی سره د جسد په موندلو کې مرسته وکړم. بالاخره، هغه مو اته ورځې وروسته پیدا کړ، چې په یوه هدیره کې له نوم پرته دفن شوی و. تر یادې شېبې ما له هر راز ټولنیز کار لاس اخېستی و، خو هغه وخت دا انګېرنه راته پیدا شوه، چې زه باید بېرته تر یو لړ شرایطو لاندې ټولنیزو کارونو ته مخه کړم. کله چې تاسو یو مشر یئ او د خلکو د وضعیت ښه کولو لپاره مو بډې رامټ وهلي وي، نو داسې احساس کوې لکه پاڼه چې په باد کې الوځي او هېڅ ځای نه رالوېږي، حتی که کوم کار هم نه کوئ. دومره وخت له ټولنیزو کارونو لاس اخېستل زما لپاره ناشوني وو، خو دا کار مې د خپلو ماشومانو د خوندیتوب لپاره کړی و، مګر زموږ د همکار تر وژل کېدو وروسته د دوی د راتلونکې په فکر کې شوم، چې بالاخره څه به کوي؟ دغو انګېرنو چې بیا مې د خپلو همکارو کروندګرو له مشرانو سره هم شریکې کړې، موږ دې ته وهڅولو څو بیاځل خپلې ټولنیزې هلې ځلې راژوندی کړو. په یاد وخت کې موږ په دې فکر و، چې موږ له جګړو سره سره نور مقاومت نه شو کولای، ځکه که چېرې مو مقاومت کړی وای، نو زموږ د ټولو ملګرو او همکارانو ژوند د املوکو په تول کې تللو.

لومړی کار چې موږ ترسره کړ، دا و چې په هره ناحیه کې مو سازمانونه بیاځلې فعال کړل. پلان مو دا و، چې د ولسي اقداماتو له کمېټو او د بومي خلکو له شوراګانو سره ناستې وکړو څو د ټولنې نظریات راټول کړو. که څه هم ډېر خلک وېرېدل، خو ډېر شمېر نورو بیا د بیاځل ټولیدو له فکر تود هرکلی وکړ. موږ د کروندګرو نوی سازمان رامنځ ته کړ او زه یې د مرستیالې په توګه وټاکل شوم. موږ د سیمې لپاره د ژوند پر پلان خبرې وکړې، په دې پلان کې مو د خلکو اړتیاوې او لومړیتوبونه ځانګړي کړل.[۳۳] تازه په تازه یوې کمپنۍ په دې سیمه کې د نفتو له څاګانو استخراج پیل کړی و، نو پرېکړه مو دا وه، چې له دې کمپنۍ سره او ترڅنګ یې په ځایي او ملي کچه له حکومتي چارواکو سره خبرې وکړو، څو زموږ د ژوندانه له پلان ملاتړ وکړي. په دې پلان کې د نورو شیانو ترڅنګ د کروندګرو د ځمکې حق په رسمیت پېژندل او د اوبو سرچینو خوندیتوب هم شامل وو، ځکه دواړو برخو ته د تېلو کمپنۍ له لوري ګواښ متوجه و. د دې ترڅنګ د هغو سرکونو ساتنه هم په کې شامله وه چې موږ په خپله جوړ کړی و، ځکه د تېلو کمپنۍ موږ ته د خسارې له جبران پرته کنډ او کپر کړ.

موږ د خپل ژوندانه پلان پر راټولیدو څو کلونه ولګول، بیا مو د تېلو کمپنۍ او د پوتمایو حکومت ته مراجعه وکړه، څو په پلي کیدو کې یې له موږ سره مرسته وکړي. که څه هم جګړه نه وه درېدلې، خو په ۲۰۰۴ز کال کې موږ له کمپنۍ، ښاروال او والي سره ولیدل. موږ دوی ته وویل چې که چېرې حکومت زموږ په ناستو کې ګډون ونه کړي او له پلان سره مو مرسته ونه کړي، نو کمپنۍ نور نه شي کولای چې نفت استخراج کړي. د تېلو کمپنۍ په دې هوکړه کې لېوالتیا نه لرله او په خبرو کې د ګډون لپاره یې د ملي حکومت د چارواکو رابلل رد کړل. پرځای یې دوی له هغو ستونزو او خنډونو شکایتونه پیل کړل، چې د دوی د کار په مقابل کې ملېشو رامنځ ته کړي وو. په هر حال، موږ له دې ناستې ډېر په خوشالۍ راووتو، ځکه که څه هم موږ یوې هوکړې ته سره ونه رسېدو، خو دوی ته مو خپل سیاسي قوت وښود او خپل پروپوزل مو وروړاندې کړ. په دې منځ کې څلور ورځې نه وې تېرې شوي، چې د نوي جوړ شوي سازمان مشر په ډېرې بې رحمۍ ووژل شو او څو مرمۍ په شا هم ویشتل شوی و.

دا چې زه د دې سازمان مرستياله وم، نو د دې سازمان د مشرۍ چارې ماته راترغاړه شوې. دا چې شبه نظامي ډلې لا هم په ښارګوټي کې فعالې وې، نو ما ټول هغه کارونه نه شول کولای، چې د يو سازمان مشرې بايد ترسره کړي وای. دې ته اړ شوو، چې خپل د ژوندانه چمتو شوی پلان د يوې مودې لپاره وځنډوو او له بشري حقونو د سرغړونې سره مبارزې ته راوداننګو.

> په ۲۰۰۶ز کال کې د شبه نظامي ډلو په لمنځه تلو سره په پوتمايو کې د ټولنيزو خوځښتونو دويمه څپه راپورته شوه. دا هغه شبېه وه، چې موږ خپل د ژوندانه پلان پروژه بياځلې پيل کړه، د تېلو کمپنۍ له لوري چاپېريال او ټولنې ته د اوښتو زيانونو، له بشري حقونو بې شمېره سرغړونو ته د پای ټکي ايښودو او د هوا له لارې د سپرې شيندلو په وړاندې مو اعتراضونه پيل کړل.

زما مالي وضعيت ډېر ښه نه و، ځکه رستورانټ ته مې شا کړې وه او خپل ځان مې ټولنيز کار ته وقف کړی و. د دې ترڅنګ مې يو زوی ډېر سخت ناروغ شو. له ښه مرغه، چې ما له مخکې د خپل او سني ژوند ملګري ملاتړ له ځان سره درلود. د ژوند دا ملګری مې د ولسي اقداماتو کمېټې مشر و او پوتمايو ته د کوکا په کروندو کې د کار لپاره راغلی و او تر دې دمه يې يو څه اندازه پيسې سپما کړې وې. په دې پيسو مو يوه ټوټه ځمکه واخېسته. له دې سره زما ژوند له ډېرو خوښيو ډک دی، ځکه ډېر زغم لرونکی، ګلالی او زحمت کښ انسان دی. دا اسانه نه ده، چې يو داسې سړی پيدا کړې، چې خپلې ښځې ته اجازه ورکړي څو ډېری وخت له کور د باندې وي، په ناستو کې ګډون وکړي او پخلی ونه کړي يا کالي ونه وينځي. نوموړي تل زما مشري درک کوله، نو په کور کې به هغه کارونه ده په خپله کول. د خپلو اقتصادي ستونزو د هوارې لپاره به ما له هغه سره په کرونده کې کار کاوه. ما خپله هېڅ وخت د کوکا په محصولاتو کې کار نه دی کړی، خو ما به کارګرانو ته پخلی کاوه، د دوی ښارنه به مې کوله او تخم به مې راټولوه. کروندې موږ ته ښه ګټه کوله او د خپلو ماشومانو لاسنيوی مو پرې کولای شو.

په ۲۰۰۶ز کال کې د شبه نظامي ډلو په لمنځه تلو سره په پوتمايو کې د ټولنيزو خوځښتونو دويمه څپه راپورته شوه. دا هغه شبېه وه، چې موږ خپل د ژوندانه پلان پروژه بياځلې پيل کړه، د تېلو کمپنۍ له لوري چاپېريال او ټولنې ته د اوښتو زيانونو، له بشري حقونو بې شمېره سرغړونو ته د پای ټکي ايښودو او د هوا له لارې د سپرې شيندلو په وړاندې مو اعتراضونه پيل کړل.

په دې دوره کې زموږ غوښتنې په ۹۰مه زلسيزه کې د کوکا کروندګرو له غوښتنو سره ډېرې ورته وې، د بېلګې په توګه يوه غوښتنه مو د کمياوي موادو د شيندلو بندېدل و، خو زموږ ټولنيز خوځښت ډېر ځواکمن و او ښه روزل شوی وو. له هغې وروسته مو بيا خپل وړانديزونه لرل، څو له حکومت سره پرې خبرې وکړو او د کروندګرو داسې نوي سازمانونه هم منځ ته راغلل، چې پخوا مو نه لرل.

د شبه نظامي ډلو له لمنځه تلو سره بيا هم تاوتريخوالی او جګړې ختمې نه شوې. له بده مرغه په ۲۰۰۷ز کال کې مې يو زوی په دې جګړو کې له لاسه ورکړ. نوموړی ۱۹ کلن و او په چيواس ( يو ځانګړی ډول بس چې په کليوالي سيمو کې سوداګريز توکي او مسافر وړي راوړي) کې يې د مرستندوی په توګه کار کاوه. يو سهار چې له کلي پوريتو اسيس ته پر لاره و، شبه نظامي ډلو له بس راکوز کړ او له ځان سره يې موټر کې يوړ او ويې واژه. زما زوی له هېچا سره دښمني نه لرله او نه په سياسي فعاليتونو کې ښکېل و. يوازېنی ګناه يې دا وه، چې تور رنګه کميس او پتلون يې اغوستي و او چرمي بوټان يې په پښو و. د شبه نظامي ډلو لپاره دې کفايت کاوه، چې زوی مې په همدې دليل ووژني. د دوی له نظره هرڅوک چې دا ډول لباس اغوندي د ملېشو غړی دی. دا تر ټولو بې رحمه څپېړه وه، چې ما په خپل ژوند کې په مخ وخوړه. مګر د دې پرځای چې زه له سياسي فعاليتونو لاس واخلم، چې ښايي خلکو همدا تمه راڅخه لرله، ما خپل فعاليت ته دوام ورکړ.

د شخصي ژوند غميزو او تاوتريخوالو د ګواښونو په منځ کې ورو ورو په ملي کچه د کروندګرو سازمانونو ته ورنېږدې شوم. د ځايي سازمان له مشرۍ سره مې مخه ښه وکړه او د هېواد په کچه لرليد لرونکو حرکتونو



په پوتمايو کې په يوه لېرې پرته سيمه کې کرونده. آنځور: فرانسيس تامسن/اس.او.اې.اس او د کولمبيا ملي پوهنتونونه

سره یو ځای شوم. دا بله ډېره له خوند ډکه تجربه وه، چې ماته یې په ژوند کې ډېر نور درسونه رازده کړل.

له دې وړاندې ما هېڅ وخت دا موکه نه لرله، چې د هېواد له بېلا بېلو برخو مشرانو سره وګورم. زما ټول تمرکز په پوتمایو و. زما په یادېږي، چې د کروندګرو یو مشر چې زه یې پېژندم ماته تل دا خبره کوله، چې دا ځای پرېږدم ځو په ملي او نړیواله کچه کار وکړم، ځکه د هغه په وینا ځايي مشکلات له هغو پالیسیو راټوکېدلي، چې په یاده کچه طرحه کېږي. لومړی ځل چې ما د هېواد له بېلا بېلوو برخو د کروندګرو په ناسته کې ګډون وکړ، زه په دې پوه شوم، چې د هغه خبره پرځای وه. د سیمو ترمنځ له توپیرونو سره سره د ټولو ستونزې یو ډول وې.

وخت تېرېدو او دوی نه یوازې زه خپلو ناستو ته وربللم، بلکې زه یې د کروندګرو سازمان د ښځینه وو د منشي په توګه هم وټاکلم. په دې سازمان کې ماته د سازمان د ننه د ښځو د زده کړو او برخې اخېستنې پالیسیو دنده راپه غاړه وه. یوه اړینه تجربه چې په دې مقام کې مې ترلاسه کړه، د کولمبیا سویل لوېدیځ ته له کروندګرو مېرمنو سره د ځايي مشرتوب ورکشاپونو د تنظیم په موخه سفر کول و، چې وروسته مې بیا دا کار تر ملي کچې پراخ شو. مفکوره دا وه، چې ښځې په لوړو مقامونو کې ځای پر ځای شي څو دا ډاډ ترلاسه شي چې ښځې هغو مسوولیتونو ته اوږه ورکوي، چې په دودیز ډول سړیو ته سپارل شوي. دې پروسې ماته ویاړ راوبښه څو په افریقا کې د ویا کامپسینا په نړیواله شورا کې برخه واخلم. دا ډېر اوږد سفر و، له ۲۴ ساعتونو هم ډېر و! ما لومړی ځل د بېلا بېلو فرهنګونو او ژبو له خلکو سره ولیدل، او د افریقا لویې وچې د تاریخ په اړه مې ډېر څه زده کړل. ماته دا جوته شوه، چې له ډېرو نابرابریو سره سره د دې لویې وچې خلک ډېر قدرمن خلک دي، ځکه دوی د خپل ژوند په اوږدو کې د خپلو حقونو لپاره مبارزه کړې ده.

وروسته بیا په سازمان کې د نورو مقامونو ترڅنګ زه د مالي او عمومي منشي په توګه وټاکل شوم. دغو مسوولیتونو زه اړ ویستلم چې پوتمایو پرېږدم او په بوګوتا کې د سازمان مرکزي دفتر ته لاړه شم. دا زما لپاره ډېره سخته وه، ځکه له کورنۍ لېرې کېدم، په سیمه کې مې له خپل کار سره مخه ښه کوله او یو لوی ښار ته راتللم. که څه هم په لومړیو کې ډېره راته سخته وه، ان تر دې چې ناروغه شوم، خو هغه دنده مې په سم ډول پرمخ یوړه، چې پر ما یې باور شوی و.

> نن ورځ زه له ډېر ابهام سره مخ یم، او په دې فکر کې یم چې په کولمبیا کې به له سولې او ټولنیزو خوځښتونو سره څه وشي. موږ دا تمه لرله، چې د سولې هوکړه لیک به هغه بدلونونه له ځان سره راوړي، چې موږ کلونه کېږي مبارزه ورته کوو، خو تر دې دمه هېڅ نه دي شوي.

زه ډېره نېکمرغه وم، ځکه په دې وروستیو کلونو کې مې په کولمبیا کې په ځینو ډېرو مهمو سیاسي ناستو کې برخه واخېسته. لومړی، ما په ۲۰۱۳ز کال کې په ملي کچه د کروندګرو په اعتصاب کې مرسته وکړه او د هېواد له ګوټ ګوټ مو په زرګونه کروندګر راټول کړل، څو د ژوند غوره شرایطو، خدماتو او حقونو ته د لاسرسي او په اقتصادي پالیسیو کې د بدلون غوښتنه وکړي. دغو اعتصابونو د کروندګرو ستونزې په ملي کچه د بحثونو په سرټکي بدلې کړې. پردې سربېره مې د کولمبیا خلکو وسله وال انقلابي ځواک ملېشو سره د سولې په مذاکراتو کې له خپل سازمان سره یو ځای برخه واخېسته. موږ غوښتل چې په خپل هېواد کې د سولې له ټینګښت سره مرسته وکړو. دا چې له ملېشو سره په خبرو اترو کې د کروندګرو ګڼ شمېر ستونزې شاملې وې، نو موږ د سولې له هوکړه لیک سره د خپل ځان عیارولو ته ژمن وو. نن ورځ زه له ډېر ابهام سره مخ یم، او په دې فکر کې یم چې په کولمبیا کې به له سولې او ټولنیزو خوځښتونو سره څه وشي. موږ دا تمه لرله، چې د سولې هوکړه لیک به هغه بدلونونه له ځان سره راوړي، چې موږ کلونه کېږي مبارزه ورته کوو، خو تر دې دمه هېڅ نه دي شوي.

که چېرې خپل ژوند ته یو ځغلند نظر وکړم، زه دا ویلای شم چې د خپلو زړه ته راتېرو کسانو د بایللو له کبله د ډېرو ستونزو او کړاوونو سربېره زه پر خپل ځان او هغو کارونو ویاړم، چې ترسره کړي مې دي. ما دا پرېکړه کړې، چې د هغو خلکو پر پلونو پل کېږدم، څوک چې د نورو د سوکالۍ لپاره مبارزه کوي. دې کار زه د کور مېرمنې له یوې عادي ژوند لېرې کړې یم. له دې ژوند مې ډېره خوشاله یم!



د توماکو د کليو او سيدونکي. عکس د ډياکولاکوس / ملی پوهنتون



## په سوله او جګړه دواړو کې مونږ تور پوستي تل بايلونکي يو

### دا کيسه ډان تيتو[33] ويلي ده او ديانا ماچوا[35] اصلاح کړې

**توماکو** د سويل ختيځي کولمبيا په نارينو برخه کې يوه ناحيه ده. ياده ناحيه له ايکوادور او ارام سمندر سره ګډه پوله لري. په تېرو څو لسيزو کې توماکو د کوکا د توليد او کوکائينو د قاچاق عمده مرکزو. دې کار په ياده ناحيه کې وسله والي او ټولنيزې شخړې راپورته کړې او د کولمبيا خلکو وسله والو انقلابي ملېشو او بېلا بېلو شبه نظامي ډلو ترمنځ يې د جګړې په مرکز بدله کړه. په ۲۰۱۲ز کال کې د کولمبيا حکومت او د کولمبيا خلکو وسله والو انقلابي ملېشو ترمنځ د سولې تړون په لاسليک سره ډېر هيلې راوټوکېدې، خو ځينې ډلې منحل نه شوې او نويو غيرقانوني سازمانونو سر راپورته کړ. د جګړو او تاوتريخوالي په منځ کې خلکو خپل کار ته دوام ورکاوه، څو د خپلو ولسونو ژوند ته پرمختګ او سوله راوړي. په توماکو کې تر ټولو مهمه ټولنيزه مبارزه د تورپوستو ولسونو له لوري د خپل ډله ييز قلمرو د ساتنې او د دوی ولسي شورا د واکونو په رسميت پېژندنې مبارزه ده.

زياتره خلک، چې توماکو ته راغلي د کوکا په کښت پسې راغلي. هغه خلک چې له ۲۰۰۰ز کال راوروسته دلته راغلي ځنګل يې ټول پاک کړی، څو د کوکا نيالګي پرې کېنوي. ګڼ شمېر خلک له پوتمايو، سامانيګو او کاکويته دلته راغلي. دا ډېره خندوونکې ده! پخوا دا خبره برعکس وه، خلک به له توماکو څخه پوتمايو ته تلل څو د کوکا په وسيله د خپل ژوند تونښه برابره کړي. دوی د نېش وهونکو[36] په توګه هلته کار کاوه. همدا وجه ده، چې د پوتمايو او توماکو خلک يو تر بله ملګري او ان خپلوان شوي دي.

توماکو ته کډوال د بېلا بېلو دلايلو له امله راغلي. ځينې يې د کولمبيا د سپرې شيندلو پلان له کبله بې ځايه شوي.[37] ځينې نور يې بيا له ملېشو سره راغلي، ځکه د کولمبيا خلکو وسله والي انقلابي ملېشې د پوتمايو له بېلا بېلو ځايونو دلته راځي او خپل خلک هم ورسره راولي. پوهېږئ د خلکو دا راتګ دلته څنګه وشو؟ د جګړو يا ملېشو له کبله بې ځايه شوي خلک دلته راغلل او بيا يې د خپلې کورنۍ غړو يا هغو ملګرو ته هم وويل، چې په پوتمايو کې د سپرې شيندلو يا جګړې له کبله له لوږې سره لاس او ګرېوان وو. "راشئ، دلته ښه پرېمانه ځمکه ده.... د کوکا د کښت لپاره هم ځمکه شته، د هغه او دغه کار لپاره هم پرېمانه ځمکې دي." بيا به د دغو خلکو خپلوان يا ملګري له خپلو زامنو سره راغلل، ځينې وختونه به عمرخوړلي کسان او حتی مېرمنې هم ورسره وې. وروسته به يې خپل د کاکا زامن، کاکاګان او ترورزي راوبلل. په همدې ډول دا ځمکې او ان ولسي شوراګانې له خلکو ډکې شوې. خلک به په باروړونکو موټرو کې سپاره شول او دا موټر به بيا کښتنۍ ته ورپورته شول، څو د سيند بلې غاړې ته يې پورې باسي.

زياتره هغه خلک چې د کوکا په کښت پسې راغلي وو، اوس نشته. مونږ نه پوهېږو، چې دوی ورک شول که ووژل شول. زما باور نه کېږي، چې هغوی دې تراوسه هم ژوندي وي. په توماکو کې ډېر خلک ورک شوي دي. ياد خلک دلته د فرصتونو په لټون راغلي وو، خو پېژند پاڼې يې نه لرلې. دا چې په دې سيمه کې وضعيت ترېنګلی دی، نو پر ځينو شک و، چې د ملېشو غړي دي او پر ځينو نورو بيا د شبه نظامي ډلو د غړو ګمان کېده. کوکا جګړې زېږوي او خلک له کينې ډکوي. د زياترو خلکو لپاره سيند په هديره بدل شوی. زما لپاره ۲۰۰۲ز کال تر ټولو ناوړه دوره وه.، ځکه په ياد کال به له جسدونو ډکې کښتۍ هره ورځ په سيند کښته تېرېدې.

### کوکا يوازې د کروندګرو لپاره نه ده، بلکې يو ځنځير دی، چې ټول يو تر بله سره تړي.

کوکا يوازې د کروندګرو لپاره نه ده، بلکې يو ځنځير دی، چې ټول يو تر بله سره تړي. د بېلګې په توګه زه د کوکا کروندګر نه يم. نه مې په خپل ژوند کې کوکا کښت کړې او نه به يې کښت کړم، ځکه ستونزې يې زېږولي او نه مې خوښيږي. چېرته چې کوکا ده، هلته وسله والې ډلې دي. مګر زما مېرمنې دوکان درلود، او پر نېش وهونکو يې کرېډېټ کارتونه پلورل، نورو خلکو به بيا پر هغو کسانو چې پاڼې يې پروسس کولې يا به يې کوکا لېږدوله، اوبلن ګاز پلورل. دا يو ډېر اوږد ځنځير دی.[38]

که څه هم ما کوکا نه ده کښت کړي، خو په دې پوهېږم چې دا کاروبار څنګه پرمخ ځي. ځینو خلکو زما د خرما ونو ترڅنګ کوکا کښت کړي. یو ځوان شاوخوا پنځه هکتاره ځمکه لرله، هغه د کوکا یو کوچنی کروندګر(کاکویرو ) و.[۳۹] هغه ډېر زیار ویست څو له ځمکې ښه حاصل ترلاسه کړي، خو داسې ښکاري چې ګټه یې هومره نه وه، ځکه کله چې ده کوکا پلورله، مخکې له مخکې د هرڅا پوروړی و او د هېڅا د پور اداء کولو جوګه نه و. هرې درې میاشتې وروسته به یې د کوکا یو فصل راټولوه، خو له یو ځل رېبلو تر بیاځل پورې یې باید ډېر زیات چټل کارونه کړي وای. باید له خاورې سره یې کمیاوي مواد ګډ کړي وای، محصولاتو ته یې کمیاوي سره ورکړې وای او بیا یې سپرې کړې وای. دا کار یې باید هره ورځ کړی وای. پردې ټولو شیانو د پاسه، باید د شپې لس یا یوولس بجې ویده شوی وای، ځکه ماښام مهال به څراغ په لاس په خپله کرونده ګرځېده، چې مېږیان ترې د کوکا بوټي یا ونې ونه خوري. هغه کری ورځ او شپه کار کاوه. نو که چېرې زه د کاري ساعتونو له مخې حساب وکړم، فکر نه کوم چې هومره پیسې یې له کوکا ګټلي وي، لکه څومره کار یې چې کاوه. د کوچنیو کروندګرو لپاره کوکا دومره ښه کاروبار نه دی. ګټه هغه خلک کوي، چې اخلي یې یا له لس هکتاره زیاته ځمکه لري، یا هم هغه خلک چې شیره ترې جوړوي او بیا یې په کرسټالو بدلوي او پر لویو لابراتوارونو یا هم صنعت کارانو یې پلوري. د پیسو وروستۍ غوړه ګټه د هغه چا جیبونو ته ځي، چې ان دلته ژوند هم نه کوي.

ځینې وایي، چې یو وخت په همدې سیمه کې چې ما خرما ونې کېنولې د کوکا یو سیل وو. کروندګر وایي، چې هغه وختونه ډېر ښه وو، ځکه دوی تر درې کارټنو بیر(د اوربشو اوبه) پرې اخېستلی شوې او په خپلو کورونو کې به یې غونډولې. د دوی ماښامانۍ له بوتلونو ډکې وې، خو په بل سهار به یې جیبونه بیا خالي وو او بیا به یې د کوکا پاڼې راټولولې. دا یوه ستره ننګونه ده: کوچني کاروباریان خپلې ټولې پیسې د دې پرځای چې پانګونه پرې وکړي یا یې سپما کړي، پر شرابو لګوي. په دې سیمه کې چې زه اوسېږم کوکا یوازې د څو کسانو په ژوند کې بدلون راوړی. زه پر پوله ځینو پرتو کلیو ته لاړم. هغه خلک چې هلته بنګې لري، حتی خپل کورونه نه لري. ماته دا خوند راکوي، چې له دوی وپوښتم: د کوکا پر پیسو مو څه کړي؟ څو راته معلومه شي، چې پیسې لري او که نه؟ که څه هم زه په دې پوهېږم، چې دوی یې نه لري.

زموږ په څېر تورپوستو خلکو ته کوکا د خوشالۍ پرځای غمونه راوړي، ځکه زموږ کلتور یې راونړوه. د کلیو دېره ځایونه له میکدو ډک دي. چېرته چې هر ډول ممنوع کارونه کېږي او کوریدوس هم غږول کېږي.[۴۰] کوکا او وسله والو یې ډېرې نږدې قبیلې سره جدا کړې. یو وخت په یو ځل له توماکو څخه سان لورینزو ته چې له اکوادور سره پولې ته څېرمه یوه ناحیه ده، ډېر شمېر خلک وکوچېدل او هلته یې سلامت یو کلی جوړ کړ. کوچیان یې وایي، چې دوی له مالکانو ځمکه پېرلې، خو دلته دا ځمکه پلورل کېږي نه، ځکه زموږ خاوره زموږ د ټولو ملکیت دی. د دې سیمې تورپوستان ډېر مېلمه پال خلک وو. د نابللي مېلمه لپاره یې تل یو اضافي قاب درلود، خو دا رواج اوس ډېر کم رنګه شوی او یوه ورځ به په بشپړه توګه له منځه لاړ شي. کوکا د تورپوستو خلکو کلتور ته ګڼ شمېر زیانونه اړولي.

> **زموږ په څېر تورپوستو خلکو ته کوکا د خوشالۍ پرځای غمونه راوړي، ځکه زموږ کلتور یې راونړوه.**

کوکا زموږ خاورې ته له ځان سره سپرې شیندل هم راوړل. په ۲۰۰۳ز کال کې حکومت په توماکو کې سپرې شیندل پیل کړل. هر څوک پوهېدل: هر وخت به چې چورلکو غرهارۍ شروع کړ، موږ به د قیامت په څېر یوه او بله خوا منډې وهلې. په چورلکه کې به تل یو ځوان ناست و او ماشین ګڼه به یې د خلکو پر لور نیولې وه. یو ځلې یو هلک خپل ښکاري ټوپک د شوخۍ لپاره د دوی په لور ونیو. چورلکه پسې راکوزه شوه، خو هلک ژر منډې کړې او له ښه مرغه ترې خلاص شو. دوی په ټولو شیانو حتی چنارونو هم سپرې وشیندله. ظاهراً داسې ښکاري چې دوی ته پیسې ورکړل شوې وې، څو په ټنونو ګلایزوپیټ(سپرې) دلته وشیندي. وروسته د خرما ونو یو ډول مرض پیدا کړ، چې د پوستکي ګنده کېدو په نوم مشهور شو. دې مرض ډېر زیان ورسوه او په زرګونه هکتاره خرماوې یې له منځه یوړې. موږ په دې باوري وو، چې دا ناروغي د سپرې شیندلو له کبله وه، ځکه دواړه کارونه په یو وخت کې وشول: لومړی دوی سپرې وشیندله بیا دا ناروغي پسې راپیدا شوه.

دوی هم دلته د سپرې له شیندلو ستړي شول، هېڅ شي د کوکا محصول له شر ځان نه شي خلاصولی. ورپسې کروندګرو د خپلو نیالیګو د خوندیتوب لارې چارې هم زده کړې. دوی به له پانیلا[۴۱] او ځینو نورو شیانو ګټه پورته کوله، دغه راز به یې هغه ونې وینځلې چې سپرې شوي وې. یو شمېر کروندګرو به بیا مخکې له دې چې پاڼو څخه ښاخونو او بیا رېښو ته زهر ورسیږي، د کوکا ونې تنې ته لنډې پرې کولې. دوی به په دې ډول د زیان مخه نیوله. دوی به د هغه موسم فصل له لاسه ورکاوه، خو په درېیو میاشتو کې به بل فصل رېبلو ته چمتو کېده.

کوکا د هغو ستونزو له ډلې یوه ده چې موږ دلته په توماکو کې ورسره لاس او ګرېوان یو. د ځمکو پر سر لانجې هم ډېرې زیاتې دي. کلونه او حتی لسیزې کېږي، چې دا لانجې دوام لري. که عادلانه خبره وکړو، دا لانجې د پوتمایو کوچیانو یا کډوالو له راتګ سره نه دي پیل شوي. د کوکا تر محصول د مخه د هېواد له بېلا بېلو برخو لکه پاستوساس، رولاس، کالیناس او پایساس[۴۲] څخه خلک راغلي او زموږ ځمکې یې نیولي څو د خرما ونې پرې کېښنوي.

> **کوکا د هغو ستونزو له ډلې یوه ده چې موږ دلته په توماکو کې ورسره لاس او ګرېوان یو. د ځمکو پر سر لانجې هم ډېرې زیاتې دي. کلونه او حتی لسیزې کېږي، چې دا لانجې دوام لري.**

په ۶۰مه او ۷۰مه لسیزه کې د کولمبیا له نورو برخو او ان بهرنیان دلته توماکو ته راغلل څو د خرما ونې کېښنوي او د خرما غوړیو فابریکې جوړې کړي. ځینې یې د مافیا له لوري تمویل کېدل. له هغه راوروسته د ځمکو غصب شروع شو. زموږ اندېښنه دا وه، چې موږ ته به هېڅ ځمکه راپرېږندي. په ۱۹۷۹ز کال کې ځایي خلکو یو شمېر ټولنې رامنځ ته کړې او د خرما کسبګرو ټولنو نومونه یې پرې کېښنودل.

دا په دې ډول ادامه نه شي کولای، د ځمکې له راټولولو لاس واخلئ، حرص مه کوئ!

> **له خپلو ځمکو د دفاع پر سر د خرما له کروندګرو، راغلو کډوالو، د کوکا له کروندګرو او ګویا چې دا بسنه نه کوي ان د کولمبیا خلکو وسله والو انقلابي ملېشو سره په شخړو کې ښکېل شوو.**



موزې په پښو کول د پوتمایو په لېرې پرتو سیمو کې د خلکو ورځنۍ چاره ده. آنځور: دایګو لاګوس/ کولمبیا ملي پوهنتون

په ۱۹۹۳ز کال کې د ۷۰ قانون په نفاذ سره د لوبې اصول بدل شول. دې قانون زموږ د خاورې حق په رسمیت وپېژندهٔ او ولسي شورا یې په هغه ډول رامنځ ته کړه، چې موږ تورپوستو ولسونو یې غوښتنه کوله، یعنې دا چې پر خپله خاوره خپل اختیار ولرو. موږ د دې قانون مدیون یو. تورپوستي خلک راپورته شول څو په خپلو کې ټول شي او هغه لارې چارې ولټوي چې له لارې یې پر خپلو ځمکو قانوني حق ترلاسه کړي. دا عناوین زیاتره موږ ته په ۲۰۰۰ز کال کې راکړل شوي دي.

زموږ لپاره ځمکه شریکه ده او ۱۷۰م قانون په صراحت سره دا وایي چې په دا ځمکه کې نه تصرف کېدای شي، نه ملحق کېدای شي او نه هم د وخت تر مرور لاندې راځي.[43] هېڅوک دا ځمکه له موږ نه شي اخېستلای.

د خپلو ځمکو لپاره مبارزه موږ ته په ډېره درنه بیه تمامه شوې ده. د ولسي شورا زیاتره قانوني استازي ترور شوي دي. هېڅوک نه پوهېږي، چې دا کارونه چا وکړل: ایا د خرما کروندګرو، وسله والې ډلې وې یا دواړو په ګډه دا کار وکړ. د ډله ییز حق په رسمیت پېژندنې هم دا شخړې پای ته ونه رسولې. د خرما ځینې شرکتونه لا تراوسه هم وایي چې د شورا په ځمکو کې ځینې سیمې د دوی اړوند دي او دوی زموږ پر خاوره خپل تېري ته دوام ورکوي. همدا کار راغلي کډوال او د کوکا کروندګر هم کوي. دوی د شورا په سیمه کې د فردي ملکیت دعوا لري. همدا چې د ځمکې موضوع یاده شي، نو بې پایه بحثونه پیل شي. زموږ ځمکه څوک نه شي پلورلی ! د ستونزې د هوارې پر ځای، چارواکي یوازې دا وایي چې موږ ته یې پرېږدئ څو له مقابل جانب سره خبرې اترې وکړو. که صادقانه ووایم، زه نه پوهېږم چې ایا دولت خو به دا نه غواړي چې موږ د ځمکې پر سر خپلې جګړې ته دوام ورکړو. موږ هڅې کړي، څو په سوله ییز ډول دلته ژوند وکړو، خو زموږ لپاره د شورا خاوره د بحث وړ نه ده.

له خپلو ځمکو د دفاع پر سر د خرما له کروندګرو، راغلو کډوالو، د کوکا له کروندګرو او ګویا چې دا بسنه نه کوي ان د کولمبیا خلکو وسله والو انقلابي ملېشو سره په شخړو کې ښکېل شوو. پر ۷۰ قانون د دوی پوهول ډېر ستونزمن وو. د قانون تطبیق د قوماندان له سلوک سره تړلې خبره ده.

دا چې د کولمبیا خلکو وسله والو انقلابي ملېشو قوماندانان پرله پسې بدلېږي، هماغه ډول کار چې په اردو کې کېږي، نو هغه څه چې ولسونو به یو قوماندان ته تشریح کړي وو، د هغه په بدلېدو سره به ټول په اوبو لاهو شول او له نوي قوماندان سره یې بیا باید له صفر کار شروع کړی وای. د خرما شرکتونو له خلکو یا له راغلو کډوالو سره استدلال کول هم یوه خبره ده، خو دا چې له یو داسې چا سره مستقیم استدلال وکړې چې وسله په لاس لري، دا نو بیا بیخي یوه جلا موضوع ده. کله چې خلک د کولمبیا خلکو وسله والو انقلابي ملېشو لارښوونو ته غوږ ونه نیسي، یو کار چې باید بشپړ شي یا دوی چې څه وایي چې باید وشي؛ نو درې ورځې وخت ورکوي چې یا باید پیروي ترې وشي، یا له دې ځایه کډه شي، ګنې وژل کېږي. دا د هغو خلکو لپاره ډېره ځورونکې ده، چې په دې ډول شرایطو کې ژوند کوي. د بوګوتا خلک بیا بل ډول ستونزې لري. دا ستونزې ښایي تحرکات، د موټر تښتول، عام جرایم یا هم غلا وي. زموږ لپاره اصلي موضوع دا ده چې په خپله خاوره کې سوله تأمین کړو، د کولمبیا خلکو له وسله والو انقلابي ملېشو سره سوله وکړو، له بلواګرو او بل هر یو سره سوله وکړو. زه په ټینګار سره وایم، دا ډېره ځورونکې ده چې له یوې وسله والې ډلې سره د دوی تر قوماندې لاندې په داسې هېواد کې ژوند وشي، چې ظاهراً قانون په کې حاکم دی.

له همدې وجې موږ هڅه وکړه څو د کولمبیا خلکو وسله والو انقلابي ملېشو ته د شوراګانو رول او ۷۰ قانون تشریح کړو. ځینې قوماندانانو موږ ته اجازه راکړه، چې همدلته په دې خاوره کې پاتې شو. ځینې نور چې څنګه بیا راغلل موږ ته یې ګواښونه پیل کړل. زما په یاد دي، یو ځل په یوه ناسته کې قوماندان ډېرې خبرې وکړې، ما ترې اجازه وغوښته، چې ښاغلی قوماندان کولای شم خبرې وکړم؟ هغه ځواب راکړ، چې ته څه غواړئ؟ چوپ شه ! بیا یې خبرو ته ادامه ورکړه. هغه د خپلې ډلې د نظامي تګلارې په اړه خبرې وکړې. هغه وویل چې دوی وژل شوي، نو هر کار یې کړی. بیا یې ماته اشاره وکړه او را نارې یې کړې، چې تا څه غوښتل ووایې؟ ورپسې، زموږ منشي، د شورا منشي، یو ډېر ارام ځوان، چې نه پوهېږم هغه مهال ولې غصه شو – د ۷۰ قانون جریده راواخېسته او

قوماندان ته مو ورکړه، ورته ومو ویل: ښاغلی قوماندان! کله چې وخت ولرې، دا ولوله! ناسته ختمه شوه او موږ کورونو ته لاړو. په بل سهار د سرې چلند بشپړ بدل شوی و. هغه وویل، چې: څوک غواړي د ۷۰ قانون دا چټیات ماته تشریح کړي؟ دا خبره ما ټوکه وګڼله. یو پوه ځوان ورته وویل: ګورئ! ۷۰ قانون د دې او هغې په اړه دی. له همدې وجې موږ تا ته دا خبره کوو، چې د دې خاورې ځمکه د ټولو مېشتو وګړو ګډ ملکیت دی، خو ښه وه، هغه موږ ته غوږ ونیو.

د جګړې په منځ کې استوګنه دا معنا لري، چې کفن دې باید مخکې له مخکې له ځان تاو کړی وي، په تېره بیا زموږ له ډلې هغه خلک چې د ولسونو د سوکالۍ او زموږ د خاورې لپاره مبارزه کوي. موږ تورپوستي غواړو د هرچا درناوی وشي. دلته په توماکو کې تورپوستي له دومره وضاحت سره دنیا ته نه دي راغلي، ډېر کار ته اړتیا ده څو خلک په دې پوه شي چې موږ باید د هغه څه لپاره چې له موږ سره تړاو لري، مبارزه وکړو. له نېکه مرغه موږ په دې برخه کې یو څه پرمختګ شوی، چې ۷۰ قانون او په شوراګانو او کلیو کې د مشرانو سر راپورته کول یې بېلګې دي.

**د جګړې په منځ کې استوګنه دا معنا لري، چې کفن دې باید مخکې له مخکې له ځان تاو کړی وي ، په تېره بیا زموږ له ډلې هغه خلک چې د ولسونو د سوکالۍ او زموږ د خاورې لپاره مبارزه کوي...**

له دې وړاندې خبره ټوله متفاوته وه. د تورپوستو باور دا وو، چې دوی ازلي ببوزله دي. کله چې زه ماشوم وم، ما به خلک لیدل چې په ختو او خاورو کې به یې ژوند کاوه، خو بیا هم له خپلې بدمرغۍ راضي وو. ماته دا ډېره خوشالي رابښي، چې ووایم ما په توماکو کې د تورپوستو وګړو په منځ کې د پوهاوي په رامنځ ته کولو کې مرسته کړې ده. دوی په دې پوه شول، چې موږ له ځایي چارواکو غوښتنه کولای شو. زه فکر کوم ماته د ازادۍ فکر له خپلې انا او نیکه په میراث راپاتې شوی. ما دوی نه و لیدلي، خو دا راته ویل شوي، چې دوی دلته د سیند په لټه راغلي وو، ګني ببرته افریقا ته ستانېدل. دوی په برباکوس کې چې د ارام سمندر ساحل ته څېرمه یوه بله ناحیه ده، له کانونو راتښتېدلي وو. ماته دا ویل شوي، چې دوی په کانوی کې سیند ته راورسېدل او بیا د کښتۍ په واسطه له سیند راتېر شول، ځکه هغه وخت سړکونه نه وو. زما انا او نیکه ځمکه ازمویلي وه، چې ایا د کروندې لپاره مساعده ده او که نه؟ بالاخره یې یو ځای پیدا کړی و، څو هلته مېشت شي.

زه د زده کړو لپاره له خپل پلار مننده‌وی یم. هغه زه لومړی د کشیشانو په ښوونځي کې شامل کړم او بیا یې د ثانوي زده کړو لپاره د توماکو یوې ښاري سیمې ته بوتلم. زه له کشیشانو سره تر ټولو ښې اړیکې لرم، که څه هم زه یو یاغي انسان وم –تل به یاغي اوسم– او هېڅکله نه غواړم، چې دوی پر ما کوم څه راوتپي. زما دا خوښېدل چې له هغو خلکو دفاع وکړم، چا چې خپل ځان نه شو ساتلای، او ما به د دوی لپاره مبارزه کوله. ما یو ځل د هغې ډوډۍ پر سر لانجه وکړه، چې موږ ته یې په بوره ډېنګ ښوونځي کې راکوله، د همدې اعتراض له وجې دوی هېڅکله بیا موږ ته خوسا شوي ماهیان رانکړل.

په ۱۹۷۵ز کال کې په توماکو کې په یوه وړوکي ښوونځي کې د ښوونکي په توګه وګمارل شوم. د توماکو لوړ سیاسي مشر ښاغلي بیټو ایسکروسیرا له ما سره په دې ګمارنه کې مرسته وکړه. کله چې ایسکروسیرا د چارو واګې په لاس کې واخېستې، نو د توماکو وضعیت کاملاً بدل شو. دوی سپین پوستي دي او له اره هسپانویان دي، خو همدلته په دې خاوره کې له تورپوستو سره یو ځای رالوی شوي دي. بیټو یو ژمن سیاستوال و، خو له ده او د هغه له خلکو سره د سیاست دروازې وتړل شوې. دوی د توماکو اربابان او کسبګر وو. دا ناحیه د دوی د دېرې په څېر وه او همداسې د دېرې په څېر یې پرمخ وړه. دوی له خپلو هغو ملګرو سره مرسته کوله، چې باتیستا به وو، خو له نورو چا سره نه کوله. بیټو زما د پلار د خوښې سیاستوال و، خو زما نه خوښېدو.

زه تل د هغه مخالف وم. په هر حال، هغه ماته په ښوونځي کې دا دنده راکړه، او له هغه سره مې ډېر ځله خبرې وکړې. زه نه پوهېږم، چې دی له هغو ستونزو خبر و او که نه، چې ما ورته جوړې کړې وې. یو ځل چې کله زه د ښاروالۍ په ټاکنو کې د رايې ورکولو صندوق د څارونکي هئیت غړی وم، ما یو باتیستا ته د رایې ورکولو اجازه ورنکړه، ځکه په پېژند پاڼه یې آنځور سم نه معلومېده. دا خبره ډېره لویه شوه، ان پولیس راغلل. زه راپورته شوم او ټولو ته مې وویل، چې: په ښښنې! نوموړی شخص به هېڅکله دلته رایه ونه کاروي. تر هغې چې زه دلته یم دلته رایه نه شي کارولی. یو چا هم له خولې خبره ونه ویسته او هغه ځوان هم رایه ورنکړه. له دې وروسته بیا زه هېڅکله د څارونکي هئیت غړی نه شوم.

په ۷۰مه زلسیزه کې موږ ته دا راوښودل شول، چې په کمونېستي چین کې څه تېرېږي. موږ د مائو او فیډل کاسترو له لوري لیکل شوي کتابګوټي ولوستل. زه نه پوهېږم، چې هغه کتابونه له کوم ځای راوړل شوي وو. موږ له دې موخې دفاع ته راودانګل. د کارګرانو خپلواک انقلابي خوځښت په نوم ګوند څخه خلک راغلل، چې له موږ سره وګوري. د دې کسانو په منځ کې د لاپیز په نوم یو حقوقپوه هم و، چې چین او روسیې ته تللی و. هغه د نارینو پوهنتون استاد و او دلته راغلی و چې موږ ته درس راکړي. وروسته بیا ووژل شو.

په توماکو کې موږ د ټولنیز بدلون په اړه خبرې پیل کړې. موږ د نیکاراګوای له دیکتاتور سوموزا سره بیټو پرتله کاوه. د سیاسي منډو ترړو پر وخت دوی د کورونو دیوالونه د بیټو پر آنځورونو او شعارونو پوښلي وو. د شپې له خوا به موږ د هغه ټول پوسټرونه څېرې کول، ان تردې چې تر سهاره به موږ ویښ وو، خوبونه نه وو. زما د بیټو د حکومتوالۍ تګلاره هېڅ نه خوښېده، که څه هم زه یې د ښوونکي په توګه په دنده ګمارلی وم.

په کوم ښوونځي کې چې ما تدریس کاوه، هلته د کب نیوونکو ماشومان راتلل. په هغه وخت کې د توماکو کب نیوونکي خلک ډېر سپین سترګي و، له دوی سره جوړ راتلل ډېر سخت وو. زما په یاد دي، چې د یو سپین سترګي هلک له پلار سره مې ناسته لرله، له پلار مې یې وپوښتل، چې ولې دې خپل زوی ښوونځي ته رالېږلی دی؟ ځواب یې راکړ: چې هغه به زده کړې وکړي، نو زما په څېر به نه رالوییږي. ما ورته وویل: چې ته له خپل زوی سره مرسته نه کوې، که چېرې غواړې مرسته ورسره ورکړې نو دا کارونه وکړه، هغه ته مې یو څه لارښوونې وکړې.

هغه کس ماته وکتل او ویې ویل، ستا نوم څه دی؟ ما وویل: زما نوم فلانی دی. هغه راته وویل، دا په ژوند کې لومړی ځل دی چې یو څوک دا خبره ماته کوي. بیا یې د مننې په پار زما لاسونه وښورول او ویې ویل: راځه چې ملګري شو !. هغه کس د مرګ تر وخت پورې زما ملګری پاتې شو.

زما باور دا دی، چې په هغه ښوونځي کې مې د ځوانانو شعور راویښ کړ. زه اوس هم د دوی په یاد یم. ځینې وختونه په چم ګاونډ کې ګرځم راګرځم او هغه هلکان وینم، چې له ما یې زده کړې کړې. ځینې یې اوس تخنیکران دي او ماته د استاد په نوم غږ کوي او ان دا چې د درناوي په پار سرونه راته ټیټوي.



د توماکو په یوه لېرې پراته کلي کې یوه باراني ورځ. آنځور:دایګو لاګوس/کولمبیا ملي پوهنتون

**په ۷۰مه ز لسیزه کې موږ ته دا راوښودل شول، چې په کمونېستي چین کې څه تېرېږي. موږ د مائو او فیډل کاسټرو له لوري لیکل شوي کتابګوټي ولوستل**

زه تر ۸۰مې ز لسیزې ښوونکی وم. بیا بېرته کلي ته راستون شوم، خو ومې لیدل چې وضعیت سم نه و. ډېر شیان کم و. د خلکو ژوند ښه نه و. لومړی کار چې ما یې پر کولو ټینګار وکړ، هغه دا و چې موږ ټول باید پرمختللی کورونه جوړ کړو. ما د خپل کور په جوړولو پیل وکړ، وروسته نورو خلکو هم له ما په تقلید د کورونو جوړول پیل کړل. دوی په دې پوه شول، چې کورونه زموږ د چاپېریال یوه برخه ده او باید خپل ځانونه له هوا او باران په کې خوندي کړو. پخوا کورونه له کاغذي کارتنونو جوړ شوي وو. په ۱۹۸۲ز کال کې ما د خپل کلي یوه سرشمېرنه وکړه، که څه هم د کورنیو شمېر ډېر زیات و، خو د هرچا د کور بام په کارتنونو پوښل شوی و. په نورو سیمو کې بیا د کورونو چتونه په پرووړو پوښل شوي وو. پروړه ډېره ښه وه، ځکه ګرمي یې جذبوله خو موږ کانو په ۱۵ ورځو کې هغه چتونه له منځه وړل. ما ټولو ته دا وویل چې کورونه باید ډېر راحت وي او د ټول ژوند لپاره په پام کې ونیول شي.

د کورونو په اړه په خلکو پسې تر شله کېدو وروسته، ما بله مبارزه پیل کړه. زموږ کلي اوبه او برېښنا نه لرل. ما او زما یو ملګري د برېښنا لپاره جنراتورونه واخېستل، خو خلک زموږ په اړه شکمن و او له موږ سره یې کنجوسي کوله. ما خپل ملګري ته وویل، راځه چې یو څه وکړو، څو ټول کلی له برېښنا برخمن شي. ټاکنې رارسیږي، او ته پوهېږې چې نوماند څوک دی، هو بیټو نوماند دی. موږ ۱۸۰ کورنۍ یو ځای راټولې کړې، خپل نظر مو له دوی سره شریک کړ. موږ دوی ته وویل چې موږ د کلي لپاره پاور پلانټ غواړو، او د دې غوښتنه له بیټو کولای شو، ځکه د ټاکنو موسم رارسېدلی وو. دا چې بیټو له ممکنه خوځښت خبر شو، نو موږ ته یې وویل چې دا کار ونه کړو، مګر د تېلو یوې کمپنۍ موږ ته بیا پلانټ راکړ. دا ژمنه د سیاسونو نورو ژمنو په څېر نه وه. ولس پلانټ ترلاسه کړ. پلانټ له ټاکنو وړاندې کلي ته راورسېده. بیا مو د برېښنا کېبلونو ته اړتیا لرله. ما له یو چا سره خبرې وکړې او ترې ومې غوښتل چې د کېبلونو او ټرانسفارمرونو لپاره مرسته راسره وکړي. خلکو پایې جوړې کړې. موږ ونې په برېښنایي اړو او تبرونو غوڅې کړې. د کمپنۍ یو تخنیکي ځوان په نصبولو کې راسره مرسته وکړه. په دې سره، زموږ کلي ته د خپلې سیمې له ونو د جوړو شویو پایو په واسطه په لومړي ځل رڼاګانې راغلې.

د توریپوستو وګړو د حقونو لپاره مبارزه دومره اسان کار نه دی. له همدې وجې زه د هاوانا د سولې تړون ته ډېر خوښ وم. په سوله کې برېښنا، اوبو، روغتیا او زده کړو ته لاسرسی رامنځ ته کېږي او سیمه پرمختګ کوي. ښایي موږ دا شیان وړیا ترلاسه نه کړو، خو لږ تر لږه د پروژو غوښتنه کولای شوی او پلي کېدلای شي او خلک ګټه ترې اخېستلای شي. دا هغه څه دي، چې تفاوت رامنځ ته کوي. خو سوله یوه ډرامه وه. شوراګانې او غړي یې د ناقانونه محصولاتو له بدیل پروګرام سره په دې باور یو ځای شول، چې ډېر څه به بدلون وکړي. که څه هم ډېرو شیانو بدلون کړی، د بیلګې په بڼه د کولمبیا خلکو وسله والې انقلابي ملېشې له دې ځایه تللي، خو اوس دلته نور یاغیان دي، چې خپلې وسلې پر ځمکه نه ږدي یا هم بیا ځل وسله وال شوي دي. موږ د ناقانونه محصولاتو د بدیل لپاره کار کوو، په خپله خوښه د کوکا فصلونه د بدیل په مقابل کې اړوو، په بدل کې یې یوه ممکنه تولیدي پروژه، سرکونه او د بازارموندنې غوښتنې کوو، خو له بده مرغه وسله والو بیاځل سر راپورته کړی او غواړي له کوکا دفاع وکړي. دا ډېره بدمرغي ده!

**د توریپوستو وګړو د حقونو لپاره مبارزه دومره اسان کار نه دی. له همدې وجې زه د هاوانا د سولې تړون ته ډېر خوښ وم. په سوله کې برېښنا، اوبو، روغتیا او زده کړو ته لاسرسی زیاتیږي.**

د بدیل پروګرام له ګواښ سره مخ دی. زه په دې باور یم، چې دا پروګرام له پیله د بر کمزوری طرحه شوی و. داسې ویل کېږي، چې یو کس چې ټول ژوند یې په کوکا ولاړ و، شپږ یا اته میاشتې خپل ټول محصول له منځه یوړ، خو دولت د ژمنه شویو ۱۲ میلیونو پیزو( کولمبیایي روپیو ) له ډلې یوازې دوه میلیونه ورکړې. دا هغه څه دي، چې دولت یې د محصولاتو اړولو په بدل کې خلکو ته ورکوي: پیسې! هو پیسې! خو پیسې ځي او راځي، مګر دوام نه کوي. زه فکر کوم او له ځان سره وایم، چې موږ لومړی ولې سره په خپلو کې ناسته ونه کړو او د دې پروګرام لپاره په ګډه پلان جوړ نه کړو؟ د بېلګې په بڼه په دې وغږېږو، چې تاسو ښاغلی کروندګر څه غواړئ وکړئ او څه ډول یې سوداګري کولای شو؟ راځئ، چې کوکا نور لوکر کمپنۍ[24] ته ورنه کړو، چې څنګه یې زړه وغواړي په هماغه اندازه پیسې په بدل کې راته راکړي. فرض کړئ، چې موږ په ډېره اندازه کوکا تولیدوو او بیا دوی د یو کیلو قیمت ۳،۰۰۰ تر ۴،۰۰۰ پیزو(کولمبیایي پیسو ) ته راټیټوي! راځئ چې د کوکا د یو کیلو قیمت ۱۰،۰۰۰ پیزو ته ورسوو. احیاناً که قیمت تر دې کچې وای، نو هر یو به د کوکا کرلو ته لاسونه راښه وهلي وای، خلکو کوکا ته شا اړولې او حکومت هم دوه میلیونه نه ورکوي! ځکه که چېرې قیمتونه ښه وي او د کوکا ښه پالنه وشي، نو ګټه یې ډېره وي. خو دا کار هېڅ شوی نه دی. هېڅ شی نه دی شوي. دوی له خلکو کوکا واخېسته او اوس د ژوند تېرولو هېڅ وسیله په لاس کې نه لري.

بدیل پروګرام د هغو مشرانو لپاره غوره ښوروا ده، چې دا پروګرام په خپله غاړه اخلي او په حکومت باور لري. موږ په خپله خاوره کې بې واکه شوي او شړل شوي یو. دا پروګرام له ناکامۍ سره مخ دی، او موږ باید له هغو خلکو سره مخ شو چې خپل ژوند او کوکا دواړه یې قرباني کړل څو د حکومت له غوښتنو سره ځان عیار کړي. له همدې وجې کله چې خرابي رامنځ ته کېږي، دوی مشران وژني او د دې بدیل پروګرام له امله ټولې چارې د خرابۍ خوا ته روانې دي – پړه پر موږ راچول کېږي.

**په توماکو کې سوله وروستۍ سلګۍ وهي. هره ورځ نوي ډلې رارسیږي. دلته اوس داسې خلک او ډلې دي، چې هېڅوک یو بل نه پېژني. په دا سیمه کې د سولې ټینګښت د حکومت له لوري له معتبرو تضمینونو پرته ناممکن دی.**

په توماکو کې سوله وروستۍ سلګۍ وهي. هره ورځ نوي ډلې رارسیږي. دلته اوس داسې خلک او ډلې دي، چې هېڅوک یو بل نه پېژني. په دا سیمه کې د سولې ټینګښت د حکومت له لوري له معتبرو تضمینونو پرته ناممکن دی. دولت په متفاوت ډول د کارونو ترسره کولو فرصت له لاسه ورکړ، یا ښایي دولت هېڅ وخت بایلونکی نه وي، ځکه ښایي دا د دوی په ګټه وي، چې ځینې کارونه له ناکامۍ سره مخ شي. په داسې حال کې چې زموږ لپاره د دې پروسې ناکامي په بله بیه تمامیږي: زموږ لپاره د ژوند په بیه تمامیږي. داسې ښکاري، چې توریوستي خلک یې په جګړه او سوله دواړو کې بایلي.



د کوکا ونې. آنځور: دایګو لاګوش/ د کولمبیا ملي پوهنتون

# د میانمار پولو ته له څېرمه سیمو

## د ژوند کیسې









لاشيو ښار، شمالي شان ايالت. انځور: د شان هيرالډ خبري



# د نشه يي توکو له کبله د متضررې کورنۍ د يوازېنۍ ډوډۍ پيدا کوونکي په توګه ژوند

دا کيسه نانګ خونګ[۳۵] ويلي او سای انګ هلا[۳۶] اصلاح کړې

دا د نانګ خونګ په نوم د هغې ښځې کيسه ده، چې کورنۍ يې د نشه يي توکو له کبله متضرره شوې ده او نوموړې بله لاره نه لرله، پرته له دې چې خپله د کورنۍ لپاره د توښې چمتو کولو ته ملا وتړي. نوموړې د ميانمار له شمالي **ايالت شان** سره تړاو لري. شان ايالت له چين، تايلنډ او لائوس سره ګډه پوله لري. د اټکل له مخې يادا ايالت شاوخوا شپږ ميليونه نفوس لري، چې له بېلا بېلو قومونو جوړ شوی او زياتره يې په کليوالي سيمو کې اوسيږي. په ۱۹۵۰مه زلسيزه کې د ميانمار نوي خپلواک شوي حکومت په شان ايالت کې د قدرت ځايي جزيرې د مرکزي دولت د پياوړتيا په موخه له منځه يوړې، خو د ميانمار حکومت په دې کې پاتې راغی څو داسې فعالې اداري رامنځ ته کړي، چې هغو خلکو ته په غبرګ کې ځای ورکړي، چې د همدې هڅو په ترڅ کې له واک او دندې ګوښه شوي وو. دې کار ټولنيز، سياسي او اقتصادي مخالفتونه راپورته کړل، چې په ۱۹۶۲ز کال کې د نظامي کودتا په ترڅ کې د اقتدارپاله دولت تر تاسيس وروسته يې لا زور واخيست او د بېلا بېلو ډلو او جګړې کرښو په ګډون يې د جګړو اور ته پوکی ورکړ. په ۱۹۹۰يمه زلسيزه کې مرکزي حکومت په شمالي او شرقي شان کې له وسله والو ډلو سره د اوربند پر سر هوکړې ته ورسېده، خو په سويلي شان ايالت کې يې د هغو ډلو په وړاندې د بلواګرۍ ضد مبارزې ګړندۍ کړې، چې اوربند ورسره نه و شوی. د دغو ډزبنديو پرمهال هم پولې ته د څېرمه پرتو سيمو ګړو د جګړو او ځايي شخړو، نظامي ګرۍ او د ځمکو غصب سره له تړلو ناامنيو کړېدل. د نشه يي توکو کاروبار، چې له ۱۹۵۰ز لسيزې راوروسته په شان ايالت کې د جګړې اصلي لامل دی، د ډزبنديو پرمهال يې هم غوړېدا اړله. شان ايالت د ميانمار ۹۰ سلنه ترياک توليدوي او د څو وروستيو لسيزو په ترڅ کې د ميتافيتامينو په لوی توليدي مرکز هم بدل شوی. که څه هم له ډېر وخت راپه دېخوا ترياک د طبي، فرهنګي او تفريحي موخو لپاره کارول کېږي، خو په شان ايالت کې ځايي وګړي د نشه يي توکو له ورځ تر بلې بدلېدونکو بڼو په ژوره توګه اغېزمن شوي دي. د ځوانانو له خوا ورځ تر بلې د نشه يي توکو د کارولو زياتوالي پر کورنيو او ولسونو سخت فشار راوړی او د يو موجوده ګواښ په سترګه ورته کتل کېږي. هيلې داوې، چې په ۲۰۱۱ز کال کې په ملي کچه د سولې خبرې اترې به د يو بدلون لپاره فرصت رامنځ ته کړي، خو هر څه برعکس شول او پرځای يې وسله والې جګړې او د نشه يي توکو زيانونو په تېره لسيزه کې په شان ايالت کې لا پسې زيات شول او داسې ښکاري، چې د ۲۰۲۱ز کال د فبرورۍ مياشتې نظامي کودتا له امله د رامنځ ته شوي روان سياسي بحران په لړ کې به لا نور پسې زيات شي.

زه له نشه يي توکو تر پوزې راغلې يم. ان تر دې چې نه غواړم نوم يې واورم. دا خبرې له دې وجې کوم، چې کورنۍ مې پر نشه يي توکو د روږدي کېدو له کبله سخته متضرره شوې ده.

زه د څلورو وروڼو مشره خور يم. درې وروڼه مې په نشه يي توکو روږدي دي. اوسمهال، مور په دې نه پوهېږو، چې لومړی ځوان ورور مې چېرته دی. هغه له خلکو پيسې يوړې او دا ځای يې پرېښود، ځکه د دې جوګه نه و، چې خپل پورونه بېرته اداء کړي. دويم ورور مې په ايډز ناروغۍ اخته دی. درېيم ورو مې هم په نشه يي توکو روږدی دی، خو روږدي کېدل يې تر جدي حالت نه دي رسېدلي. له دې وجې مې هغه او زما کوچنی ورور تاوونګي ته ولېږل. مور له دې وېرېدو، چې که چېرې دوی هم زمونږ په ولسونو کې پاتې شي نو دوی به هم په نشه يي توکو روږدي شي.

> زه د څلورو وروڼو مشره خور يم. درې وروڼه مې په نشه يي توکو روږدي دي.

زه او کورنۍ مې د شان ايالت په شمال کې په يوه لېرې پراته کلي کې اوسېږو. زمونږ په ټولنه کې د نورو خلکو په څېر زمونږ تکيه هم يوازې په موسمي کروندو ده. په تېرو وختونو کې هغه مهال چې پلار مې ژوندی و، کورنۍ مو پياوړې وه او ټول له ښې روغتيا برخمن وو! هغه وخت زمونږ کورنۍ ډېره نېکمرغه وه. زما ټول وروڼه او خويندې به ښوونځي ته تلل، خو له ما درېيو کوچنيو وروڼو ښوونځی پرېښود، ځکه هېڅکله يې له درسونو سره لېوالتيا نه لرله. دوی به ويل، چې ان که له ښوونځي فارغ هم شي دوی ته ګټه نه لري. زه يوازېنۍ هغه وم چې ښوونځی مې بشپړ کړ. ما ډېرې هلې ځلې وکړې، څو د پوهنتون له لارې خپل ځان ته ملاتړ پيدا کړم

او بالاخره له پوهنتون فارغه شوم. کوچنۍ ورور مې اوس هم په زده کړو بوخت دی.

زموږ په کلي کې هره کورنۍ داسې کسان لري، چې په نشه يي توکي روږدي دي، يوازې شاوخوا پنځه کورنۍ دي چې کوم غړی يې نشه يي توکي نه کاروي. زموږ په ټولنه کې نشه يي توکي په ډېرې اسانۍ او ارزانۍ موندل کېږي. درې ټابليټ شاوخوا ۲۰۰ ميانماري کيات يعنې له ۵۰ امريکايي سنټو کم قيمت لري. يوازې هغه وخت چې له پوهنتون راوګرځېدم، زه په دې پوه شوم چې زما د ورونو روږدي کېدل څومره تر جدي کچې رسېدلي. دوی د هروئينو او امفيتامينو په ګډون هر ډول نشه يي توکي کارول. زما مور او پلار پرې خبر و، خو مداخله يې نه شوه کولای چې دوی له دې کاره راوګرځوي.

زه د خپلو ورونو لپاره ډېره خواشيني يم. زه فکر نه کوم، چې دوی دې په خپله دا غوښتي وي، څو د نشه يي توکو قرباني شي، خو زما اټکل دا دی چې دوی نه دي توانېدلي څو د خپلو همزولو د فشار په وړاندې مقاومت وکړي. زما په اند بل دليل چې ځوانان د نشه يي توکو کارولو ته مخه کوي، د خپلې کورنۍ د هغو غړو ناوړه اغېز دی چې نشه يي توکي کاروي. دا ډول خلک زموږ په شاوخوا کې هرځای دي. ما داسې پلرونه يا لويان ليدلي، چې له خپلو کوچنيانو د سيګرټو راوړلو غوښتنه کوي. دا تنکيو ماشومانو او ځوانانو ته د سيګرټو او نشه يي توکو په اړه بنه حس ورکوي. د معمول له مخې موږ داسې فکر کوو، چې هرڅه چې زموږ پلرونه، لويان او مشران وايي سم او ښه دي. موږ ته دا رانبودل شوي، چې مشرانو په تېره بيا خپلو ميندو او پلرونو ته چې زموږ لومړني ښوونکي بلل کېږي، غوږ ونيسو. ښايي زموږ په ټولنه کې دې رايج اند د نشه يي توکو په روږدي کېدلو کې زما له ورونو سره مرسته کړې وي.

په لومړيو کې زما ورونه د دې جوګه وو، چې د نشه يي توکو کارول له خپلو عوايدو سره برابر کړي. وروسته يې بيا له کار سره د پخوا په څېر لېوالتيا نه وه. ځينې وختونه به يې کار ته شا اړوله او په غلاوو به يې پيل کاوه، څو نشه يي توکي پرې وپېري.

په لومړيو کې زما ورونه د دې جوګه وو، چې د نشه يي توکو کارول له خپلو عوايدو سره برابر کړي. وروسته يې بيا له کار سره د پخوا په څېر لېوالتيا نه وه. ځينې وختونه به يې کار ته شا اړوله او په غلاوو به يې پيل کاوه، څو نشه يي توکي پرې وپېري.

زه د ماندالې په نوم يوه بله سيمه کې پوهنتون ته لاړم. هغه وخت ډېر فرصت لاس ته نه دی راغلی، چې کور ته راشم او په دې نه خبرېدم، چې هلته په کور کلي مې څه تېرېدل. زما کوچني ورونه هلته له مور او پلار سره اوسېدل او د کروندې کارونه به يې کول.

تر پوهنتون وروسته کور ته راستنه شوم. دوو ورونو مې دندې پيدا کړې وې، دوی به چين ته مالداري لېږدوله. دا وخت ۲۰۱۲ او ۲۰۱۳ زېږديز کلونه وو او د پولې دواړو غاړو د مالدارۍ سوداګرۍ ډېر ښه کاروبار و. هر سفر له ۱۰ تر ۲۰ ورځو وخت نيوه، خو ځينې وخت به يې تر دوو مياشتو وخت هم نيوه. ما هېڅ وخت دوی نه دي ليدلي، چې ګټل شوي پيسې دې کور ته راوړي. زما په اند دوی ټولو ګټلي پيسې په نشه يي توکو لګولې. دوی يوازې هغه وخت کور ته راستانه شول، چې ټولې پيسې يې ختمې کړې وې. په هغه وخت کې زما لومړي مشر خو له ما کوچني ورور له يوې داسې ښځې سره واده وکړ، چې زما له مور يې هم عمر لوی و! زه ګونګۍ ورته پاتې شوم، د ويلو لپاره مې هېڅ نه لرل.

زموږ پلار هم د بوډاتوب خوا ته روان و او ډېرې پيسې يې نه شوې ګټلای. له دې وجې د ټولې کورنۍ د لاسنيوي مسووليت زما په اوږو راپرېووت. ما په خپله سيمه کې له يوې غيردولتي ادارې سره کار کاوه، خو زما عوايد هم ډېر ښه نه وو. په هر حال، ما بايد د خپلې کورنۍ د لاسنيوي لپاره هلې ځلې کړې وای. بله لاره نه وه.

زما د ورونو وضعيت هم په تدريجي ډول د خرابېدو خوا ته روان و. دوی به له خلکو فرنيچرونه، موټرسايکل، موټر او هرڅه پټول. ان تر دې چې له پوليسو او عسکرو به يې هم موټرسايکلونه پټول. زما ورونه په دې کيسه کې نه و، چې هغه شی څومره ارزښت لري، يوازې د هغه اندازه پيسو په بدل کې به يې ورکول چې نشه يي توکي به يې پرې اخېستلای شول. زياتره وخت به هغه خلک زموږ کور ته راتلل، چې دوی به ترې کوم شی غلا کړی و او د خسارې جبران غوښتنه به يې کوله. کله به چې دا کيسه پېښه شوه، نو زه يوازېنی کس وم، چې بايد له خلکو مې بښنه غوښتې وای او دوی ته مې پيسې ورکړې وای، ان ځينې وختونه خو به مې دوی ته سوال او زارۍ کولې چې له موضوع تېر شي او پوليسيو يا ځايي چارواکو سره يې شريکه نه کړي.


په شمالي شان ايالت کې ضايع شوي سيرنجونه. آنځور: د شان هيرالډ خبري اژانس

ما بايد د خپل ځيرک ټليفون په ګډون ټول قيمتي توکي او وسايل پلورلي وای، څو هغو خلکو ته بېرته پيسې ورکړم، چې ورونو مې غلاء ترې کړي وه. ما به د بادامو پلورلو په څېر د پيسو ګټلو بديل لارې پيدا کولې. ځينې وختونه مې ان بايد خپل د غاړې کالي هم پلورلي وای. ما به له خپلو ملګرو پيسې په پور اخېستې. زه اړ وم چې بايد خلکو ته مې لاس نيولی وای او ژمنه مې ورسره کړې وای، چې کله د مياشتې په پای کې تنخوا واخلم نو بېرته يې درکوم.



د شمالي شان ایالت په سینوي کې د ځایي مدني ټولنو سازمانانو له لوري د سیرنج وېش. انځور: د شان هیرالډ خبري آژانس

ځینو ملګرو به مې ان دا خبره کوله چې ما نور ټول کارونه کړي خو یوازېنی کار چې ما نه دی کړی، هغه بدلمني وه، له نېکه مرغه چې دا کار مې نه دی کړی. دوی په حقه وو. زه ډېره نېکمرغه یم چې دا شیان مې ښه ډول مدیریت کړي، ځو د پیسو ګټلو بدیل لارې پیدا کړم، ګني زما ژوند به ډېر له بدمرغیو ډک وو. ځینې وختونه به خپلو ورونو هم د پیسو غوښتنه رانه کوله او کله مې چې پیسې نه لرلې، نو دوی به بد رد راته ویل او لانجې به یې کولې. ځینې وختونه به د پورونو دا بار تر دې کچې دروند شو، چې زموږ له کورنۍ سره د وریژو اخېستلو پیسې هم نه پاتې کېدې. د ۲۰۱۳ او ۲۰۱۲ زیږدیزکلونو ترمنځ موږ ډېر بې خونده وختونه تېر کړل. دا اړینه نه وه، چې زه څومره پیسې ګټم او څومره زیار باسم، خو هغو پیسو زموږ لپاره بسنه نه کوله.

موږ ډېر خجالت او شرمېدلي وو. خلکو به زموږ په کورنۍ پسې بد رد ویل. دوی په ټوله کې زموږ پر کورنۍ اعتبار نه کاوه. د بېلګې په توګه که له کوم ګاونډي به څه شی نادرکه شو، نو زما ورونه به یې ملامتول او مستقیم به زموږ کور ته پسې راتلل ځو خپل شیان دلته ولټوي.

موږ ډېر خجالت او شرمېدلي وو. خلکو به زموږ په کورنۍ پسې بد رد ویل. دوی په ټوله کې زموږ پر کورنۍ اعتبار نه کاوه.

موږ نه پوهېدو چې له چا مرسته وغواړو او پر چا تکیه وکړو. هېڅ حکومت او اداري موږ ته دا ستونزې نه هوارولې، نو موږ باید په خپله یوه لاره پیدا کړې وای. موږ د کلي مشران او سپین ږیري لرو، خو د نشه یي توکو پلور او کارولو موضوعاتو په برخه کې د دوی هم ډېر کم څه له وس پوره دي. ان که چېرې خلکو دوی د نشه یي توکو پلورلو او کارولو له موضوعاتو خبر هم کړي، کوم اقدام نه شي کولای.

موږ نه پوهېدو چې له چا مرسته وغواړو او پر چا تکیه وکړو. هېڅ حکومت او اداري موږ ته دا ستونزې نه هوارولې، نو موږ باید په خپله یوه لاره پیدا کړې وای.

د نشه یي توکو له کارونې د مخنیوي په برخه کې یو شمېر ولسي هڅې ترسره کېدې. زما یو شمېر ملګرو به ولسي کمپاینونه ترسره کول، په نشه یي توکو روږدي کسان به یې نیول او بیا یې پولیسو یا ځایي چارواکو ته سپارل، ځو د درملنې مرکزونو ته یې ولېږدوي، خو پولیسو یا ځایي چارواکو به ویل چې دوی د درملنې لپاره کوم کار نه شي کولای، نو زما ملګري هم اړ و چې دوی پرېږدي ځو بېرته لاړ شي.

پولیس او ځایي چارواکي یوازې دې ته خوښ وي، چې د شتمنو کورنیو روږدي کسان ونیسي. یوازې شتمنې کورنۍ د دې جوګه دي، چې پولیسو ته بډې ورکړي ځو د دوی زامن /لورګانې خوشي کړي. موږ له ځایي چارواکو او پولیسو هېڅ دا تمه نه لرو، چې دوی دې په ټولنه کې د نشه یي توکو پلورونکو او روږدو کسانو مخه ونیسي. ځایي چارواکي او سیاستوال لېوالتیا نه لري، چې د دې ستونزې لپاره حل لاره پیدا کړي او له موږ سره مرسته وکړي. نو موږ په چا تکیه وکړو؟ موږ باید په خپله لاس په کار شو او یوه حل لاره پیدا کړو.

په ۲۰۱۷ز کال کې خبره شوم، چې یو وسله وال قومي سازمان پر نشه یي توکو د روږدو کسانو درملنه کوي. دا خبر مې له بېلا بېلو ځایي سازمانونو سره د خپلې کاري اړیکې له برکته واورېده، ښایي زیاتره خلک له دې درملنې خبر نه وي. راته وویل شول، چې په نشه یي توکو د روږدو کسانو لپاره په لاشیو کې د درملنې یو مرکز شته، خو د دې سیمې نوم مې پخوا هېڅکله نه و اورېدلی. دا هم له نشه یي توکو د روږدو کسانو د رغولو

مرکز نه و، بلکې هغوی ته به یې د سکون په موخه د ځاځکو درمل ورکول. زیاتره خلک په دې نه و خبر، چې هلته داسې امکانات موجود دي.

کله چې هلته لاړ، نو زما د ورور ازموینه یې وکړه او دا معلومه شوه چې ورور مې ایډز لري. هغه د ایډز درملنې ته اړتیا لرله. زموږ لپاره یوه لاره دا وه، چې د درملنې لپاره یې تایلنډ ته بوځو، خو ورور مې پېژند کارت نه درلود او درملنې یې هم ډېر لګښت درلود، نو موږ دا کار ونه شو کولای.

له یاد مرکز سره په اړیکه کې شوم او د خپل ورور د درملنې غوښتنه مې ترې وکړه. کله چې هلته لاړ، نو زما د ورور ازموینه یې وکړه او دا معلومه شوه چې ورور مې ایډز لري. هغه د ایډز درملنې ته اړتیا لرله. زموږ لپاره یوه لاره دا وه، چې د درملنې لپاره یې تایلنډ ته بوځو، خو ورور مې پېژند کارت نه درلود او درملنې یې هم ډېر لګښت درلود، نو موږ دا کار ونه شو کولای. موږ ډېر ناهیلې وو. ما بله هېڅ لاره نه لرله، پرته له دې چې د شان په سویل کې د ځوانانو له یو سازمان د مرستې غوښتنه وکړم. ما دوی ته زارۍ وکړې، چې زما د ورور ملتیا وکړي او ژمنه مې وکړه چې د درملنې په ګډون به ټول لګښتونه پرې کوم. یاد سازمان زما د ورور په وضعیت پوهېده نو خبره یې ومنله. ورور مې تر اوسه هم هلته تر درملنې لاندې دی.

زما لومړی تر نورو مشر خو له ما کشر ورور په ۲۰۱۴ز کال کې ونیول شو او په تاونګي کې د لای لون زندان ته واستول شو. تر هغې راوروسته موږ د نومو ړي د مرګ او ژوند په اړه هېڅ خبر نه لرو.

زما لومړی تر نورو مشر خو له ما کشر ورور په ۲۰۱۴ز کال کې ونیول شو او په تاونګي کې د لای لون زندان ته واستول شو. تر هغې راوروسته موږ د نوموړي د مرګ او ژوند په اړه هېڅ خبر نه لرو. کله چې په زندان کې و، موږ لیدو ته نشو ورتللای، ځکه د سفر لګښت ډېر لوړ و. دا چې موږ د خپلې کورنۍ د خوراک لپاره په کافي اندازه پیسې نه لرلې، نو هلته تګ خو لېرې خبره وه. په هر حال هغه باید د خپلو ناسمو کړنو بیه په خپله پرې کړي.

ما خپل دوه نور ورونه له ځان سره تاونګي ته راوستل، چېرته چې او سمهال په کار بوخته یم. که چېرې ما خپل ورونه په خپل کلي کې پرېښودي وای، نو دوی هم په نشو روږدي کېدل. زما درېیم کوچنی ورور له همدې اداري سره مرسته کوي، چې زه کار ورسره کوم. هغه اوس نور نشه یي توکي نه کاروي. له مشر ورور سره مې یو ځای په شپه غالي(لیله) کې اوسیږي او ښوونځي ته هم ځي. یو ځلې مې له هغه ورور، چې ایډز لري، وغوښتل چې که غواړې بېرته کور ته راشه، هغه په ځواب کې وویل: زه د دوی له لیدلو ستړی یم. ما ریشخند کړ، ورته ومې ویل، چې: ته د دوی له لیدلو ستړی شوی یې، که هغوی نه غواړي چې تا وګوري؟

زه غواړم د خپلې کورنۍ د هلو ځلو او کړاوونو تجربه له نورو سره هم شریکه کړم، څو نور پر هغه لاره رانشي، چې موږ پرې راغلو. زه دعا کوم او دا هیله لرم، چې له هغو ستونزو او کړاوونو سره بیا مخ نه شم، کومې چې ما تېرې کړې دي.

په کلي کې زموږ کور اوس تش پروت دی. کورنۍ مې نشه یي توکو سره جلا کړه. موږ ټول اوس په بېلو بېلو ځایونو کې اوسېږو. مور او پلار مې یوې بلې سیمې ته له خپلوانو کره لاړل او هلته اوسیږي. یوازې کله کله د یوې شپې لپاره زما مور او پلار کلي ته ځي.

هغه کړاوونه او ستونزې چې موږ پر نشه یي توکو د خپلو ورونو د روږدي کېدو له وجې تېرې کړي، اوس هم موږ ځوروي. دا یوه ډېره لویه ستونزه ده او مخنیوی یې ډېر ننګونکی کار دی. ما ته نور هېڅ کار نه دی راپاتې، یوازې له ډارما (بودایي لارښوونو کتاب) سره خپل ځان ته سکون پیدا کوم او له ځان سره دا وایم چې یوازې زه نه یم چې دا ستونزې او کړاوونه مې تېر کړي دي.

زه غواړم د خپلې کورنۍ د هلو ځلو او کړاوونو تجربه له نورو سره هم شریکه کړم، څو نور پر هغه لاره رانشي، چې موږ پرې راغلو. زه دعا کوم او دا هیله لرم، چې له هغو ستونزو او کړاوونو سره بیا مخ نه شم، کومې چې ما تېرې کړې دي.


د شمالي شان ایالت په سینوي کې د ځايي مدني ټولنو سازمانانو له لوري د سیرنج وېش. انځور: د شان هیرالډ خبري آژانس



میوز بنارګوټي ته د ننوتلو لار: آنځور د شان هرالډ خري آژانس (SHAN)



# دوولس کاله زندان هغه بیه وه، چې ما د نشه یي توکو د کارولو په بدل کې پرې کړه

## دا کیسه د سای سارم[37] له لوري ویل شوي او خام پهو[38] اصلاح کړي

این داستان مردی است که مصرف مواد مخدر او را ۱۲ سال در زندان انداخت. او اهل ایالت شان در شمال میانمار است. ایالت شان با چین، تایلند و لائوس سرحد مشترک دارد. بر اساس برآوردها، جمعیت این ایالت شش میلیون نفر است که از اقوام مختلف تشکیل می‌شود و اکثریت آنها در مناطق روستایی زندگی می‌کنند. در دهه ۱۹۵۰، دولت تازه استقلال یافته میانمار به عنوان بخشی از تلاش‌های خود برای متمرکز سازی کنترل [قدرت] ساختارهای قدرت محلی را در ایالت شان برچید، اما نتوانست برای جایگزینی نهادهایی که حذف کرده بود، نهادهای کارآمد ایجاد کند. این امر باعث نارضایتی‌های اجتماعی، سیاسی و اقتصادی شد. نارضایتی‌ها پس از کودتای نظامی ۱۹۶۲ که یک دولت استبدادی ایجاد کرد، افزایش یافت و به درگیری‌های مسلحانه با چندین گروه مسلح و تشدید اختلافات دامن زد. از دهه ۱۹۹۰ به بعد، دولت مرکزی ترتیبات آتش بس را با گروه‌های مسلح در شمال و شرق ایالت شان به وجود آورد، در حالی که مبارزه ضد شورش را در مرکز و جنوب ایالت شان علیه گروه‌های خارج از غیر آتش بس، تشدید کرد. حتی در مناطق و مقاطع زمانی شامل آتش‌بس «موثر»، مردم مناطق سرحدی از اشکال متعدد خشونت و بدتر شدن ناامنی معیشتی رنج می‌بردند که ناشی از درگیری‌های محلی، نظامی‌سازی وضعیت و سلب مالکیت زمین بود. تجارت مواد مخدر، که از دهه ۱۹۵۰ در اقتصاد جنگی در ایالت شان نقش محوری داشته است، در دوران آتش‌بس به رشد خود ادامه داد. ایالت شان بیش از ۹۰ درصد تریاک میانمار را تولید می‌کند و در چند دهه گذشته به یکی از تولیدکنندگان عمده مت‌آمفتامین نیز تبدیل شده است. اگرچه مدت‌هاست تریاک برای مقاصد طبی، فرهنگی و تفریحی استفاده می‌شده است، جوامع محلی در ایالت شان عمیقاً تحت تأثیر الگوهای تغییر مصرف مواد مخدر قرار گرفته‌اند. افزایش مصرف مواد مخدر - به ویژه در بین جوانان - فشارهای شدیدی بر خانواده‌ها و جوامع وارد کرده است و به عنوان یک تهدید وجودی تلقی می‌شود. امید می‌رفت که روند صلح ملی که در سال ۲۰۱۱ راه اندازی شد، فرصتی برای تغییر فراهم کند. در عوض، درگیری‌های مسلحانه و آسیب‌های ناشی از مواد مخدر در بسیاری از مناطق ایالت شان در دهه گذشته افزایش یافته است و احتمالاً پس از بحران سیاسی جاری که بر اثر کودتای نظامی فبروری ۲۰۲۱ شکل گرفت، بدتر می‌شود.

نوم مې سای سارم دی او د نشه یي توکو د لرلو او کارولو له کبله په ۱۲ کاله بند محکوم شوم. ما د خپل ژوند ځلورمه برخه په زندان کې تېره کړې ده. هغه دوولس کلونه زما د ژوند تر ټولو بې خونده وختونه وو، ځکه زه ته له راتېرو خلکو، له خپلې لور، مېرمنې او خپلوانو جدا وم.

د زندان کلونو پرمهال مې داسې احساس کاوه، چې زه په تیارو کې اوسېږم او خپل کور ته به د ستنېدو لاره هم پیدا نه کړم. ځینې وختونه به د مرګ سوچونو زما پر ذهن غلبه وکړه، خو ما یې په مقابل کې مقاومت وکړ، هغه ترخې شپې مې وزغملې او بالاخره ژوندی ترې راووتم.

په زندان کې به چې کله هم اندېښمن وم او داسې به مې احساسوله چې ټولې هیلې مې له لاسه ورکړي، نو د خپلې لور آنځور ته به مې کتل او له ځان سره به مې دا ویل چې یوه ورځ به له زندان ووځم او د خپلې لورکۍ او مېرمنې مخونه به بیا وګورم.

**نوم مې سای سارم دی او د نشه یي توکو د لرلو او کارولو له کبله په ۱۲ کاله بند محکوم شوم. ما د خپل ژوند ځلورمه برخه په زندان کې تېره کړې ده.**

## د ځوانۍ پرمهال زما ژوند

زه د میوس یم او د شان ایالت په شمال کې د میانمار – چین ګډې پولې ته څېرمه رالوی شوی یم. په ۲۱ کلنۍ کې مې واده کړی او له واده دوه کاله وروسته مو لور پیدا شوه. دا چې زه د خپلې کورنۍ مشر وم، نو باید پیسې مې ګټلې وای او د خپلې مېرمنې او لور پالنه مې کړې وای، خو د پیسو ګټل هومره اسان کار نه و. نو د ۱۹۹۴ یا ۱۹۹۵ز کلونو په شاوخوا کې زه له یو کس سره کار کولو ته لاړم. هغه د قمار کاروبار درلود. زما دنده پیرودونکو ته د هرکلي او پالنې په برخه کې له رئیس سره مرسته کول و. حتماً، چېرته چې قمار وي، نو هلته نشه یي توکي هم وي. کله به چې قماربازانو پیسې بایللې، ځینو به نشه یي توکي پلورل چې د قمار لپاره ډېرې پیسې پیدا کړي. ځینې نورو به بیا د خپل تسکین لپاره نشه یي توکي کارول.

دا چې زه د خپلې کورنۍ مشر وم، نو باید پیسې مې ګټلې وای او د خپلې مېرمنې او لور پالنه مې کړې وای، خو د پیسو ګټل هومره اسان کار نه و. نو د ۱۹۹۴ یا ۱۹۹۵ز کلونو په شاوخوا کې زه له یو کس سره کار کولو ته لاړم. هغه د قمار کاروبار درلود.

د کار طبعیت ته په کتو زما ټول وخت هلته تېرېده، ان خوب او ډوډۍ هرڅه مې هلته وو، نو ما باید هغه شیان ورته راوړي وای چې د څه لپاره به یې لېږلم او هغه کارونه مې هم ترسره کړي وای، چې دوی یې غوښتنه کوله. بالاخره، دا چې عواید مې هم زیات و او خوی مې هم نارینه وو نو نشه یي توکو او مینې کولو ته مې مخه کړه.

وروسته مې یوه جینۍ پیدا کړه. بیا مې عواید هم کم شول او څه مې چې ګټل زما د کورنۍ لپاره یې بسنه نه کوله. حکومت هم د قمارځایونو له منځه وړل پیل کړل او ټول یې وتړل. زه د خپلو عوایدو د کمېدو او کورنۍ مسوولیتونو له وجې ډېر اند ېښمن وم، نو د دې لپاره چې له دې اند ېښنو ځان او ذهن خوشي کړم، نشه یي توکو مې مخه کړه.

حکومت هم د قمارځایونو له منځه وړل پیل کړل او ټول یې وتړل. زه د خپلو عوایدو د کمېدو او کورنۍ مسوولیتونو له وجې ډېر اند ېښمن وم، نو د دې لپاره چې له دې اند ېښنو ځان او ذهن خوشي کړم، نشه یي توکو مې مخه کړه.

خو نشه یي توکو به یوازې د لنډمهال لپاره زما اند ېښنې راکمولې. ورو ورو زه متوجه شوم، چې روږدی شوی یم. که څه هم ما په کلکه غوښتل چې نور یې بس کړم، خو ومې نشول کولای او داسې هېڅوک نه و چې ورشم او ماته مشوره راکړي. ما خپل ځان بایللی و. لنډه دا چې د ګړنګ او پړانګ ترمنځ راګیر وم. له یوې خوا سخت روږدی وم او له بلې خوا مې د خپلې کورنۍ د پاللو مسوولیت درلود. زه په دې پوهېدم، چې له ما پرته بل هېڅوک نه دي ملامت! زه هېڅ نه یم اړ کړی، چې ډېرې پیسې وګټم، ان مور او پلار او ښځې مې هم د ډېرو پیسو ګټلو راته نه ویل، خو بیا هم ما خپل ځان له نشه یي توکو نشو ژغورلای. که چېرې مې نشه یي توکي نه کارولای، نو هېڅ مې کار ته زړه نه کېده.

وروسته زما د کورنۍ غړي او زما شاوخوا خلک په دې پوه شول، چې زه نشه توکي کاروم. دوی له ما وغوښتل چې د خپل ځان درملنه وکړم. ډېر ځله زه خپل مشر ورور د درملنې لپاره بوتلم، خو اوبه له ورخه تېرې وې.

وروسته زما د کورنۍ غړي او زما شاوخوا خلک په دې پوه شول، چې زه نشه توکي کاروم. دوی له ما وغوښتل چې د خپل ځان درملنه وکړم. ډېر ځله زه خپل مشر ورور د درملنې لپاره بوتلم، خو اوبه له ورخه تېرې وې.

په لومړیو کې ما یوازې خاکو (ترياک چې له وچ ګاتو کولا سره ګډ شوي وي. ګاتو کولا یو ډول بوټی دی، چې په طبابت کې کارول کېږي) کارول. وروسته د خاکو موندل ډېر ستونزمن و، نو ما هم هروئینو ته مخه کړه. په پیل کې به زما ملګري هروئین له تنباکو سره ګډول، نو ماته معلومه شوه، چې زه تر څکولو وروسته د سکون او ارامی احساس کوم.

په پیل کې مې د ناوړه اغېزو او جانبي عوارضو په اړه فکر نه و کړی، خو ورو ورو پرې پوه شوم. دوې میاشتې وروسته، زه پوه شوم چې سخت پرې روږدی شوی یم. د خاکو یوې چوټې قیمت ۵۰۰ کیات وو، خو د هروئینو همدا مقدار مې په ۲۰۰ اخېستلای شو. نو د خاکو پرځای مې د هروئینو کارول پیل کړل.

که څه هم ما نشه یي توکي کارول، خو هېڅکله مې له خپلې کورنۍ یا مور او پلار د پیسو غوښتنه نه ده کړې او نه مې له چا غلا کړې ده. ما به د نشه یي توکو اخېستلو لپاره خپله لاره پیدا کوله. کله مې چې د قمار له کاروباري سره خپله دنده پرېښوده، نو د دې لپاره چې خپله مېرمن او ماشومان وپالم او نشه یي توکي وپېرم، نو د نشه یي توکو له یو کاروباري سره مې دنده پیل کړه. په لومړیو کې زما مشر ماته اجازه راکوله، چې یو څه اندازه نشه یي توکي ترې زه هم واخلم. خو تر دې وروسته مې د نشه یي توکو کارول لا پسې زیات شول. په پیل کې به مې هر ځل یوازې یوه کاشوغه هروئین کارول، خو وروسته دوې کاشوغې شول. بالاخره، خپل مشر له دندې وشړلم.

## زما نیول او بندي کېدل

په ۲۰۰۲ز کال کې مې یو ماښام له ځان سره یو څه نشه یي توکي راوړل چې له خپل ملګري سره یې وڅکوم. ما ډېر زیات څکلي و او دومره نشه وم، چې په هغه ورځ خو مې ان ونشول کولای بېرته کور ته راستون شوم (هغه وخت له یوې سیمې بلې ته د سرک له لارې محدود لاسرسی کېده). له بده مرغه، چې د نشه یي توکو په وړاندې د مبارزې له پولیسو سره مخ شوو. زه یې تلاشي کړم او یو څه اندازه هروئین یې راسره پیدا کړل. د دې ترڅنګ یې معاینه هم کړم او جوته شوه، چې هروئین کاروم.

د ناقانونه نشه یي توکو د لرلو او کارولو دواړو په تور ونیول شوم او د میوس محکمې ته یې بوتللم. محکمې ته مې وویل، چې ما یوازې نشه یي توکي کارولي، خو په پلور او قاچاق کې یې لاس نه لرم. ما باید د خپلې خبرې د تایید لپاره د خپلې ولسوالۍ له چارواکو یو وړاندیز راوړی وای. له دې وړاندیز سره بیا هم محکمې زه په ۱۲ کاله بند محکوم کړم.

وروسته زه زندان ته ولېږل شوم او زما یوه مشره خور زما لیدو ته راغله. ما ورته وویل، چې زما په اړه اند ېښنه مه کوه او ژاړه مه، زه بېرته راځم او تاسو سره به بیا یو ځای شم. زما خبره پرځای وه. زه ډاډه وم، چې دا وخت به راځي، چې له بند به خوشې کېږم او له خپلې کورنۍ سره به بېرته یو ځای کېږم.

> دا چې زما د بند موده ډېره اوږده وه، نو زه له ډېرو اندېښنو سره مخ شوم او داسې مې انګېرله، چې تولې هیلې مې په اوبو لاهو شوې. هېڅ شی مې له لاسه نه وو پوره. کور او کورنۍ مې ډېر یادېدل. زه ډاډه نه وم، چې کله به له زندان خوشې کېږم او ایا ژوندی به راوځم او که نه.

دا چې زما د بند موده ډېره اوږده وه، نو زه له ډېرو اندېښنو سره مخ شوم او داسې مې انګېرله، چې تولې هیلې مې په اوبو لاهو شوې. هېڅ شی مې له لاسه نه وو پوره. کور او کورنۍ مې ډېر یادېدل. زه ډاډه نه وم، چې کله به له زندان خوشې کېږم او ایا ژوندی به راوځم او که نه. زما له لاسه هېڅ نه وو پوره، یوازې به مې له ځان سره ویل، چې خپل تقدیر به مې پرېکړه کوي.

## په زندان کې زما ژوند

د ۱۲ کلونو په جریان کې زه بېلا بېلو زندانونو ته ولېږدول شوم. لومړی، په میوس کې وم، بیا لاشیو ته ولېږدول شوم. له هغې وروسته بیا ماندالي او بالاخره د شان ایالت په پلازمېنه تانګوي کې، چېرته چې ما اته کاله خدمت کړی و، د لای لون زندان ته ولېږدول شوم.

هغه مهال چې د لاشیو په زندان کې وم، زما د اتاق ملګرو له ما وغوښتل چې له دوی او یو شمېر نورو کسانو سره د تېښتې په هڅه کې یو ځای شم. تر هڅې د مخه هغوی راته وویل، چې ته باید زیاتې وریژې وخورې څو ځواکمن شې، خو موږ په دې هڅه کې پاتې راغلو. د زندان ساتونکو زه پر ځمکه راوغورځولم او زما لاسونه یې د اوږو شاته راوتړل. سخت یې وټکولو او بیا یې له یو یو پوښتنې او ګرویږنې پیل کړې. هغه وخت ما په بورمسي ژبه سمه خبرې نه شوې کولای. نو دوی یو بل زنداني چې د شان ایالت د لاشیو سیمې و، راوغوښت څو ترمنځ مو خبرې وژباړي. دوی له ما وپوښتل، چې ولې مې د تېښتې هڅه وکړه او چېرته تللم؟ ما ورته وویل، چې زه په دې نه پوهېدم چې ولې او چېرته ځو، خو یوازې خپل ملګري مې څارل. له همدې وجې د زندان چارواکو ماته سزاء هم رانکړه.

> د ماندلي په زندان کې یوه ورځ د میانمار اردو راغله او ۵۰ هغه کسان یې وغوښتل، چې زیاتره یې له ۱۲ کلونو په زیات بند محکوم شوي وو. زه هم د هغو ۵۰ کسانو په ډله کې وم، چې د جګړې لومړۍ کرښې ته نظامیانو له ځان سره یورو. موږ باید له خلم څخه د شان ایالت په سویل کې کنګ تاونګ او کینګ خام ته د دوی مهمات او وسلې وړي وای، چې یو لوري سفر یې ۲۰ ورځې وخت نیو.

د ماندلي په زندان کې یوه ورځ د میانمار اردو راغله او ۵۰ هغه کسان یې وغوښتل، چې زیاتره یې له ۱۲ کلونو په زیات بند محکوم شوي وو. زه هم د هغو ۵۰ کسانو په ډله کې وم، چې د جګړې لومړۍ کرښې ته نظامیانو له ځان سره یورو. موږ باید له خلم څخه د شان ایالت په سویل کې کنګ تاونګ او کینګ خام ته د دوی مهمات او وسلې وړي وای.

هغه وخت، چې موږ په کینګ تاونګ کې د جګړې په لومړۍ کرښه کې وو، زما یو زنداني ملګری، چې برموسي ځوان و او یوازې دري کاله بند یې پاتې و، له ما وغوښتل چې وتښتو. موږ هغه وخت دا فرصت درلود، چې کله یې دواړه سیند ته د اوبو په راوړلو پسې ولېږلو او یو عسکر له ډېرې لېرې ځایه د غره پرڅوکه زموږ څارنه کوله. زما ملګري ماته د تېښتې اشاره وکړه، خو ما له تېښتې ډډه وکړه، ځکه که چېرې په تېښته هم بریالی شوی وای، ما نشول کولای چې په ازادانه ډول کار وکړم او د خپلې کورنۍ پالنه وکړم. که چېرې په تېښته کې پاتې راغلی وای، نو باید له دې مې هم سخت او اوږد زندان تېر کړی وای.

له همدې زنداني سره بیا ځل په تانګوی کې د لای لون په زندان کې مخ شوم. هغه راته وویل، چې باید هغه وخت دې زما منلې وای، اوس به ازاد ګرځېدلې، خو هغه د تېښتې له کبله د خپل بند موده لا نوره هم اوږده کړه.

## له زندان خوشې کېدل

زیاتره محکومین چې زه د تانګوی په لای لون زندان کې ورسره مخ شوي یم شانیان وو. هلته د هندوانو او چینایي سلسلې په څېر د نورو ملیتونو او قومونو زندانیان هم وو. ځینو یې معمول جرایم لکه غلا، شوکې او وژنې کړې وې، خو د شان ایالت زیاتره محکومین د نشه یي توکو د کارولو، لرلو یا هم قاچاق جرایمو له کبله دلته راول شوي وو.

زندانیان زیاتره وخت د زندان چارواکو له لوري په کرایه ورکول کېدل(ځکه ګټه ترې لاس ته ورتلله) او په کروندو یا هم درمندونو کې به اجباري کار ته لېږل کېدل. یوه ورځ د زندان چارواکي راغلل له زندانیانو وغوښتل چې هغه څوک دې لاسونه پورته کړي، چې ځمکه کرل او قلبه کول یې زده وي. که څه هم زما زده وه، خو ما لاس پورته نه کړ، مګر ځینې نور زندانیان پوهېدل چې زما قلبه کول زده دي، نو د زندان کارکوونکي ماته راغلل او ویې ویل، چې دروغ مه وایه! نو ما بله چاره نه لرله، پرته له دې چې په کرونده کې کار وکړم. زموږ په ډله کې څلور کسان و. ما باید د نظامیانو اړوند د وریژو کروندې په ۲۰۰ هکتاره ځمکه کې د دوی مشرې پر غاړه اخیستې وای.

> زندانیان زیاتره وخت د زندان چارواکو له لوري په کرایه ورکول کېدل(ځکه ګټه ترې لاس ته ورتلله) او په کروندو یا هم درمندونو کې به اجباري کار ته لېږل کېدل.

کروندو ښه حاصل ورکړ، نو د بند چارواکو هم اجازه راکړه، چې یوه اندازه ازادي ولرم. موږ په یوه لنډمهاله سرپناه کې اوسېدو، چې موږ خپله جوړه کړې وه او د ورځې به مو په سیمه کې کار کاوه، خو بیا هم زه تر دې وخت پورې زنداني وم او د زندان د چارواکو له لوري تر څار لاندې وم.

تر پنځو کلونو پورې ما باید په کرونده او درمندونو کې وړیا کار کړی وای. د هغو پنځو کلونو په جریان کې ما د تېښتې ډېر فرصتونه لرل، خو تېښته مې ونه کړه، ځکه زه پوهېدم چې دا واقعي ازادي نه ده. ما غوښتل څو بېرته په داسې ډول راستون شم، چې له خپلې مېرمنې، ماشومانو او خپلوانو سره په ازادانه ډول ژوند وکړای شم. نو باید د تېښتې هوس په وړاندې مې مقاومت کړی وی.

د ۱۲ کلونو بند په موده کې له اجباري کار نیولې بیا تر بل هر کار پورې ما ډېرې تجربې ترلاسه کړې. زما د بند مودې په وروستیو کې زه راهبانو وروبللم، چې له دوی سره په صومعه کې پاتې شم او مرسته ورسره وکړم. ما له راهبانو سره په سهارنیو اذکارو او دعاګانو ویلو کې ملتیا کوله. زه شاوخوا شپږ میاشتې په صومعه کې پاتې شوم. راهبانو راته وویل، چې ته نور ارتیا نه لرې چې د کوم څه په اړه اندېښمن شې، ځکه تر هغې وروسته زه ازاد شخص بلل کېدم. ما راهبانو ته وویل چې تر هغو به د واقعي ازادۍ احساس ونه کړم، ترڅو چې د زندانونو له ادارې د رخصت کېدو سند ترلاسه نه کړم.



په شمالي شان ایالت کې د یو کلي منظره. انځور: د شان هیرالډ خبري آژانس

یو وخت مې په زندان کې دوولس کاله پوره شول، یو راهب د زندان چارواکو ته ورغی، چې ماته د رخصتۍ سند راواخلي. همدا چې د رخصتۍ سند مې ولید، ډېره خوشالي مې اظهار کړه او د خپلې خوشالۍ اوښکې مې تم نه شوې کړای. په هغه ورځ یو څو نور زندانیان هم له ما سره یو ځای راخوشي شول. مورږ یو تر بله سره غاړه غاړې وو او یو بل ته مو کتل. مورږ دومره بې هوښه شوي وو، چې خپله خوشالي مو نه شوه حس کولای. په دې نه پوهېدو، چې وژاړو که وخاندو !

په زندان کې خپل ژوند ته په ځغلند نظر زه د ډېرو لوړو ژورو خاطرې لرم. زه نه پوهېږم، چې ووایم زه نېکمرغه که بدمرغه وم. زه له یوې خوا بدمرغه وم، چې ونیول شوم او زندان ته ولېږل شوم، بیا د جګړې لومړۍ کرښې ته د بار وړونکي په توګه یوړل شوم او هلته مې وسلې او مهمات وړل، خو له بلې خوا بیا نېکمرغه په دې وم، چې په صومعه کې مې د پاتې کېدو او له راهبانو سره د سهارنیو اذکارو د ترسره کولو فرصت وموند.

## کور ته راستنېدل

کور ته راستنېدل هم زما لپاره یو سفر و، ځکه ترمنځ مو ۱۰ کلونه تېر شوي وو. ما چې خپل شاوخوا کوم کورونه او خلک لیدل، نه مې پېژندل. ما به د پېژندنې لپاره د دوی د مور او پلار د نومونو پوښتنه کوله، څو را ته معلومه شي چې څوک دي.

زه ډېر خوشاله وم، چې خپل ټاټوبي ته مې د بېرته راستنېدو فرصت موندلی و. زه لا تراوسه همدلته د خلکو په زړونو کې وم. خلکو له ما سره په ټوله کې بې له کوم توپیره چلن کاوه. زه خپل ولس ته له بشپړې جوړتیا سره کاملا یو نوی شخص راستون شوم.

کله چې لومړی خپل ټاټوبي ته راغلم، ډېر د باندې نه وتلم، ځکه دا فکر مې کاوه چې خپلوان او خلک دا فکر ونه کړي، چې زه د نشه يي توکو په لټه کې یم. زه په خپل کور کې پاتې کېدم او د کور په چارو کې مې مرسته ورسره کوله، څو بیا ځلې د دوی باور ترلاسه کړم.

له ډېر کم څنډ وروسته ما له خلکو سره ورو ورو تعامل پیل کړ او بېرته ټولنې ته ورننوتم. د وخت په تېرېدو د یو عادي انسان په څېر پر ما بیا ځلې باور ورغېده. زما د یو ملګري په مرسته او واسطه چې په سیمه کې یې د ملېشو ډلې په سوداګریزه برخه کې کار کوه، ما هم هلته دنده ترلاسه کړه. یوازې هغه وخت ما خپل فزیکي او مالي ځواک او پر ځان باور بېرته ترلاسه کړل. په دې برخه کې کار کولو زه د دې جوګه کړم، څو د خلکو په منځ کې خپل شخصیت بېرته راپورته کړم، ځکه د دې برخې سروکار له خلکو سره وو. ما دې جراآت او ځواک ته اړتیا لرله، چې له خپلې لور سره بیا ځل جوړجاړی وکړم.

## له لورۍ او مېرمنې سره یو ځای کېدل

ما د خپلې لور مخ له هغې ورځې راوروسته نه و لیدلی، کومه ورځ چې زه نیول کېدم. په زندان کې د خپل بند مودې تېرولو پرمهال مې یوازې د هغې یو عکس درلود، چې په ماشومتوب کې اخېستل شوی و. زما د خوشي کېدو پر وخت زه نه پوهېدم، چې هغه به څه ډول وي او څومره به لویه شوي وي.

ما د خپلې لور مخ له هغې ورځې راوروسته نه و لیدلی، کومه ورځ چې زه نیول کېدم. په زندان کې د خپل بند مودې تېرولو پرمهال مې یوازې د هغې یو عکس درلود، چې په ماشومتوب کې اخېستل شوی و. زما د خوشي کېدو پر وخت زه نه پوهېدم، چې هغه به څه ډول وي او څومره به لویه شوي وي.

زما له راخوشي کېدو ډېر وخت نه و تېر شوی، چې ما دا ویاړ درلود څو له پوهنتون د خپلې لور د فراغت په مراسمو کې برخه واخلم. خیر دی، تاسو خو یوه ځل دا شېبه تصور کړئ!

ما د خپل ژوند لس کلونه په زندان کې تېر کړي وو.

لور مې ورکې ماشومه وه، چې ما پرېښودې وه، خو هغې زما تر راخوشي کېدو پورې پوهنتون هم خلاص کړی و. هغه ورځ چې ما د خپلې لور د فراغت په مراسم کې برخه واخېسته، زما د ژوند تر ټولو خوږه شېبه وه. زه نه پوهېږم، خپله هغه خوشالي په کومو ټکو اظهار کړم، چې په یاده ورځ مې حس کړه.

له زندان تر راخوشي کېدو وروسته مې چې کله په لومړي ځل د خپلې مېرمنې او لور مخونه ولیدل نو ډېر د شرم او خجالتۍ احساس مې وکړ. ما دوی ته دروغ ویلي وو او دومره اوږده موده مې یوازې پرېښودې وو. ما ډېرې تېروتنې کړې وې، خو اړینه دا وه چې خپلې تېروتنې مې باید منلې وای، او د خپلو کړنو له بدو پایلو سره مخ شوی وای. کله مې چې له خپلې مېرمنې او لور سره آنځور اخېست نو د ګناه احساس مې له زړه راچاپېر شو، خو له ځان سره مې دا وویل چې زه به زیار باسم، خپله به ځان سموم او له ځان به یو نوی شخص جوړوم.

دا زما د ژوند کیسه ده او زما لپاره د ژوند لوی درس دی. زه غواړم تنکي ځوانان دې ته رابولم، چې زما له تېروتنو او زما له ژوند پند واخلي. زه له تاسو غواړم چې له نشه يي توکو ځان وساتئ. په پای کې غواړم ټول ځوانان په زده کړو کې ډېر زیار ایستلو ته وهڅوم او غوښتنه ترې لرم چې د باسواده کېدو او په هوښیارۍ د خپل ژوند تېرولو په لټه کې اوسي.



په لاشیو ښارګوټي کې د وریژو کروندې، شمالي شان ایالت. آنځور: د شان هیرالډ خبري آژانس



د هیپاکانټ ښار مرکز، کاچین ایالت آنځور د کاچینلند ځیړنیز مرکز څخه



## د ربړې دورانونه

# دا کیسه سینګ را[49] ویلي او مانډي ساډن[50] اصلاح کړې ده

د میانمار کاچین ایالت له یونېن او د چین خودمختاره سیمې تیبیت دغه راز د هندوستان له اسام او ارونچال پردیش ایالتونو سره ګډه پوله لري. که څه هم هغه خلک چې ځانونه کاچینیان معرفي کوي، یاده سیمه د خپلو نیکونو ټاټوبی ګڼي، خو په دې ایالت کې ګڼ شمېر قومي، ژبنۍ او کلتوري ډلې ژوند کوي. د کاچین ایالت پلازمېنه میتکائینا نسبتاً پرمختللې ده، خو لېرې پرتې او کلیوالي سیمې یې وروسته پاتې دي. وسله والې جګړې د دې سیمې د وروسته پاتې والي هم لامل او هم یې پایله ده. تر ۱۹۸۰مې ز لسیزې پورې تر ټولې اړینې ښنتې د میانمار ځواکونو، د کاچین د خپلواکۍ اردو، چې په ۱۹۶۱ز کال کې منځ ته راغلې، او د چین له ملاتړ د برخمن بروما کمونېستي ګوند ترمنځ د جګړو له درې ګوني مثلث سره تړلې وې. په دې لړ کې نورو وسله والو قومي ډلو دغه راز د ملېشو کوچنیو ګروپونو هم سر راپورته کړ. د دې ډلو زیاتره یې د کوکنارو په اقتصاد کې ښکېلې دي، که څه هم وروسته د کاچین د خپلواکۍ اردو د کوکنارو کروندو اړولو ته مخه کړه. په ۱۹۹۴ز کال کې د کاچین د خپلواکۍ سازمان، چې د کاچین د خپلواکۍ اردو یې نظامي څانګه، د میانمار له اردو سره د اوربند پر سر هوکړې ته ورسېدل. دې اوربند ۱۷ کلنې وسله والې سولې ته لار هواره کړه او د راتلونکې لپاره یې هیلې راوټوکولې، خو ترڅنګ یې د ځنګلونو پرې کولو او د کانونو استخراج زیاتوالي ته هم زمینه مساعده کړه، چې چاپېریال ته د ډېرو زیانونو د اوښتو لامل شو، دغه راز یې د کرنیز اقتصاد وده هم رامنځ ته کړه، چې کلیوالو ته د دوی د ځمکو له لاسه ورکولو په بیه دا وده تمامه شوه. پردې سربېره، زیاتره اوسېدونکي په دې باور دي، چې دې اوربند د نشه یي توکو له کبله د رامنځ ته کېدونکو زیانونو کچه هم لوړه کړه. دې ټولو عواملو په ۲۰۱۱ز کال کې د کاچین د خپلواکۍ سازمان د اوربند په رانسکورېدو کې مرسته وکړه. د تېرې یوې لسیزې په لړ کې د کاچین ایالت په ګوټ ګوټ کې جګړو زور اخېستی او د ۲۰۲۱ز کال د فبروري میاشت تر نظامي کودتا وروسته بې ثباتي د لا ډېرو خوا ته روانه ده.

زما پلرنی ټاټوبی د نفرایټو کانونو سیمه ده. د نفرایټو کانونو ته څېرمه د پکنت په ښارګوټي او شاوخوا کې یې زما ډېر خپلوان دي. زما د کورنۍ هېڅ غړي بشپړې زده کړې نه دي کړې. زما د مور او پلار له نسله، زما پلار لیک او لوست نه شو کولای، او زما د پلار خور او ورور یعنې زما کاکا او عمه یوازې تر ابتدایي کچې زده کړې کړې وې. دوی ټول کروندګر و. د نورو په پرتلې زما د پلار کورنۍ نسبتاً په ښه وضعیت کې وه. زما نیکه د کلي مشر و. کله چې زما نیکه وفات شو، نو خپلو زامنو ته یې په کافي شمېر غواګانې او مېښې په میراث پرېښودې، چې په خپل منځ کې یې سره ووېشي. نو دا ویلای شم، چې د دوی شتمني پیسې نه، بلکې ځمکه او مالداري وه.

اوسمهال زما د پلار له کورنۍ یوازې زما عمه پاتې ده، که څه هم له ما ډېره لېرې نه اوسېږي، خو زیاتره وخت یې لیدو ته نه یم ورغلې. عمه مې د عادت له مخې په کاروبار او کرونده کې په کار کولو بوخته وي. هغه وخت که چا غوښتلای، چې په پکنت کې توکي وپلوري، نو باید له ځنګل د تېرې شوي لارې په اوږدو کې یې پلی مزل کړی وای، څو پکنت ته ورسېږي. د دې ترڅنګ د کمپنیو له راتلو وړاندې یې کله ناکله د نفرایټو کاروبار هم کاوه، هغه وخت نفرایټ په لاسونو کېندل کېدل.

پلار او کاکا مې یوازې خپل ټول پام کروندې ته اړولی و او له همدې یې د ژوند توښه چمتوکوله، دوی هېڅکله د نفرایټو کانونو ته لاس نه دی ورغځولی. مور مې څو میاشتې وړاندې له دې نړۍ سره مخه ښه وکړه. زه ډېره پرې ګرانه وم، خو پر نورو خپلوانو بیا ډېره ګرانه نه یم. د مور پلرنی ټاټوبی مې تاني دی او د دوی کورنۍ هم کروندګره وه. د مور پلرنۍ کورنۍ ډېره لویه وه او اووه خویندې وروڼه یې لرل، خو اوس یې یوازې درې ژوندي دي. زما له مور پرته نور د دوی د کورنۍ هېڅ غړي ښوونځی نه دی لوستی. د کورنۍ نورو غړو یې لیک او لوست نه شو کولای او یوازې په کرونده کې په کار بوخت و، خو زما مور چې کشرۍ لور یې وه،

ښوونځي ته تلله او د نرسرۍ په برخه کې یې زده کړې کړې وې. مور مې په مایتکائینا کې په یوه روغتون کې کار کاوه. د مور کورنۍ وضعیت مې زما د پلار کورنۍ په څېر نه و، خو په ټوله کې یې نسبي ارام ژوند درلود، ځکه څمکه یې لرله او کرنه یې پرې کولای شوه.

هغه وخت د زیاترو نورو کاچینیانو په څېر زما د مور او پلار واده هم د کورنیو په خوښه شوی و. که رښتیا خبره وکړو، زما مور اصلاً هغه څوک نه وه، چې باید زما له پلار سره یې واده کړی وای. زما د پلار کورنۍ زما د پلار کورنۍ زما د مور مشرې خور سره د کوژدن چمتووالی نیولی وو، خو هغه بیا ځکه پاتې شول چې خپل ځان لپاره یې د کاچین خپلواکۍ په اردو کې له مخکې یو هلک خوښ کړی و، نو زما له پلار سره یې له واده کولو ډډه وکړه. هغې نسبتاً شوخ خوی درلود او مور مې یوه ساده ښځه وه، نو د هغې پرځای زما پلار زما له مور سره کوژدن شو. همدا وجه وه، چې دوی د خپلې خوښې پرځای د کورنیو په خوښه واده وکړ.

زما نیکه ډېر جابرانه چلند درلود او هېڅ زوی یا لور یې غوښتنه نه شوه رد کولای. داسې ښکاري، چې زما پلار به هم یوه معشوقه لرله، خو زما نیکه به اجازه نه وي ورکړي، چې د خپلې خوښې نجلۍ سره واده وکړي. زما د مور او پلار کوژدن ډېر خوشاله نه وه. زه فکر نه کوم، چې زما مور دې زما د پلار خوښه وي، او کله به چې غوسه کېده نو سخته به یې وهله ډبوله. هغه وخت چې زه اته کلنه وم، دوی له یوه بله جلا شول خو رسماً کوژدن شوي پاتې شول تر دې چې مرګ د تل لپاره سره جلا کړل.

## زما پلار سخت شرابي و او کله به یې چې شراب وڅښل، ډېر دعوه جلب او تاوتریخجن کېده، خو کله به یې چې نشه نه وه کړې، نو له مور سره به یې ډېره مینه کوله.

زما پلار سخت شرابي و او کله به یې چې شراب وڅښل، ډېر دعوه جلب او تاوتریخجن کېده، خو کله به یې چې نشه نه وه کړې، نو له مور سره به یې ډېره مینه کوله. زه پنځه خویندې او ورونه لرم، خو یوه خور او دواړه ورونه مې مړه شوي دي.

داسې ویل کېږي، چې کله زه زېږېدلې وم، نو ډېره خوږه ماشومه وم. ما به د خپلې مور د وهلو ټکولو له کبله خپل ځان ملامتوه، ځکه یوه موضوع چې د مور او پلار ترمنځ مې تاوتریخوالی راپورته کاوه هغه دا وه، چې زه خپل پلار ته نه وم ورته شوې. زه او مشر ورو مې یو د مور او پلار په څېر تورپوستي نه یو، او زه لږ څه په ونه لوړه او چاغه یم، همدا وجه وه، چې پلار به مې ویل چې زه او ورور مې د هغه زامن نه یو. هغه به دا خبره کوله چې مور مې ورته ژمنه نه وه. له همدې وجې به یې زما د مور په وهلو او ډبولو پسې راخېستې وه او زه هم وهل ډبول کېدم، خو زما ورور ته یې بیا څه نه ویل. کله چې زه کوچنۍ وم، که کوم ګاونډي به ویل چې زه ډېره خوږه او ښایسته یم، نو ما به ترې غوښتل چې دا خبره ونه کړي، ځکه د مور له وهل کېدو او ډبول کېدو به وېرېدم.

ځینې وختونه به مور د مداخلې هڅه کوله، څو خپل پلار زما د مور له وهلو منع کړو. یو وخت زما په یادېږي، کله چې زه اته کلنه وم، حتی زما مور یې په ورانه کې په لور ووهله. هغه وخت مې پلار ډېر زیات نشه و، که څه هم مور مې کوم ناسم کار نه و کړی، خو وجه یې دا وه، چې زما ورور هلته نه و. وروسته به ماته په ژوند کې خپلې مور تل ویل چې زه د هغې د وهل کېدو او ټکول کېدو یو لامل وم. هغه یو څه ساده ښځه وه، زه فکر کوم چې هغه په دې نه پوهېده، چې څه وایي. زما پلار به تل د یو فرصت په لټون و، چې مور مې ملامته کړي او ویې وهي.

زما پلار په انیمیزم باور درلود، خو وروسته بیا زموږ کورنۍ عیسویت ته واوښتله. زما خویندې ورونه او زه کاتولیکان و او د کورنۍ نور غړي مو بیا باپتیستان و. که څه هم پلار مې انیمیزم پرېښودی و، خو زه فکر کوم چې ځینې وختونه به چې کله زما پلار نشه و، د هغه ارواحو به تل ازاروه، ځکه جوړجاړی به یې ورسره نه شو کولای.

## یوه ورځ هغه وخت چې پلار مې نشه و، زما مور زه او زما خور له ځان سره واخېستو او له موږ سره یو ځای وتښتېدله.

یوه ورځ هغه وخت چې پلار مې نشه و، زما مور زه او زما بل ورور له ځان سره واخېستو او له موږ سره یو ځای وتښتېدله. زما پلار به تل ویل، چې دا کار یې ځکه وکړ، چې نورو اولادونو ته ژمنه نه وه. دا چې مور مې یوازې زه او زما بل ورور له ځان سره واخېستو له نورو ورونو سره د ستونزو د راپورته کېدو لامل شو. زما یوه خور یې ځکه په کور کې پرېښوده، چې مور مې فکر کاوه، هغه ورور مې چې په کرونده کې کار کوي یو چا ته به په کور کې اړتیا ولري چې ډوډۍ ورته تیاره کړي. خو زما له خور سره په زړه کې د بې عدالتۍ احساس پیدا شوی و او زما له مور سره یې اړیکه ډېره سړه وه، ان هغه وخت هم دا اړیکه سړه وه چې پېغله شوه او خپله کورنۍ یې لرله. له دې پېښې وروسته یې زما له مور سره ډېره اړیکه نه ساتله. زما خور دا فکر کاوه، چې مور مې ځکه زه له ځان سره بېولی یم، چې له ما سره یې ډېره مینه وه.

مور مې ډېر ځله د خپل پلار کور ته ستانه شوه، خو له هغه ځایه به بېرته زما د پلار کور ته راولېږل شوه. زما د مور کورنۍ داسې انګېرله، چې هغه بېرته باید ورولېږو، ځکه واده د کورنیو په خوښه شوی و او ولور هم اخېستل شوی و. د پلار کورنۍ مې هېڅکله دې ته نه ده اړ شوې، چې په هغې پسې راشي، ځکه تل به بېرته د خپلې کورنۍ له لوري رالېږل کېده.

وروستی ځل چې ما خپل پلار ولید، زه ۱۲ کلنه وم. په هغه وخت کې، کله چې زه بېرته کلي ته د نوموړي لیدو ته ورغلم، خلکو بیا همدا خبره راته کوله، چې په یاد دې نه دي، چې پلار دې مور څومره وهله او ډبوله! زموږ د دود له مخې زما پلار دویم واده وکړ، ځکه کله چې زما د پلار ورور وفات شو نو هغه اړ و، چې د خپل ورور له مېرمنې سره واده وکړي. پلار مې د دویمې مور په غېږه کې ساه ورکړه. زما مور په دې وروستیو کې وفات شوې ده. اوس مې مور او پلار دواړه وفات شوي، نو زه هم نه غواړم چې په کلي کې پاتې شم. د عادت له مخې زما ټوله تکیه پر مور وه، خو اوس هغه هم نشته، نو داسې احساسوم، چې اوس یوازې لالهانده یم او د اوسني وخت په دریاب کې لامبو وهم.

اوس مې هم په یاد دي، کله چې زه خپلې مور په غېږ کې واخېستم، څو په تانیتو سیمه کې د هغې د مور او پلار کور ته لاړ شو، پر لاره مو ډېر ستونزمن مزل وکړ او زه ډېره ناروغه شوم. مور مې زه ډېری وخت د سرک تر غاړې پرېښودم او هغه به زما د کوچنۍ خور ترڅنګ پاتې کېدله، دا وخت ما ډېر وژړل. ان ټوله شپه مې په ژړا تېره کړه. په بل سهار موږ پرېکړه وکړه، چې کامپنګ ته لاړ شو، ځکه هلته مو ډېر خپلوان لرل. هلته یوازې د کښتیو په وسیله تګ راتګ ممکن و او خلکو به په نوبت سره زه په شا کولم تر دې چې خپل مقصد ته ورسېدو. مور مې زه په ځایي ښوونځي کې شامله کړم او بیا بل کلي ته رانه لاړه څو له نورو خپلوانو سره پاتې شي، او هلته یې یو څه کاروبار هم کولای شو.

## کله به چې په ښوونځي کې د چمتووالي لپاره نورو پیسو ته اړتیا وه، ما سره به پیسې نه وې او ډېره به خجالت کېدم.

**د وخت په تېرېدو، زه په دې پوه شوم چې زما د استوګنيز کور شاوخوا سابه شته دي، نو ما د هغوی راټولولو او پلورلو ته مخه کړه.**

زه په کامېنګ کې يوازې پاتې وم. د کورنۍ هېڅ غړی زما د پالنې يا هم پيسو راکولو لپاره هلته نه راته. کله به چې په ښوونځي کې د چمتووالي لپاره نورو پيسو ته اړتيا وه، ما سره به پيسې نه وې او ډېره به خجالت کېدم. د وخت په تېرېدو، زه په دې پوه شوم چې زما د استوګنيز کور شاوخوا سابه موجود دي، نو ما د هغوی راټولولو او پلورلو ته مخه کړه. دې کار زما د زده کړو لګښتونه پوره کول او هم به مې يو څه اندازه وريژې د ځان لپاره پرې اخيستې. ورو ورو دا سابه هم په ختمېدو شوو، نو پرېکړه مې وکړه چې د خپل ورور څنګ ته ورشم او د لاسنيوي غوښتنه ترې وکړم. ورور مې د پيسو پرځای يوازې يو څه اندازه وريژې راکړې. زه اوس هم خپل ورور د دا ډول کار لپاره ملامتوم. زما د ورور مالي وضعيت نسبتاً ښه و او ماته يې پيسې راکولای شوې. زه يې مېرمن هم ملامتوم، زما ورېندار واقعاً ډېره بدخويه وه. دوی غواګانې لرلې او هر کال يې پنځه نوي خوسکي ورته راوړل، د دې ترڅنګ يې د وريژو حاصلات هم لرل، خو زما لاسنيو يې هېڅ وخت هم ونه کړ.

زه فکر کوم ورور مې هم د نشې پرمهال زما د پلار په څېر ناروغي لرله. وروسته مې ورور په زندان کې مړ شو. هغه د نشه يې توکو پېر او پلور پيل کړی و او له همدې وجې زنداني هم شو. کله مې چې ورور په زندان کې و، ورېنداري مې د کاچين د خپلواکۍ اردو له يو افسر سره اړيکه لرله، او ورور مې هم له دې موضوع خبر شوی و. يوه ورځ، له زندان د باندې له کاري ځای راتښتېدلی و او د خپلې مېرمنې عاشق يې مړ کړ. نوموړي دا کار په رڼا ورځ د خلکو په مخ کې وکړ، همدا علت و، چې هغه ونيول شو. هغه د اعدام په سزاء محکوم شو، خو له اعدامولو د مخه په وهلو ټکولو مړ شو. کورنۍ يې د سيمې د معمول عرف له مخې په ډېر ديت ورکولو مکلفه وه، همدا وه چې مورږ ټولې غواګانې له لاسه ورکړې. په ياد وخت کې د هرې يوې قيمت شاوخوا ۳۰،۰۰۰ کيات و. د کاچين د خپلواکۍ اردو دا قضيه په بل ډول هم پرمخ وړلای شوه، خو مورږ هغه وخت د دې قانوني مرحلې په اړه هېڅ نه پوهېدو، نو ټولې غواګانې مو له لاسه ورکړې. زما په زړه کې د هغو غواګانو له لاسه ورکولو له وجې تراوسه هم کينه پاتې ده.

کله چې د ښوونځي په درېيم ټولګي کې وم، خپلې خور ته مې يو ليک ولېږه او د ستونزو يادونه مې په کې وکړه. دا ستونزې نورې زما د زغم وړ نه وې، نو زه د خپلې خور کور ته لاړم، چې هلته ژوند وکړم. خو دا ډېر ستونزمن حالت و، ځکه خور مې له ما او زما له مور سره ډېرې ترېنګلې اړيکې لرلې. زه د څلورم ټولګي لپاره بل کلي ته لاړم، خو هغه ښوونځي يوازې تر څلورم پورې درسي ټولګي لرل. نو زه اړ وم چې د پنځم ټولګي لپاره بېرته کامېنګ ته راشم، خو زه د دې جوګه نه وم چې نور په کامېنګ کې پاتې شم او هلته ښوونځی ولولم، ځکه هلته به يې په جارو وهلم او ژوند مې ډېر له کړاوونو سره تېرېده. همدا وجه وه، چې له ښوونځي سره مې په څلورم ټولګي کې مخه ښه وکړه.

په نېږدې کلي کې د خپلې عمه ليدو ته ورغلم. زه په ژړا وم، ځکه په جارو وهل کېدم. دا چې د دوی کورنۍ کروندګره وه، نو فکر يې وکړ چې دا به ښه وي څو ماته د شولو(وريژو ) کرل رازده کړي، نو زه به تر زده کړې وروسته وکولای شم چېرته ورځنۍ کار وکړم. دا هغه وخت و، چې دوی ماته د ۲۰۰ کياتو نوټ راوښوده. ما د ورځنۍ اجورې او معمول کارګرې په توګه ډېر ښه کار کړی دی. زما د عمه زوی له ما يوازې يوه مياشت مشر و، نو پرېکړه

دا وشوه چې مورږ دواړه په څلورم ټولګي کې ښوونځی پرېږدو او عمه به مورږ ته زمورږ د اړتيا وړ کار رازده کړي.

ما يوازې د وريژو کرل او رېبل زده کړل او هېڅکله مې بيا د بل څه په اړه فکر نه دی کړی. ماته ۲۰۰ کيات ورځنۍ اجوره راکول کېده. دا کار مې تر ۱۲ کلنۍ پورې وکړ. کله ناکله به مورږ ورو ډنډونو ته تللو او کبان به مو نيول. مورږ يوازې له يوې دندنې بلې ته ارتقاء وکړه. بالاخره، هغه کلي ته لاړم چېرته چې زما مور اوسېدله او له هغې سره مې ژوند پيل کړ.

زما د مور استوګنې ځای ته نېږدې د کاچين د خپلواکۍ اردو يوه پوسته وه. دوی به زياتره وخت له سيمې ځوانان له ځان سره بېول، د امکان په صورت کې به يې له نېږدې کليو له هرو څلورو کسانو دوه کسان له ځان سره بېول، که څه هم ځينې وختونه به د دې کسانو ميندو او پلارونو بېرته ترې راوستل. دا هم زمورږ لپاره يو بل سرخوږی و، ځکه هغه وخت د کاچين د خپلواکۍ اردو ډېرو ښځينه سربازانو ته اړتيا لرله. که څه هم زه له خپلو ټولو ملګرو کوچنۍ وم، خو له دوی ډېره هوښياره ښکارېدم او د دوی په څېر کالي مې نه اغوستل، نو زياتره وخت به سربازانو زه ځورولم او ريشخندي به يې راباندې کوله. ما به په ډېرې توندۍ ځواب ورکوه او ځينې وختونه خو به په ستونزه کې هم لوېدم. زما ورور نه غوښتل، چې زه هلته پاتې شم، ځکه وېرېده چې د کاچين د خپلواکۍ اردو به مې له ځان سره نظامي تمريناتو ته يوسي، خو مور مې وويل چې يو قوماندان زمورږ خپل دی، نو له مورږ سره به مرسته وکړي چې له دې کار مخنيوی وشي، همدا و چې مور مې ماته يوه ګوتمه راکړه، څو هغه قوماندان ته يې ورکړم.



په تنايي سيمه کې سهارنی بازار. کاچين ايالت. آنځور د کاجينلند څېړنيز مرکز څخه

همدا وختونه وو، چې ما له خپل لومړي خاوند سره وليدل. هغه خپلوان چې زه ورسره اوسېدم، اړ شو چې له هغه ځايه کډه وکړي، نو زه دې ته اندېښمنه وم چې زه هم بايد ورسره لاړه شم، له همدې وجې مې پلان جوړ کړ چې د دې کار له ممکنه پايلو ځان وژغورم. زه د خپل لومړي خاوند نه خوښېدم، خو له ما سره يې پټه اړيکه لرله. د هغه کورنۍ زما د خپلوانو کور ته مخامخ د سرک بلې غاړې ته دوکان درلود. زما عمه، چې زه ورسره اوسېدم، هغه يې نه خوښېده. خو بيا هم مورږ واده وکړ او دوه ماشومان مو

پیدا شول، خو لومړی خاوند مې ډېر بدخویه کس و او زه ورسره ډېره په ستونزه کې وم.

> **دا چې زما خاوند د پلار تر ټولو کشر زوی و، نو باید د هغه له کورنۍ سره مو ژوند کړی وای. زما خسر د برموسي په اردو کې سرباز و، او ماته به یې تل بد رد ویل، ځکه ما په برموسي ژبه خبرې نه شوې کولای.**

دا چې زما خاوند د پلار تر ټولو کشر زوی و، نو باید د هغه له کورنۍ سره مو ژوند کړی وای. زما خسر د برموسي په اردو کې سرباز و، او ماته به یې تل بد رد ویل، ځکه ما په برموسي ژبه خبرې نه شوې کولای. خسر مې له ما سره ډېره بده رویه کوله. د دې ترڅنګ یې زما خاوند هم د نشه یي توکو عادت ته وهڅوه. خسر به مې چې کله هم زما له خاوند غوښتل چې کروندې ته لاړ شي او هلته کار وکړي، یا د سیند له غاړې توکي راوړي، نو زما خاوند ته به یې په بدل کې پیسې ورکولې، خو زما خاوند به هغه کار نه کاوه. یوازې په هغه صورت کې به یې خبره منله، چې نشه یي توکي به یې ورکړل، نو زما خسر هغه ته نشه یي توکي ورکول. له همدې وجې مو‌ږ پیسې هم نه لرلې. زما دا نه خوښېدل، خو که چېرې مې شکایت کړی وای، نو خسر مې په څپېړه وهلم، زما د خاوند زیاتره خپلوان پر نشه یي توکو روږدي وو.

ما د نشه یي توکو له دې موضوع ډېر وهل ډبول خوړلي. زه به خپل خاوند ډېره وهلم ټکولم، معمولاً هغه وخت چې ما به هڅه وکړه څو د هغه د نشه یي توکو مخنیوی یې وکړم. د دوی کورنۍ به دغه راز ما ته دا اجازه هم نه راکوله، چې خپل ویښتان لنډ کړم. زما خاوند به هغه کمڅۍ کول، بیا به یې په خپلو لاسونو کې راتاوول او همداسې به یې زه ربړولم. له همدې وجې زما ویښتان خراب شول.

> **زما خاوند د کاچین د خپلواکۍ له اردو سره یو ځای شو او په هکایا غرونو کې د جګړې لومړی کرښې ته لاړ. همالته په هروئینو هم روږدی شو.**

زما خاوند د کاچین د خپلواکۍ له اردو سره یو ځای شو او په هکایا غرونو کې د جګړې لومړی کرښې ته لاړ. همالته په هروئینو هم روږدی شو. خاوند مې دوه ورونه لرل، خو د یوه ورور یې لاس پرې و او بل ورور یې ډېر ماشومان لرل چې باید د هغوی پالنه یې کړې وای، نو زما خاوند اردو ته لاړ. ما یوازې د هغه تمه کوله، خو هغه وخت هم زه پوهېدم، چې دویمه ښځه یې هم لرله، ما نه غوښتل چې د ده د پلار په کورنۍ کې کوم کار وکړم، نو یوازې مې خپل ځان ته وریژې واخېستې. دا چې زما خاوند عسکر و او د جګړې په لومړی کرښه کې و، نو باید ما له ځان سره وریژې اخېستې وای او د اردو قرارګاه ته تللې وای. موږ باید هره میاشت د وریژو یو لوی دیګ هلته وړی وای. زما د خاوند ملګرو دا کار وکړ، خو زما نه خوښېدل. ما یوازې ځان لېږې ترې وساته او خوکان مې مړول او قاچرو ته مې اوبه ورکولې.

زه فکر کوم، زه ډېره ځواکمنه یم او په پخوا وختونو کې ډېره شوخه او یاغي وم، ان تر دې چې په اصطلاح د خلکو په اوږو به سپرېدم. زما مور تر خپل مرګ د مخه ماته وویل چې باید پر خپل ځان ډېر زیات فخر ونه کړم او ډېرې خبرې ونه کړم، خو زه فکر کوم زه همداسې یم، ځکه کله چې زه په ښوونځي کې زده کړیاله ووم، هېچا زما پالنه نه ده کړې او نه یې زما لاسنیوی کړی دی. د کاچین خپلواکۍ اردو د سرباز مېرمنې په توګه زه لا نوره هم زوروره شوم او تر پخوا مې ډار لا پسې ختم شو.

یو وخت چې خاوند مې د کاچین د خپلواکۍ په اردو کې کار پرېښودی و، یو خپلوان چې زما د خاوند قوماندان هم و او ما به یې څاروي مړول، له ما څخه د څارویو بچې واخېستل. موږ په دې هوکړه کړې وه، چې هغه به یې په بدل کې ۳۰،۰۰۰ کیات راکوي. په بله ورځ مې خاوند راته وویل چې ما ترې ۱۰،۰۰۰ کیات اخېستي دي، او هغه یې په هروئینو لګولي وې. موږ په خپلو کې سره سخته لانجه وکړه او زه یې ووهلم. پخوا به چې کله زموږ ترمنځ لانجه رامنځ ته شوه، ځینې وختونه به زما شاوخوا ګرځېده او بیا ځل به یې زما په وهلو پیل وکړ، خو دا ځل مې پرېکړه وکړه، چې خاوند مې پرېږدم. زما ماشومان تر دې دمه هم کوچنیان و، د خپلو ماشومانو ترمنځ مې دوه کاله په منځ کې واټن و، نو مشر زوی مې یوازې دې ته چمتو و، چې په لمړني ښوونځي کې شامل شي. ما غوښتل چې هغوی هم له ځان سره راواخلم، خو نه مې غوښتل چې خاوند مې راپسې راشي، ځکه خاوند مې زما د مور هم نه خوښېده، همدا وجه وه چې خپل ماشومان مې پرېښودل او له خپلې ایندرور یا زما د خاوند د مشر ورور مېرمنې سره مې خپلې ټولې پیسې ورته پرېښودې څو زما د ماشومانو پالنه پرې وکړي. له دې وروسته مې د کوکنارو په کروندو کې کار پیل کړ، څو د خپلو ماشومانو لپاره یو څه پیسې پیدا کړم.

کله چې نوي کلي ته راغلم، ما ډېر زیات شراب څښل شروع کړل، که څه هم زما له الکولو بد راتلل او نه مې شول څښلی، خو ماشومان مې ډېر یادېدل او ډېره ژر دومره روږدي شوم، چې په څو شپېو کې به مې یو بوتل شراب څښل او نشه کېدم. له هغه وروسته مې نشه یي توکو ته هم مخه کړه، ځکه زه ډېره چاغه وم او فکر مې کاوه چې د نشه یي توکو کارول به له ما سره د وزن په راکمولو کې مرسته وکړي. ما غوښتل پتلون واغوندم، خو دا جرأت مې نه شو کولای. ما شلورا او کمیس نه شول اغوستلای، ځکه ډېره چاغه وم. د نشه یي توکو له کارولو سره ډېره ژر ډنګره شوم، ځکه هېڅ شی مې نه خوړل. نو له هغې وروسته ما په خپله خوښه لباس اغوستلای شو، او هېڅ د شرم یا خجالتۍ احساس مې نه کاوه. له هماغې وخت راهیسې زه نشه یي توکي کاروم. د دې ترڅنګ مې د سګرټو کارول هم پیل کړل، خو کله مې چې سګرټ پیل کړل، زما شونډې ډېرې تورې شوې. موږ ته د نېږدې کمپ ځینو قوماندانانو به ماته ویل، چې زه باید له څارویو سره په یوه کوټه کې واچول شم، ځکه زما شونډې ډېرې تورې شوې وې.

په لومړي ځل مې چې کله هڅه وکړه، څو له فرمولې (د ټوخي له شربت سره چې کله تریاک ګډ شي) ځان ووینځم، نو درې تر څلورو ورځو مې په وجود کې د پرېښودو اثرات وو. ما خپل وزن له لاسه ورکړ، او څېره مې ډېره ډنګره شوې وه. ټوله شپه مې خوب نه شو کولای. له هغې وروسته مې بیا د کوکنارو کروندو ته تګ پیل کړ. هلته په کروندو کې سړي او ښځې دواړه اوسېږي او کار کوي. د کروندې ساتونکي به کوکنار پخول او له کارګرانو یې په بدل کې پیسې نه غوښتل کېدې. دوی چا ته دا نه ویل، چې حتماً باید هغه وکاروي، دا د هر چا خپله خوښه وه، خو ما تر هغه وخت پورې کارول تر کومې چې د کوکنارو کرکیله کېده.

د تورو تریاکو کارولو له فرمولې سره توپیر درلود. ما به چې کله هم فرموله وکاروله نو ما به ډېرې خبرې نه کولې، خو د تورو تریاکو په کارولو سره که څه هم زه لومړی ځل د بوی له وجې ګنس وم، خو ډېره خوشاله وم. موږ به کوکنار د یو لوی کاغذي پایپ شاوخوا راتاو کړل او بیا به مو چټ کړل. هر یو به په خپل نوبت سره اخېستل. کله مو چې فرموله کاروله نو ملګرو ته مو اړتیا نه لرله، خو کله مو چې تریاک کارول نو خلک به یو ځای سره راټولېدل.



په هپکنټ کې د کانونو کارګران، کاچین ایالت. انځور: د کاچین څېړنیز مرکز

هغه خلک چې د کوکنارو کرکیله کوي رئیسان دي او موږ یې کارګران وو. له میتکائینا څخه ځوان هلک او پېغلې نجونې هم دلته راغلې وې او کار یې کاوه. کله به مو چې کوکنار نیشتر کړل، نو تر هغو مو کور ته د تګ اجازه نه لرله، ترڅو به چې د کوکنارو کرونده ختمه شوې نه وه. ان دا چې د کوکنارو مالکین هم له هغه ځایه نه تلل. کله به چې کرونده ختمه شوه، خلک تللای شول، خو هېچا ته اجازه نه وه، چې له ځان سره کوکنار یوسي. موږ باید خپلې جامې هم هلته ویستلې وای او پرېښودې مو وای. په تاني کې پر پاټکونو ډېرې تلاشۍ وې. ځینې وختونه به یې ان د خلکو د لاسونو کوچنۍ ګوتې هم کتلې، څو معلومه کړي چې د اپیمو کوچنۍ ټوټه خو مو له نیش وهلو په ګوتو کې نه وي پاتې.

ما په تاني کې د کوکنارو په کروندو کې څو فصلونه کار وکړ، بیا مې څو فصلونه کار په تارونګ کې وکړ. مجموعاً مې شاوخوا اووه فصله کار وکړ. کله چې زه له کروندو لېرې وم، ما هېڅکله کوکنار نه کارول، خو کله چې هلته وم دایمي مې کارول. د فصل په پای کې مې چې کله د کوکنارو کارول بس کړل، نو ډېره ونه کړېدم. دا بس کول داسې نه و لکه هروئین. کله چې ما د هروئینو کارول پرېښودل، زه ډېره وکړېدم او څېره مې ډېره بې خونده شوه.

په لومړي ځل مې چې هروئین وکارول، زما یې بوی نه خوښېده. لومړی ځل مې هغه وخت هروئین وکارول، چې د نفرایټو ډېرو لپاره خون سار کانګ ته لاړم. په پیل کې ما له ځان سره یوه اندازه تور تریاک یوړل، ما داسې انګېرله چې دا به د یوې اونۍ لپاره بسنه وکړي. کله چې راسره خلاص شول، نو هغه شخص ته مې د کوکنارو راپیداکولو لپاره ۱۵،۰۰۰ کیات ورکړل، چې موږ ته یې د نفرایټ ډېرو کیفیت معلوموه. هغه په سیمه کې بلد وو او د نشه یې توکو ځایونه ورته معلوم و، ځکه خپله هم په نشه یې توکو روږدی و. نوموړی د باندې لاړ خو ماته یې کوکنار رانه وړل، ځکه ویې ویل چې نه غواړي تریاک پاخه کړي. زه دا وخت سخته د نشې په خمار کې وم، او هغه بیا په ۱۲ بجې د باندې لاړ او په بېرته راستنېدو کې یې راته وویل، چې پیدا مې نه کړل، خو خپله یې هروئین څکلي و. ما بیا ترې وغوښتل چې یو څه اندازه حتماً راته پیدا کړي. هغه بیا ځلې لاړ او دا ځل یې ماته یوه اندازه هروئین او سیرنج راوړل. ما هغه ته وویل، چې ما هروئین نه غوښتل، خو دا چې وخت ۳ بجې و او ما ډوډۍ نه شوه خوړلای ځکه د نشې په خمار کې وم، نو یوه اندازه هروئین مې وڅکل، او یو څه سکون یې راکړ. په هغه شپه مې بیا ځلې هروئین وڅکل.

د هروئینو او تریاکو همدا توپیر دی. که تریاک یوازې یو ځل وڅکو نو ټوله ورځ بسنه کوي، خو په هروئینو دومره زیات وخت نشه یې انسان نه شي تېرولی.

د هروئینو او تریاکو همدا توپیر دی. که تریاک یوازې یو ځل وڅکو نو ټوله ورځ بسنه کوي، خو په هروئینو دومره زیات وخت نشه یې انسان نه شي تېرولی.

کله مې چې د خپل لومړي خاوند له کورنۍ سره په غرونو کې ژوند کاوه، نو ډېره ناروغه شوم. د کورنۍ ټولو غړو نشه یي توکي کارول، نو کله به چې زه ناروغه شوم ماته به یې د هروئینو د کارولو سپارښتنه کوله، څو دردونه مې سکون پیدا کړي. کله مې چې معدې درد کاوه، دوی ماته لږ اندازه هروئین راکړل. وروسته مې یو وخت ملا درد کاوه، ماته یې وویل چې هروئین وکاروم، خو ما رد کړل، مګر دوی بیا هم په زوره راته ترزیق کړل او دردونه مې ارام شول. په بل سهار یې بیا ځلې راته ترزیق کړل، همدا وجه وه چې زه په هروئینو روږدي شوم. ما په خپله ځان ته هروئین نه ترزیق کول، ځکه وېرېدم، نو له ملګرو به مې غوښتنه کوله. ما به هروئین په سیرنج کې اچول، خو دا جرأت مې نه شو کولای، چې خپله یې ځان ته ترزیق کړم.

دي کار څو مياشتې دوام وکړ او ما هم د ډېرو زياتو هروئينو کارولو ته مخه کړه. پردې سربېره، په هغه کلي کې چې ما ژوند کاوه له نشه يي توکو سره د مبارزې په برخه کې د پټ جاسن په نوم يو خوځښت دا ډېره ستونزمنه کړې وه، چې خلک يو ځای راټول شي او د نشه يي توکو اوږد پايپ وکاروي. تر لنډ وخت وروسته مې هروئين وټاکل، ځکه مزه مې يې خوښه شوه. ډېر ژر مې ټولې هغه پيسې په نشه يي توکو لګولې، چې ما د ماشومانو لپاره اړتيا ورته لرله. کله مې چې پيسې لرلې، ټوله ورځ به مې خوبونه کول. کله به چې له خوب راپاڅېدلم، نو سملاسي به په دې فکر کې وم، چې نشه يي توکي څنګه پيدا کړم.

**کله مې چې د خپل لومړي خاوند له کورنۍ سره په غرونو کې ژوند کاوه، نو ډېره ناروغه شوم. د کورنۍ ټولو غړو نشه يي توکي کارول، نو کله به چې زه ناروغه شوم ماته به يې د هروئينو د کارولو سپارښتنه کوله. څو دردونه مې سکون پيدا کړي. کله مې چې معدې درد کاوه، دوی ماته لږ اندازه هروئين راکړل.**

زما د لومړي واده له کړاوونو تر ډک دوران وروسته، ما د کاچين خپلواکۍ اردو له يو بل سرباز سره واده وکړ. اوس مې دوه ماشومان لرو او مشره لور هم هغه وخت په نشه يي توکو روږدي شوې وه، چې لا زما په نس وه. زه له خپلې خوابښې سره اوسېدم، او هغه وخت په لومړيو کې په دې نه پوهېده، چې زه هروئين کاروم. خوابښې مې ډېره له خدايه وېرېدونکې ښځه ده. ما به هروئين تر مګس خېمې لاندې تزريق کول او بيا به مې يو اوږد اسويلی له خولې راووت.

کله چې اميندواره وم، په ورځ کې مې له يو بوتل ډېر هروئين کارول. د اميندوارۍ په لومړيو مياشتو کې مې نه تزريق کول، خو په وروستۍ مياشت کې مې پيل کړل. ماشوم مې د عملياتو له لارې د شپې ۱۱ بجې دې نړۍ ته راغی، او کله چې ماشوم زما له ګېډې لېرې شو، نو يو اسويلی مې وويست



ځايي جيډ مارکيټ، هپکانت، کاچين ايالت
آنځور د کيچنليند ځيرنيز مرکز (KRC) څخه

ځکه ډېر زور مې وهلی و، او د هروئينو سخت خمار راغلی و. ما له خپل خاوند وغوښتل چې که کولای شي کامپنګ ته لاړ شي او ماته يو څه هروئين راپيدا کړي، خو پيدا کول يې هومره اسان کار نه و، نو ويې نه شول کولای.

د شپې تر دربېو بجو مې هروئين تزريق نه کړل، زه دومره د نشې په خمار کې وم چې ان له خپل ماشوم سره پاتې کېدل مې هم نه غوښتل. د دې ترخنګ زما ماشوم هم ډېر ژړل، ځکه وجود يې درد کاوه او د هروئينو خمار پرې راغلی و. تر هغو يې ژړا نه غلې کېدله، چې ما له خپلو سينو شيدې ورکړې. دا چې زه د نشې ډېره خُماره وم، نو له روغتون راووتم او د باندې کوڅې ته لاړم. په هغه وخت کې مې خاوند راپسې راغی او مونږ ټول يې کور ته بوتللو. کور ته تر رارسېدو د مخه ما د خپل لېوره (د خاوند ورور) په کور کې هروئين تزريق کړل. خاوند مې ماشوم په خپله غېږه کې نيولی و، خو کله چې ماشوم ته د هروئينو بوی ورغی نو په ژړا يې پيل وکړ. کله چې ما ځان ته هروئين تزريق کړل، نو ماشوم ته مې شيدې ورکړې.

له هغه وروسته زه پوه شوم، چې ماشومه مې هم روږدي شوې وه. له هغه وروسته مو بايد له خپلې ماشومې سره د دې ستونزې له وجې ډېر پام کړی وی. هر سهار به ما د هروئينو بوی په خوله کې راټولوه او بيا به مې د خپلې ماشومې په پوزه کې پو کاوه. هغه يې په بوی ډېره ښه پوهېده. له هغې راوروسته، دا چې په لوی کېدو شوه، نو لا ډېر يې بوی پسې وپېژنده. کله به چې د هروئينو بوی ورغی نو ماته به يې ځان رارسوه. تر هغو به يې زما له سينو شيدې نه خوړلې، څو مې چې هروئين ورته تزريق کړي نه وای. مونږ بايد پر خپلې ماشومې ډېر پام ساتلای وای، ځکه کېدلای شول مړه شوې وای. لور مې امفيزيما يا د سږو ناروغي پيدا کړې، ځکه چېرته چې مونږ اوسېدو ټولو خلکو نشه يي توکي کارول او د هغوی بوی او دودونه به يې تنفس کول. زه ډېره ډنګره شوم، او ماشومه مې په پيل کې تر ما ډېره ډنګره وه. ما په دې وروستيو کې وليده، ډېره چاغه شوې او مخ يې راډک شوی دی. لږ تر لږه ما خپله ماشومه نه ده وهلې.

دا چې لور مې د شيدو رودلو په عمر وه، له ما واخېستل شوه او زه دلته د درملنې مرکز ته راغلم. دا کار دوه مياشتې وړاندې و او په تېرو څو ورځو کې مې ډېره سخته ياديږي. هغه کارونه چې خپلوانو راسره وکړل، هېڅ مې نه خوښېدل او هغه وخت چې لور يې رانه واخېسته ډېر مې وژړل، خو اوس له دوی ډېره مننډوی يم. زه او زما ماشومان ټول په زجر او ستونزو کې و. د تعلق پياوړی حس په ما کې کمزوری شوی دی، خو دا په دې معنا نه ده، چې زه له خپلو ماشومانو سره مينه نه لرم.

**د هغو دوو ماشومانو پالنه زما لپاره ډېره ستونزمنه وه، چې له خپل لومړي خاوند مې لرل. د دوی د پالنې په خاطر زه د کوکنارو کروندو ته د کار لپاره لاړم.**

له مور پرته مې له نورو خپلوانو سره نېږدې اړيکې نه لرلې او مور مې هم وفات شوې ده. کله چې له دې ځايه رخصت شوم نو د خپلو ماشومانو ليدو ته نه ورځم، خو که ډېر د تعلق احساس مې ورسره پيدا شي هغه بېله خبره ده. د هغو دوو ماشومانو پالنه زما لپاره ډېره ستونزمنه وه، چې له خپل لومړي خاوند مې لرل. د دوی د پالنې په خاطر زه د کوکنارو کروندو ته د کار لپاره لاړم. خو وروسته زما خپلوان ډېر هيله من نه وو. دوی نه غوښتل، چې زه خپل ماشومان له هغوی سره پرېږدم. له همدې وجې زه له خپلوانو سره نېږدې اړيکې نه لرم. خپل خويندې او ورونه مې هم نه خوښيږي. زه له دوی خپه نه يم، ځکه ما هېڅکله له دوی کوم خير نه دی ليدلی او نه مې تکيه پرې کړې ده. زه له خپلو ماشومانو، خويندو يا هم ورونو سره هېڅ د خپلوۍ احساس په زړه کې نه لرم.



د هپکانت جېډ کانونه، د کاچين ايالت. ورد کيچلينډ څېړنيز مرکز (KRC) څخه

زما دوه لوی ماشومان اوس په هغه زاړه کلي کې دي، او د دوی پلار، يعنې زما لومړی خاوند يې پالنه کوي. زه نه غواړم هغه کور ته بېرته ستانه شم يا مې خپل ماشومان وګورم. څوک به ډېر وځوريږي؟ زه او که دوی؟ زما د واده ژوند ډېر بدمرغه و، خو زه خاينه نه وم او د نورو خلکو برعکس مې خپل مسووليتونه تل اداء کړي دي.

ځينې ښځې چې نشه يي توکو ته اړتيا ولري، بدلمني کوي. که څه هم ډېرو سړيو راڅخه غوښتنه کړې، خو دا کار مې هېڅکله نه دی کړی. دوی داسې انګېرله چې زه ښځه يم او په نشه يي توکو روږدي يم، نو حتماً بدلمني هم کوم. زه معمولاً له سړيو سره يو ځای نشه يي توکي کاروم او ښايي همدې کار زما روږدي کېدل لا پسې بدتر کړي وي، خو بدلمني مې هېڅکله نه ده کړې.

زه په ښارګوټي کې د نشه يي توکو د پلور ځای ته نږدې پل ته څېرمه يو اتاق لرم، او هلته له خپلو هغو ماشومانو سره پاتې کېدم، چې له دويم خاوند مې راوړي و، ځکه دا زما لپاره ډېره اسانه وه چې هغې سيمې ته نږدې استوګنه وکړم چېرته چې نشه يي توکي ترلاسه کولای شم، ځکه دوه ماشومان مې لرل او بايد په نشه يي توکو پسې له ډېر لېرې ځايه راغلې وای. دا کوټه ما په خپله جوړه کړه. خلکو به زما ماشومان ليدل، چې يو مې ترلاس نيولی او بل مې په شا دی، نو ډېر حيرانېدل، په تېره بيا پوليس او د نشه يي توکو پلورونکي به ډېر حيرانېدل. ځينې وختونه به چې زما ماشومانو وژړل يا به مې خپل ماشومان وسکونډل، نو ځينو پلورونکو به ما ته يو بوتل فورموله راکوله، ځکه پر ماشومانو به يې زړه وخوږېده.

ما يوازې له لويو پلورونکو نشه يي توکي اخېستل او پلورل مې هم. يوې سترې پلورونکي ښځې د يو کور په څېر ځای جوړ کړی دی او کوچنې سوري يې په کې پرېښودي. له يوې خوا يې يابا يا ميتافيتامين په کې خرڅول او له بلې خوا يې هروئين په کې پلورل. دوی هلته خپل امنيتي تدابير لري، او هېڅوک نشي کولای هلته خپل موبايل وکاروي. که کوم څوک دا کار وکړي، نو وهي ډبوي يې، په تېره بيا که چېرې يې ونه پېژني. په دې وروستيو کې دې کور ته اور واچول شو، خو پوليسو له وړاندې دوی ته خبر ورکړی و او دا ډول پېښې ځينې وختونه رامنځ ته کېږي.

کله چې په نشه يي توکو روږدي شوم، نو ډېره وېره راسره مل شوه، هر وخت به مې چې خپل ملګري يا خپلوان ليدل نو زه به تښتېدم او د هغوی له سترګو به مې ځان پټوه. دا چې پخوا مې پيسو ته اړتيا لرله، نو له خپلو رئيسانو او مديرانو سره مې ډېرې دوستانه اړيکې ساتلې، خو اوس چې هرکله دوی وينم چې زما خوا ته راځي، نو ترې تښتم او ترې پټېږم. زه نور نه غواړم چې ان له خپل کور د باندې ووځم. زه د هغو خلکو په وړاندې چې پېژنم يې، خجالته يم، له نشه يي توکو لاس په سر کېدل ډېر ستونزمن کار دی. که شرم له سترګو وغورځوم، نو ښايي د هېچا په کيسه کې نه شم او نشه يي توکي په ښکاره وکاروم.

# له حاشيو زده کړه

## انعکاسونه او پايلې







په لاندېنۍ برخه کې موږ د ژوند پر کیسو د یوې تګلارې په توګه رڼا اچوو او د د ټولنیزو علومو د څېړونکو لپاره یې پر پایلو غږېږو/ موږ پر هغو عامو موضوعاتو او مفاهیمو تم کېږو، چې له دې روایتونو راڅرګندېږي، خو د ژوند هرې یوې کیسې ځانګړنې او جزئیات نه بیانوو. د دې ترڅنګ د دغو کیسیو ځینې پایلې د هغو پالیسیو جوړوونکو او څېړونکو لپاره روښانه کوو، چې ډېرو بشپړپاله او پر منځپانګه د راڅرګندونکو نشه یي توکو پالیسیو جوړولو او مداخلو ته ژمن دي.

## پولې ته د څېرمه پرتو سیمو خلکو پر روایتونو کار کول او هغوی ته غوږ نیول

### د ژوند کیسې د یو څېړندود او تګلارې په توګه

د دې څېړونې تمرکز د هغو خلکو د ژوند پر کیسو او روایتونو دی، چې پولې ته څېرمه پرتو سیمو کې په ناقانونه اقتصاد کې ښکېل دي. د ژوند پر کیسو او شفاهي تاریخ ورڅ تر بلې زیاتېدونکی تمرکز د دې روایت یا په ټولنیزو علومو کې د ژوندلیک اصطلاح منعکسوونکی دی، چې د خلکو فردي ژوند او د دوی د ژوند تجربې د ټولنیزې نړۍ په درک کولو کې له موږ سره د پام وړ مرسته کوي. پردې سربېره، ښایي دا تګلاره اوس په دې وروستیو کلونو کې ډېره عامه شوې وي، خو ټولنیزو موږخینو او انسان پېژندونکو له ډېرو وختونو را په دېخوا د ژوند لیک له تګلارو ګټه پورته کړې ده.

یو روایت په کل کې د پېښو لړۍ تنظیموي، نو د هرې پېښې پر اهمیت له کل سره د هغې د اړیکې له لارې پوهېدلای شو. له همدې وجې روایت د پېښو د معنالرونکې انتقال لپاره یوه وسیله ده.[۵۱] هغه کیسې چې خلک یې بیانوي کومې حاشیوي یا هم فردي چارې نه دي، بلکې په یوه پراخه ټولنه کې د قدرت اړیکې او رقابتي واقعیتونه منعکسوي.[۵۲]

د ژوند کیسو لومړی جلا کوونکې ځانګړنه د غیرواکمنو غږونو پر لیدلوري تمرکز دی، څو له دې لارې د حاشیوي ډلو تجربې راوسپړل شي.[۵۳] د دې کار لپاره د ژوند تاریخونه په دې لټه کې دي، چې له مشهورو روایتونو ورهاخوا پل کېږدي؛ ځکه یو فرعي لیدلوری داسې کوچنې روایتونه راسپړي، چې د موجوده پوهې ثبات ننګوي. د ژوند تاریخونه د څېړنې پروسه او د ټولنیزو پدیدو درک انساني کوي او موږ له ځان سره د ناقانونه اقتصاد او په دې اقتصاد کې د ښکېلو کسانو د انګېزو په اړه له مروج درک ورهاخوا وړي.

دویم، د ژوند کیسې انساني عوامل، د سلوک معنا او د ښکېلو کسانو لیدلوري راسپړي.[۵۴] د بېلګې په توګه د هغو نهو کیسو په ترڅ کې چې دلته په دې راپور کې خپرې شوې، خلک د نشه یي توکو په اړه ډېرې متفاوتې کیسې کوي او بېلا بېل درک ترې لري. مثلاً په میانمار کې نشه یي توکي – هروئین او میتافیتامین د ناوړه ګټې اخیستنې، جګړې، پر نشه یي توکو له تکیې او منزوي کېدو سره تړلي دي. په داسې حال کې چې د سینګ را، نانګ خونګ او سای سارم د ژوند مسیرونه یو تر بله ډېر متفاوت دي، خو دوی ټول نشه یي توکو ته د یو بهرنې او ویجاړوونکي ځواک په سترګه ګوري، چې انساني عوامل محدود او کمزوري کوي. په کولمبیا او افغانستان کې له تولیدوونکو او سوداګرو سره د ژوند مرکې د نشه یي توکو په اړه یو متفاوت خو په ورته وخت کې ډېر مبهم تصویر وړاندې کوي. دوی نشه یي توکو ته له منفي اړخونو په تېره بیا د جګړې اړوند مسایلو سره سره چې لاندې مو په جزئیاتو راسپړلي دي، د یو سوداګریز توکي، یو پولي ارزښت او د ژوند اقتصادي بنسټ په توګه ګوري.

### د ژوند تاریخونه د څېړنې پروسه او د ټولنیزو پدیدو درک انساني کوي او موږ له ځان سره د ناقانونه اقتصاد او په دې اقتصاد کې د ښکېلو کسانو د انګېزو په اړه له مروج درک ورهاخوا وړي.

دریم، په لویه کچه د جزئیاتو راسپړل د ټولنیز ژوند پېچلتیا، احتمالات او ذاتي ترېنګلتیا رابرسېره کوي. زموږ په کیسو کې د خلکو، شیانو، سیمو، مفکورو او اغېزو یوه پېچلې غوټه شامله ده، چې د اړیکو، چلندونو او ارتباطاتو په اړه د محتطانه فکر کولو پر اړتیا ټینګار کوي. د دې کیسو قهرمانان په ډېر ښه ډول له دغو غوټو خبر دي. د بېلګې په توګه ډان تیتو وایي، چې: " کوکا یو ځنځیر دی، چې ټول شیان یو تر بله سره تړي. دا یو ډېر اوږد ځنځیر دی. پردې سربېره، د ډان تیتو لپاره کوکا له نورو ستونزو سره هم غوټه شوې ده. د دغو ستونزو له ډلې یوه یې پر ځمکه لانجې دي."

د ژوند کیسې دغه راز داسې فضاء او شرایطو رامنځ ته کېدو ته لار هواروي، چې په هغه کې د ژوند ناڅاپه شوي پېښې او تحولات هم راسپړل کېږي. دا تحولات ښایي له ډېرو نورو پراخو پېښو سره تړاو ولري. د بېلګې په توګه عزیز خان د افغانستان – ایران پر ګډه پوله د سختو مقرراتو وضع کېدو له وجې د تېلو له کاروبار د نشه یي توکو کاروبار ته مخه کوي. یا که شخصي تراژیدی ته اشاره وکړو، د بېلګې په توګه د کارمن زوی د کولمبیا په پوتمایو کې د شبه نظامي ډلو له لوري وژل کېږي.

څلورم، د ژوند کیسې یا تاریخونه زمان بندي رامنځ ته کوي. دا کیسې د خلکو ژوند په یوه تاریخي منځپانګه کې ځای پرځای کوي او د تېر او اوس وخت ترمنځ یوه پېلچې اړیکه رابرسېره کوي. په دې برخه کې حافظه یا یادابنت یوه فعاله مرحله ده، چې د معنا رامنځ ته کول په ځان کې رانغاړي. وګړي یوازې د خپلو تېرو وختونو کیسې نه کوي، بلکې د ویلو لپاره د یو څه په ټاکلو یا هم لرې کولو سره، دغه راز په ځینو ځانګړو پېښو یا تجربو باندې په ټینګار یا نه ټینګار کولو سره په ضمني ډول خپل تېر وختونه هم تفسیروي.[۵۵]

حافظه د خلکو ملکیت دی، خو یوازې د هغوی مال نه دی، بلکې حافظه کلتوري او جمعي دواړه کېدلای شي. ځینې کیسې په مدغم ډول او ان عبرت اخیستونکي روایت سره ویل کېږي. دا روایت د کولمبیا ټولنیزو او ولسي مشرانو هر یو کارمن او ډان تیتو په کیسو کې ډېر غالب دی، چې خپل ژوند ته په ډېر رضایت او ویاړ سره ځغلند نظر کوي. په میانمار کې بیا سای سارم په زندان کې د ۱۲ کلن ژوند په ګډون د خپل ژوند روایت د یو عبرت او درس په توګه بیانوي، خو ترڅنګ یې د هیلې او قربانۍ پیغام هم له ځان سره لري او دا په ډاګه کوي، چې دا شوني ده، چې یو څوک په خپل ژوند کې پر ستونزو او کړاوونو بریالي شي. د سای سارم کیسه بیا



انځورګري: سبستیان نراویز

د نانګ خونګ له کیسې سره، چې کورنۍ یې پر نشه یي توکو د تکیې له کبله پاشل شوې او مخ پر ځوړ تللې ده، ډېر توپیر کوي.

پنځم، د ژوند کیسې تر ډېره بریده پر یوه منځپانګه راڅرخي. د دې کیسو چورلید ځانګړې ځایونه او سیمې او دلته په دې راپور کې پولې ته څېرمه پرتې حاشیوي سیمې دي. سرحدي سیمې یوازې هغه بسترونه نه دي، چې زموږ کیسې په کې راټوکیږي، بلکې په خپله داسې فضاء ده چې د یو تحریکوونکي ځواک په توګه عمل کوي او د خپلو مېشتو خلکو د ژوند پر کیسو اغېزه کوي. لکه څه ډول چې ډوریین میسي په دې اړه وايي، چې: فضاء د میلیونونو کیسو بستر یا ځاله ده.[٥٦]

د خلکو د ژوند کیسې د سرحدي سیمو له ژوندلیکونو سره نه بېلېدونکې اړیکه لري. په دې سیمو کې مېشت خلک د نویو پروژو یا هم د خاورې نیول کېدو په وړاندې غبرګون ښايي. د بېلګې په توګه سزار مارینو په سیرا نیوادا کې د ښکېلاک بېلا بېلو څپو په اړه غږېدلی او دا یې په ګوته کړې، چې بېلا بېلو چارواکو د هغو له ډلې دولت، د کولمبیا خلکو وسله والې انقلابي ډلې او شبه نظامیانو څه ډول د بنګو او کوکا په غوړېدا کې ونډه اداء کړې ده.

دغه راز د ژوند کیسې د سیمو ودانولو او د خاورې له ښکېلاک سره د مبارزې ګڼ شمېر بېلګې په ډاګه کوي. د بېلګې په توګه کارمن په ۱۹۸۲ز کال کې پوتمایو ته د رارسېدو او بیا هلته د مېشت کېدلو په برخه کې د ولسونو هڅې او د دې هڅو په پایله کې د رامنځ ته شوي پیوند په اړه کیسې کوي. "دا سیمه د نویو راغلو کډوالو له لورې ګڼ مېشتې شوه، او هغه خلک چې له وړاندې دلته مېشت وو، نویو راتلونکو خلکو ته یې تل د مرستې لاس ورغځوه. هر چا دا تود هرکلی احساسولای شو. هر کس مرستې کولو ته چمتو و."

آغلې کارمن وروسته بیا په ۱۹۹۰یمه ز لسیزه کې د کوکا کروندګرو د انسجام مشره وه، چې بالاخره دې انسجام ته د حکومت او شبه نظامي ډلو له لورې په تاوتریخوالي ځواب وویل شو او د پای ټکی ورته کېښودل شو. څرنګه چې له دې وروستۍ بېلګې جوتیږي، ناقانونه اقتصاد دغو پولو ته په څېرمه پرتو سیمو کې ژورې رېښې لري، او دغو سیمو په بدلون کې د حیاتي ونډې ترڅنګ د ځانګړو کرکټرونو په وړاندې د ځواب یوه برخه هم ده. د بېلګې په توګه په دې سیمو کې د میوس سرحدي ښارګوټي چېرته چې سای سارم په لومړي ځل د نشه یي توکو او قمار کاروبار ته مخه کړه، یا هم په توماکو کې د کوکا کروندې پولې ته پرته سیمه ده، چېرته چې ډان تیتو د هغو افریقایي الاصله کولمبیایي ولسونو د حقوقو خوندیتوب لپاره مبارزه کړې، چې د ناقانونه نشه یي توکو په ملتیا د تاوتریخوالي او جګړو له څپو اغېزمن شوي دي.

## د کیسو بیانول

که څه هم په دې راپور کې زموږ نهه روایتونه د خلکو له لورې بیان شوي، خو باید د ډله ییزو کیسو په توګه ولوستل شي. :" معنا دا چې دا کیسې په خپله په یو ډله ییز روایت بدلیږي." [٥٧] کارمن "د خپلې مور پر پلونو د تګ" کیسه کوي. سانګ را بیا د هغو جګړو او کړاوونو په اړه غږیږي، چې د خپلې نېږدې او لویې کورنۍ درې نسلونو ورته په میراث پرېښودي.

**دا کیسې زیاتره له اخلاقي پلوه ګونګې یا مبهمې دي او د ښو او بدو، قانوني او ناقانونه، مشروع او نامشروع ترمنځ بې معنا ساده شوي دوه اړخیز تعاملونه پرمخ وړي**

پردې سربېره، د هرې کیسې د بیانوونکي ښساري مقام ته په کتو د دوی روایتونه د هغو نورو کیسو په ملتیا بشپړیږي چې پولې ته په څېرمه پرتو سیمو کې د هغوی په څېر کیسې روایت کوي. دا کیسې له ډېر اصطکاک ډکې دي، چې په اختلال، تاوتریخوالي، ناهمغږۍ او نامعلومۍ پېژندل کېږي. له استثناء پرته دا کیسې یو روښانه پیل او پای نه لري. دا کیسې د تکامل[٥٨] او پرمختیا[٥٩] له پراختیایي روایت پیروي نه کوي. کم شمېر

له یو منظم او موازي پېښلړ پیروي کوي، خو زیاتره نورې یې بیا یو غیرمتجانس جوړښت لري، چې د ناهمرنګۍ، بیارغېدو او د پېښو د تکرارولو له مخې یې پېښلړ په ګوته کېدلای شي.

دا کیسې له اخلاقي پلوه ګونګې یا مبهمې دي او د ښو او بدو، قانوني او ناقانونه، مشروع او نامشروع ترمنځ بې معنا ساده شوي دوه اړخیز تعاملونه پرمخ وړي. د دې کیسو روایت کوونکي په ناقانونه نشه يي توکو کې د خپل دخالت له ترښنګلتیاوو او ابهاماتو ناخبره نه دي. د بېلګې په توګه عزیزخان خپلو ماشومانو ته د نشه يي توکو په کاروبار کې د خپل دخالت په اړه هېڅ نه وايي. خو بل پلو چې بیګم جان کله د خپل ژوند کیسه بیانوي، نو د انساني قاچاق استثمار په اړه له ناویل شویو خبرو پرده پورته کوي او دا وايي، چې د ایران پولې هغې غاړې ته د قاچاق کېدونکو خلکو د مېشتېدو او هغوی ته د ډوډۍ تیارولو په برخه کې یې څه کړي، او په بدل کې یې ترلاسه کېدونکو پیسو هلته د زیاترو مېشتو کورنیو لپاره د ژوند توښه برابره کړې ده.

## د ژوند تاریخونه: د "توجه کولو هنر" او "د غوږ نیولو هنر"

انا تسینګ په خپل "د نړۍ په پای کې سمارق[٦٠]" نومي کتاب کې د "توجه کولو" هنر په اړه لیکي. نوموړې دا هنر بې ساریتوب او ځانګړتوب ته له ډېرې ځانګړې پاملرنې سره تړلی ګڼي، څو د نړۍ سیاسي اقتصاد په حاشیو کې پرتو خلکو، شیانو او سیمو ته په جدي ډول کتنه وشي. نوموړې وايي: د هر شي د زده کړې لپاره موږ باید د توجه کولو هنر راژوندی کړو او اتنوګرافي او طبعي تاریخ په دې زده کړه کې شامل کړو... د کیسو ګڼه ګوڼه په منظم ډول نه شي خلاصه کېدای. ځکه د دې کیسو پېښلړ په خپله منظم نه دی او بېلا بېلو جغرافیو او زماني دورانونو ته زموږ پام راګرځوي.[٦١]

د ژوند تاریخونه د اندازه کولو وړ نه دي، ځکه په خپله د عمومي درسونو یا پایلو د عمومیت په اړه نه غږېږي. خو لکه څه ډول چې د سمارق په اړه د تسینګ د کیسو ګڼه ګوڼه د پانګوالۍ په ویجاړتیاوو کې د ژوند په اړه یوه لویه کیسه وړاندې کوي، زموږ روایتونه هم پولو ته د څېرمه پرتو سیمو د مېشتو خلکو د ناقانونه ژوند نړۍ او د نشه يي توکو اقتصاد - جګړې، ودې دغه راز د دولت جوړونې پروسو ترمنځ د اړیکې په اړه یوه مهمه تولګه وړاندې کوي. لکه څه ډول چې د تسینګ کار په ډېر قوت سره دا په ډاګه کوي، چې حاشیوي برخو یا سیمو ته ځانګړې پاملرنه کول، موږ ته د کل په اړه ډېرې اړینې خبرې را په ګوته کوي.

د توجه کولو هنر د غوږ نیولو له هنر نه بېلېدونکی دی. د څېړونکو لپاره د دې معنا دا ده، چې خپل څېړندودیز مهارت پر منځپانګه له پوهې، دغه راز له خپلو شخصي اړیکو او خواخوږۍ سره یو ځای کړي. دا کیسې د بېلتون او مادیت تمرینات نه دي. غوږ نیوونکی یو فعال لوبغاړی دی، چې پر بیانېدونکي روایت نفوذ کوي، ځکه د کیسې بیانول یوه متقابله مرحله ده چې د غوږ نیوونکي او بیانوونکي ترمنځ تعامل په ځان کې رانغاړي. څېړونکی باید په ښه ډول د دې پولو پر جلا والي پوه وي، چې کوم شی وویل شي او کوم شی ونه ویل شي او په دې هم پوه وي، چې کوم څه د ویلو دي او کومې خبرې د اورېدلو دي. دا کار په تېره بیا په هغو منځپانګو کې مهم دی، چې له وسله والو جګړو او ناقانونیت اغېزمنې دي.

پورته بیان شوي نهه کیسې یا په غوره اصطلاح پولو ته د څېرمه پرتو سیمو غږونه نه په خپلو کې همرنګي او نه هم یووالی لري. پرځای یې له یو همغږي مسیر پیروي کوي او ګڼ غږونه دي، چې بېلا بېل نظریات، غږونه او روایتونه راسپړي. دا روایتونه ځینې وختونه یو له بل سره همرنګه او ځینې وختونه بیا په بشپړه توګه سره فرق لري.[٦٢] لکه څه ډول چې تسینګ په دې اړه وايي: لومړی ځل چې ما ګڼ رنګي زده کړه، دا د غوږ نیولو هنر د راژوندي کولو په برکت وه. زه دې ته اړ وم چې په ورته وخت کې بېلا بېلو غږونو او د ناهمرنګۍ هغو شېبو ته غوږ ونیسم، چې دغو غږونو رامنځ ته کړې وې.[٦٣] د سمارق ګڼو غږونو د ټولګې په اړه د تسینګ فکر له ډېرو اړخونو هغه پېچلي غوټې په ګوته کوي، چې د ناقانونه نشه يي توکو پر ځنځیر راتاو شوي او په دې غوټو کې له اصطکاک ډکې اړیکې د متقابلو ښو، وجایبو او شریکو نورمونو ترڅنګ له سلسله مرتبو، نظم او جبر سره رایوځای شوي.

د دغو کیسو موخه د نشه يي توکو د ټولګې[٦٤] په اړه د یو ټولیز آنځور وړاندې کول نه دي، ځکه د نړۍ په سویل کې د نشه يي توکو درېیو لویو تولیدوونکو هېوادونو پر پوله پرتو اوو سیمو په اړه زموږ په څېړنه کې د ناقانونه اقتصاد پر پراخو سیمه ییزو او نړیوالو اړخونو تمرکز نه دی شوی؛ ځکه د قاچاق په عمده لارو کې موږ له سوداګرو سره او په پرمختللې نړۍ کې مو له لګښت کوونکو یا هم پلورونکو سره خبرې نه دي کړې. له دې کبله، زموږ دا کیسې د نشه يي توکو د نړیوالې سوداګرۍ په اړه د روایتونو او تجربو یوې پراخې ټولګې یوازې یو څو وړې وړې برخې دي. دا کوچنۍ ټولګه یو شمېر خلک یو له بل سره نښلوي، چې زیاتره یې په ګونګ ډول پولې ته د څېرمه پرتو سیمو په کور د ننه او د باندې له خپل ژوند او د نورو له کیسو سره د خپل ارتباط له څرنګوالي خبر دي.

خو پر ځايي او ځانګړې برخه تمرکز کول پر هغو پراخو جوړښتونو د سترګو پټولو معنا نه لري، چې د ناقانونه اقتصاد د رامنځ ته کېدو او بدلون لامل ګرځي. پرځای یې د ژوند کیسې د سیاسي اقتصاد له خوا خلکو ته د ضربې رسولو او د هغوی اغېزو د څرنګوالي د مطالعې لپاره یوه امتیازي ټولګه یا پورټال وړاندې کوي.

# له کیسو مطلب اخیستل؛ مروج موضوعات او لیدلوري

## د استازیتوب او غبرګونونو په اړه پوښتنې

موږ د هغو خلکو ژوند ته له نېږدې کتنه کړې، چې د ژوند کیسې او لیدلوري یې د نشه یي توکو اقتصاد په اړه په زیاتړو راپورونو کې له پامه غورځول شوي یا هم په کمه سترګه ورته کتل شوي. دا کار تر ډېره بریده له دې کبله کېږي، چې دوی د جیمز سکاټ له نظره غواړي(له آرشیف د باندې پاتې شي) او دا پاتې کېدل ښايي د دوی د ژوند کولو او ژوندي پاتې کېدلو لپاره اړین وي.[٦٥] که څېرې یادونه شوې، هغه هم په ډېر معمول ډول د منفعلو قربانیانو، یا هم د بې پروا فرصت طلبو په توګه یادونه ترې شوې، چې د ټولنې له لوی ارزښتي سیستم او نورمونو بې پروا دي. زموږ څېړنه بیا بېلا بېلې کیسې بیانوي، چې په دې کیسو کې خلک په تکراري ډول د خپل ځان استازیتوب په ډاګه کوي، که څه هم په ډېر احتمالي او محدود ډول وي.

البته د فردي او ټولیز استازیتوب په ډاګه کولو لپاره شرایط او فرصتونه د موضوعاتو له مخې دغه راز د یو شخص د ژوند په بېلا بېلو پړاوونو کې یو تر بله توپیر کوي. د ژوند روایتونه په هغو کچو کې ډېر توپیر په ډاګه کوي، په کومو کې چې خلک داسې انګېرې چې دوی پر خپل ژوند او شاوخوا باندې تر یوې اندازې کنټرول لري.

کارمن او ډان تیتو د مدني ټولنې عمرخوړلي مشران دي، چې له خپل ژوند په زده کړو درسونو، کړاوونو او ازمایښتونو یې رڼا اچولې ده. دوی په ډېرې زړورتیا سره هغه تېر کړاوونه، ګواښونه، دوامداره جګړې او شخصي تراژیدۍ بیانوي، چې د دوی ژوند یې بدل کړی دی. فرانسیسکو ګوتریز سانین په یو بل ځای کې استدلال کوي، چې د جګړې، کړاوونو او مالکیت د سلب دا مثلث په کولمبیا کې د هغو خلکو له لوري د بنسټینه شوي فاجعې په توګه تجربه کېږي، چې پولو ته څېرمه یا په حاشیوي سیمو کې ژوند کوي. په بله وینا، هغه څه چې د ناخاپي پېښو او بدمرغیو په سترګه ورته کتل کېږي، د یوې پراخې الګو یوې برخې په توګه ورته کتل کېدای شي، چې په هغه کې پولې ته د څېرمه پرتو سیمو او سېدونکي په سیستماتیک ډول د تاوتریخوالي او ناځرګند برخلیک پر خوا تېل وهل شوي دي.[٦٦] خو د کارمن او ډان تیتو کیسې په ډېر قوت سره هغه مشرتوب او د ادعاء کولو نقش هم بیانوي، چې دوی پرغاړه اخیستی و، هغه درسونه چې دوی له دې تجربو زده کړي او هغه کوچنۍ بریاوې، چې دوی د ټولنیز انسجام او منظم مقاومت له لارې ترلاسه کړې دي هم بیانوي.

له سرحدي سیمو د تاوتریخوالي، ناقانونیت او ټولنیزو درزونو رایج کاریکتور پرځای پولې ته د څېرمه پرتو سیمو په اړه د دوی تصویر ډېر پېچلی او بېلا بېل اړخونه لري. د دوی له کیسو موږ ته دا جوته شوه، چې نشه یي توکي په پراخ کرنیز او اخلاقي اقتصاد کې غوټه شوي دي. پولې ته څېرمه مېشت ولسونه له پاشلي حالت ورهاخوا د ولسي اقداماتو کمېټو په څېر له ټولنیزو پانګو او د انسجام له تګلارو ګټه پورته کوي، څو خپل ډله ییز غبرګون اوچت کړي او له چارواکو خپل حقونه وغواړي. د کارمن په دې خبرو کې، چې: تاسو داسې انګېرئ چې په باد کې الوتي پاڼه یئ او هېڅ ځای نه راغورځوئ، ان که هېڅ شی هم نه کوئ! په ۱۹۹۲ز کال کې د کوکا کروندګرو انسجام، د ۲۰۱۳ کال سپړې شیندلو په وړاندې غبرګون او بیا د سولې په پروسه کې ګډون کول د نوموړې په فعالیت کې شامل دي.

دا ادعاوې تل له پامه غورځول کېږي او غوږ نه ورته نیول کېږي، او ښايي د یو څا د شخصي یا ډله ییز ژوند په بیه تمامې شي. ښه شواهد یې د ټولنیزو مشرانو ترور دی. خو دا دوې کیسې د الیزابت ووډ[٦٧] له نظر سره سم د استازیتوب په خوند او د رښتنیوالی په معنا کې نغښتې، دې چې یو څوک د یو ولس د ژغورنې او استازیتوب له درکه دا خوند ترلاسه کوي.

### وګړي په بیاځلي ډول خپل استازیتوب څرګندولو هڅه کوي، که څه هم په ډېر محدود او احتمالي ډول وي.



انځورګري: سای خام لوئیس

د فردي او ټولیز استازیتوب دا بېلګې د سکاټ له هغې نظریې سره په ټکر کې دي، چې وايي پولو ته د څېرمه سیمو مېشت خلک په دې لټه کې دي، چې له دولت تېښته وکړي او غاړه ورته کېږدي.[٦٨] کارمن او ډان تیتو د هغو پراخو خوځښتونو برخه دي، چې په هغو کې خلک غواړي دولت ته غاړه کېږدي، نو بیا کولای شي پر دولت ادعاء وکړي او د خپلو حقونو غوښتنه ترې وکړي. پولې ته د څېرمه سیمو په استازیتوب کې پر غیردولتي چارواکو لکه د کولمبیا خلکو وسله والې انقلابي ملېشې، طالبان یا هم د کاچین خپلواکۍ اردو، چې په حاشیوي سیمو کې د قانون حاکمیت او خدماتو وړاندې کولو بدیل سیستمونه دي، د ادعاوو کولو او نفوذ پیدا کول هم شامل دي.

داسې ښکاري، چې له میانمار څخه د ژوند کیسې د فردي او ټولیز استازیتوب له مخې د دې سکې په بل مخ کې ځای لري. په زیاتړو حالاتو کې د کاچین او شان ایالتونو پولو ته په څېرمه پرتو سیمو کې زمینه له ټاکل شوې اندازې هم زیاته ده، چې عمده دلایل یې د پولو دواړو غاړو ته د ځواکمنو او څېونکو دولتونو شتون، تر اوربند وروسته د استثماري ودې ځانګړې دورانونه او نظامي یووالي او پولو ته په څېرمه پرتو سیمو کې د نشه توکو ورځ تر بلې ډېرونکي کارول دي. د دې هېواد خلکو د ژوند کیسې د ناپاکۍ، بدمرغۍ او شخصي ملامتیا سره مل دي. هره یوه کیسه د عاملیت کمښت بیانوي، چې د نشه یي توکو کارولو د غربت، بدنامۍ او ژوند غوړېدا فرصتونو په راکمولو کې مرسته کړې ده. د نانګ خونګ په وینا، چې دوه ورونه یې په نشه یي توکو روږدي شوي دي: "دا پروا نه کوي، چې ما څومره پیسې ګټلې او څومره زیار مې ویست، خو هغو پیسو زموږ لپاره بسنه نه کوله موږ ډېر د خجالتۍ او شرم احساس کاوه. خلکو به زموږ په کورنۍ پسې بد رد ویل."

نشه يي توکي د روايت کوونکو پر ژوند اغېزې لري. دا توکي د خلکو مادي ژوند دغه راز ټولنيز نورمونه، هيلې او تمې هم بدلوي. دا توکي خلک ناتوانه کوي، نوي اړيکې رامنځ ته کوي او ان د سيمو وضعيت په بدلون کې رول لري.

د نشه يي توکو له کبله د ناتوانۍ او ښکېل کېدو احساس له دغه رايج روايت سره سره، دا خلک له منفعلو قربانيانو لېرې دي. ساى سارم او نانګ خونګ دواړه په ډارما (د بودايي لاربښوونو) په کتاب کې يو څه اندازه تسکين او تسلي پيدا کوي. دغه راز د نشه يي توکو کارولو په اړه اند ښننې ډله ييز غبرګون هم راپوته کوي، د بېلګې په توګه د پټ جانسن خوځښت ته اشاره کولاى شو. ياد خوځښت يوه ټولنيزه هڅه ده، چې د نشه يي توکو د کارولو ستونزې د هوارې لپاره په حرکت راغلې. ښايي دا هڅې هم له ستونزو راپورته کوونکو پايلو او د نشه يي توکو لا نورې بدنامۍ خالي نه وي، لکه څه ډول مو چې هر چېرته يادونه ترې کړې ده.[۶۹] د اووه ګونو سرحدي يا پولې ته د څېرمه پرتو سيمو په محتوا کې له نشه يي توکو سره د مبارزې لاسوهنو ګڼ شمېر داسې بېلګې شته، چې فردي او جمعي استازيتوب کمزورى کوي او پولې ته د څېرمه پرتو وګړو د ژوند فرصتونه محدودوي. د دې بېلګو له ډلې په کولمبيا کې د سپرې شيندلو يا هم د ناقانونه محصولاتو بديل پروګرامونو کمزوري تطبيق، په افغانستان کې د پولې دواړه غاړو ته پر سوداګرۍ د متکي خلکو پر ژوند د پولې تړل کېدو او زيات ځار اغېزو، يا هم په ميانمار کې له نشه يي توکو سره د مبارزې پوليسو له خوا د زيانمنو خلکو په نښه کول او د هغوى بندي کولو ته اشاره کولاى شو.

پولې ته په څېرمه پرتو سيمو کې مېشت خلک د خپل استازيتوب څرګندولو هڅې کوي، خو دا هڅې د ډېرو لويو ګواښونو او بايللو په بيه کوي. د بېلګې په توګه مسکو ته د نشه يي توکو د لېږد په موخه د جان ګل دوه سفرونه له ګواښونو ډک وو او زياتره يې د شخصي کړاو او ربړې په بيه ورته تمام شوي. په دې له ګواښ ډک کاروبار کې د نوموړي ښکېل کېدل، د هغه خپله خوښه نه وه، بلکې لامل يې د ژوند توښې چمتوکولو لپاره د نورو بديلو لارو نه شتون و. همدا ډول عزيزخان څکه د نشه يي توکو کاروبار ته مخه کړه، چې له ايران سره پر ګډه پوله د ديوال جوړېدو له کبله نور اقتصادي فرصتونه له منځه لاړل. دې کاروبار ته د ده لاس اچول ډېر ستونزمن او له ګواښ ډک و، لکه څه ډول چې له ټولې پانګونې سره يې د خپل ايراني شريک د لا درکه کېدو ويلي دي.

د ژوند کيسې په ډاګه کوي، چې له لوى ګواښ، ابهام او نا امنۍ سره پولې ته د څېرمه پرتو سيمو وګړي په تکراري توګه دې ته اړ ويستل کېږي، چې فاوستي معاملې ته غاړه کېږدي.[۷۰] د جګړې، سختې نابرابرۍ او له شخړو او جګړو سره د مقابلې لپاره د قانوني ميکانيزمونو د نشتوالي له کبله د کروندګرو، کوچنيو سوداګرو او نشه يي توکو کاروونکو د چنې وهلو قدرت ډېر محدود دى. په ناقانونه اقتصاد کې د دوى ښکېلېدل د دوى لپاره يوه لنډمهاله حل لاره پيدا کوي يا هم د بېړنيو اړتياوو لپاره په يوه بڼه تسلي پيدا کوي. په دې حل لاره او تسلۍ کې ځمکې، امتيازاتو، ډوډۍ، مصرفېدونکو شيانو يا هم خپله نشه يي توکو ته لاسرسى شامل دي... خو دا کار د دوى راتلونکې نړوي، دا کار دوى د ستونزو په يوه داسې ټولګه او نه راګرځېدونکې مبادله کې راګيروي، چې د دوى راتلونکې غوړېدا محدودوي.

بالاخره، دا يادونه اړينه ده چې نشه يي توکي په خپله د ټولنيز ربړ، درملو، د امتياز سرچينې، پولي ارزښت، د تسکين او له دردونو د فرار، يا هم د سياسي چانې وهلې په توګه له ډېر قدرت برخمن دي.[۷۱] نشه يي توکي د روايت کوونکو پر ژوند اغېزې لري. دا توکي د خلکو مادي ژوند دغه راز ټولنيز نورمونه، هيلې او تمې هم بدلوي. دا توکي خلک ناتوانه کوي، نوي اړيکې رامنځ ته کوي او ان د سيمو وضعيت په بدلون کې رول لري.

## جګړه او سوله

څرنګه چې په سريزه کې مو يادونه وکړه، له جګړې د سولې پر لور نازک انتقال په درېيو وړاو هېوادونو کې يا په بشپړه توګه له ماتې سره مخ شوى يا يې لا ډېرې بې ثباتۍ او جګړو ته لاره هوارې کړې. هر وګړى د جګړې ګڼ شمېر بېلګې روايت کوي. دوى هر يوه يې هڅه کړې ده، څو دا جګړې په داسې چاپېريال کې هدايت کړي، چې تل د جګړو لومړى کرښې بدلېدلې نو دا ډېره ستونزمنه وه چې د ګواښونو سرچينه په نښه شي.

لکه څه ډول چې ډان تيتو روايت کوي: "د جګړې په منځ کې که څوک ژوند کوي، نو معنا يې دا ده چې کفن تر غاړې راتاو کړى به ګرځي." د روايت کوونکو د ژوند په اوږدو کې پولو ته څېرمه د دوى سيمو ډېره کمه سوله ليدلې، خو تل د داسې جګړو ډګرونه پاتې شوي، چې په راټوکېدو کې يې بېلا بېلو عواملو لاس درلود. سرحدي سيمې او پولو ته څېرمه پرتې سيمې تل د ملېشو، شبه نظامي ډلو، د دولتي ځواکونو، ځايي ملېشو او ولسي مدافع ډلو ترمنځ د تقابل ډګرونه پاتې شوي. په دې منځ کې د دوى ترمنځ د ډزو په تبادله کې تل د رايسار کېدو ګواښ موجود وي. د بېلګې په توګه په کولمبيا کې د حکومت، ملېشو يا هم شبه نظامي ډلو په منځ کې يا هم د جانګل د کاروبار شريک، چې په ناسم ځاى کې په ناسم وخت کې په ځانمرګي بريد کې ووژل شو، يا هم د کارمن زوى ته اشاره کولاى شو، چې د لباس اغوستلو بڼې له کبله د شبه نظامي ډلو له لوري وژل کېږي.

پردې سربېره، د يوې ډلې له لوري د موخې ګرځېدو وېره هم هر وخت شته وي، څکه ځينې وختونه په تېروتنه کې د دې ډلو له سرو کرښو يو څوک اوړي يا هم داسې انګېرل کېږي، چې د يو چا له ناسمې يا مخالفې ډلې سره تړاو دى، د بېلګې په توګه کارمن د ايکوادور پولې ته څېرمه څکه تېښتې ته اړ کېږي، چې د شبه نظامي ډلو له لوري ګواښل کېږي، يا جانګل له ننګرهار څخه کابل ته څکه کډې کولو ته اړ کېږي، چې مجاهدين يې د دوى ډلې ته ژمنتيا له دې کبله تر پوښتنې لاندې راولي، چې پلار يې د شوروي له ملاتړ په برخمن دولت کې کار کوي.

له دغو ګواښونو د خلاصون يوه لار دا ده، چې د خپل ځان د خونديتوب لپاره له يوې وسله والې ډلې سره يو ځاى شې. د بېلګې په توګه عزيزخان د شوروي اتحاد د اشغال پرمهال د مجاهدينو له يوې ډلې سره يو ځاى کېږي، په داسې حال کې چې په ميانمار کې سينګ راو په دې اړه ويلي، چې د کاچين د خپلواکۍ په اردو کې د هغې د خاوند مقام څه ډول د هغې په خونديتوب کې مرسته کړې ده. نوموړې په دې اړه وايي: "د کاچين د خپلواکۍ اردو د سرباز مېرمنې په توګه، زه فکر کوم د پخوا په پرتلې مې وېره لا پسې ختمه شوه!" پردې سربېره، د کاچين د خپلواکۍ په اردو کې د ښځو اجباري استخدام او د کاچين د خپلواکۍ اردو پر پاټک د نظامي روزنې لپاره د نيول کېدو وېرې ته هم اشاره کوي.

د جګړې پرمهال د غيرجګړه ييز تاوتريخوالي نورې بڼې بيا د نشه يي توکو له اقتصاد سره ملتيا کول يا هم له دوى سره مبارزه کول دي. د نورو کولمبيايي ځواب ويونکو په څېر سيزار مارينو د کوکا او تاوتريخوالي

ترمنځ له اړيکې پرده پورته کوي. نوموړی وايي، چې: "کوکا جګړه زېږوي او خلک په زړونو سختوي... هر ځای چې کوکا وه، هلته وسله واله ډله هم وه." نوموړی لا پسې وړاندې ځي او وايي، چې" دغه تاوتريخوالي د بنګو او کوکا دواړو په غوړېدا او وده کې مرسته کړې ده: " شاوخوا په ټولو سيمه کې جګړه وه. هر شخص په وسله سنبال و. هر چا چې د بنګو يا کوکا کاروبار کول غوښتل، نو ټوپک لرل ورته لازمي و. "بل پلو بيا ډان تيتو له بل واقعيت پرده پورته کوي، نوموړی وايي، چې: " زموږ په څېر د توريپوستو خلکو لپاره کوکا د خوشالۍ پرځای غمونه له ځان سره راوړي دي. "



انځورګري: جوهانتان اکوستا

له نشه يي توکو سره د مبارزې پاليسۍ په خپله د خلکو او شيانو په وړاندې د تاوتريخوالي بنې دي. ډان تيتو وايي، چې "کوکا زموږ خاورې ته سپرې شيندل هم له ځان سره راوړل" او د خلکو پر روغتيا د دغې سپرې شيندلو له زيانونو پرده پورته کوي، دغه راز وايي، چې: "دغې سپرې شيندلو په زرګونه هکتاره د خرما ونې له منځه يوړې. "کارمن بيا په ۱۹۹۲ز کال کې د کوکا کروندګرو د انسجام په وړاندې د حکومت او شبه نظامي ځواکونو له لورې د راپورته شوي تاوتريخوالي په اړه خبرې کوي.

په ميانمار کې روايت کوونکي بيا د نشه يي توکو له ورو تاوتريخوالي پرده پورته کوي. د دې ترڅنګ دا هم وايي، چې څه ډول د خپل ځان په وړاندې د تاوتريخوالي ترڅنګ دې کار د جنايت، کورني زورونه، دغه راز له نشه يي توکو سره د پوليسو يا هم پټ جاسن خوځښت له لورې د مبارزې تاوتريخوالي په ګډون د ژوند پر نورو برخو اغېزې کړې. ساي سارم ۱۲ کاله د نشه يي توکو له کبله پر زندان محکوم شوی او بايد د اجباري کار کلونه يې هم تېر کړي وای. د سينګ را ورور بيا په زندان کې مړ کېږي، په داسې حال کې چې د نانګ خونګ کشرۍ ورور بيا په ۲۰۱۴ز کال کې نيول کېږي او بندي کېږي، خو تر دې دمه يې په اړه هېڅ خبر نه لري.

## له نشه يي توکو سره د مبارزې پاليسۍ په خپله د خلکو او شيانو په وړاندې د تاوتريخوالي بنې دي.

پردې سربېره، د نشه يي توکو ترڅنګ د تاوتريخوالي نور رامنځ ته کوونکي عوامل هم موجود دي. د ودې مرحلې او لاسوهنې زياتره د تاوتريخوالي زېږنده او د ملکيت د سلب لامل ګرځي. کارمن په پوتمايو کې د تېلو کمپنۍ ته اشاره کوي، چې څه ډول يې د کروندګرو د ځمکې مالکيت حق، د اوبو سرچينې او ځايي زېرباوې له ګواښ سره مخ کړې دي. نوموړې د خپل ټولنيز سازمان مشر د وژلو دردناکه کيسه کوي، چې د تېلو له کمپنۍ او حکومت سره تر پنځو ورځو خبرو اترو وروسته څه ډول په بې رحمۍ ووژل شو. په ميانمار کې د قيمتي ډبرو کانونه چې سينګ راو ورته اشاره کړې ده، د ځمکې غصب، د کار استثماري شرايطو په رامنځ ته کولو او د نشه يي توکو په وېش کې چې ځينې وختونه کارګرانو ته د کار د اجورې په توګه ورکول کېږي، مرسته کړې ده. له دې کبله يوازې د نشه يي توکو اقتصاد د تاوتريخوالي لامل نه، بلکې د اقتصاد نورې برخې هم له جوړښتي او فزيکي تاوتريخوالي سره ملتيا او مرسته کوي.

پولو ته د څېرمه پرتو سيمو تاوتريخوالی له جنسيتي پلوه هم ډېرې ژورې ريښې لري. بيګم جان د هغه تاوتريخوالي کيسه کوي، چې د طالبانو د امربالمعروف او نهی عن المنکر مسوول له لورې له هغې ښځې سره ترسره کېږي، چې برقع يې په عام محضر کې لېرې کړې وه. په ورته ډول سينګ راو، چې ژوند يې د ډېرو فزيکي، سمبوليکو او جوړښتي تاوتريخوالو اغېزمن شوی دی، د هغه وخت په اړه خبرې کوي، چې مور يې د پلار له لورې وهل ټکول کېږي او په ورانه کې يې په چاقو زخمي کوي. دا د تاوتريخوالي هغو پراخ شمېر بېلګو له ډلې يوه ده، چې نوموړې يې په خپل ژوند کې تجربه کوي يا يې شاهده وه.

افراد د خپل ځای پرېښودلو، ژمنتيا څرګندولو يا هم غږ اوچتولو په څېر له بېلا بېلو لارو په ګټې اخيستنې له تاوتريخوالي سره مبارزه کوي.[۷۲] دوی يوې خوندي سيمې ته کډه کېږي، د بېلګې په ډول بيګم جان او کورنۍ يې د طالبانو د دورې پرمهال ايران ته کډه کېږي(د خپل ځای پرېښودل). دوی چوپ پاتې کېږي/ يا هم له يوې ځواکمنې ډلې سره يو ځای کېږي، د بېلګې په توګه عزيزخان د مجاهدينو له يوې ډلې سره يو ځای کېږي(د ژمنتيا څرګندول) يا هم دوی هڅه کوي، چې شته وضعيت وننګوي او خپل حقوق ترلاسه کړي، د بېلګې په توګه ډان تيتو هڅه کوي، چې په پوتمايو کې د خپلو ولسونو د ژوند په شرايطو کې بدلون رامنځ ته کړي، يا کارمن پرېکړه کوي، چې د هغو کسانو پر پلونو پل کېږدي، څوک چې د نورو د سوکالۍ لپاره مبارزه کوي. هغه وايي، چې زه دې کار د کور يوې عادي ښځينه ژوند څخه راپورته کړم. اوسنی ژوند مې ډېر ښه دی! (غږ پورته کول).

د هرچا لپاره د سولې ژمنه يو سيراب دی. خلک په خپل ژوند کې له هغو تېرو وختونو يادونه کوي، چې غربت پرې حاکم و، خو يوه هيله مندي او د سولې تمه وه؛ د کارمن لپاره دا هغه وخت و چې په ۱۹۸۰ز کال کې کله پوتمايو ته کډه کېږي، د عزيزخان لپاره بيا دا وخت د ۱۹۹۰يمې زلسيزې په وروستيو کې د طالبانو لومړي رژيم پرمهال (که څه هم د بېګم جان لپاره دا د ظلم او محروميت وخت و). تر ټولو اړينه دا، چې هېڅ يو يې د اوسنيو شرايطو په اړه هيله مندي نه څرګندوي.

په کولمبيا کې د سولې مرحلې د ترسره شويو ژمنو سره سمه پرمخ نه ده تللې، د ډان تيتو په وينا: " سوله هسې يوه ډرامه ده. " پولې ته په څېرمه پرتو سيمو کې ژوند تر بل هر وخت ډېر بې ثباته دی: " موږ د ناقانونه

محصولاتو د بدیل ځای ناستي لپاره کار کوو... خو وسله وال خلک بیاځلي په سیمه کې راپیدا شوي دي او غواړي چې د کوکا دفاع وکړي... په توماکو کې سوله خپلې وروستۍ سلګۍ وهي... داسې ښکاري، چې موږ تورپوستي ولسونه په سوله او جګړه دواړو کې بایلونکي یو. " وروستۍ خبره دا، چې د بیګم جان تجربه دا په ګوته کوي، چې د سولې بیه یوازې د هغو کسانو پر اوږو تر ټولو درانه حسابیږي، چې غږ یې ډېر کم او ربډل شوی.

په میانمار کې هم په همدې ډول د کاچین او شان ایالتونو مېشتو وګړو تر نظامي کودتا د مخه هم د سولې ګټه نه ده لیدلې، ځکه د دوی لپاره په ۲۰۱۱ز کال کې په ملي کچه د سولې رسمي پروسې تر رامنځ ته کېدو وروسته کلونه ډېر له تاوتریخوالي، زېبښونکي ودې او ډېرو نشه یي توکو سره مل و. له کومې حیرانتیا پرته د ژوند کیسې له جګړې د سولې پر لور یو منظم انتقال نه راسپړي، بلکې پرځای یې د جګړې نه موجودیت، سولې نه موجودیت یا هم له تاوتریخوالي د ډکو دورانونو یادونه کوي. د دې کیسو د لیکلو پرمهال داسې ښکاري، چې دا تاوتریخوالی کوم پای هم نه لري. ښایي زموږ د کیسو لوبغاړي د سولې لپاره هیله مندي ولري، خو هېڅ راز پلان ورته نه جوړوي.

## د سرحدي سیمو تاریخونه؛ پر حاشیو خبرې اترې

سرحدي یا پولو ته پرتې سیمې، چې زموږ د نهو اتلانو ټاټوبي دي، د ابتکار او ازمایښت ځایونه؛ د ګواښ، ناډاډمنتیا، محدودیت او حاشیه توب زونونه دي، خو ترڅنګ یې د فرصت، بدلون او ازادۍ سیمې هم دي. دا هغه بېلوونکي ځانګړنې دي، چې پولو ته د پرتو سیمو د عادت په اصطلاح کې راغونډې شوي دي، چېرته چې خلک د خپل ګوښه والي په اړه د مذاکرې او نفوذ ترلاسه کولو دواړو په لټه کې دي.

### حاشیوي سیمې هېڅ وخت په ثابت حالت کې نه پاتې کېږي. ځکه تل د جګړې، نشه یي توکو او ودې له کبله د بدلون او انتقال یوه اوږده لړۍ تجربه کوي.

دا سرحدي سیمې او پراخې سیمې د جګړو او سیالۍ له کبله بې ثباته شوي او ویجاړې شوي سیمې دي.[۷۳] په ورته وخت کې دا هغه سیمې دي، چېرته چې کلتوري سرچینې، ټولنیزه پانګه او همکارۍ د بقاء اړین فکتورونه دي. د بېلګې په توګه کارمن په سرحدي سیمو کې د مېشتو وګړو د چلن په اړه وایي، چې تاسو د دوی تود هرکلی حس کولای شوو... هغه وخت ډېره پرېماني وه!

حاشیوي سیمې هېڅ وخت په ثابت حالت کې نه پاتې کېږي. ځکه تل د جګړې، نشه یي توکو او ودې له کبله د بدلون او انتقال یوه اوږده لړۍ تجربه کوي. دا وده په متانسب او ناڅاپي ډول دغه راز په لوړ او ځوړ سره رامنځ ته کېږي. د بېلګې په توګه د سانتا مارتا په پوتمایو کې د تېلو او کوکا اقتصاد دغه راز د کافي، بنګو او کوکا غوړېدا یا هم په میانمار کې د کانونو او زېربناوو سره تړلو نویو اقتصادي پراختیاوو یا هم په افغانستان کې پولې ته د څېرمه دیوال جوړېدو له کبله د فرصتونو له منځه تګ ته اشاره کولای شو.

د پرېکون دا شېبې د خلکو فردي ژوند په ډېر ملموس ډول خپله موخه ګرځوي. د بېلګې په توګه بیګم جان، پر پوله د ایران له لورې د دیوال تر جوړېدو وروسته نه شي کولای خپل کاروبار ته دوام ورکړي یا هم د پولې هغې غاړې ته خپلو خپلوانو ته ورشي: "له دې وروسته موږ د یو بل په غم او ښادۍ کې ګډون نه شو کولای." له بلې خوا عزیزخان دې ته اړ کېږي، چې د نشه یي توکو قاچاق ته مخه کړي، ځکه نور اقتصادي فرصتونه له منځه ځي او کاروبار په ټپه درېږي. په میانمار کې بیا د نانګ خونګ د کورنۍ غړي د بدلون له کبله د نشه یي توکو کارولو ته مخه کوي، په داسې حال کې چې سای سارم بیا دا په ډېر مهارت سره مدیریت کوي، چې پر نشه یي توکو له تکیې ځان او کورنۍ خلاصه کړي.

سرحدي سیمې د سیاسي کېدو او افراطي کېدو فضاء هم ده. لکه د کارمن په سیاسي تګلورې کې چې ورته اشاره شوې ده. نوموړې پوتمایو ته تر تګ وروسته له لېبرال ګوند د کمونېستي افکارو او کمونېستي ګوند پر لور مخه کوي، او دا ګوند یې د ولسي اقداماتو له کمېټې، د کوکا کروندګرو د انسجام او لاریونونو په برخه کې د فعالیت په ګډون ډېرو نورو فعالیتونو ته لاره هواروي.

له دغو حاشیوي سیمو په میراث پاتې شوي ګواښونه او فرصتونه په ناعادلانه ډول وېشل شوي. لکه څه ډول چې ډان تیتو یادونه ترې کوي: "کوکا د کوچنیو کروندګرو لپاره یو ښه کاروبار نه دی. ګټه یې یوازې هغو خلکو ته ځي، چې سوداګري یې کوي یا هم له لسو هکتارو ډېره ځمکه کري... وروستۍ ګټه د هغو کسانو جیب ته ځي، چې ان دلته هېڅ ژوند نه کوي."

د نشه یي توکو ګټه تل پر لګښتونو لګول کېږي. د بېلګې په توګه سیزار د بنګو د غوړېدا په اړه وایي، چې: "زیاتره کروندګر د ډېرو پیسو له مدیریت سره بلد نه وو، او دا چې هر یو داسې انګېرله چې دا باد راوړې پیسې به هېڅکله ختمې نه شي، نو ټولې یې ضایع کړې." په ورته ډول ډان تیتو هم دا خبره کوي، چې: د کوکا کروندګرو ته ډېره ژر جوته شوه، چې هغه ډېر ښه وختونه وو ځکه درې کارتنه بیر (د اوربشو اوبه) یې اخېستلای شوې... د دوی خوړنځایونه له بوتلونو ډک وو. خو په بله ورځ به بیا د پولۍ ټک ته ناست و... کوچني کروندګر خپلې ټولې پیسې په شرابو لګوي. دوی هېڅ یو پانګونه یا سپما نه کوي."

د نورو اقتصادي فعالیتونو په څېر ناقانونه اقتصاد هم په هغو متقابلو مکلفیتونو کې رېښه لري، چې د خلکو ترمنځ د وخت په اوږدو کې د تبادلې له کبله منځ ته راځي. همدا اخلاقي اقتصاد د وخت په اوږدو کې د متقابلې تکیې او پورونو له منځه راټوکیږي.[۷۴] دا اخلاقي اقتصاد د قدر او عزت له ځایي فکر سره چې ښه شخص بلل کېږي، مرسته کوي. په دې اقتصاد کې باور تر ټولو اړینه ونډه لري، ځکه د شخړو د هوارې لپاره کومې رسمي حقوقي لارې چارې نه لري. لکه څه ډول چې عزیزخان هغه مهال له تاوان سره مخ کېږي، چې په ایران کې یې د کاروبار شریک ترې پټېږي یا ورکیږي.

## پولې او سرحدونه

سرحدي او پولې ته څېرمه پرتې سیمې د پولې دواړو غاړو ته څېرمه کار لپاره د شدیدې فضاء متحرکات دي؛ په دې فضاء کې د هېوادونو ترمنځ او خپله د هېوادونو د ننه فزیکي پولې دغه راز ټولنیز، کلتوري، سمبولیک او سیاسي سرحدونه هم شامل دي.

په پراخه کچه زور، سرچینې او د خبرو اترو کار د پولې پر جوړولو، ساتنه او څارنه لګول کېږي. دا پولې ښایي د ایران او پاکستان له لورې د جوړو شویو دیوالونو او اغزن تار په څېر ډېرې روښانه وي، یا هم ډېرې مبهمې

او ګونګي وي، لکه د خبرو اترو هغه سرحد چې د "بربر" حاشيې د "تمدن" له مرکز بېلوي.

د نشه يي توکو په اړه روايتونه د مرکز – حاشيو په اړه له خبرو اترو سره غوټه شوي دي. د بېلګې په توګه د ميانمار پولې ته په څېرمه پرتو سيمو کې نشه يي توکو ته د يوې داخلي قوې په سترګه کتل کېږي، چې د مرکزي حکومت له لوري راټوکېدلي څو قومي – ملت پاله مبارزه پرې پيکه کړي. په ورته وخت کې پولې ته په څېرمه پرتو سيمو کې ډېر ګڼ شمېر سرحدونه شته دي، چې د پردي والي او بدنامۍ په بڼو يې ملتيا کېږي. د بېلګې په توګه د کولمبيا په سرحدي سيمو کې د کروندګرو، بومي وګړو او افريقايي الاصله کولمبيايي ولسونو ترمنځ وېش، يا هم په ميانمار کې پر نشه يي توکو د روږدو کسانو او سالمو کسانو ترمنځ بېلتون يا سرحدونو ته اشاره کولای شو.

خلک په دې ښه پوهېږي، چې کومې پولې له پامه وغورځوي، کومو ته درناوی وکړي، کومې ونګوي او له کومو تېر شي. د عزيزخان او جان ګل په څېر قاچاق کوونکي د داسې لارو چارو پيدا کولو ته اړتيا لري، چې له سرحدونو پرې تېر شي. په دې لارو چارو کې د نشه يي توکو له پروسس کوونکو او دولتي چارواکو سره جوړجاړی شامل دي. خلک له پولې د تېرېدو لپاره ډېرې نوې او له نوښت ډکې لارې چارې پيدا کوي. د بېلګې په توګه عزيزخان دا راسپړي، چې قاچاق کوونکي د ايران پر پوله د جوړ شوي ديوال هغې غاړې ته خپل شريک ته څرنګه نشه يي توکي ورغورځوي.

## سفرونه او پر پلونو قدم کېښودل

د ژوند کيسې د شخصي سفرونو په اړه دي، لکه څه ډول چې هر وګړی د ژوند په اوږدو کې پر بېلا بېلو پلونو د قدم کېښودو په اړه غږېږي. ځينې خپل سفر ته د تېښتې، يا له جګړو د خونديتوب يا هم د سپرې له شيندلو د مخنيوي په سترګه ګوري( د ايران پولې هغې غاړې ته تلل، يا هم له پوتمايو څخه توماکو ته تګ)، يا هم ځينې خپل سفر ته د ښې راتلونکې او نويو اقتصادي فرصتونو د لټون لپاره د يو بديل په سترګه ګوري (کارمن او بيګم جان). ځينې نور بيا خپل سفر ته د شخصي زده کړې او نوې سياسي پوهې په سترګه ګوري (لکه کارمن او ډان تيتو) يا هم د شخصي درملنې په توګه ورته ګوري، لکه سای سارم. خو ځينې نور بيا برعکس د غربت، ناهيلۍ او مخ پر ځوړ کېدو کيسې کوي (لکه نانګ خونګ او سينګ راو).

پولو ته په څېرمه پرتو سيمو کې د ژوند سفرونه هم په وخت او هم ځانګړو شرايطو کې ترسره کېږي. د ژوند کيسې د يو وګړي شخصي ژوند يا هم د ګڼ شمېر وګړو ژوند تر پوښښ لاندې راولي، لکه څه ډول چې زياتره روايت کوونکي د خپلو نسلونو کيسې کوي. څرنګه چې مخکې اشاره وشوه، دا کيسې له يو ساده او منظم تګلوري پيروي نه کوي. د ژوند دا کيسې په ناسم ډول پيلېږي، پای يې ډېر له کړکېچ ډک وي او پر شاوخوا راڅرخي، بېرته ماضي ته ورګرځي، بيا همداسې مخ په وړاندې ځي.

دا کيسې پولې له څېرمه منځپانګو ډېرې اغېزمنې او له همدې منځپانګو سره غوټه شوي دي. له بلې خوا، په ځانګړو وختونو کې دا سيمې ډېرې له ګواښه ډکې سيمې دي، چې خلک غواړي ترې وتښتي. زياتره يې د پولې بلې غاړې ته اوړي څو له تاوتريخوالي او ځارنې خوندي پاتې شي، خو له بلې خوا بيا داسې سيمې هم دي، چې خلک هلته د خونديتوب او کډوالۍ په لټه کې دي. پولو ته د څېرمه سيمو د ننه يا هم له هغوی د باندې سفرونه زياتره له خطرونو ډک دي. د بېلګې په توګه ان د لېږد رالېږد اتصال تر معمولي کچې پورې په پوتمايو کې سرک "د مرګوني غېږې په توګه" مشهور دی.

په ځينو ځانګړو حالاتو او وختونو کې ښايي پولې ته څېرمه پرتې سيمې يو له بله بېلې وګڼل شي، خو په واقعي نړۍ کې لکه څه ډول چې د نشه يي توکو په اقتصاد کې ښکاره کېږي، دا سيمې په لوړه کچه له بهرنۍ نړۍ سره تړلې دي. دا سيمې د سرچينو، موادو، خلکو او مفکورو د تبادلې او جريان اړين مرکزونه دي، چې د پولو دواړو غاړو ته د سفرونو پر مټ انتقال او بدلون مومي او بيارغول کېږي. د دغو جريانونو په مديريت او فلتر کې پېچلې لوجستيک او زېربناوې، کاري رژيم، مالي کڅوړې او د ګواښونو مديريت شامل دي.

د دغو لوجستيکي عملياتو له ځيرکتيا سره سره، اتصال زياتره وخت پولې ته د څېرمه پرتو ولسونو په تاوان کار کوي. په زياترو حالاتو کې ناقانونه اقتصاد د هغو ناعادلانه لارو چارو استازيتوب کوي، چې په ترڅ کې يې پولې ته څېرمه پرتې سيمې په نړيوال اقتصاد کې مدغم شوي او د نړيوال کېدو د ټول شمول والي ژمنې ناکامي په ګوته کوي.



انځورګري: کروتيکا سوسارلا

# د ژوند له تاریخونو یا کیسو سره تعامل

## د څېړونکو او پالیسي جوړونکو لپاره ځینې پایلې

زموږ دا کیسې ډېرې شیندلې، ناهمرنګې او ځینې وختونه ان یو له بله سره په تضاد کې دي. دوی په خپله د روښانه او تعمیم وړ پالیسیو لپاره د پایلو او درسونو رامنځ ته کېدو لامل نه ګرځي. نه هم اړیناً تر هغې کچې ناڅرګندې خبرې راسپړي، چې د ځایي خلکو لپاره نوي وي ځکه یاد خلک د نشه یي توکو پر موضوعاتو تر بل هر چا په ډېر څه پوهیږي.

خو د توجه کولو هنر او د غوږ نیولو هنر په اړه د تسینګ مفکوري ته په کتو دا روایتونه د دې لپاره دي، چې د پالیسي جوړونکو او څېړونکو لپاره یو لړ پوښتنې، انګېزې او داسې نقطې راوپنځوي، چې له مخې یې پولې ته د څېرمه پرتو سیمو د نشه یي توکو اقتصاد په اړه د فکر کولو او هغوی ته د ځواب ویلو څرنګوالی دغه راز په حاشیه کې له پرتو ولسونو سره د تعامل څرنګوالی په ګوته شي.

زموږ سپارښتنه دا ده، چې د ژوند تاریخونه یوازې ساده طلسم نه دي، بلکې داسې روایتونه دي، چې د عامه اقدام په هڅولو او پر پالیسیو د نفوذ په برخه کې مرسته کولای شي.[۷۵] دا روایتونه د حاشیوي غږونو د پیاوړتیا لپاره یو تحرک رامنځ ته کوي، په لویه کچه خواخوږي ته لاره هواري، او د ننګوونکو او حساسو موضوعاتو په اړه بحثونو ته لاره خلاصوي، چې لاندې مو پرې خبرې کړې دي.

زموږ دا موضوعي څېړنې په ډېر ملموس او قانع کوونکي ډول دا په ډاګه کوي، چې څرنګه د خلکو ژوند د جګړې او ناقانونه اقتصاد او د ناقانونه اقتصاد لپاره د حل لارې موندلو بهرنیو هڅو له کبله اغېزمن شوی دی.

علمي او کره کمي پوهې ته د ډېرې پاملرنې او د کیفي شمیرو له پامه غورځولو پرځای اړتیا ده، چې په دې اړه ډېر خلاص فکر ولرو، چې کوم ارقام او شواهد په دې روایتونو کې راټول شوي دي، اړتیا ده، چې له ځایي پوهې سره د شواهدو په توګه ډېر په جدیت کار وشي. دا په دې معنا هم ده، چې د نشه یي توکو او ودې پالیسي جوړوونکي اړتیا لري څو په خپلو ادارو کې ژورې سیمه ییزې پوهې ته په لوړه اندازه ځای او امتیاز ورکړي.

اسانتیا چمتوکوونکي ځانګړي لکه تاریخ او انسان پېژندنه د دې پوهاوي په پراختیا کې اړینه ونډه تر سره کوي، چې ناقانونه اقتصاد په خپله خپل ځان څه ډول راڅرګندوي او په ځانګړو سیمو کې ځان ته ځای پیداکوي؟ د وخت په اوږدو کې څه ډول بدلون مومي؟ د دغه سیاسي اقتصاد په د ننه کې د وګړو فردي او ټولیزه ونډه څه ده؟ او هغه لارې چارې هم په ګوته کوي چې په ځانګړو سیمو او شبېو کې یې پالیسي او لاسوهنې پر دغو مرحلو اغېزه کوي. دا پوهه له کار په ډاډ ترلاسه کولو کې هم کوي، چې هغه پالیسي چې موخه یې له جګړې د سولې پر لور د ټولیز انتقال ملاتړ دی، باید پولو ته د پرتو ولسونو له واقعیتونو سره کار وکړي.

دا هڅې، چې ډېرې بشرپاله او بشري حقونو ته ژمنې د نشه یي توکو پالیسي رامنځ ته شي، یوازې په هغه صورت کې بریالۍ کېدای شي چې په ځانګړو حالاتو کې د ناقانونه اقتصاد د راپورته کېدو په اړه له واقعیتونو سره سمې طرحه شوې وي.

که څه هم له ترکیبي میتودونو د ګټې اخېستنې ځواک په پراخه کچه په ټولنیزو علومو کې په رسمیت پېژندل شوی، خو د ناقانونه اقتصاد په څېړلو کې تر ډېره کمه بریده په سیستماتیک ډول کارول کېږي. موږ هڅه کړې، څو په خپله پروژه کې د څېړنې ترکیبي میتودونو تګلاره وکاروو، که څه هم په بشپړ ډول نه وي؛ څو د نشه یي توکو اقتصاد، د دې اقتصاد د بېکلو اړخونو دغه راز پراخو جوړښتي اړخونو او د پالیسي ونډې په اړه لا ښه پوهه ترلاسه شي.

څېړونکي دغه راز د ناقانونه اقتصاد په اړه د لا ډېر پېچلي او پرمنځپانګه راڅرګېدونکي شننې باید داسې قانع کوونکي او هڅوونکي کیسې راوپنځوي، چې د اصلي جریان روایتونه وننګوي. په دې برخه کې غوره شواهد یوازې د دې مبارزې یوه برخه ده او تر ټولو ډېره اړتیا دې ته لیدل کېږي، چې زړونه او ذهنیتونه بدل شي. په دې بدلون کې پولو ته د څېرمه پرتو سیمو مېشتو وګړو ژوند ته د پالیسي جوړونکو په پام اړولو کې د ژوند کیسو ونډه خورا اړینه ده، څو د هغوی د ژوند ستونزو او کړاوونو په اړه پوهېدنه او خواخوږي دواړه رامنځ ته کړي.

خو دا خبره به ډېره بې باکانه وي، چې ووایو زیاته خواخوږي د پالیسیو په بدلون کې اصلي ونډه لري. داسې نه ده، ځکه د پالیسي جوړولو له سیاسي اقتصاد دا څرګندیږي، چې مالي، اداري او سیاسي ګټې به تل لومړیتوب ولري، خو دا خبره هم ډېره روښانه ده، چې د خلکو روایتونه له پالیسي جوړونکو او نورو پراخو مخاطبینو سره د وچې کلکې او بې محتوا شمیر پرځای په قانع کوونکي ډول خپله خبرې کوي.

د ځانګړې ډلې خلکو پر ژوند او محتویاتو تر تمرکز وروسته موږ دا ښه درک کولای شو، چې څه ډول بېلا بېلې پالیسي سره رایوځای کېږي او یو له بله سره په ځانګړو شرایطو کې تعامل کوي، خو پولو ته د پرتو سیمو د ولسونو له لیدلوري که ورته وکتل شي، د دې لاسوهنو وروستۍ پایله او له نشه یي توکو سره د مبارزې، ودې او سولې ټینګښت په برخه کې د پالیسیو او لاسوهنو ترمنځ بروکراتیک وېش یو له بله سره هېڅ تړاو نه لري. دا اداري تراکم د عمل ډګر ته له راوتو سره منحل کېږي، خو د خلکو پر ژوند یا منفي یا هم مثبتې اغېزې کوي.

پالیسي جوړونکي اړتیا لري څو د هغې نړۍ په اړه چې دوی یې د بدلون هڅه کوي، ډېره له محتوا ډکه او هراړخیزه پوهېدنه رامنځ ته کړي. دوی باید د څېړونکو له لوري په دې برخه کې وهڅول شي څو د خپلو پالیسیو جوړولو لپاره په شواهدو، له خلکو سره په خبرو دغه راز هغو خلکو کې کثرت رامنځ ته کړي، چې دوی ورسره تعامل کوي. ګڼې له دې پرته دوی تل پولې ته د پرتو سیمو په اړه له راښده قضاوت سره مخ کېږي، چې د شیانو د ملي نظم دغه راز هغه نړۍ لید په برخه کې تبعیضي چلن کېدلای شي، چې د ملي کچې مخکښو څېرو له سترګو ورته کتل شوي وي.

که پولې ته د څېرمه پرتو سیمو زموږ له دې راسپړل شویو تاریخونو یوه کیسه راټوکیږي، هغه کیسه به د پرله پسې نوښت، نبوغ او ټولنیزې انرژۍ کیسه وي. خلک تاریخ جوړوي، هغه هم په ډله ییز ډول، که څه هم د دوی په خپله خوښه انتخابي منځپانګې له مخې نه وي، او هغه تاریخ چې دوی یې جوړوي... د جیمز سکاټ نظر ته په کتو، غواړي له خوندیځونو(آرشیفونو) د باندې پاتې شي. هغه څه چې موږ یې د سکاټ له نظریې اخذ کولای شو، دا نظریه ده، چې پولې ته په څېرمه

پرتو سیمو کې خلک غواړي "بې حکومته" پاتې شي او له همدې کبله له خونديځ(آرشيف) د باندې پاتې کېدل غواړي.

خو پولې ته د څېرمه پرتو سيمو غړونه د سکاټ مفکورې برعکس يوه بېله کيسه روايت کوي. په دې کيسه کې خلک د دولت له غيابت، نه پاملرنې يا هم ځپلو شکايت کوي. پولې ته په څېرمه سيمو کې مېشت خلک پرته له دې چې د دولت کم شتون وغواړي، دوی داسې يو دولت غواړي چې د يو بېل ټولنيز تړون په ترڅ کې رامنځ ته شوی وي. لکه څه ډول چې د کارمن تجربه په ډاګه کوي، هغه خلک چې په حاشيوي سيمو کې ژوند کوي، زياتره وخت دا غواړي چې ډېر واورېدل شي، څو دوی د دې جوګه شي چې په ډله ييز ډول پر دولت دعوا وکړي او خپل حقوق ترې وغواړي.

په دې راپور کې د يادو شويو درې هېوادونو پولو ته څېرمه پرتو ولسونو د خپلو حالاتو د بدلون لپاره له ډله ييزا استازيتوب ګټه پورته کړې، که څه هم زياتره يې په لوړه شخصي بيه او بېلا بېلو اغېزو ورته تمامه شوې ده. دا راپورونه هغه تکراري خبرې ننګوي، چې پولې ته څېرمه ټولنې ډېرې پاشلي او د نشه يي توکو په اقتصاد کې ښکېل کسان ازاد ګڼي، او تر ټولو لويه انګېزه يې پيسې يادوي.

زموږ پروژې دا زاړه شوي او تکراري روايتونه ننګولي دي او تر کومه بريده چې شونې وه، زموږ په څېړنو کې د راښکاره شويو ابتکاراتو او خبرو اترو له لارې مو پولې ته د پرتو سيمو د استازولۍ بېلا بېلو ډلو سره مو تعامل کړی او ملاتړ مو يې کړی دی. دا خبرې اترې ښايي يوه د پيل نقطه او ځينې داسې نښې وړاندې کړي، چې په ترڅ کې يې په جګړه ځپلو او له نشه يي توکو اغېزمنو پولې ته پرتو سيمو کې د ډېرو انسان پاله نشه يي توکو پاليسيو د طرحه کولو پر لور حرکت وکړو.

د بېلګې په توګه په کولمبيا کې زموږ همکارانو له ځينو هغو ټولنيزو او ولسي مشرانو او د دوی له ځای ناستو سره کار کړی، چې کيسې يې په دې راپور کې خپرې شوي دي. په دې کار کې ځينې داسې ګټور معلومات شامل دي، چې زموږ له څېړنې راښکاره شوي او کولای شي د ۲۰۱۲ز کال د سولې تړون يوې ژمنې په توګه د ناقانونه محصولاتو د بديل تر چتر لاندې د دوی قانوني ادعاء ملاتړ وکړي. موږ دغه راز د کوکا له کروندګرو، راټولوونکو او پروسس کوونکو سره د پروسس، او سپرې شيندلو له کبله د روغتيايي زيانونو په اړه هم خپلې خبرې اترې رواني ساتلي.

د کولمبيا برعکس، چېرته چې د يوه ډموکراټيک دولت په جوړښت کې قضائيه قوې ته مراجعه يوه بديل لاره ده؛ په ميانمار او افغانستان کې دا ډول کار – يعنې له څېړنو په ګټې اخېستنې د حقونو درناوي لپاره د سياسي تعامل ملاتړ کول ډېر ننګونکی کار دی، او هغه شرايط هم په دې هېوادونو کې ډېر محدود دي، چې په څرګند ډول سياسي تعامل په کې کېدلای شي او خپله ادعاء پرمخ په کې وړل کېدای شي. له دغو محدوديتونو سره سره، په ميانمار کې زموږ تعامل په مدني ټولنو کې زموږ د څېړنو له همکارانو سره پر پخوانيو اړيکو تکيه کړې ده. دا کار په شان او جينګپاو کې په کمبډي بڼه د ژوند تاريخ روايت په ګډون د داسې څېړنې په رامنځ ته کېدو کې مرسته کړې ده، چې د ځوانانو له ځايي ډلو، د نشه يي توکو درملنې مرکزونو او ځايي چارواکو سره د دوامداره همکارۍ له مخې ترسره شوې ده. تر کودتا راوروسته زموږ په دې څېړنيز کار کې له ځوانو کډوالو سره د نشه يي توکو موضوعاتو په اړه د تايلنډ پولې هغې غاړې ته کار کول هم شامل دي.

موږ ته دا جوته شوې، چې دا ډول له همکارۍ او له پراخ تعامل ډک کار کولای شي د ښځو، قومي اقليتونو او نشه يي توکو کاروونکو په څېر حاشيوي غړونو په ځايي بڼه اورېدو کې مرسته وکړي، ځکه دا ډول غړونه نه يوازې د پاليسۍ په پراخو بحثونو کې له پامه غورځول شوي، بلکې په خپله پولو ته په څېرمه پرتو سيمو کې هم کومه خاصه پاملرنه ورته نه ده شوې. په افغانستان کې د دې راپور د ليکلو پرمهال، پولو ته په څېرمه سيمو کې بشري بحران او د جګړو لوړې کچې په ډېر افراطي ډول پولو ته د څېرمه پرتو سيمو د وګړو په منځ کې د سياسي تعامل پرمخ دروازې تړلې دي. له دې کبله مسووليت زموږ د نړيوالو څېړونکو غاړو ته لېږدېدلی دی، څو د دوی استازيتوب په داسې لارو چارو وکړي، چې په اوس مهال کې زموږ همکارانو ته مساعدې نه دي. په دې لارو چارو کې په اوسني وضعيت کې د ناقانونه اقتصاد رول په اړه د يو واقعي درک رامنځ ته کول دي، څو راتلونکې پاليسۍ په تېره بيا د انګلستان حکومت له لوري طرحه کېدونکو پاليسيو ته يو له وړاندې خبراوی رامنځ ته شي.

زموږ تجربې په ډاګه کوي، چې له نشه يي توکو سره د مبارزې دا ډول انساني او عيني پاليسۍ يوازې د پورته يادو شويو خبرو اترو لپاره د ډېرو شرايطو مساعدولو او دروازو خلاصون په اډانه کې طرحه کېدلای شي. د دې معنا دا ده، چې برخې اخېستنې ته په يوه پروژه کې د يو پراخ جريان پرځای( چې موخه يې پولې ته د څېرمه پرتو خلکو او ډلو له سياسي استازولۍ او غړونو ملاتړ دی ) ډېر کم د يو وارد ېدونکي تجويز په سترګه کتل کېږي. د دغې سياسي استازولۍ حل لاره د دولت – ټولنې پر اړيکو دغه راز يو پر بل د تکيې پر اړتيا د بيا کتنې اړتيا ده؛ ځکه په عامو پروژو کې مشارکت په دې کې پاتې راځي، څو هغه پراخ جوړښتي محدوديتونه له منځه يوسي، چې خلک په حاشيه کې ساتي.

دا يوازې دا معنا نه لري، چې د دولت پښې حاشيوي سيمو ته راکش کړل شي او د نشه يي توکو د بديلونو په توګه پر پراختيايي پروژو کار وکړي، ځکه لکه څه ډول مو چې وليدل دغو هڅو د محروميت او جګړو د راکمولو پرځای د هغوی له زياتولو سره ملتيا کړې ده. د دې لپاره، چې د حاشيوي سيمو په ګټه کار وشي، نو د خبرو اترو پر شرايطو بياکتنې ته اړتيا ده او د پيل نقطې په توګه اړتيا ده، چې جګړه پولې ته د څېرمه پرتو سيمو د غړونو او استازيتوب په وړاندې د محدوديتونو له ډلې يو مهم محدوديت وپېژندل شي. دا کار کولای شي د ټيکاو او ودې د هغو پاليسيو لپاره اړتيا لا پسې پياوړې کړي، چې د جګړې په راکمولو او مديريت تمرکز کوي. دا " پولې ته د څېرمه پرتو سيمو" له راپورونو مهم پيغام دی.

وروستۍ خبره دا ، چې د ژوند کيسې يا تاريخونه د نشه يي توکو ننګونې او د سولې پرمهال د پايښت لرونکي اقتصاد جوړونې لپاره اسانه ځوابونه يا هم د پاليسۍ تجويز نه وړاندې کوي. پرځای يې دا کيسې د پاليسۍ جوړوونکو او څېړونکو دواړو په منځ کې داسې ذهنيت او تګلارې ته وده ورکوي او هڅوي يې، چې ډېر پام يې پر اصلي منځپانګه او بشرپالنه وي.

# پای لیکونه

۱ . د لا ډېرو معلوماتو لپاره وګورئ: https://drugs-and-afghanistan-heroin-and-human-traf-/۱۳/۱۲/۲۰۲۱/disorder.org/ficking-are-the-only-two-sectors-of-the-economy-still- thriving

۲ . Lawrence Craig Watson & Maria-Barbara Watson-Franke (۱۹۸۵). Interpreting Life Histories: An Anthropological Inquiry. Rutgers University Press. p ۲.

۳ . ځینې د ژوند کیسو ته د شفاهي تاریخ یوې فرعي څانګې په سترګه ګوري، خو ځینې نور بیا د دغو دوو برخو ترمنځ د هغو ډګرونو له مخې په توپیر قایلیږي، چې د شفاهي تاریخ پروژه معمولاً په دې لټه کې ده، څو د ګڼ شمېر شواهدو د سیستماتیکي راټولونې له لارې یو پراخ تاریخ ولیکي. (تایراني او لانفورډ، ۲۰۱۹، پاڼه ۷). پردې سربېره، یوه ساده لاره چې دا موضوع پرې راسپړل کېدیای شي دا ده، چې د ژوند کیسې څېړنه په بېلا بېلو ډولونو کارول کېدای شي. د ژوند کیسې څېړلو دوې کلاسیکې بېلګې دا په ډاګه کوي.

توماس او زنینځکي (۱۹۱۸-۱۹۲۰) ( په اروپا او امریکا کې پولنډي کروندګر) یو پنځه جلدي کتاب کې د نورو موادو لکه له لیکونو او ورځپاڼو اخذ ترڅنګ د ژوند کیسې یو بشپړ ژوندلیکونه هم شامل دي، چې دوی له دې ژوندلیکونو په پولنډ کې د کروندګرو ژوند بدلون او امریکا متحده ایالاتو ته د پولنډیانو د کډوالۍ په اړه ټولنیز تاریخ او ټولنپوهنیز شننې وړاندې کړې دي. وګورئ: Peter (۱۹۲۰). Review of The Polish Peasant in Europe and America by William I. Thomas and Florian Znaniecki. Slavic and East European Journal, ۴, ۱۸۷–۱۸۹.

برعکس، شاو او ستانلي (۱۹۳۰) د فنجیانو پالونکي (The Jack Roller) نومي کتاب کې یوازې د یو هلک پر کیسه تمرکز کوي. دا هلک چې شاو د ستانلي مستعار نوم ورکړی دی، د یاد کتاب په ډېرو سترو برخو لیکلو کې همکاري کړې ده. دا کتاب عموماً د تنکیو ځوانانو د تخلفاتو په اړه پر روانو ټولنپوهنیزو څېړنو راڅرخي. وګورئ:

Shaw, Clifford R. (۱۹۲۲). The Jack-Roller: A Delinquent Boy's Own Story (new edition with introduction by Howard Becker). Chicago: University of Chicago Press.

۴ . د بېلګې په توګه وګورئ:

Slim, Hugo, Thompson, Paul Bennett, Olivia & Cross, Nigel (۱۹۹۳). Listening for a Change: Oral Testimony and Development. London: Panos.

۵ . See also Kothari & Lanford, Tierney, ۲۰۱۹, p. ۱۲. Hulme (۲۰۰۴). Narratives, stories and tales: understanding poverty dynamics through life histories. Global Poverty Research Group and Institute for Development Policy and Management University of Manchester, p. ۷.

۶ . د بېلګې په توګه وګورئ:

Richardson-Ngwenya, P. (۲۰۱۳). Situated knowledge and the EU sugar reform: a Carribbean life history. Area, ۴۲(۵), ۱۸۸–۱۹۷; Kothari & Hulme (۲۰۰۴).

۷ . Koslov, E., Reuveni, G., Steege, P., Sweeney, D., Bergerson, A. (۲۰۰۹). FORUM: Everyday life in Nazi Germany, German History, ۲۷(۴): ۵۲۰–۵۷۹.

۸ . Pilkington, H. (۲۰۰۷). Beyond 'peer pressure': Rethinking drug use and 'youth culture', International Journal of Drug Policy, ۱۸, ۲۱۳–۲۲۴. Rhodes, T. ۲۰۰۹. Risk environments and drug harms: A social science for harm reduction approach, International Journal of Drug Policy, ۲۰, ۱۹۳–۲۰۱.

۹ . Hedström, J. (۲۰۲۱). On violence, the everyday, and social reproduction: Agnes and Myanmar's transition, Peacebuilding, ۱–۱۷. Thawnghmung, A. M. (۲۰۱۹). Everyday Economic Survival in Myanmar. Madison, WI: University of Wisconsin Press. Wood, G. (۲۰۰۳). Staying secure, staying poor: The 'Faustian Bargain', World Development, ۳۱(۳): ۴۵۵–۴۷۱.

۱۰ . وګورئ:

Jonathan Goodhand & Adam Pain (۲۰۲۱). Entangled lives: drug assemblages in Afghanistan's Badakhshan, Third World Quarterly, DOI: ۱۰.۱۰۸۰/۰۱۴۳۶۵۹۷.۲۰۲۱.۲۰۰۲۱۳۹; Francisco Gutiérrez-Sanín (۲۰۲۱) Mangling life trajectories: institutionalised calamity and illegal peasants in Colombia, Third World Quarterly, DOI: ۱۰.۱۰۸۰/۰۱۴۳۶۵۹۷.۲۰۲۱.۱۹۲۲۲۷۵.

۱۱ . مور به دې برخه کې د ډاکټر ماندېې سدن له هلو ځلو مننه کوو، چې دا روزنیز پروګرامونه یې د هر هېواد د څېړنیزې ډلې لپاره طرحه، چمتو او ترسره کړل.

۱۲ . وګورئ: Wen-Chin Chang's (۲۰۱۴) Beyond Borders: Stories of Yunnanese Chinese Migrants of Burma. Cornell University Press.

لیکوالې خپل معلومات د کلونو په اوږدو کې خارلي دي. دې کارنو مورې د دې جوګه ګرځولې، چې د متقابل باور یوه پیاوړې اړیکه رامنځ ته کړي او د خپلو اړوند کسانو د ژوند په اړه چټکه او ژوره پوهه ترلاسه کړي.

۱۳ . د ژوند تاریخ ځینې څېړونکي له بېلا بېلو منابعو لکه یادښتونو، لیکونو، آنځورګریو او ویډیوګانو ثبتولو ګټه پورته کوي. په دې وروستیو کلونو کې ډېره ګټه د ټولنیزو رسنیو له لیکنو پورته کېږي. وګورئ: تایراني او لانفورډ، ۲۰۱۹، پاڼه ۱۳.

۱۴ . وګورئ:

Pamela Richardson-Ngwenya's use of participatory video to document the stories of small sugarcane farmers in Barbados.

Richardson-Ngwenya, P. (۲۰۱۳). Situated knowledge and the EU sugar reform: a Caribbean life history. Area, ۴۲(۵), ۱۸۸–۱۹۷.

۱۵ . تايراني او لانفورډ کې راغلي، ۲۰۱۹، پ ۹. دغه راز وګورئ: کوتري او هلوم (۲۰۰۴)؛ روايتونه، کيسې او طلسم: د ژوند تاريخونو له لارې د ښوزلۍ دورانونو پېژندل. د نړيوالې ښوزلۍ څېړنيزه ډله او د مانسچستر پوهنتون د پاليسۍ پراختيا او مديريت انستيټيوټ. دوی دوو له همدې تګلارې ګټه اخيستې ده، يعنې د ژوند له کيسو په ګټې اخيستنې يې په بنګلادېش کې د ښوزلۍ دورانونه راسپړلي دي.

۱۶ . د توماس او زنينخکي په څېر د څېنو له نظره (د ژوند يادښتونه، چې د امکان تر بريده بشپړ وي؛ د پولنډهنيزو مواد غوره ډول ګڼل کېږي(د تايراني او لانفورډ په کتاب کې يې يادونه شوې، ۲۰۱۹، پاڼه ۴). د (پولنډي کروندګرو) په نوم دوی ۲،۰۰۰ پاڼې کتاب، چې د ۱۹۱۸ او ۱۹۲۰ز کلونو په ترځ کې ګام په ګام خپور شوی دی، د والډويک ويسنينسکي په نوم د يو پولنډي کډوال د ژوند ۳۰۰ پاڼې کيسه هم په کې راغلې ده.

۱۷ . جان ګل مستعار نوم دی. دا کيسه د مرکې له منځپانګې ليکل شوې او اصلاح شوې ده. له جان ګل سره ياده مرکه د ۲۰۱۸ز کال په اکتوبر کې ترسره شوې ده. دا مرکه د دوامداره ودې او څېړنو موسسې(OSDR) د ټيم له خوا ترسره شوې. د دې لپاره، چې د خلکو هويت پټ وساتل شي، د ځينو ځانګړو ځايونو او خلکو نومونه هم بدل شوي يا له هم ليري شوي دي.

۱۸ . آغلې ثنا ساپی ژورنالېسته او ليکواله ده. نوموړې په کابل کې زېږېدلې او په کندهار، هلمند او ننګرهار ولايتونو کې يې ژوند کړی. او سمهال په برېتانيا کې ژوند او کار کوي.

۱۹ . زکات هغه ادانه ده، چې د اسلامي لارښوونو په رڼا کې له ځانګړو ملکيتونو راټولېږي او د ديني او خيرات موخو لپاره کارول کېږي.

۲۰ . طالبانو په ۲۰۰۰ز کال کې د کوکنارو پر کرلو بنديز ولګوه.

۲۱ . بيګم جان د کانګ ولسوالۍ اوسېدونکې او کوچنۍ سوداګره ده. بيګم جان يې مستعار نوم دی. دا کيسه د مرکې له منځپانګې ليکل شوې. له بيګم جان سره دا مرکه د ۲۰۲۰ز کال په نوامبر مياشت کې د دوامداره ودې او څېړنو موسسې(OSDR) ټيم له لوري د کلي شورا د ناستو په تالار کې شوې ده. د دې لپاره، چې د خلکو هويت پټ وساتل شي، د ځينو ځانګړو ځايونو او خلکو نومونه هم بدل شوي يا له هم ليري شوي دي.

۲۲ . آغلې ثنا ساپی ژورنالېسته او ليکواله ده. نوموړې په کابل کې زېږېدلې او په کندهار، هلمند او ننګرهار ولايتونو کې يې ژوند کړی. او سمهال په برېتانيا کې ژوند او کار کوي.

۲۳ . د مرکې تر وروستي پورې د بيګم جان يوه لور کوژدن شوې وه او له خپلې کورنۍ سره نو رنه اوسېده.

۲۴ . عزيزخان د نيمروز ولايت يو سوداګر دی او دا يې مستعار نوم دی. دا کيسه د مرکې له منځپانګې ليکل شوې. له عزيزخان سره ياده مرکه د ۲۰۲۰ز کال په نوامبر مياشت کې د دوامداره ودې او څېړنو موسسې(OSDR) له لوري ترسره شوې ده. د دې لپاره، چې د خلکو هويت پټ وساتل شي، د ځينو ځانګړو ځايونو او خلکو نومونه هم بدل شوي يا له هم ليري شوي دي.

۲۵ . آغلې ثنا ساپی ژورنالېسته او ليکواله ده. نوموړې په کابل کې زېږېدلې او په کندهار، هلمند او ننګرهار ولايتونو کې يې ژوند کړی. او سمهال په برېتانيا کې ژوند او کار کوي.

۲۶ . سيزار مارينو د سيرا نيوادا اوسېدونکی او د کافي کروندګر دی. سيزار له مورې په ډاګه دا وغوښتل، چې کيسې يې د مستعار نوم پرځای په خپل اصلي نوم خپره شي. دا کيسه د مرکې له منځپانګې ليکل شوې. د اصلاح او ليکنې په مرحله کې روان سبک ته پاملرنه شوې، خو ترځنګ يې هڅه شوې چې د مرکې اصلي خبرې، نظريات او غږونه پر خپل ځای پاتې شي. ليکل شوي موضوعات (پېښې او نظريات) ټول له مرکو راخيستل شوي او چېرته چې ممکنه وه، په خپله د مرکه کېدونکي وګړي خپلې کلمې کارول شوي. هغه مرکه چې دا کيسه ترې ليکل شوې، د لوئيس کاستيلو او هوارډ راجوس له لوري د ۲۰۱۹ز کال په ډسمبر مياشت کې د سينيګا په يوه لېرې پرته سيمه کې ترسره شوې ده.

۲۷ . لوئيس کاستيلو د کولمبيا په ملي پوهنتون کې د فلسفې په برخه کې تر ليسانس کچې زده کړې کړي او او سمهال د همدې پوهنتون د نړيوالو اړيکو او سياسي مطالعاتو په انستيټيوټ کې په سياست پوهنه کې ماستري کوي. نوموړی اوس مهال د ارضي ملکيت حق د استرداد او تنظيم له اداري سره د څېړونکي په توګه کار کوي. نوموړی په سانتا مارتا زون کې د نشه يي توکو او نظم(بې) نظمۍ پروژې د څېړنو مسوول هم دی.

۲۸ . دا اصطلاح د لبېرال او محافظه کاره ګوندونو ترمنځ د وسله والو نښتو لپاره کارول کېږي، چې د کورنۍ جګړې يا (La Violencia) په نوم يادېږي. دا سې ويل کېږي، چې دا جګړه د ۱۹۴۸ز کال د اپرېل په ۹ نېټه د لېبرال ګوند له لوري د ولسمشريزو ټاکنو لپاره د مشهور نوماند جورګې ايليسرګايتان تر وژل کېدو وروسته پيل شوه. د نوموړي وژل کېدو په بوګاتا کې پاڅونونه راپورته کړل او په دې پاڅونونو کې ۵،۰۰۰ خلک ووژل شول. نورې تاريخپوهنې بيا دا وايي، چې دا جګړه د ۱۹۴۶ز کال تر ټاکنو وروسته د محافظه کارو له لوري د واک تر اخيستو د مخه پيل شوې.

پوليسو او سياسي مشرانو په کوچنيو ښارګوټو او کليوالي سيمو کې د محافظه کار ګوند کروندګر دې ته وهڅول، چې د لبېرال ګوند د کروندګرو ځمکې غصب کړي. دا کار دواړو خواوو ته د خونړۍ جګړې په بېيه تمامه شوه. دا سې اټکل کېږي، چې په دې جګړه کې شاوخوا ۲۰۰،۰۰۰ خلک ووژل شول او د ټول ۱۱ ميليونه نفوس له ډلې ۲ ميليونه يې بې ځايه يا کډوالۍ ته اړ شول.

۲۹ . نېش وهل، د کوکا پاڼو او کوکنارو څخه د ترياکو راټولولو لپاره کارول کېږي.

۳۰ . کارمن په پوتمايو کې يو ولسي مشر دی. کارمن يې مستعار نوم دی. دا کيسه د مرکې له منځپانګې ليکل شوې. د اصلاح او ليکنې په مرحله کې روان سبک ته پاملرنه شوې، خو ترځنګ يې هڅه شوې چې د مرکې اصلي خبرې، نظريات او غږونه پر خپل ځای پاتې شي. ليکل شوي موضوعات(پېښې او نظريات) ټول له مرکو راخيستل شوي او چېرته چې ممکنه وه، په خپله د مرکه کېدونکي شخص خپلې کلمې کارول شوي. له کارمن سره هغه مرکه، چې دا کيسې ترې ليکل شوې د کاميلو آسيرو

(کولمبيا ملي پوهنتون) له لوري د ۲۰۲۰ز کال په نوامبر مياشت کې ترسره شوې ده. د دې لپاره، چې د خلکو هويت پټ وساتل شي، د ځينو مشخصو ځايونو او خلکو نومونه هم بدل شوي يا له هم ليري شوي دي.

۳۱ . د ارضي ملکيت حق د استرداد او تنظيم له ادارې سره د نشه يي توکو او نظم (بې) نظمۍ په پروژه کې د څېړونکي په توګه کار کوي.

۳۲ . کالبيدوس يا بومي شوراګانې د بومي ولسونو له غړو جوړې شوي، چې د همدې غړو له لوري ټاکل کېږي او په رسميت پېژندل کېږي. دوی د قانون له مخې د خپلو ولسونو استازيتوب کوي، پر خپلو ولسونو حاکميت اعمالوي او هغه فعاليتونه ترسره کوي، چې د دولتي قانون، عرف او داخلي قواعدو له مخې په ډاګه شوي دي.

۳۳ . د ژوندانه پلان د ولسونو له لوري په مشترک ډول جوړ شوی. په دې پلان کې د نورو مسايلو ترڅنګ د ولسونو اقتصادي، کلتوري، ارضي، چاپېريالي، روغتيايي زده کړنيزې ستونزې او مسايل او سياسي انسجام په پام کې نيول شوي.

۳۴ . ډان تيتو په پوتمايو کې يو افريقايي الاصله کولمبيايي مشر دی. ډان تيتو يې مستعار نوم دی. دا کيسه د مرکې له منځپانګې ليکل شوې. د اصلاح او ليکنې په مرحله کې روان سبک ته پاملرنه شوې، خو ترڅنګ يې هڅه شوې چې د مرکې اصلي خبرې، نظريات او غږونه پر خپل ځای پاتې شي. ليکل شوي موضوعات (پېښې او نظريات) ټول له مرکو راخېستل شوي او چېرته چې شونې وه، په خپله د مرکه کېدونکي شخص خپلې کلمې کارول شوې. له ډان تيتو سره هغه مرکه، چې دا کيسې ترې ليکل شوې د ديانا ماچوکا، فرانسيس ګوتريز او سبستيان له لوري د ۲۰۱۸ ز کال نوامبر او د ۲۰۲۰ز کال جنورۍ په منځ کې ترسره شوې ده. د دې لپاره، چې د خلکو هويت پټ وساتل شي، د ځينو ځانګړو ځايونو او خلکو نومونه هم بدل شوي يا له هم لرې شوي دي.

۳۵ . ديانا ماچوکا د کولمبيا په ملي پوهنتون کې د سياستپوهنې کادر دی، او د همدې پوهنتون د نړيوالو اړيکو او سياسي مطالعاتو په انستيټيوټ کې په سياست پوهنه او نړيوالو اړيکو کې ماسټري کړې. نوموړې اوس مهال د ارضي ملکيت حق د استرداد او تنظيم له ادارې سره د څېړونکي په توګه کار کوي.

۳۶ . نښش وهونکی هغه څوک دی، چې د کوکا پاڼې ربېي او راټولوي.

۳۷ . پلان کولمبيا يا د کولمبيا پلان په لومړي ځل په ۱۹۹۹/۲۰۰۰ز کلونو کې تأسيس شوی او د کولمبيا او امريکا متحده ايالاتو ترمنځ له نشه يي توکو او بلواګرۍ سره د مبارزې يو ستراتيژيک اتحاد و. په دې اتحاد کې امريکا متحده ايالاتو خپلو کولمبيايي شريکانو ته روزنه ورکوله او مالي ملاتړ يې کاوه، چې زيات تمرکز يې د نظامي ځواکونو پر پياوړتيا و.

۳۸ . د افريقايي اصله کولمبيايي ولسونو شوراګانې قومي حقوقي شخصيتونه دي. دا شوراګانې په ۱۹۹۳ز کال کې د کولمبيا په اساسي قانون کې د راوړل شويو اصلاحاتو له مخې جمعي قلمرو اداره کوي. د دې اصلاحاتو له مخې توروپوستي وګړي کولای شي چې د خپل جمعي قلمرو غوښتنه وکړي.

۳۹ . کاکويرو، په کولمبيايي ژبه کې هغه چا ته ويل کېږي، چې کوکا کښت کوي.

۴۰ . کوريدوس يو ډول موسيقي ده، چې د مکسيکو د انقلاب پرمهال هغه وخت مشهوره شوه، چې په انقلابي ډګرونو کې غږول کېده. په لومړيو کې دې ډول موسيقۍ د مکسيکو د انقلاب اتلانو هر يو ايمليانو زاپتا او پانچو ويلا اتلوالۍ بيانولې. په اوس وخت دا موسيقي تر ډېره د نشه يي توکو سوداګرو او مافيا کيسې بيانوي. دا ډول موسيقي په راډيوګانو کې له خپرېدو منع ده، ځکه د مکسيکو حکومت په وينا دا موسيقي د ناقانونه نشه يي توکو کلتور په غوړېدا کې مرسته کوي، له همدې کبله دا موسيقي منع اعلان شوې ده. د کوريدوس ممنوعيت په کولمبيا کې په تېره بيا د کوکا د توليد په سيمو کې هم ډېر مشهور دی.

۴۱ . پانيلا له بورې جوړ شوی توليد دی. دا له شربت سره ورته دی، خو جامد دی. دا توليد په کولمبيا کې ډېر مشهور دی او خلک په خپل ورځني ژوند کې له دې موادو جوړ شوي مشروبات ډېر څښي.

۴۲ . دا اصطلاحات د هېواد ځانګړو برخو لپاره کارول کېږي. د بېلګې په توګه کالينوس د کالي خلکو لپاره کارول کېږي.

۴۳ . دا په دې معنا ده، چې د جمعي سرليک لرونکي ځمکې پېرل او پلورل کېدای نه شي او نه هم غصب کېدلای شي(د بېلګې په توګه د يو شخصيت له مخې غواړي چې نه اداء شوي پورونه بېرته ترلاسه کړي)، دا امکان نه لري چې په دا ډول ځمکو د وخت تېرېدو يا هم اجازې له مخې د مالکيت حق ترلاسه شي.

۴۴ . لوکر د دې هېواد د چاکليټو د توليد او بازارموندنې يوه ډېره اړينه کمپنۍ ده.

۴۵ . نانګ خونګ مستعار نوم دی. دا کيسه د مرکې له منځپانګې ليکل شوې. د اصلاح او ليکنې په مرحله کې روان سبک ته پاملرنه شوې، خو ترڅنګ يې هڅه شوې چې د مرکې اصلي خبرې، نظريات او غږونه پر خپل ځای پاتې شي. ليکل شوي موضوعات (پېښې او نظريات) ټول له مرکو راخېستل شوي او چېرته چې ممکنه وه، په خپله د مرکه کېدونکي شخص خپلې کلمې کارول شوې. له نانګ خونګ سره هغه مرکه، چې دا کيسې ترې ليکل شوې د ساي اونګ هلا او ساي خام پهو له لوري د ۲۰۱۹ ز کال په مې مياشت کې په کينتونګ ښارکوټي، سويل ختيځ شان ايالت کې ترسره شوې.

۴۶ . ساي اونګ هلا د شان هيرالډ خبري اژانس اجرائيوي رئيس دی. د دې ترڅنګ نوموړی په شان کې د نشه يي توکو او نظم(بې) نظمۍ څېړنيز پروګرام د پروژ مدير هم دی.

۴۷ . ساي سارم مستعار نوم دی. دا کيسه د مرکې له منځپانګې ليکل شوې. د اصلاح او ليکنې په پروسه کې روان سبک ته پاملرنه شوې، خو ترڅنګ يې هڅه شوې چې د مرکې اصلي خبرې، نظريات او غږونه پر خپل ځای پاتې شي. ليکل شوي موضوعات(پېښې او نظريات) ټول له مرکو راخېستل شوي او چېرته چې ممکنه وه، په خپله د مرکه کېدونکي شخص خپلې کلمې کارول شوې. له ساي سارم سره هغه مرکه، چې دا کيسې ترې ليکل شوې د ساي اونګ هلا او ساي خام پهو له لوري د ۲۰۱۹ ز کال په جون مياشت کې په مويس ښارکوټي، شمالي شان ايالت کې ترسره شوې.

۴۸ . سای خام پهو د شان هیرالډ په خبري اژانس کې د څېړنې مدیر دی.

۴۹ . سینګ راو مستعار نوم دی. دا کیسه د مرکې له منځپانګې لیکل شوې. د اصلاح او لیکنې په پروسه کې روان سبک ته پاملرنه شوې، خو ترڅنګ یې هڅه شوې چې د مرکې اصلي خبرې، نظریات او غړونه پر خپل ځای پاتې شي. لیکل شوي موضوعات (پېښې او نظریات) ټول له مرکو راخېستل شوي او چېرته چې شوني وه، په خپله د مرکه کېدونکي شخص خپلې کلمې کارول شوې. له سینګ راو سره هغه مرکه، چې دا کیسه ترې لیکل شوې د کاچین لنډ څېړنیز مرکز د غړو له لوري د ۲۰۱۹ ز کال په مارچ میاشت کې ترسره شوې. د دې لپاره، چې د خلکو هویت پټ وساتل شي، د ځینو ځانګړو ځایونو او خلکو نومونه هم بدل شوي یا له هم لیرې شوي دي. دا کیسه په پرله پسې ډول په دې دویمه خپرونه کې د خپرېدو لپاره د مانډې سډن له لوري بیا بیا اصلاح شوې ده.

۵۰ . مانډې سډن په واوریک پوهنتون کې مرستیال استاد او د لیسانس زده کړو د پروګرامونو رئیس هم دی.

۵۱ Using Narrative in Social Research: (۲۰۰۵) .Elliott, J . ۳ .Qualitative and Quantitative Approaches, Sage: London, p

۵۲ Time for stories: the’ (۲۰۰۰) Bron, A & L West . . emergence of life history methods in the social sciences’ Journal of ۱۵۹ .p ,۲۹–۱۵۷ :(۲)۳۷ ,Contemporary Sociology

۵۳ The Oral History (۱۹۹۸) ( Perks, R &A Thomson ( eds . Reader, Routledge: London, p. ix. At the same time, the life history method has been deployed to capture the lives of the powerful and sometimes morally ambiguous. See for example; on ‘coffee Coffee and Power: Revolution and the (۱۹۹۷) .elites’ see Paige, J Rise of Democracy in Central America, Harvard University Press: Cambridge; on life histories and ethnographies of drugs traders/ Bruno: Conversations with a Brazilian ( ۲۰۱۵) .drug gangs see Gay, R In (۲۰۰۳) .Drug Dealer, Duke University Press, and Bourgois, P Search of Respect: Selling Crack in El Barrio, Cambridge University Press; for a compelling life history of a Sri Lankan Tamil nationalist Learning Politics from Sivaram: ( ۲۰۰۷) .in wartime, see Whitaker, M The Life and Death of a Revolutionary Tami Journalist in Sri Lanka, .Pluto Press: London

۵۴ Development Sociology: Actor (۲۰۰۱) Long, N . Perspectives, Routledge, London

۵۵ Narratives, Stories and’ ( ۲۰۰۴) Kothari, U &D Hulme . Tales: Understanding Poverty Dynamics through Life Histories’ University of ,۱۱ Global Poverty Research Group, Working Paper ۸ .Manchester, p

۵۶ podcastdo-/۰۲/۲۰۱۳/www.socialsciencespace.com . /reen-massey-on-space

۵۷ ۱۰ .Kothari &Hulme, ibid p .

۵۸ Tsing, ibid .

۵۹ The Will to Improve. (۲۰۰۸) .Murray Li, T . Governmentality, Development and the Practice of Politics, Duke University Press

۶۰ Tsing, ibid .

۶۱ ۳۷ .Tsing, ibid, p .

۶۲ See Tsing ibid .

۶۳ ۲ .Tsing, ibid, p .

۶۴ Assemblages are understood to be compositions that . bring together heterogenous elements. Assemblages are about encounters, interactions and relational practices, involving different ( ۳ .forces and actors ( Goodhand &Pain, ibid, p

۶۵ The Art of Not Being Governed: An (۲۰۰۹) .Scott, J . Anarchist History of Upland Southeast Asia, Yale University Press

۶۶ ibid (۲۰۲۱) ,Gutierrez Sanin .

۶۷ Insurgent Collective Action and Civil (۲۰۰۳) .Wood, E . War in El Salvador, Cambridge University Press

۶۸ ibid (۲۰۰۹) Scott .

۶۹ Seng Lawn Dan, Ja Htoi Pan Maran, Mandy Sadan, . The Pat Jasan drug’ .۲۰۲۱ .Patrick Meehan, Jonathan Goodhand eradication social movement in Northern Myanmar, part one: https:// ,۸۹ origins &reactions’, International Journal of Drug Policy .۲۰۲۱,۱۰۳۱۸۱j. drugpo/۱۰,۱۰۱۲/doi.org

۷۰ Staying security, staying poor: The’ (۲۰۰۳) Wood, G . ۴۷۱–۴۵۵ .p :(۳) ۳۱ ,Fastian bargain’ Word Development

۷۱ Goodhand, J. &A. Pain, ibid .

۷۲ Exit, Loyalty, Voice, Harvard (۱۹۷۰) .Hirschman, A . University Press

۷۳ Tsing, ibid .

۷۴ Introduction: The Moral’ (۲۰۲۱) Arias, E. &T. Grisaffi . Economy of the Cocaine Trade’ in Arias, E. &T. Grisaffi (eds) Cocaine: From Coca Fields to the Streets, Duke University Press, .۴۲–۱ .pp

۷۵ The Weight of the World: Social (۱۹۹۹) .Bourdieu, P . Suffering in Contemporary Society, Polity Press: Cambridge

# دنشه یي توکي او نظم (بې نظمي) د پروژی انځورونه او انیمیشن



جان ګل: د افغانستان پولو ته څیرمه جګړه او د نشه يي توکو قاچاق

د نورو معلوماتو لپاره:
https://fliphtml5.com/jrmpt/dzrx



جسیکا: په کلمبیا کی د کوکا کښت، بدنامول، تاوتریخوالی او انکشافی کارونه

د نورو معلوماتو لپاره:
/https://online.fliphtml5.com/jrmpt/jzzz



نوحکم: د میانمارد کاچین په سرحدي سیمو کې ځوانان او نشه يي توکی

د نورو معلوماتو لپاره:
https://online.fliphtml5.com/vlyoi/mtqh/?1644598213787



نانګ نانګ و سای سای: نشه یی توکی او د میانمار په سرحدی سیمو کی د هغوی اغیزی پر ځوانانو باندی

د نورو معلوماتو لپاره:
https://online.fliphtml5.com/vlyoi/eals/?1644575659355



په کلمبیا کی مات شوی سوله

د نورو معلوماتو لپاره:
https://www.youtube.com/watch?v=rOd8mWU8_jg

# د غبرګون او نظرونو غوښتنه

د AREU اداره ډېره لېواله ده چې د دغې څېړنې د کاروونکو نظرونه واوري. که تاسو زموږ د خپرونو یو دوامداره لوستونکي یاست، د AREU لیکچر یا ورکشاپ کې مو ګډون کړی، کتابتون یې کاروئ، یا یوازې په دې وروستیو کې له دغه ادارې سره بلد شوي یاست، ستاسو نظرونه او غبرګون زموږ لپاره ارزښت لري. دغه نظرونه موږ سره مرسته کولی شي چې خپلې موخې په لا ښه ډول لاسته راوړو او د څېړنې په اړه خپلې تګلارې او د پایلو د شریکولو طریقې و ارزوو. د نظرونو شریکولو تر ټولو اسانه لار موږ ته ایمیل کول دي: areu@areu.org.af

یا کولی شئ موږ ته زنګ ووهئ: ۰۰۹۳۷۹۹۲۰۸۵۴۸. تاسو چې هر څه غواړئ موږ ته یې ویلی شئ، خو په ممکنه ډول یو څه ګټور مالومات دا دي:

- تاسو له AREU سره څنګه اړیکه نیسئ (یعني د خپرونو، غونډو یا نورو لارو)؟
- تاسو د AREU له څېړنو څخه د څه لپاره کار اخلئ؟
- تاسو د AREU خپرونې څنګه لاسته راوړئ؟
- تاسو د څېړنو بریښنایي که چاپ شوی بڼه کاروئ؟
- خپرونې څنګه کولی شي تاسو ته مالومات په لا ښه ډول وړاندې کړي؟
- زموږ د څېړنې د بهیرونو یا پایلو په اړه ستاسو نظرونه؟
- هغه برخې یا موضوع ګانې چې تاسو یې په اړه د څېړنو ترسره کېدو سپارښتنه کوئ؟
- د AREU هغه خپرونې یا فعالیتونه/غونډې چې ستاسو ډېرې خوښېږي؟
- ستاسو په اند موږ په کومو برخو کې خپل کار ښه کولی شو؟
- ستاسو د خوښې یا لېوالتیا ډګر، دنده یا څېړنه، او دغه راز موقعیت؟

# د افغانستان د څېړنې او ارزونې ادارې نوې خپرونې

ټولې خپرونې د ډونلود لپاره(ښکته کولو لپاره ) په www.areu.org.af کې د لاسرسي وړ دي، او ډېری ئې د هارد کاپي(چاپي بڼه ) په ډول په وړیا توګه په کابل کې د AREU له دفتر څخه لاس ته راوړلای شي.

| نیټه | د خپرونې نوم | لیکوال (مولف) | په دری ژبه | په پښتو ژبه | د څېړنې موضوع | د خپرونې ډول |
|---|---|---|---|---|---|---|
| اپریل ۲۰۲۲ | له بدیلې پرمختیا سره د سوداګریزې کرنې تړاو: د افغانستان د قانوني او غیرقانوني توکو لپاره د بازارموندنې ازمویل شوې نسخې | آدم پین، محمد حسن وفایي، ګلثوم میرزاده، خالد بهزاد، مجیب احمد عزیزي | √ | √ | معیشت او ټولنیز خوندیتوب | شننیزه مقاله |
| آپریل ۲۰۲۲ | پولې ته د څېرمه پرتو سیمو غږونه۲۰۲۲ په افغانستان، کلمبیا او میانمار کې د جګړه ځپلو او له نشه یې توکو د اغیزمنو سیمو د ژوند کیسې | | √ | √ | حکومتولي او سیاسي اقتصاد | شننیزه مقاله |
| مارچ ۲۰۲۲ | په افغانستان کې د کوېډ-۱۹ له وجې د بېوزلۍ ارزونه | | √ | √ | معیشت او ټولنیز خوندیتوب | |
| نوامبر ۲۰۲۱ | د عوایدو ناسمه محاسبه او په افغانستان کې د جګړې ناسم درک | ډیوید منسفیلډ | √ | √ | حکومتولي او سیاسي اقتصاد | پالیسي پاڼه |
| نوامبر ۲۰۲۱ | د ښځو پر وړاندې د تاوتریخوالي قانون ۱۱ کاله: د ۲۰۰۹-۲۰۲۰ قانون پلي کېدو ته یوه کتنه | ملیسا کورنټ | √ | √ | جنسیت | مطالعي مقالات |
| اکتوبر ۲۰۲۱ | د مالیاتي روایت: د عوایدو یو ناسمه محاسبه او په افغانستان کې د جګړې ناسم درک | ډیوید منسفیلډ | √ | √ | حکومتولي او سیاسي اقتصاد | تحلیلي مقاله |
| اکتوبر ۲۰۲۱ | سوله او ناقانونه نشه یي توکي په حاشیه کې: د افغانستان د دوامداره پراختیا شپاړسمي موخې ته یوه کتنه | ډاکټر اورځلا نعمت | √ | √ | حکومتولي او سیاسي اقتصاد | لنډه مقاله |
| جولای ۲۰۲۱ | د نارینه وو او نارینه توب پېژندنه: په افغاني ټولنه کې د جنسیتي مساوات رامنځ ته کولو پر لور | منزه ابتکار | √ | √ | جنسیت | موردي مطالعه |
| جون ۲۰۲۱ | په افغانستان کې نشه یي توکي او پراختیا یې: د ملي پالیسۍ شننه او فعالین | آدم پین، کاوه کرامي، ډاکټر اورځلا نعمت | √ | √ | حکومتولي او سیاسي اقتصاد | مقاله د پراختیا په حال کې |
| مارچ ۲۰۲۱ | په جنګ کې حلوا نه تقسیمیږي | ډاکټر اورځلا نعمت | √ | √ | | |
| فبروري ۲۰۲۱ | په افغانستان کې قضایي خپلواکي: قانوني چوکاټ او عملي تنګوني | شعیب تیموري | √ | √ | اساسي قانون | شننیزه مقاله |

| | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|
| فبروري ۲۰۲۱ | **په افغانستان کې قضايي خپلواکي: قانوني چوکاټ او عملي ننګونې** | **شعیب تیموري** | √ | √ | **اساسي قانون** | **شننیزه مقاله** |
| فبروری ۲۰۲۱ | په افغانستان کې نشه يي توکي او پرمختيا: د ملي پالیسۍ او فعالانو شننه | آدم پیین، کاوره کرامی، داکتر اورخلا نعمت | √ | √ | حکومتولی | |
| جنوری ۲۰۲۱ | پیوستون، پیاوړتیا او زړورتیا: په افغانستان کې د ښځو سیاسی ګډون | انا لارسن، نواه کوبورن | √ | √ | جنسیت | توضیحی پانه |
| دسامبر ۲۰۲۰ | جان ګل | | √ | √ | | |
| سپتامبر ۲۰۲۰ | په افغان سولې پروسه کې د ښځو ګډون: موضوعي خپرنه | شکریه آزادمنش، احسان الله غفوری | √ | √ | جندر (جنسیت) | موضوعي خپرنه |
| سپتامبر ۲۰۲۰ | منجنیق، پیک آپ او ټانکرونه: د پولو دواړو غاړو ته تولید او سوداګري او د نیمرزو پولې ته ځېرمه پرتو سیمو د سیاسي اقتصاد په بدلون کې يې رول | دیوید منسفیلد | | | حکومتولی | تحلیلی خپرنه |
| جولای ۲۰۲۰ | افغانستان کی له کاوید ۱۹ نه دجندر په هکله خبرداری | | | | XII : د کاوید ۱۹ اغیزه پرهغو ښځو چې د کوکنارو له کرهنی سره تړاو لری | جندر |
| جولای ۲۰۲۰ | د قاطرانو او نقلیه وسایطو تګ راتګ: دپولی هاخوا تولید او سوداګری او دننګرها د سیاسی اقتصاد جوړېښت | دیوید منسفیلد | | | حکومتولی | تحلیلی خپرنه |
| جون ۲۰۲۰ | کله چې اوبه وچیږی: کله چې د افغانستان په سویل لوېدیځه دښته کې اوبه وچیږی او د ۱.۵ میلیونه وګړو ژوند له خطر سره مخ کېږی، څه باید وشی؟ | دیوید منسفیلد | √ | √ | د طبیعی سرچینی مدیریت | توضیحی پانه |

د افغانستان
د څېړنې او
ارزونې اداره

drugs
&
(dis)order

Drugs & (dis)order 2022 ©
پهدې څېړنه کې وړاندې شوې
نظریات د لیکوالانو دي او د افغانستان د څېړنې او ارزونې اداری، دنړیوالو
ننګونو د څېړنې بودجې سازمان، برېتانیا حکومت یا هم همکارو سازمانونو
نظریات نه منعکسوي.

drugs_disorder | @drugs-and-disorder.org

ISBN 978-9936-641-81-5
9 789936 641815